تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

ملا علی القاری و سید المحدثین ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ السید الایوبی

الشہیر بالقاری الصلیانی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتحقیق

کائنی روڈ شاہدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې بې ساری په
زرګونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تفسير ايوبي حنفي

أُتْلُ مَآ أُوحِيَ ﴿٢١﴾ ۞۞ وَمَن يَّقْنُتْ ﴿٢٢﴾

تاليف اوتصنيف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة القراءة والتجويد
کاسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو څوارلسم ټوک
مفسر ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري
السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي
كمپوزر ..... حبيب الحق حقاني
ټايپ ..... حقاني كمپيوټر اداره
نشر كوونكې اداره ..... مكتبة القراءت والتجويد كاسي روډ كوټه
د چاپ ځای ..... لاهور پاكستان

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په كتابو كي په قصده سره غلطي نه كوي. زموږ اداره تر خپله وسه پوري د كتابو تر ليكلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه كوي. چي له دې كبله زموږ كتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دي، يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء كي يا په يوه جمله كي ځني صادره سي. نو زموږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چي كه ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونيسئ، تر څو د كتاب د دوهم وار په چاپ كي د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي وروړ شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة
لمكتبة القراءة والتجويد كوئته باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على اشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٣١ هجري - ٢٠١٠ ميلادي

مكتبة القراءة والتجويد

شارع كانسي كوئته - بلوچستان

رقم الهاتف ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ الْوَرٰى

وبعد: محترمو لوستونکو! تاسو په دې حقیقت ښه خبر یاست، چې د افضل الانبیاء ﷺ رالیږنه الله تبارک وتعالی د تولې نړۍ او ټوله عالم لپاره کړې ده. او نبي کریم ﷺ اخیري نبي او استازی دی، نو دا دین به و مختلفو قومونو، مختلفو ژبو ویونکو، او مختلفو سیمو ته د دنیا څوک رسوي؟ د دې ځواب خپله نبي کریم ﷺ په خپلو مبارکو ویناوو کښې فرمایلي دی، فرمایي: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاء. له انبیاء کرامو څخه په میراث کې سره او سپین زر نه دي پاته سوي، بلکې له هغوی څخه علم په میراث پاته سوی دی.

نو معلومه سوه چې علماء کرام د انبیا کرامو علیهم السلام وارثین دي، او دوی به د آنحضرت ﷺ دا دین و خپلو قومونو ته رسوي، دا خبره هم تر لږ روښانه دده چې هر څوک پخپله مورنۍ ژبه باندې تر نورو ژبو ډېر ژر او په ډېره اسانه طریقه سره پوهیږي، او کوم مقصد او کومه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

موخه چې دی له خپلې ژبې څخه اخستلای سي،
کېدای سي چې دی دې د نورو ژبو له کتابونو
څخه هغه مقصد وانه خلي، نو ځکه مفسر وخت
حضرت العلامة شيخ التفسير والحديث استاذ کل الحاج **مولانا محمد عبيدالله** الايوبي القندهاري صاحب د خپلو هيوادوالو مسلمانانو د فائدې لپاره د معتبرو تفاسيرو څخه دا يوه علمي ذخيره په نامه د تفسير ايوبي حنفي. په خپله خوندوره او مورنۍ ژبه پښتو کښې وليکی. چې دادی څوارلسم توک چې پکښې يوويشتمه او دوه ويشتمه پاره ترتيب سوې ده ستاسي په لاسونو کښې دی.

مکتبه القرائت والتجويد په دې ويار چې د قرآن مجيد ودې ستر خدمت ته يې ملا ترلې ده او د تجويد د کتابونو سره سره يې د علم تفسير، علم فقه او علم عقائد کتابونه هم چاپ ته سپارلي دي.

ستاسي د دعاؤ په هيله چې تر څو د حضرت ايوبي قلم نور هم ګرندی او صحت يې نور هم مخ په وړاندې سي.

والسلام

قاري فضل الحق حقاني
تلميذ حضرت ايوبي رباني مکتبة القرائت والتجويد

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ
۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ.

وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

دروېش ابو الفضل الايوبي محمد عبيد الله الكندهاري وايي چي ورځ د چهارشنبې وخت د څابښت، (۱۹) د مياشتې د صفر الخير (۱۴۳۱) هجري قمري ؤ چي ما په خپله حجره کي څلور رکعته د څابښت لمونځ شکرانه د توفيق د خداى ﷻ په شروع د تفسير د يوويشتم (۲۱) جزء وکړه، په اميد دې چي خداى ﷻ ما عاصي ته توفيق راکړي د تفسير د (۲۰) جزء د قرآن عظيم هغه زما بادار کريم مهربان دى ما ته به توفيق راکړي د تفسير د (۲۱) جزء د قرآن بلکې د تفسير د بقيه اجزاء د قرآن عزيز: اِنَّهٗ تَعَالٰى عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَبِالْاِجَابَةِ جَدِيْرٌ.

فقير وايي: چي دا زېبا نوم د تفسير القرآن که څه هم زما عاصي جهول له حال سره لائق نه دى، لکن قادر متعال جلت قدرته وتعالى شانه زما په زړه او دماغ کي دا سودا پيدا کړې وه چي په توکلت على الله سره دا تفسير وکړه، اهل السنة والجماعة وايي چي خالق د افعالو د بندګانو خداى ﷻ دى، زه په دې تفسير سره فخر نه کوم، ولي هغه حديث صحيح ماته معلوم دى (ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر) که رجل فاجر زه نه يم په مسلمانانو کي نو به څوک وي؟

التجاء:

الهی یا الهی یا الهی ..... ندارم جز امیدت تکیه گاهی
زکن موجود کردی جمله عالم ..... مرا از ذنب خود عذر خواهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی
ندارمت توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و آه آهی
شفیع آورده روی محمد ..... کرم کن بر من گم کرده راهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ

ته يا محمد تلاوت كوه (تلاوت د قرآن عظيم الشان قرائت ته وايي كه پر هره طريقه د همېشه توب وي) نو مراد له دې آيت څخه دا دی چې ته يا محمد (ﷺ) قرائت كوه د هغه شي چې تاته يې وحي كړل سوي دي يعني من جانب الله تعالى من الكتاب اى القرآن الكريم لپاره د تقرب و خداى ﷻ ته، او لپاره د تحفظ د عباراتو د قرآن او لپاره د فكر و هلو په معانيوو كي د قرآن، علماء كرام وايي چې د سړي چې معاني د قرآن زده وي، نو هر څو واره چې مكرر قرائت وكړي په هر وار كي نوي فائدې ورته كشف كېږي چې په مخه وار نه دي ورته كشف سوي.

او بل دا دې لپاره ته تلاوت د قرآن كوه چې د خلكو لپاره به تبليغ وكړځي، او بل خلك پر عمل باعثه كوه يعني على عمل بما في القرآن من الاحكام.

حكايت: د امير المؤمنين عمر فاروق ﷺ په دور كي د خلافت يوه سړي چې غلا يې كړې وه ورته راوستل سو. حضرت عمر ﷺ د قطع اليد امر ورته بيان كړى او داغل جاهل ؤ په احكامو سره د قرآن، نو هغه غله ورته وويل چې ته زما لاس ولي راپرېكوي؟ عمر ﷺ ورته وويل چې په امر د خداى ﷻ په قرآن كي، هغه سړي ورته وويل چې ته ماته تلاوت د قرآن وكړه؟ يعني هغه څاى چې د غله د قطع اليد ذكر پكښې وي، عمر ﷺ وويل: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ: اَلسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً (اَىْ عَذَابًا) مِّنَ اللّٰهِ. وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ. غله ورته وويل چې دا آيت ما تر اوسه نه ؤ اورېدلى، كه مي اورېدلى واى نو به مي غلا نه كولاى. نو عمر ﷺ د قطع اليد حكم پر جاري كړى يعني په جهل يې دى معذور او معاف نه وګرځاوه لان الجهل ليس بعذر مسقط للاحكام الشريعة.

فائده: له حضرت علي ﷺ څخه روايت دى چې څوك چې تلاوت د قرآن كريم په لمانځه كي په ولاړه سره وكړي په هر حرف سره سل (١٠٠) نېكى ورته نوشته كېږي، او كه يې خارج الصلوة په اوداسه سره قرائت وكړي، نو پر هر حرف پنځه ويشت (٢٥) نېكى ورته نوشته كېږي، او كه يې خارج الصلوة بې اوداسه ووايه (يعني پېله مس المصحف، ولي مسه المصحف شريف پېله اوداسه حرامه ده، كريمه: لَا يَمَسُّهُ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ، نو لس (١٠) نېكى ورته نوشته كېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ

چونکه امر لپاره د وجوب دی، نو مراد له صلوة څخه صلوات مفرضه دي (او معنی د اقامة الصلوة په اتفاق د مفسرینو دوامد لمونځو دی چې په قصد دي فرضي لمونځونه نه قضاء کوي، ولي کبیره ګناه ده بالاجماع) په تحقیق سره لمونځ مصلي منع کوي له زښتی څخه او له منکر في الشرع کارو څخه.

پوښتنه: امر د اقم الصلوة خو خطاب و علیه الصلوة والسلام ته ؤ، او په علیه الصلوة والسلام کي فحشاء او منکر متصور نه دي للعصمة؟

ځواب: سید محمود آلوسي ؒ وایي چې صلوة مشتمل وه پنځو سرو لمونځو ته چې په جماعت به اداء کیږي، نو امر د علیه الصلوة والسلام په اقامت سره متضمن دی امر لره د امت په اقامت سره، نو تعلیل په ان الصلوة تنهی آه صحیح دی، نو په امت کي خو فحشاء او منکر متصور دي، نو ګویا علیه الصلوة والسلام ته داسي وویل شول: صل بهم ان الصلوة تنهاهم ای الامة عن الفحشاء والمنکر. ولي چې په لمانځه کي قسم عبادات سته من اعمال القلب کالخشوع و حضور القلب و اعمال اللسان کالتسبیح والتکبیر والقرائة و اعمال الجوارح کالرکوع والسجود له سبحانه تعالی الدالة علی غایة التعظیم (یعني السجدة) والقیام بین یدي الله، نو چې پنځه لمونځونه څوک په دغه ترتیب علی الدوام کوي نو هغه به فحشاء او منکر نه کوي.

فائده: دا جمله یعني ان الصلوة تنهی آه، تعلیل دی د امر بالصلوة او فحشاء ماظهر قبحه شرعًا وعقلاً کالزنی واللواطة وغیرهما او منکر هغه کار ته وایي چې په حکم کي د شریعت منهي عنه وي، کذا في الوسیط.

بغوي ؒ په روایت د حضرت انس ﷺ وایي: چې یو ځوان ؤ له انصارو څخه چې پنځه سره لمونځونه یې د رسول الله ﷺ سره په جماعت کوله. او دغه ځوان هیڅ شی له فواحشو څخه نه پریښو کاوه به یې، یو چا وعلیه الصلوة والسلام ته د دې ځوان حال بیان کړی، فقال رسول الله ﷺ ان صلوته تنها یومًا (لمونځونه د ده به دی منع کړي له فحواشو څخه یوه ورځ) فلم یلبث ان تاب وحسن حاله (ده څنګه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ونه کړی چې توبه یې له فواحشو څخه وکښل او حال یې ښه سو. او په مسند کې د اسحاق او بزار او ابو یعلی رحمهم الله څخه په روایت له ابو هریره رضي الله عنه چې یو سړی وه نبي کریم ﷺ ته راغلی چې فلانی سړی د شپې تهجد کوي، چې ورځ سي یا غلا کوي، قال علیه الصلوة والسلام ان صلوته تنهاه (یعني فکان کما قال رسول الله ﷺ) بغوي رح وایي چې ابن عباس او ابن مسعود رض وایي: في الصلوة منتهی ومزدجر عن المعاصي فمن لم تامره صلاته بالمعروف ولم تنهه عن المنکر لم یزدد صلاته من الله الا بعداً، او بعض مفسرین وایي چې مراد له صلوة څخه قرآن کریم دی کما في قوله تعالی ولاتجهر بصلاتک یعني بالقرآن في الصلوة ولاشک ان القرآن ینهی عن الفحشاء والمنکر، ورته روایات په منع کې د لمونځو د فحشاء او منکر څخه نور هم راغلي دي.

دروښ وایي: چې دغه واقعاتي چې تاسي واورېدلې د علیه الصلوة والسلام د لمانځه برکت وؤ، نو چونکه قرن د صحابه کرامو رضي الله عنهم افضل القرون وؤ شاید په دغه عصر او قرن کې به نوري داسي واقعاتي روینما سوي وي چې مصداق د ان الصلوة تنهٰی عن الفحشاء والمنکر وي، او عصر د تابعینو چې د خیر القرون دویمه برخه ده او د تبع تابعین چې د خیر القرون درېیمه برخه ده هم په سبب د قرب الزمان وقرن اول ته هم ورته واقعاتي منځ ته راغلي وي، لکن پوښتنه داده.

پوښتنه: په وروسته زمانو کې داسي خلک ډېر دي چې پنځه وخته لمونځ په جماعت کوي لکن د مرګ تر وخته په ګوم بد کار چې دوی مبتلی وي هغه نه پرېږدي، حتی الخواص چې بعض علماء د امت مرحومه په ګناه د ریاء، کبر، بهتان، حب الدنیا، غیبت، بېله جوازه شرعي زکوة اخستل الی غیر ذالک د مرګ تر ساعته په دغه کبیره ګنهو اخته وي، نو ددوی لمونځونو ولي دوی منع نه کړه له فحشاء او منکر څخه؟

ځواب: روح البیان وایي چې د دغو کسانو لمونځ حقیقةً لمونځ نه دی، ولي حقیقةً لمونځ هغه دی چې په کامل حضور قلبي او خشیت د خدای ﷻ ادا کړل سي، او علامه بغدادي رح ډېر معقول او په زړه پوري جواب ددې اشکال ورکړی دی، دی وایي چې مضمون د آیت کریمه یعني ان الصلوة تنهٰی عن الفحشاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمنكر خو دادی چي لمونځ سړی منع کوي د فحشاء او منکر څخه لکن نهي خو انتهٰی یعني د سړي نه دی مستلزم نه دی، عرب وایي: نهیت فلانًا فلم ینته، دی وایي چي مبنی د سوال پر توهم ددې چي نهي انتها لره مستلزم دی وهو توهم باطل وتخییل عاطل لایشهد له عقل ولا یؤیده نقل. بل النقل یخالفه ویناقضه، قال الله تعالی ان الله یامر بالعدل والاحسان وایتاء ذی القربٰی وینهٰی عن الفحشاء والمنکر والبغي آه مع ان الناس لاینتهون بمقتضٰی هذه الآیة عن الفحشاء والمنکر والبغي او سره ددې چي نهي د لمانځه خو اعلٰی رتبهٔ نه دی تر نهي د باري ﷻ، انتهٰی مع الزیادة قلیلة په پښتو ژباړه.

وَلَذِكْرُ اللّٰهِ أَكْبَرُ

پوه سه: چي مراد له ذکر الله څخه لمونځ دی والمعنی ان الصلوة اکبر من سائر الطاعات وفي الحدیث الصحیح ان الصلوة عماد الدین فمن اقامها فقد اقام الدین ومن هدمها فقد هدم الدین.

پوښتنه: تعبیر له لمانځه څخه په ذکر سره د څه حکمت لپاره و کړل سو؟

ځواب: لپاره د تنبه پر دې چي ذکر الله عمدة دی په لمانځه کي لکه په هغه آیت کي د جمعې د لمانځه په باره کي راغلی دی هم له لمانځه څخه په ذکر سره کړی دی یعني فاسعوا الی ذکر الله، ای الی صلوة الجمعة لان ثواب ذکر الله من جانب العبد ذکر الله للعبد کریمه: فاذکروني اذکرکم. تاسي ما یادوئ زه به تاسي یادوم.

الاحادیث الواردة في فضیلة الذکر: احمد رح روایت کړی دی په کتاب الزهد کي او ابن المنذر د معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه، ده وویل ما عمل آدمي عملاً انجٰی من عذاب الله تعالی من الذکر (نه دی کړی یو انسان یو عمل چي دښه نجات ورکونکی وي له عذاب څخه د خدای ﷻ تر ذکر) قالوا ولا الجهاد في سبیل الله؟ (یعني جهاد في سبیل الله هم نه دی ورسره برابر؟) قال ولا ان یضرب بسیفه حتی ینقطع لان الله تعالی یقول في کتابه ولذکر الله اکبر، واخرج ابن ابی شیبة وابن جریر عن ابی الدرداء رضی الله عنه، قال الا اخبرکم بخیر اعمالکم واحبها الی ملیککم؟ (معاذ رضی الله عنه وویل چي زه داسي عمل نه درو ښییم چي ستاسي تر ټولو عملو خیر وي او محبوب وي ستاسي وباداره ته) واسماها في درجاتکم (او لوړونکی ستاسي په درجو کي) وخیر من ان تغزوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عدوكم فيضربوا رقابكم وتضربوا رقابهم وخير من اعطاء الدنانير والدراهم (او هغه عمل خير وي تر دې چې تاسي غزا کوي د دښمن سره هغه دښمن ستاسي غاړې پرې کوي او تاسي د هغو غاړې پرې کوئ، او خير ويې تر ورکړې د دينارو او د درهمو يعني في سبيل الله) قالوا وماهو يا ابا الدرداء؟ (خلکو ورته وويل چې هغه نو کوم عمل دی ای ابو الدرداء) قال ذكر الله ولذكر الله اكبر، يعني دا آيت يې دليل د خپلې مدعا وګرځاوه، واخرج ابن جرير عن سلمان الفارسي ؓ چې له ده څخه پوښتنه وکړل سوه ای العمل افضل؟ سلمان ؓ ورته وويل چې تا قرآن نه دی ويلی يعني ولذكر الله اكبر، اخرج سعيد بن منصور وابن ابی شيبة وابن المنذر والحاكم في الكنى والبيهقي في شعب الايمان عن مغيرة ؓ قال قلت لابن عباس ؓ ای العمل افضل؟ قال ذكر الله اكبر، الحديث، وعن ابی سعيد الخدري ؓ عن رسول الله ﷺ چې له رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه ای العباد افضل وارفع درجة عند الله (کوم يو د بندګانو بهتر دی او په درجه بالا دی په نېز د خدای ﷻ) قال ؐ الذاكرون الله كثيرا والذاكرات (يعني نر چې د خدای ﷻ ذکر ډېر کوي او هغه ښځې چې د خدای ﷻ ذکر ډېر کوي) چا ورته وويل تر غازي في سبيل الله هم افضل او ارفع درجه دی؟ قال ؐ لو ضرب بسيفه الكفار حتى تتكسر وتخضب دما (عليه الصلوة والسلام ورته وويل که ووهي په توره سره خپل کافران حتى چې توره يې ماته سي او په وينو ککړه سي) لكان الذاكرون لله كثيرا، افضل درجة منه، رواه احمد والترمذي، او له عبد الله بن بسر ؓ څخه روايت دی چې يو صحرائي و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ده ووېل ای الناس خير؟ (کوم يو له خلکو څخه خير دی) عليه الصلوة والسلام ورته ووېل) طوبى لمن طال عمره وحسن عمله (خوشحالي ده هغه چا لره چې عمر يې دراز وي او عمل يې ښه وي) قال يا رسول الله ﷺ ای الاعمال افضل؟ قال ؐ ان تفارق الدنيا ولسانك رطب من ذكر الله، رواه احمد والترمذي (چې ته جلا کيږې له دنيا څخه يعني مرې او ستا ژبه لنده وي په ذکر سره د خدای ﷻ) وعن ابی موسى ؓ قال قال رسول الله ﷺ مثل الذي يذكر ربه والذي لا يذكر ربه مثل الحي (يعني الذاكر ربه) والميت (يعني الذي لا يذكر ربه) بخاري مسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې امثال د دغو حديثو په باره کې د ذاکرون الله نهايت ډېر دي بعض طويل بعض کثير دي، وفيما اوردناه کفاية لمن اعطاه الله البصيرة في الدين.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۱۲﴾

او خدای پاک خبر دی او علم لري چې تاسي يې عمل کوئ يعني نوبه جزاء د خير او شر درکړي په ورځ د قيامت، کريمه: فمن يعمل مثقال ذرة خيراً يره (ای ثوابه) ومن يعمل مثقال ذرة شراً يره (ای عقابه ان شاء)

وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

تاسي خصومت مه کوئ، والمخاطب رسول الله ﷺ والمؤمنون.

بوه سه: چې په تاج المصادر کې وايي المجادلة پيکار سخت کردن بايک ديگر، او راغب اصفهاني وايي المجادلة المفاوضة، يعني بحث کول يو له بل سره د منازعت او مغالبت پر طريقه.

بوه سه: چې دا جمله عطف ده پر اقم الصلوة آه، من عطف الانشاء على الانشاء.

اَهْلَ الْكِتٰبِ: يعني اليهود والنصارى (اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَن) مګر نه په هغه خصلت سره (نو ځکه يې التي مؤنث راوړی) چې هغه ښه خصلت وي يعني بالقرآن والدعوة الى الله بآياته والتنبيه على حججه، او يا معنى داده چې هغه احسن د کافرانو تر فعل ورسره کوه مثلاً که هغو په خبرو کې ځيږوالی کاوه تاسي نرمي ورته کوئ، او که يې په غضب خبرې کولې تاسي يې نوشوئ چې کظم يې بولي په عربي، او که هغه مشاغبه کوله ناحقه بحث يې کاوه، تاسي نصيحت ورته کوئ، نو پر دې تقدير استثناء منقطع ده لان اللين والكظم والنصح ليس بمجادلة.

اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ

مګر نه هغه کسان چې ظلم يې کړی وي له دوی څخه.

دروښ وايي: چې سعيد بن جبير ؒ وايي چې اهل الحرب مستثنى دي يعني د هغو سره دي حسن مجادلة نه کوي بلکې قتال بالسيف دي وسره وکړي تر هغو چې دوی اسلام راوړي يا جزيه ورکوي په خپل لاس، نو دا آيت محمول دی پر غلظة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باللسان و السيف و السنان و على هذا حمله صاحب روح البيان، لكن روح المعاني وايي چي دا آيت خو مكي دى لكون هذه السورة مكية او قتال بالسيف او اخذ الجزية من اهل الكتاب خو په مدينه منوره كي بعد الهجرة مشروع سوې ده. نو بناء على هذا روح المعاني او مظهري او بيضاوي ددې آيت داسي ترجمه كوي چي ددې آيت د استثناء معنى داده چي حسن المجادلة چي په دمخه آيت كي راغلې وه، نو د الا الذين څخه مراد هغه كسان دي چي افراط په ظلم او عناد كي كوي او دا وايي چي خداى ﷻ لره ولد سته، او يا وايي ان يد الله مغلولة، او يا وايي چي ان الله فقير و نحن اغنياء لكه يهود انو چي به ويل، نو د آيت معنى داده چي د داسي مفرط اهل كتابو سره حسن مجادله مه كوئ بلكې په دې غلظت سره خبرې و رسره كوئ، نو پر دې تقدير مقاتل او قتاده وايي چي دا آيت منسوخ دى په آية السيف سره چي امر د جهاد دى چي په مدينه منوره كي نازل سوى دى يعني غلظت په بحث كي كافي نه دى د اهل كتابو لپاره بلكې د دوى سره جنګ په تور كوئ چي يا اسلام راوړي او يعطوا الجزية عن يد وهم صاغرون فافهم.

وَقُولُوٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

او تاسي واياست ايها المؤمنون، ايمان راوړى دى موږ يعني بالصدق والاخلاص پر هغه كتاب چي نازل سوى دى پر موږ يعني القرآن العزيز او پر هغه كتاب چي نازل سوى دى پر تاسي يعني من التورات والانجيل.

دروښ وايي: چي ددې آيت تفسير مفسرين دوه قسمه كوي (۱) دا بيان دى د حسن مجادلة (۲) دا چي يهود انو او نصارا وو به د تورات او انجيل بعض آيتونه مسلمانانو ته په عربي ترجمه كول، نو عليه الصلوة والسلام مسلمانانو ته وويل، لاتصدقوا اهل الكتاب، تاسي تصديق مه كوئ د اهل كتاب، يعني فيما تقولوه اليكم بالعربية، ولي اهل كتابو په تورات او انجيل كي بعض آيتونه د خپله ځانه درج كړي دي لاغراضهم الفاسدة، يعني هغه آيتونه درته رانقل كړي يې نه وي نو تصديق د هغو خو كفر دى، ولاتكذبوهم، او مه يې تكذيب كوئ، ولي چي شايد دوى به هغه واقعي آيتونه درته رانقل كړي وي، نو بيا خو يې تكذيب كفر دى، بل قولوا آمنا الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: تصدیق او تکذیب به نقیضین نه وي، چي ارتفاع د نقیضین خو روا نه ده؟

ځواب: لا! نقیضان نه دي، ولي دواړه مفهومه وجود لري او یو د بل عدم نه دی یعني داسي نه ده چي تصدیق عدم التکذیب دی یا تکذیب عدم التصدیق دی حتی یکونان نقیضین، ولي واسطه په منځ کي د تصدیق او تکذیب سته وهي ان تقولوا امنا آه، یعني دا خو نه تصدیق او نه تکذیب دی.

فائده: که داس شی دوی رانقل کړي چي کذب یې یقیني ؤ، بیا تکذیب روا بلکې واجب دی، لکه یهودان چي وایي چي په تورات کي سته چي دین د موسیٰ ؑ به ابدي وي یعني نسخ یې نسته، او یا دوی وایي چي موږ عیسیٰ ؑ قتل کړی. کریمه: وما قتلوه وما صلبوه ولکن شبه لهم. او یا نصاری وایي چي عیسی ابن الله دی. او نور ورته خبري کوي چي د دې خبرو تکذیب لازم دی، او که دوی نه قانع کېدل یا مباهله ورسره وکړئ یا قولوا آمنا بالذي آه. ورته وو ایاست.

وَإِلٰهُنَا وَإِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾

زموږ خدای او ستاسي خدای یو دی، او موږ مطیعین یو د خپل خدای خاصة یعني لا لغیره.

دروښ وایي: چي روح البیان او روح المعاني او امام رازي ؒ او مظهري ؒ وایي چي په دې آیت کي تعریض دی پر اهل کتابو کما حکی الله تعالی عنهم في آیة اخریٰ في موضع آخر، اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابًا من دون الله الآیة، له ابو نملة انصاري ؓ څخه روایت دی چي زه ناست وم په مجلس کي د رسول الله ﷺ چي یو سړی د یهو انو ورته راغلی په داسي حال کي چي یوه جنازه تېرېدل، نو هغه یهودي ورته وویل یا محمد (ﷺ) انها یتکلم دا جنازه والا مړی خبري کوي، فقال رسول الله ﷺ ما حدثکم اهل الکتاب لا تصدقوهم ولا تذبوهم، وقولوا آمنا بالله وکتبه ورسله، فان کان باطلاً (یعني درواغ وه) لم تصدقوا هم (تاسي یې تصدیق ونه کړئ) وان کان حقًا (که رښتیا وه) تاسي یې تکذیب ونه کړئ.

وَكَذٰلِكَ أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتٰبَ ۚ

او داغه رنګه لکه چي موږ نازل کړي ترتا دمخه انبیاء علیهم السلام باندي کتابونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني په ذریعه د وحي چي تصدیق کونکی دی ستا کتاب د دمخه کتابو لکه په دې وروسته آیت کي چي به راسي.

فَالَّذِينَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يُؤْمِنُونَ بِهٖ ۚ

پس هغه کسان چي موږ ورکړی دی دوی ته کتاب.

پوه سه: چي مراد له الذین آه یا مؤمنین د اهل الکتاب دي لکه عبدالله بن سلام ؓ وامثاله، او یا معنی د آیت داده چي الذین آتیناهم الکتاب، ټولو ایمان درلودی پر کتاب د محمد ﷺ لکن دمخه تر بعثت د نبي ﷺ، کریمه: فلما جائهم ما عرفوا کفروا به الآیة، له سببه د عناد او لپاره د مراعات د خپل جاه و جلال او د طلب د اموالو د خپلو سفله وو څخه.

فائده: بعض مفسرین وایي چي پر تقدیر ددې چي مراد د الذین آتیناهم الکتاب مثل د عبدالله بن سلام ؓ سي، نو که څه هم سورت مکي دی لکن دغه آیتونه مدني دي، ولي چي اسلام د عبدالله بن سلام ؓ خو په مدینه منوره کي وؤ، والله اعلم، او هغه چي بعض کسان وایي چي په مکه مکرمه کي خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام خبر کړی وؤ په دې سره چي په مستقبل کي به پر تا ایمان راوړي اهل کتاب بعید جدًا.

وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ۭ

او بعض ددې کسانو څخه هغه دي چي ایمان به راوړي پر قرآن (نو کلمه د من د تبعیض لپاره ده او مراد له هؤلاء څخه یا اهل مکه دي یا مطلق عرب دي یا هغه کسان دي چي په عصر نبوي کي موجود وه من اهل الکتابین التوراة والانجیل.

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ۝

او انکار نه کوي له آیاتو څخه زموږ یعني آیات القرآن مګر نه هغه کسان چي کافران وي یعني پر کفر مصمم وي او په آیاتو کي د قرآن له قلب څخه کار نه اخلي، مراد دادی چي هغه کسان چي قرآن نه مني هغه کسان تورات او انجیل هم نه مني، ولي تورات او انجیل تصدیق د قرآن کوي، نو تکذیب د قرآن تکذیب دی د تورات او انجیل هم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفریع: څوک چې دعوه د ایمان پر تورات او انجیل کوي او قرآن نه منې، نو دعره د هغه باطله ده، قتاده ؒ وایي چې د ججود معنی انکار دی وروسته تر معرفت فعرفوا ان القرآن حق وان محمداً ﷺ رسوله لکن ججدوا.

درویش وایي: چې اهل اللغة وایي چې ججود نفي ما في القلب اثباته (یعني انکار د هغه شي دی چې په زړه کې د هغه شي اثبات وي) او اثبات ما في القلب نفیه (یا په خوله اثبات د یو شي دی چې په زړه کې نفي وي) په مثنوي کې وایي:

هر کرا مشک نصیحت سود نیست ..... لاجرم بابوی بد خو گرد نیست
مغز را خالی کن از انکار یار ..... تا که ریحان یابد از گلزار یار

وَمَا كُنْتَ تَتْلُوا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ

ته وې یا محمد (ﷺ) عطف علی کذالک انزلنا الیک الکتاب آه، من قبله ای قبل انزال الکتاب الیک (من کتاب) یو کتاب له کتابو څخه کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده، یعني که آسماني کتاب وي او که تاریخي وي لکونه نبیًا امیًا (ولا تخطه بیمینک) نه تا لیکلای سوای یو شی په راسته لاس.

پوه سه: چې ذکر د یمین مبني دی پر اغلب او معتاد ولي چې غالب لیکل د خط په راسته لاس سره وي لپاره د احتراز د چپه لاس څخه نه دی یعني چې په چپه لاس دي خط لیکلی سوای، فان الخط بالشمال من ابعد النوادر، او شیعه گان خذلهم الله وایي چې د علیه الصلوة والسلام دمخه تر نبوت خط زده وٴ چې نبي سو بیا خدای نهي کړی له خط لیکلو څخه.

درویش وایي: چې دا قول د شیعه گانو مخالف دی د ظاهر سره د آیاتو د قرآن او د تولو احادیثو مبارکه وو او د اجماع سره د امت مرحومه قبل هذه الفرقة الضالة.

إِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝

که چېرې (یعني که قاري وای د کتب متقدمه وو او کاتب وای) نو به شک پیدا کېدای کفارو ته د اهل مکه، ولي دوی به ویلای چې دا چې دی قرآن منزل من عند الله بولي له قسمه څخه د قصص او امثالو دا دي له کتب څخه د تواریخ قدیمه وو نقل کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبيه: كفار مكه يې له دې سببه مبطلين وبلل لكفرهم وعنادهم مع وجود المعجزات المتكاثرة، او بعض مفسرين وايي چې د عليه الصلوة والسلام كه خط زده واى، نو اهل كتابو ته به شكل پيدا سوى واى چې دى نبي موعود نه دى. ولې چې نبي موعود ددوى په تورات او انجيل كې دامې په وصف موصوف، نو پر دې تقدير له مبطلون څخه اهل كتاب يهود او نصارى مراد دي.

بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ

(بل هو) اى القرآن آيتونه دي واضح الدلالة پر صدق خپل، كريمه: لَوْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ الآية، حشين كاشفي هروي رح وايي: درشك افتادندى تبه كاران وكج روان يعنى مشركان عرب گفتندى كى چون ميخواند ومينويسد، پس قرآن را از كتب پيشينگان التقاط كرده وبر ما مى خواند كه اين وحي آسمانى بمن مى آيد ومن رسول خدا ميباشم، يا جهودان درشك افتادند كه در كتب خوانده ايم كه پيغمبر آخير الزمان امى مى باشد واين كس قارى وكاتب است، انتهى.

فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

په سينو كې يعنې په زړو كې د هغه كسانو چې دوى ته وركړل سوى دى علم، والمراد بالموصول هغه كسان چې مؤمنان وه او قرآن يې په ياد وُ چې هيڅ چا ته طاقت د تحريف د قرآن نه وُ.

دروښ وايي: چې دا دويمه معجزه د قرآن مبارك ده چې له تحريف او تغيير بالزيادة والنقصان محفوظ پاته دى، كريمه: وانا له لحافظون، بلكې تر دې سنه (١٤٣١) پورې د قرآن مبارك حافظان ورځ په ورځ ډېرېږي بخلاف الكتب المقدمة فانها لم تكن لها تلك المعجزة اى الحفظ في صدور الذين اوتوا العلم، ځكه علماء د يهودانو د خپل غرض دنياوي لپاره تحريف د كتاب الله تورات تحريف كاوه، كريمه: يحرفون الكلم عن مواضعها او د متقدمه كتابو تلاوت د مصاحفو څخه كېدى وېښ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۹﴾

او انکار نه کوي له آياتو څخه زموږ مګر هغه کسان چې ظالمان دي يعني چې متجاوزين وي ترحد في الشر والمکابرة والفساد، ولي چې آيات د قرآن عزيز معجز دي واضح الدلالة دي پر صدق خپل از روی نظم او معنی فمن جحد بها بعد وضوح اعجازها فهو الظالم المکابر للحق.

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

او وويل دوی ولي نه نازليږي پر محمد (ﷺ) معجزات لکه تر ده دمخه انبياؤ باندي چې نازلي سوي وي لکه ناقه د صالح[۴] او عصا د موسیٰ[۴] او مائده د عیسیٰ[۴].

پوه سه: چې "قالوا" عطف دی پر قال الذين کفروا للذين آمنوا آه، ضمير د قالوا راجع دی و کفارو ته د قريشو په تعليم د بعض اهل الکتاب، وقيل الضمير راجع الی اهل الکتاب.

پوه سه: چې اکثره اهل کوفه لفظ د آية مفرد وايي او د جمع قرائت د نافع او ابن عامر چې د بصري قاريان دي او حفص.

قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾

يا محمد ﷺ ته ورته ووايه دوی ته نه دي آيات مګر په قدرت کې د خدای ﷻ دي دده په قدرت پورې مربوط دي، زه يې مالک نه يم چې تاسي ته به راتګ کوم په هر شي چې تاسي يې طلب کوئ، او زما له شان څخه نه دی مګر په ښکاره توګه يا ښکاره کول د هغو معجزاتو چې خدای ﷻ ماته راکړي دي.

پوښتنه: ولي عليه الصلوة والسلام خدای ﷻ ته خواست نه کاوه چې دغه آيات چې دوی يې غواړي نازل کړي؟

ځواب: ددوی خو مقصود اصل ايمان پر صدق د عليه الصلوة والسلام په دعوی کې د رسالت او پر صدق د قرآن چې من عند الله دی نه ؤ، که وای خو معجزات د عليه الصلوة والسلام لکه شق القمر او نوري معجزې دده د صدق لپاره په دعوی کې د رسالت کافي وې، او اعجاز د قرآن په صدق کې د قرآن کافي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ؤ، بلکي ددوی مقصد صرف او صرف مکابره وه، که دغه معجزات فرضًا ظاهري سوي هم وای بیا یې د نورو طلب کاوه حتی یتسلسل، فتدبر، ولذا قال الله ﷻ.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ

آیا دوی لره کافي نه ده.

پوه سه: چي همزه لپاره د انکار دی او نفي د نفي اثبات دی یعني کافي یې ده. او واو للحال من فاعل فعل مقدر، تقدیره اتطلبون منک آیة والحال انه لم یکفهم آیة مغنیة عما طلبوه وهي " انا انزلنا علیک الکتب " چي مور نازل کړی پر تا قرآن معجز د بلغاؤ د عربو دی چي اتیان دې په مثل سره د ادنی سورت وکړي او په عین حال کي دا قرآن جامع دی د علومو شریفه وو او د قصصو د انبیاء متقدمینو او د ددوی د امتو د احوالو موافق د کتب الهیه وو قدیمه وو لکه تورات، انجیل وغیرهما او سره ددې چي نبي امي یې.

"یتلی علیهم" چي پر دوی یې تلاوت کړل کیږي ستاد خوا څخه همیشه، مظهري ؒ دا دوه بیته راوړي دي:

لم یقترن بزمان وهی تخبرنا ..... عن المعاد وعن عاد وارم
دامت لدینا ففاقت کل معجزة ..... من النبیین اذ جائت ولم تدم

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾

په تحقیق په دغه کتاب کي چي معجزه مستمره ده کر الازمان ومر الدهور، "لرحمة" یعني نعمت عظیمه لاهل زمانه او پند، وعظ او نصیحت دی لپاره د هغه قوم چي په طلب کي د ایمان وي او صرف تعنت یعني بې ځایه مطالبې یې غرض نه وي کما مر من قولهم لولا انزل علیه آیات آه.

دروښ وایي: چي ابن جریر او ابن ابی حاتم او دارمي ؒ په خپلو مسندو کي او ابو داؤد ؒ په خپل مرسلو حدیثو کي په روایت د عمرو بن دینار عن یحیی بن جعدة قال جاء ناس من المسلمین بکتف (یعني د پسه یا د غوایي ولی) چي په هغه کي نوشته وې ځینې هغه خبري چي له یهودانو څخه دوی اورېدلي وې او علیه الصلوة والسلام ته یې بنکاره کړې، نو علیه الصلوة والسلام وویل کفی بقوم ضلالة ان یرغبوا عما جاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به نبیهم الی ماجاء به غیره لغیرهم فنزلت، اولم یکفهم انا انزلنا علیک الکتاب الآیة، فقیر وایي: چي روح المعاني دا شان نزول چي مظهري راوړی دی رد کړی دی په دې الفاظو چي سیاق او سباق سره د کافرانو دی او دا آیت او لم یکفهم الخ جواب دی ددې قول د کافرانو لولا انزل الخ او راوړونکی د کتف خو مسلمانؤ، نو څرنګه دا آیت په شان کي د مسلمان نازل سوی بلل کېدای سي؟! والله اعلم.

ښهانه فائده: علماء دین وایي چي نقل له تورات یا انجیل څخه و عربي ته یا فارسي ته الی غیر ذالک من الالسنة ممنوع دی چي دا منع د سیدتنا عائشة رضي الله عنها څخه منقول ده، چنانچه ابن عساکر د ابن ابی ملیکه څخه روایت کړی دی چي عبدالله بن عامر بن رکن ودې ته یوه هدیه راواستول، دا چي خبره سوه چي رالیږونکی د هدیې عبدالله بن عامر دی نو هدیه یې بیرته وررد کړه او علت د رد یې دا ووایه چي دغه را استونکی ددې په خیال عبدالله بن عمرو دی تتبع یعني کرځي او مطالعه کوي د کتب متقدمه یعني تورات او انجیل او د هغه کتابو څخه په عربي ترجمه کوي او سره ددې چي خدای ﷻ ویلي دي، اولم یکفهم انا انزلنا علیک الکتاب یتلی علیهم لکه چي دمخه دا آیت سره د ترجمې تېر سوی دی، نو سیدتنا عائشه رضي الله عنها ته یو چا وویل چي دا استونکی د هدیې هغه ناقل یعني عبدالله بن عمرو نه دی بلکې عبدالله بن عامر دی، نو سیدتنا عائشه رضي الله عنها هدیه قبوله کړه، او روح المعاني وایي وجاء في عدة اخبار ما یقتضی المنع (او په څو خبرو کي راغلي ده منع د نقل څخه د تورات او انجیل) دی وایي اخرج عبدالرزاق في المصنف والبیهقي في شعب الایمان عن الزهري چي حفصه (بنت عمر رضي الله عنه زوجة النبي ﷺ) و علیه الصلوة والسلام ته راغله یو کاغذ ورسره ؤ ده قصه د یوسف علیه السلام نو حفصه رضي الله عنها هغه مکتوب منقول من التورات و علیه الصلوة والسلام ته وایه او رنګ د علیه الصلوة والسلام تغیر خوړی او حفصه رضي الله عنها ته یې داسي وویل والذي نفسي بیده لو اتاکم یوسف وانا بینکم فاتبعتموه وترکتموني ضللتم.

ترجمه: زما دي قسم وي په هغه خدای ﷻ چي زما روح د هغه په قدرت کي دی که فرضًا یوسف علیه السلام په خپله تاسي ته راغلی وای او زه ستاسي په مابین کي وای تاسي د هغه متابعت کولای زه مو پریښولای تاسي به ګمراهان وای، (انا حظکم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من النبيين و انتم حظي من الامم) زه ستاسي برخه يم په انبياؤ ﷺ کي او تاسي زما برخه ياست په امتو کي، و اخرج عبد الرزاق و البيهقي ايضًا چي عمر بن الخطاب ﷺ پر يو سړي تېرېدی چي هغه يو کتاب وايه (يعني منقول من التورات په عربي ژباړه) نو عمر ﷺ يو ګړی غوږ ورته ونيوی او بيه خوند يې ورکړی، نو عمر ﷺ و هغه سړي ته وويل اکتب لي من هذا الکتاب، هغه سړي ورته وويل نعم، نو هغه سړي يوه توته څرمن رانيول او هغه يې په لاس کي سره کش کړه يعني د نوشتې قابل يې وګرځول او پر مخ او شا يې هغه کتاب چي ده وايه عمر ﷺ ته نوشته کړی، نو عمر ﷺ هغه مکتبو راواخستی او عليه الصلوة و السلام ته يې وايه، ده چي دا مکتوب وايه د عليه الصلوة و السلام مخ تغيير کاوه يعني د عمر ﷺ فکر نه ؤ مکتوب ته يې کتل، نو يو سړی له انصارو څخه تېرېدی د عليه الصلوة و السلام مخ مبارک ته چي يې و کتل نو هغه مکتوب يې د عمر ﷺ له لاسه څخه وغورځاوه او عمر ﷺ ته يې داسي وويل، ثکلتک امک يا ابن الخطاب، مور دي دربانديي بوره سي ای عمره.

(دروېش وايي: چي حقيقت ددې عبارت چي ښرا ده مراد نه دی بلکې د عربو دا عادت دی چي په وخت کي د ملامتيا د يو چا دغه عبارت وايي)

الا تری وجه رسول الله ﷺ منذ اليوم و انت تقرء عليه هذا الکتاب (ته نه وينې مخ مبارک د ورځې په اوږدو کي په داسي حال کي چي ته قرائت ددې کتاب ورته کوې) يعني څومره يې مخ مبارک تغيير خوري، فقال النبي ﷺ عند ذالک، انما بعثت فاتحًا و خاتمًا و اعطيت جوامع الکلم و خواتمه (زه فاتح يم يعني د دين اسلام او خاتم يم د انبياؤ او ماته راکړی کلم جامعه چي لفظ يې مختصر وي او معنی يې جزيل وي حديث طويل دی الی اخير الحديث به ووايو، په اخير کي د حديث داسي راغلي دي فلا يهلکنکم المتهوکون تاسي دي هلاک نه کړي يعني چي دين مو تغيير درورسوي يا مو يهوديت ته مائل کړي يا نصرانيت ته هغه کسان چي پر هره خبره غوږ نسي په بې فکری سره، يا معنی د متهوکون داده چي حيران وي وه ورته خبرو ته، په يوه روايت کي راغلي دي چي کعب بن الاشرف ذالک الخبيث من اليهود و عليه الصلوة و السلام ته وويل من يشهد انک رسول الله فنزلت هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ته ورته ووایه چي کافي دی خدای ﷻ (کلمه د باء زائده ده په فاعل ولي چي کفٰی په خپله متعدي دی) په منځ کي زما او ستاسي شاهد د صدق زما په دعوی کي د رسالت او خدای ﷻ علم لري پر ما في السموات والارض باندي لايخفٰی علیه شئ فیهما، دا جمله تعلیل ده د کفٰی بالله الخ، او یا معنی د کفٰی بالله آه داده چي خدای ﷻ شاهد دی پر ما چي ما انذار او تبلیغ درته کړی دی، او پر تاسي هم شاهد دی چي تاسي زما تکذیب او له نبوت څخه زما مو انکار وکړی، نو خدای ﷻ به وهر چاته جزاء بما یلیق بحاله ورکړي یعني په ورځ د قیامت.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝

هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي پر باطل باندي، ابن عباس ؓ وایي ای بغیر الله ﷻ یعني که صنم وي او که ملائکه وي او که عیسٰی ؑ وي، او کفر یې کړی وي په خدای سره چي واحد لاشریک دی دوی شریک ورته وایي دغو کسانو تاوان وکړی په تجارت کي، ولي چي اور یعني دوزخ یې په جنت را نیوی او باطل یې پر حق غوره کړی، وهذه الجملة معطوفة علی کفٰی آه.

پوښتنه: عیسٰی، ملائکه ؑ او داغه رنګه صنم ته څرنګه باطل ویل کیدای سي هغه خو یو دبره ده؟

ځواب: په حقیقت کي باطل د دغو مذکوره انواعو عبادت دی، نو پر دوی یې اطلاق مبالغةً دی، او مقاتل ؒ وایي بعبادة الشیطان د شیطان له نومانو څخه باطل هم دی.

دروښ وایي: چي اصل د خسران تاوان دی په تجارت کي او استعمال یې په آیت کي استعاره او مجاز دی.

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى

او دوی ژر غواړي عذاب الهي له تا څخه یا محمد (ﷺ) (دا آیت په شان کي د نضر بن الحارث نازل سوی دی چي ده به ویل ان کان هو الحق من عندک فامطر علینا حجارة من السماء، دا جمله عطف ده علی قوله تعالی لولا انزل الآیة) که نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وای وخت معین په علم کي د خدای ﷻ. ابن عباس ؓ وایي چي دا اجل معین هغه دی چي د علیه الصلوة والسلام سره خدای ﷻ وعده کړې ده چي زه ستا قوم په عذاب د استیصال نه هلاکوم لکه نور امتونه د انبیاء کرامو علیهم السلام بلکي عذاب یې وروڅي تهد قیامت څنډوم کما قال عز من قائل بل الساعة موعدهم الآیة، او ضحاک ؒ وایي چي مراد اجل مسمّی مدت د عمر ددوی په دنیا کي لانهم اذا ماتوا صاروا الی العذاب، وفي الحدیث من مات فقد قامت قیامته، او بعض مفسرین وایي چي مراد یوم بدر دی.

لَجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

عاجلاً او هر آئینه رابسي عذاب وقیل الاجل، نابیره یعني په دنیا کي لکه ورځ د بدر او په آخرت کي عند نزول الموت بهم، دوی به خبر نه وي په وخت د راتلو سره، دا جمله تاکید ده معنی د بغتةً.

فائده: دوی یعني کفارو د قریشو څرنګه مطالبه د استعجال د عذاب کوله عذاب خو د مېلې شی نه دۍ؟

ځواب: دا سوال د دوی استهزاءً او تعجیزاً او د انکار پرده دۍ کما قالوا متی هذا الوعد ان کنتم صادقین... سعید شیرازي ؒ وایي:

تو غافل در اندیشه سود و مال ..... که سرمایهٔ عمر شد پایمال
طریقی بدست آرد وصلحی بجوی ..... شفیعی برانگیز و عذری بگوی
که یک لحظه صورت نه بندد امان ..... چو پیمانه پر شد بدوری زمان

ولذا قیل: موتوا قبل ان تموتوا ای موتوا بالاختیار قبل ان تموتوا بالاضطرار.

يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ ۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ۝

او په تحقیق دوزخ احاطه کونکی دی (یعني عن قریب لان ماهو آت قریب) پر کافرانو. ولهذا قیل ما اقرب ما هو آت و ابعد ما هو فات. او یا معنی داده چي اور او دوزخ بالفعل پر دوی لان الکفر و المعاصي موجودة فیهم فعلاً وهي اسباب للنار.

فائده: کلمه د لام لپاره د عهد ده او الکافرین من قبیل الظاهر موضع الضمیر لپاره د دلالة پر موجب ده احاطة جهنم بهم وهو الکفر فلا یرد ان الاولی ان یقال بهم فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ

پوه سه: چې یوم ظرف د لمحیطة دی هغه ورځ چې پټ کړي دوی عذاب یعنې اور د دوزخ د لورې خوا څخه یعنې د سر له خوا څخه او لاندې ترپښو ددوی یعنې له جوانبو چهارګانه وو څخه، ولې د سر او پښتو پټ والی په اور سره پټ والې لره د جنینو مستلزم دی کما لایخفی.

وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾

پوه سه: چې نافع او کوفیون (یقول) په یا د غیبت وایي، والضمیر اما راجع الی الله او یا بعض الملائکة په امر د خدای ﷻ، او نور قراء یې نقول پر صیغه د متکلم وایي "ذوقوا" لیس المراد من الذوق معناه المتعارف ای ذوق الفم بل معناه جربوا او ما کنتم په حذف سره د مضاف ای جزاء ما کنتم تعملون، کلمه د ما یا مصدریه ده ای جزاء عملکم او یا موصوله ده، والعائد محذوف ای جزاء ما کنتم تعملونه من الکفر و المعاصي.

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾

اې زما هغو بندګانو چې ایمان یې راوړی وي په تحقیق زما مځکه فراخه ده، یعنې که یو ځای عبادت د خدای ﷻ لکه لمونځ د کفارو د لاسه یې نسې کولای، نو بل ځای ته هجرت وکړئ چې هورې عبادت د خدای ﷻ په ازاده توګه کولای سئ، نو هورې خاص زما عبادت کوئ.

الاعراب: پوه سه! چې ایای منصوب دی په فعل مضمر سره چې تفسیر یې وروسته شرطیه کوي، والفاء جواب لشرط محذوف تقدیره وان لم تستطیعوا ان تعبدوني في الارض التي کنتم فیه فاعبدوني في ارض غیرها، فحذف الشرط او عوض د حذف یې تقدیم د مفعول وګرځاوه او ضمیر متصل یې منفصل وګرځاوه وافاد تقدیمه الاختصاص کما في ایاک نعبد، فصار فایاي اعبدوا ییا هغه فعل ناصب چې اعبدوا حذف کړی او بیا یې تفسیر وکړی بقوله فاعبدوني لپاره د افادې د تاکید کانه قال فاعبدوني فاعبدوني، هذا ماقاله العلامة البغدادي ؒ في روح المعاني و المظهري.

پوه سه: چې مقاتل او کلبي ؒ وایي چې دا آیت په شان کې د مسلمانانو د ضعفاؤ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نازل سوی دی چې په مکه مکرمه کې تنګ وه د کفارو د لاسه څخه په اظهار د عبادت يې نسو کولای. نو په دې آیت کې خدای پاک دوی ته امر ورکړی چې هجرت وکړئ و بلې محکمې ته لکه مدینه منوره چې هورې بېله خوفه خپل د خدای ﷻ عبادت وکړئ، داؤ قول د اکثرو مفسرینو، او بعض مفسرین وایي که څه هم مورد د ایت خاص دی لکن حکم يې عام دی چې هر څوک چې قدرت نه لري پر اداء کولو د امورو د دین کما ینبغي په یوه محکمه کې له جهته څخه د ممانعت د کافرانو وغیرهم. نو پر هغه چا هجرت واجب دی و داسې ځای ته چې ازادانه عبادت د خدای ﷻ کولای سي، وروی هذا عن ابن جبیر و عطاء، ومجاهد و مالک بن انس رحمهم الله، او مطرف بن السخیر رح وایي چې دا وعده د خدای ﷻ د فراخی د رزق په ټوله محکمې کې.

دروښ وایي: چې دا تجربه ماته حاصله ده، ولې څه وخت چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړی او ټوله افغانستان يې په قبضه کې واخستی په معاونت د حزب الخلق یا حزب پرچم وغیرهم او هورې ګذاره د علماؤ خصوصًا او د تاجرانو ډېره سخته سوه، علماء به بندي کېدل او وژل کېدل، نو د ډېرو علماؤ په شمول ما هم وه همسایه ملک پاکستان ته چې د مسلمانانو لپاره تر دې اوسه یعني (١٤٣١) پورې قلعه ده هجرت وکړی، او په افغانستان کې به مي د یو مسجد یا جامع مسجد امامت کاوه په اجر ذلیل د زکوة، پاکستان ته چې سره د اهل او عیال راغلم البته یو څو کاله خو مشکلات د هجرت وه، نه مو د اوسېدو سرای درلودی، نو ما او زامنو به مو مزدوری کولې لکن الحمد لله وروسته تر محدودي زمانې خپل ملکي سرای خدای ﷻ راکړی او بیا یو کوچنی مسجد خدای ﷻ راکړی یعني خپل نه د زکوة وغیره په اختلو سره بیا خدای پاک هغه کوچنی مسجد په جامع مسجد رابدل کړی چې رفته رفته په وروسته هغه کوچنی مسجد مو شهید کړی دوه منزله پوخ جامع مسجد په سیخ او کانګریټو مو بناء کړی چې په دواړو یعني لوړ او کښته مسجد کې بنې بنې قیمتي قالین اواري دي، خدای پاک رابدل کړی نه د چا زکوة اخلم نه سرسایه، دا وه تجربه د فقیر په هجرت کې.

او سعید بن جبیر رح وایي چې که په یو وطن کې سړی د ګنهو سره دست او ګریوان وي نو د هغه وطن څخه دي هجرت وکړي، کریمه: فان ارضی واسعة، وقال عطاء رح اذا امرتم بالمعاصي في ارض فاهجروا منها فان ارضي واسعة، او بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کسان وایي چي په هغو کسانو کي نازل سوی دی چي له مکي مکرمي څخه به یي هجرت و مدینة المنوره ته نه کاوه او دوی به دا عذر وایه چي موږ بېرېږو له لوږي څخه که هجرت وکړو فانزل الله تعالی هذه الآیة، او دا یي ددوی عذر و نه ګڼی په ترک کي د هجرت، مطرف بن عبد الله رح وایي ان ارضي واسعة چي معنا یي داده چي رزقي لکم واسع فاخرجوا، قال رسول الله ﷺ من فر بدینه من ارض الی ارض ولو شبرا استوجب الجنة وکان رفیق ابراهیم و محمد علیهما السلام، رواه الثعلبي عن حدیث الحسن مرسلاً... قال الشاعر:

سفر کن چو جای تو ناخوش بود ..... کزین جای رفتن بدان تنگ نیست
وگر تنگ گردد ترا جایگاه..... خدای جهان را جهان تنگ نیست

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ

هر سړی واجد دی د حرارت د مرګ او د تلخی د زکندن، ولهذا قال سید نوع البشر ﷺ اللهم للموت سکرات په وخت کي د زکندن لکه د یو شي چي سړی خوند ګوري د ما قبل سره ددې آیت ربط دادی، نو په دار الشر کي د مرګ له بېرې مه اوسېږه بلکي د مرګ لپاره باید څان سړی چمتو کړي په عبادت سره.

ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ۝

وروسته تر مرینې بیا موږ ته راجع کړل کېږي بالبعث بعد الموت، یعني فیجازیکم باعمالکم فهاجروا في سبیل الله چي موږ جزاء او ثواب د هجرت درکړو.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا

او هغه کسان چي ایمان یي راوړی وي او اعمال صالحه یي هم کړي وي هر آئینه به موږ داخل کړو دوی د جنت په بالا خانو کي، د غرفًا جمع غرفة ده، یعني چي د ملغلرو او یا قوتو او زبرجد څخه به جوړي وي.

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ۝

چي بهېږي به لاندي ترې دغو غرفو ویالې (۱) من الماء الذي لم یتغیر طعمه، (۲) والخمر التي لا غول فیها ولا هم ینزفون (۳) واللبن الخالص (۴) والعسل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المصفى، چي همېشه به وي دوی په دا غرفو کي بلا موت ولا مرض ولا تکليف بالصلوة والصيام وغيرهما من العبادات.

پوه سه: چي مخصوص بالمدح د نعم محذوف دی دل عليه ماقبله ای غرف الجنة او اجورهم.

الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾

هغه کسان چي دوی په دنيا کي صبر کړی ؤ پر ازارد مشرکانو والهجرة من الوطن المالوف في سبيل الله وغير ذالک من التکاليف الشاقة لاجل مرضات الله ﷻ.

ع:..... براحتی نه رسید آنکه زحمتی نکشید

بيت: تدوم العز ثم تنام ليلاً ..... ومن طلب العلٰی سهر الليالي

بقدر الکد تکتسب المعالي ..... يغوص البحر من طلب الآلي

"وعلی ربهم يتوکلون" او پر خدای ﷻ يې کامل اعتماد وي بان يرزقهم من حيث لم يحتسبوا.

دروښ وايي: چي بغوي ؒ وايي چي نبي ﷺ وه هغو مسلمانانو ته چي په مکه مکرمه کي تر ازار او ربړو د مشرکانو زيرا ثر وه په ذريعه د مکتوب يا د قاصد دا سي پيغام واستاوه چي مدينې منورې ته هجرت وکړئ، نو دوی په خپلو کي سره وويل چي موږ څرنګه مدينې ته ولاړ سو نه هورې موږ سرای د اوسېدو لرو او نه مال لرو. نو موږ ته خو اراکي مواد څوک راکړي! و موږ ته به اوبه څوک راکوي. نو دا آيت نازل سو.

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ

پوه سه: چي کاين لپاره د تکثير دی لکه کم خبريه کاف د تشبيه يې سره د اي مرکب کړی، معنی افرادي د د دواړو پاته سوه بلکې مجموع دوه لفظه لکه يو مبني علی السکون چي په اخير کي يې نون ساکنه دی کما في من، او دا نون تنوين تمکن نه دی کما في ضربت زيداً دليل يې دا دی چي وروسته تر يا نون په خپل صورت نوشته دی، سره د دې چي تنوين تمکن په خط کي صورت نه لري کما في ضربت زيداً، نو کأين مبتداء ده او جمله ده:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۖ

لاتحمل رزقها یعني د خپل ځان سره رزق نسي وړلای او ذخیره د بلي ورځي لپاره هم برابروي. دا جمله صفت د دابة ده "الله یرزقها وایاکم" یې خبر دی، والمعنی د پر له دوابو څخه چې محتاج و غذا ته دي من البهائم والطیور حتی مېږیانو ته په خپلو ښارو کي خدای ﷻ رزق ورکوي او تاسي ته هم هر ځای چې یاست که په مکة المکرمة کي یاست او که په مدینة المنوره کي یاست، نو تاسي ولي وایاست چې مور څرنګه هجرت مدیني منورې ته وکړو الی اخیر مامر، چې بهائم او دابو ته خدای پاک رزق ورکوي چې هغه تر تاسي ضعیف البنیة دي او تاسي قوت د کسب او کارهم لرئ، رازق د ټولو ذو الجلال والاکرام دی، کریمه: وما من دآبة الا علی الله رزقها. فلاتخافوا الفقر بالمهاجرة الی دار الغربة.. شعر:

هست زفیض کرم ذوالجلال ..... مشرب ارزاق پر آب زلال
شاه وگدا روزی ازان میخورند ..... مور وملخ قسمت ازو میبرند

وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝

نو ستاسي هغه مامضی خبري خدای پاک هم اوري چې په باره کي د رزق مو کولې او ستاسي پر زړو خدای پاک علم لري.

حکایت: از ابو سعید خراز قدس سره نقل است که در شهری بودم نام من در آنجا بسیار مشهور شد چنانچه اگر پوست خربوزه که از دست من بیفتادی مردم برداشتند واز یک دیگر بصد دینار می خریدند وبر آن هم میافزردند، باخود گفتم که این نه جای منست، ولائق روزگار من پس از آنجا هجرت کردم وبجای افتادم که مرا زندیق می گفتند وهر روز دوباره سنگ باران همی کرند همان جای مقام ساختم وآن رنج وبلا می کشیدم وخوش همی بودم زیرا که تانفس مرده وذلیل نشود بر فتوح وزنده نخواهد شد.

له ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ سره داخل سوم یو باغ ته، باغ د انصارو ؤ (یعني د خورما باغ ؤ) نو رسول الله ﷺ دالنده خورما شکول او خوړل یې، ماته یې وویل یا ابن عمر کل (خوره یې) ما ورته وویل زما اشتها نه ورته کېږي، علیه الصلوة والسلام راته وویل چې زما خو اشتها ورته کېږي، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زیاته یې کړه چې دا څلورمه ورځ ده چې ما هیڅ طعام نه دی خوړلی او نه مي پیدا کړی دی، فقلت والله المستعان یعني د تعجب لپاره مي دا خبره وکړه، علیه الصلوة والسلام راته وویل یا ابن عمر لو سئلت ربي لاعطاني مثل ملک کسری وقیصر اضعافًا مضاعفة ولکن اجوع یومًا واشبع یومًا، وروسته یې راته وویل یا ابن عمر کیف بک یا ابن عمر، که تاته خدای پاک عمر درکړی او باقي پاته سې په یو قوم کې چې دوی د یوه کال نفقه لري او یقین یې پر خدای د رزق په باره هم لا ضعیف وي، ابن عمر ؓ وایي چې لږ وروسته دا آیت نازل سو "وکاین من دآبة الآیة" وعن انس ؓ ان النبي ﷺ کان لایدخر لغد رواه الترمذي، وعن عمر ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ یقول لو انکم تتوکلون علی الله حق توکله لرزقکم ما یرزق الطیر تغدو خماصًا وتروح بطانًا، رواه الترمذي وابن ماجه، ترجمه: که تاسي توکل وکړئ پر خدای ﷻ په کامل توکل سره د خدای یعني په باره کې د رزق تاسي ته به خدای ﷻ رزق درکولای لکه وه مرغه ته چې سهار له خپل ځای څخه وځی ولاړ سي ماښام په ډک نس راسي، له ابن مسعود ؓ څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ لیس من شیئ یقربکم من الجنة ویباعدکم من النار الا امرتکم به (نسته داسي یعني له امورو څخه د دین چې تاسي نژدې کوي و جنت ته او لېرې کوي مو له اورد یعني في الآخرة مګر نه ما تاسي په امر کړي یاست په هغه سره) ولیس من شیئ یقربکم من النار ویباعدکم من الجنة الا قد نهیتکم منه (او نسته داسي یو عمل چې تاسي نژدې کوي و اورته او لېرې کوي مو له جنت څخه یعني من المعاصي، مګر نه ما تاسي له هغه عمل څخه نهي کړي یاست) وان روح القدس نفث في روعي (او په تحقیق سره جبرئیل ؑ چې پاک روح دی زما په زړه کې را اچولي دي) ان نفسًا لن تموت حتی تستکمل رزقها (نفس نه مري تر هغو چې خپل رزق یعني په دنیا کې چې د خدای ﷻ له خوا مقدر دی پای ته ونه رسوي) الا فاتقوا الله واجملوا في الطلب (آګاه اوسئ له خدای ﷻ څخه وبېرېږئ، یعني له عذاب څخه د قیامت د ورځې او د هغې ورځ له حساب څخه، تاسي له صبر جمیل څخه کار واخلئ په طلب کې د رزق چې دا وروسته یې بیان دی) ولا یحملنکم استبطاء الرزق ان تطلبوا بمعاصي الله (او تاسي دې باعثه نه کړي څنډه بدل د رزق یعني الحلال پرې باندې چې په معاصي د خدای ﷻ لکه سود، غلا، کیسه بري،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راهزني وغير ذالک سره طلب د رزق کوئ) فانه لايدرک ما عند الله الا بطاعته (ولي په تحقيق چي نه پيدا کيږي هغه رزق چي په نېزد خداى ﷻ يعني الرزق الحلال مګر نه په طاعت سره د خداى ﷻ. نو دا سوال نه وارديږي چي د هر خلګ په ذکر سوي معاصيو سره رزقونه تر لاسه کوي. ولي هغه رزق خو ماعند الله نه دى يعني حلال فافهم) رواه البغوي ؒ في شرح السنة وذکره في المعالم.

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَ سَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

يعني که ته سوال وکړې له اهل مکه څخه (کلمه د لام جواب د قسم محذوف ده کمامر مرارًا) چي چا پيدا کړي دي اسمانونه او مځکه او مسخر يې ګرځولي دي لمر او سپوږمى. يعني په خپل شبانه روزي رفتار کي.

پوه سه: چي من خلق آه جمله استفهاميه ده واقع ده په تاويل د مفرد په محل کي د نصب على المصدرية د سئالتهم، والتقدير سئالتهم هذا السوال يعني من خلق آه.

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝

نو ضرور به دوى وايي چي الله پيدا کړي دي.

پوه سه: چي اسم جليل فاعل دى د فعل محذوف، والتقدير ليقولن خلقهن الله او ليقولن جواب دى د قسم محذوف لفظًا وجواب الشرط معنًى يعني والله لايقولن الا هذا الجواب لما تقرر في العقول السليمة من انها من الممكنات المحتاجة الى ذات واحدة واجب لذاته (فانى يؤفكون) يعني دغه اقرار هم کوي يعني ليقولن الله نو څرنګه مصروف سولاست ايها المشرکون د توحيد د هغه يعني په عبادت سره و شرک ته د بتانو په عبادت سره، والحال انها جمادات لاتضر ولا تنفع.

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ

خداى پاک دى چي په قدرت عظيمه رزق فراخه کوي و هغه چاته چي دده ورته اراده سي او تنګوي رزق و هغه چاته چي دده ورته اراده سي (نو ضمير د له راجع و من يشاء ته دى نو ځکه فقير ترجمه داسي وکړه و هغه چاته چي دده ورته اراده سي فتدبر) سعدي شيرازي قدس سره وايي:

ادیم زمین سفره عام اوست ..... برين خوان يغما چه دشمن چه دوست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي مفسرين رح ټوله وايي چي دا احتمال سته چي موسع له او مضيق عليه دي يو سړی وي پر سبيل د تعاقب في الزمان، او دا هم احتمال سته چي ضمير د له په ځای کي د من يشاء راوړی وي لکه فقير چي اول هم داغه ترجمه وکړه، نو لکه من يشآء چي مبهم وٗ ضمير هم مبهم دی.

إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾

په تحقيق خدای وسع علمه په هر شي خبر دی يعني په مصالحو د هر چا او په مفاسدو د هر چا چي د بعض مسلمانانو فراخي د رزق داعي و عبادت ته د خدای رح ده او د بعض مسلمانانو لپاره فراخي د رزق يې سبب د فتنې في الدين ګرځي، او تنګي د رزق سبب د صلاح ګرځي وبالعکس، او په بعض مسلمانانو کي کله فراخي کله تنګي سبب د صلاح وي فيفعل مايشاء وهو اعلم بالمصلحين و المفسدين وباسباب الصلاح و الفساد كما ورد في الحديث القدسي الذي رواه البغوي رح: قال الله تعالى ان من عبادي المؤمنين لمن يسئلي الباب من العبادة (يعني فتح الباب من العبادة آية عبادة كانت) فاكفه عنه (زه هغه دروازه نه ورخلاصوم) لايدخله عجب فيفسده (که د هغه عبادت دروازه ورخلاصه کړم دده څخه خو دبيني او کبر کيږي نو هغه عجب دده عبادت ور فاسدوي) وان من عبادي المؤمنين ان لايصلح ايمانه الا الغناء لو افقرته لافسده ذالک (او بعض زما د بندګانو مؤمنانو لايصلح اصلاح د ايمان دده نه کوي مګر غناء يې کوي که يې فقير کړم دا فقر به دده ايمان فاسد کړي يعني غلاوي به کوي يا راهزني او يا به الفاظ د کفر وايي وغير ذالک من المفاسد المربوطة بالفقر) وان من عبادي المؤمنين لمن لايصلح ايمانه الا الفقر ولو اغنيته لافسده ذالک (او بعض زما د بندګانو مؤمنانو څخه داسي کسان سته چي د ايمان اصلاح يې نه کوي مګر صحت د بدن، که يې زه ناجوړی کړم فاسد به کړي دده ايمان دغه دين دده مثلاً په صورت جوړ وي پنځه وخته جماعته به کوي او د مسلمانانو جنازې او نور ورته کارونه چي په صحت البدن پورې مربوط دي او چي ناجوړی يې کړم شکايت به د خدای ﷻ څخه او يې صبري به کوي. او ناوړه الفاظ به يې تر خوله وځي) وان من عبادي المؤمنين من لايصلح ايمانه الا السقم (بعض زما د بندګانو څخه ايمان ته يې فائده نه کوي مګر ناجوړي چي خدای ﷻ ته به د تل عجز او نياز کوي خپل صحت غواړي، او که يې زه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صورت جوړ کړم ناجائز کارونه به کوي او د هر سروز او فسق په مجلسو کي به کښيني الى غير ذالک من آفات الصحت، اني عليم خبير.

دروښ وايي: چي يو شاعر د فقر حال داسي بيان کړی دی.

بر فلک بر تر بود اسرار او ..... شيئًا لله شيئًا لله کار او

ولهذا قال سيد نوع البشر ﷺ اجوع يومًا واطعم يومًا کما مر في حديث ابن عمر چي زه د رسول الله ﷺ سره يو باغ ته د انصارو ورغلم، الخ، ومن ههنا قال رسول الله ﷺ الفقر فخري.

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

که ته سوال او پوښتنه وکړې له مکي والو څخه (عطف دی پر لئن سئالتم السابق) چي چا نازل کړي دي يعني په بار بار (کما هو مقتضى باب التفعيل له اسمان څخه يا له وريځي څخه. لان کل ما علاک فهو سماء) او به يعني د باران په ذريعه.

دروښ وايي: چي چونکه په مکه او اطرافو کي ښله باران نه د بل شي او ربښت نه وُ، نو ځکه يې واوره چي ثلج يې بولي نه کړه ذکر يا له دې سبب چي ثلج خو هم بالآخره او به کړځي، نو يې ژوندی کړه مځکه په هغو سره.

فائده: حيوٰة د مځکي دا دی چي په نباتاتو سره سرسبزه او شاداب وکړځي لکه مرګ د مځکي چي دا دی د نباتاتو څخه خلاصه سي او سپېره پاته سي وروسته تر مرګ د مځکي، هر آئينه دوی يعني مشرکان د مکي وايي الله دغه کارونه کوي، اذ لا جواب غيره، يعني نسبت د دې کارو دوی هم خپلو بتانو ته نسي کولای لانه خلاف البداهة.

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾

ته ورته ووايه حمد دي وي خدای ﷻ لره، يعني زه ستاسي له ضلالت څخه ساتلی يم (او ياد الحمد لله معنی داده چي ستا تصديق او يېرغ د توحيد په دغو شيانو کي دوی هم پورته کړي) بلکي ډېر د دوی نه پوهېږي په قبح سره او په تناقض سره د اقوالو د دوی چي يو وار نسبت د ممکناتو ذات پاک ته کوي او بيا په عبادت کي بتان ورشريکوي چي هغه پر خلق د هيڅ شي قدرت نه لري ولا تنفع ولا تضر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي اکثر يې له دې کبله وويله چي بعض ددوی خو پوهيدل لکن تکبراً او عناداً د بتانو په شراکت ډاډه وه، له دې آيته دا معلومه سوه چي له کفارو څخه هم خدای ﷻ رزق او اسباب د رزق لکه باران ونه نه سپموي فکيف يقطع ارزاق المؤمنين مع ايمانهم... سعدي شيرازي ؒ وايي:

ای کريمی که از خزانه غيب ..... گبرو ترسا وظيفه خوردار ی
دوستان را کجا کنی محروم ..... تو که با دشمنان نظر دار ی

علماء وايي چي ذات پاک ﷻ له بندګانو څخه نه غواړي مګر توحيد او تقوی، صبر او توکل فان الرزق علی الله الکريم، مولی الجامي قدس سره السامي وايي:

د رين خرابه مکش بهر گنج غصه ورنج
چو نقد وقت تو شد فقر خاک بر سر گنج
بقصر عشرت وايوان عيش شاهان بين
که زاغ نغمه سرا گشت وجعد قافيه سنج

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّ لَعِبٌ ؕ

نه دی دغه ژوند ددې دنيا يعني مشاغل او کارونه ددې دنيا.

فائده: اشاره د هڈه لپاره د تحقير ده.

پوه سه: چي لهو و هغه کاروته وايي چي د اصل مقصود څخه سړی لهري کوي فان الاشتغال بامور الدنيا سړی منع کوي د ما يفيده في الحيوة المؤبدة "ولعب" ساتېری دی يعني عبث کار دی لکه کوچنيان چي په خاورو کي باغونه جوړوي لانها فانية.

پوښتنه: په حيوة الدنيا کي خو مسلمانان لمونځونه کوي، حجونه کوي الی غير ذالک، نو دا هم لهو او لعب دي که څرنګه؟

ځواب: طاعات خو د دنيا شيان نه دي بلکې د آخرت کارونه دي ولي چي مېړه يې په آخرت کي بنکاره کېږي، په کشف الاسرار کي وايي چي دنيا يې ولي لهو او لعب وبلل او سره ددې چي دنيا چي خدای پاک پيدا کړې ده د يو حکمت او مصلحت لپاره يې پيدا کړې ده؟ ددې ځواب دادی چي خطابات قرآنيه مبني پر اغلب دي ولا يخفی ان غرض اکثر الناس من الدنيا اللهو و اللعب، مولنا جلال الدين الرومي ؒ په مثنوي کي داسي وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چیست دنیا از خدای غافل شدن ..... نی قماش نقره و فرزند زن
مال را کزبهر دین باشی حمول ..... نعم مال صالح خواندش رسول
آب در کشتی هلاک کشتی است ..... آب اندر زیر کشتی پشتی است

وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾

او حیوة د ورځي د قیامت حیوة دی وبس لامتناع طریان الموت علیها او یا ذات د ورځي د قیامت یې حیوة وباله مبالغة.

فائده: حیوان مصدر دی په معنی د حیوة اصل یې حییان بالیایین قلبت الثانیة واوًا وهو ابلغ من الحیوة، ولي چې صیغه د حیوان چې وزن یې فعلان دی دلالت پر حرکت کوي چې لازم د حیوة سره دی.

پوه سه: چې مفعول د یعلمون محذوف دی یعني بفناء الدنیا وبقاء الآخرة، او جواب د شرط هم محذوف دی یعني دوی به نه وای مختاره کړې دنیا پر آخرت باندي. فضیل بن عیاض رحمه الله وایي که د دنیا کورونه د سرو زرو وای او پاني کېدای او د آخرت کورونه د کودرو لکن باقي وای لکان ینبغي لنا ان نختار الخذف علی الذهب لکن الامر بالعکس حقیقة ومع ذالک یختار اهل الدنیا الخذف علی الذهب، والله المستعان.

فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ

چې دوی سپاره سي په کښتی کي یعني کښتی، طوفاني سي او دوی له غرق څخه وېرېږي، نو دوی خدای ﷻ ته خواست یعني نجات من الغرق کوي، په داسي حال کي څانونه د مخلصینو پرده ول وګرځوي یعني المؤمنین یعني لایذکرون الا الله ولایدعون اللاة والعزی، ولي چې دوی ته دا یقین دی چې کاشف الضر لیس الا الله.

تاریخ وایي: چې مشرکان چې به په کښتی کي سفر کاوه یو بت به یې د ځان سره اخستی نو چې پر غرق به وېرېدل هغه بت به یې دریاب ته وغورځاوه او تضرع او زاری به یې خاصةً لله کولې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ۝

نو هغه وخت چې خدای ﷻ به نجات ورکړی دوی ته وه مځکې ته یعنې له دریاب څخه به خدای ﷻ سالم را ویستل نابیره یا سمدلاسه به دوی بیرته په پخوانی بت پرستي لاس پورې کړی او بتانو ته به یې سجدې او عبادت شروع کړی.

فائده: فقیر په ترجمه کې د آیت داسې وویل چې ځانونه بې د مخلصینو پر ډول وګرځول، نو هغه سوال دفع سو چې حقیقت اخلاص د کافر متصور نه دی. ولې چې هغه په ایمان پورې مربوط دی.

لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ

پوه سه: چې لام په دې ځای کې او په وروسته کې روح البیان، روح المعاني او مظهري په ګډه سره وایي چې دا لام لام د امر غائب دی.

پوښتنه: خدای ﷻ د څه حکمت لپاره امر د کفر ورکوي؟

ځواب: دا امر تکلیف نه دی بلکې لام تهدید او وعید دی کما في قوله اعملوا ما شئتم اني بما تعملون بصير.

دروښ وایي: چې داسې امر د تهدید لپاره په هره ژبه کې ستنه مثلاً د سړي زوی یو بد کار کوي پلار یې ورته ووایي چې ته فلانی کار کوې زه درخبریم، یا یو غائب سړی یاد کړي او دی چې دی دغه بد کار کوي بیا به یې سره ګورو، وامثال ذالک کثیرة، والمعنی دوی یعني د کښتۍ سپاره چې د غرق سره مخامخ سوه او ماته یې زاري وکړې او ما دوی ته نجات ورکړی، نو دوی د دې نعمت انکار کوي، او ناموړي مفسرین وایي دا هم احتمال سته چې دا لام دي په معنی د کی وي، والمعنی یشرکون لیکونوا کافرین بشرکهم نعمت الانجاء من الغرق.

وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۣ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝

په دې لام کې هم هغه دوه احتماله ذکر کړل سوي دي، او دا احتمال هم ذکر کړل سوی دی چې معنی د آیت دي دا وي لا فائدة لهم في الاشراک بعد الانجاء الا الکفر بالله والتمتع بما یستمتعون في الدار العاجلة من غیر نصب لهم في الآخرة بخلاف عادة المؤمنین المخلصین فانهم یشکرون نعمت الله اذا انجاهم او دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نور هم ازدياد د طاعت د خداى ﷻ كوي "فسوف يعلمون" ژر دى چي په عاقبت د شرک بعد النجات وغير ذالک من المعاصي يعني يعاقبون بالنار.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا

آيا دوى نه وينې يا علم نه لري؟ (الاستفهام للانكار ونفي النفي اثبات يعني وينې يې او هم علم پر لري (ترديد فقير په دې سبب وكړى چي رؤيت بصري او علمي دواړه كېداى سي فافهم) والواو عطف على المقدر كما هو القانون النحوي لا للعطف على ماقبل الاستفهام، ولي چي صدرات د استفهام ته خلل دى، والتقدير الم يتفكروا ولم ينظروا اهل مكة) "انا جعلنا حرمًا امنًا" موږ كړ ځولى دى د مكې حرم يعني محفوظ د تاړاک او تجاوز څخه د دښمنانو من العرب والعجم آمن دى، يعني اهل يې په امن كي دي د قتل او له سبي چي شاهد يې سورت الم تر كيف فعل ربک باصحاب الفيل تر اخيره د سورت دى.

وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ

او حمله كړل كېږي پر خلكو د شا نه خوا څخه د اهل مكه او په دوى څوک كار نه لري، وايي چي اهل مكه اهل د حرم د خداى ﷻ دي، او په جاهليت كي دا قانون ؤ چي عربو به غير د اهل مكه يعني د شاوخوا خلک بې وژل او بنځي او ځوانان او هلكان به يې په سبي ځندي بېول.

أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾

همزه لپاره د انكار دى او كلمه د فاء تفريع ده پر مضمون د ماسبق، والمعنى انعم الله على اهل مكة هذه النعمة العظمى او دوى د دغه نعمت سره سره وغيرها چي پېله خالق مقتدر سبحانه تعالى څوک قدرت نه پر لري په باطل سره چي عبارت د بتانو څخه يا د شيطان څخه او داهم احتمال سته چي له باطل څخه دي مراد تولو ماسوى الله وي، كما ورد في الحديث الصحيح چي عليه الصلوة والسلام وويل احسن القول ما قاله لبيد، چي دې شاعر نوم دى: الا كل شيئ ما خلى الله باطل.

ترجمه: پر باطل دوى ايمان راوړي او تصديق پر كوي او په نعمت د خداى ﷻ لكه چي تر سره دوى كفر كوي يعني شكر يې نه وايي كلمه توحيد الله ﷻ داسي يې نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل سول يكفرون بنعمة الله للاهتمام بشان النعمة او يا لپاره د اختصاص مبالغة. او بعض مفسرين وايي چي مراد له نعمت الله څخه محمد ﷺ او قرآن عظيم الشان دی.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

او څوک ډېر ظالم دی تر هغه چا چي پر خدای ﷻ درواغ وايي (الاستفهام للانكار اى لا احد اظلم) يعني خدای ﷻ ته شريک وايي، ما تفسير په خاص سره وكرې يعني الافتراء بالشرک، له دې سببه چي دمخه آيتونه تولـه د مشرکينو د مكې لپاره وه، ولي مفترين على الله نور هم ډېر سته لكه نصارى چي عيسى ابن الله بولي او يهودان چي عزير ابن الله بولي.

اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝

او يا تكذيب د حق كوي چي دوی ته راغلی يعني القرآن و محمد ﷺ يعني بلا توقف او پېله فكره او تامل سره يې په تكذيب او انكار خوله پورې كړه، آيا نسته ځای د قرار او اقامت الى الابد كافرانو لره بلكې سته.

دروښ وايي: چي بعض مفسرين وايي چي همزه لپاره د انكار دی پر حرف نفي داخل سو او نفي د نفي لپاره اثبات دی، او بعض وايي چي استفهام لپاره د تقرير دی، والمآل واحد اى الا يستوجبون الثواء اى القرار في جنهم او حال دادی چي دوی پر خدای ﷻ درواغ وويل په شرک ويلو سره او تكذيب او انكار يې وكړی له حقه څخه چي رسول او قرآن دي. نو د دې دومره جرئة عظيمه ځای نار دی ابد الآبدين. والعجب لمن لا يستطيع الصبر على نار فتيلة الشمع التي هي اضعف النيران سويعة كيف تجرء على عمل يعني الكذب على الله وانكار الحق الذي يستوجب له النار التي وقودها الناس والحجارة.

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا

جهاد په عربي كي بذل الوسع والطاقة ته وايي والمعنى هغه كسان چي كوشش او خپل طاقت نه سپمولي له جهاده د كافرانو سره او خپل ځانونه يې قربانی ته اماده كړي وي چي دې جهاد ته آنحضرت ﷺ جهاد اصغر ويلی دی، كما جاء في الحديث الصحيح، او يا معنى داده چي د نفس د خواهشاتو او هواء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره مقابله او جهاد کوي چې په هغه حديث کې رسول الله ﷺ جهاد اکبر ويلی دی، وجه يې هم داده چې جهاد د کفارو سره ګاهي ګاهي پېښېږي او جهاد د نفس او هوای دائمي دی الی وقت الموت "فينا" ای في ابتغاء مرضاتنا ونصرة ديننا وامتثال اوامرنا والانتهاء عن مناهينا.

لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا

موږ به ده ته هدايت وکړو د لارو د رسېدو موږ ته بلا کيف. يا معنی داده چې هدايت د لارو د رسېدلو موږ ته بلا کيف يا معنی داده چې هدايت د لارو او کارو د خير به ورته وکړو او توفيق د عمل به هم ورکو قال الله تعالی والذين اهتدوا زادهم الهدی، له ابی درداء ؓ څخه روايت دی چې ده وويل چې معنی د آيت داده الذين جاهدوا فيما علموا لنهدينهم الی مالم يعلموا، او عطاء ؒ وايي معنی د آيت داده الذين جاهدوا في رضائنا لنهدينهم سبل ثوابنا، او جنيد بغدادي ؒ وايي والذين جاهدوا في التوبة لنهدينهم سبل الاخلاص.

دروېش وايي: چې په متعلق د دې آيت او د دې د تفاسيرو د علماء الاسلام مناسب يو تاريخي حکايت ته غوږ ونسئ:

تاريخ وايي: د ابراهيم خواص ؒ (چې د يو نامور ولي الله نوم دی) دا عادت ؤ چې په سفر به يو خوا ته تلی څوک يې نه خبرول او نه يې خپل د سفر جهت چاته بيانوه، بلکې خپل د اوبو مشکوله به يې ورسره واخستل راهي به سو، حامد ؒ وايي (چې د ابراهيم خواص ؒ مخلص ؤ) چې موږ يوه ورځ دده سره په مسجد کې ناست ؤ، ابراهيم ؒ خپله مشکوله راواخستل راهي سو، حامد وايي چې زه وروسته د لېري څخه په پسې وم حتی چې قادسيه ته ورسېدلو، حامد وايي چې ابراهيم ؒ ماته وويل يا حامد الی اين؟ (چېرې ځې) ما ورته وويل چې زه په تا پسې يا سيدي راووتم مقصد د سفر مې نه دی را معلوم، ابراهيم ؒ راته وويل انا اريد مکة ان شاء الله تعالی، حامد ؒ وايي ما ورته وويل چې زه هم اراده د مکې لرم ان شاء الله تعالی، څو ورځې چې مو سفر پر لورد مکې وکړی، يو ځوان را سره ملګری سو، نو زموږ يوه شبانه روز ملګری ؤ چې لمونځ يې نه کاوه، حامد وايي ما ابراهيم ؒ ته وويل چې دا ځوان لمونځ نه کوي، نو ابراهيم ؒ کنبېنستی او ځوان ته يې وويل چې ته چېرې ځې؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځوان ورته وويل چې حج ته د بيت الله ځم ان شاء الله تعالى، نو ابراهيم ؑ ورته وويل يا غلام مالک لاتصلي والصلوة اوجب عليک من الحج، ځوان ورته وويل يا شيخ ما علي صلوة، پر ما لمونځ نه دی فرض، ابراهيم ؑ ورته وويل چې ته مسلمان نه يې؟ ځوان ورته وويل يا، ابراهيم ؑ ورته وويل چې ته په کوم دين يې؟ ځوان ورته وويل زه نصراني يم، لکن موږ په دين نصرانيت کې اشارات د توکل على الله ډېرې ليدلې دي، نو ما د خپل ځان سره قرار داد وکړی چې زه به د توکل على الله ملکه (يعني عادت) په ځان کې پيدا کوم، حامد وايي ابراهيم ؑ ماته وويل کار مه په لره راسره ملګری دي وي، نو ځوان راسره ملګری دی حتى چې بطن مرو ته ورسېدلو چې له هغه ځايه احرام ترلې کېدی يعني ميقات ؤ، نو ابراهيم ؑ خپل کالي وکښل يعني د سفر کالي چې خيرن سوي وه او په اوبو يې پاک پرېوله، ابراهيم ؑ کښېنتی او ځوان ته يې وويل چې نوم دي څه شی دی؟ ځوان ورته وويل عبد المسيح، نو ابراهيم ؑ ورته وويل يا عبد المسيح دا د حرم مکي حدود دي چې په احرام خلګ ور داخلېږي او په مثل ستا يعني چې مسلمان نه وي دخول د حرم حرام دی، قال الله تعالى انما المشرکون نجس فلا يقربوا المسجد الحرام بعد عامهم هذا.

سوال: په دې آيت کې خو مشرکون ذکر سوي دي، ځوان خو نصراني ؤ، نو دا آيت د منع د ځوان څرنګه کېدای سي؟

ځواب: نصاری که څه هم د بت عبادت نه کوي لکن عيسى ابن الله بولي د هغه عبادت کوي او د صليب هم عبادت کوي، خير ابراهيم ؑ ورته وويل يا عبد المسيح تا چې خپل کشف الحال ماته وکړی چې زه نصراني يم ډېر فهم کوه چې مکې ته داخل نه سي، که په مکه کې ما ته وليدلې موږ پر تا سخت انکار کوو، خير حامد وايي ځوان مو پرېښو، موږ احرامونه وترلل مکې مکرمې ته ولاړو، حامد وايي چې موږ چې د مکې له اعمالو څخه فارغه سوو عرفات ته ولاړو، موږ په عرفات کې ناست يو هغه زموږ ملګری ځوان محرم دی په خلګو کې شاوخوا ګوري حتى موږ يې وليدلو پر ابراهيم ؑ ور نسکور سو سر او لاسونه يې ورمچ کړه ابراهيم ؑ ورته وويل ما الحال يا عبد المسيح؟ ده ورته وويل هيهات انا اليوم عبد من المسيح عبده (زه نه ورځ عبد المسيح نه يم بلکې بنده د هغه چا يم چې مسيح يې بنده ؤ) ابراهيم ؑ ورته وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي خپله قصه راته وکړه، ځوان ورته وويل چي زه چي تاسي له ځانه جلا کړم يو ځای کښېښتم چي قافله د حاجيانو راغله زه ورولاړ سوم ځان مي دوی ته داسي معرفي کړی چي زه هم مسلمان يم او محرم يم نو زه د دوی سره حرم مکي ته داخل سوم او زما سترګې پر کعبه مبارکي ولګېدلې نو له دينونه مي له زړه څخه ووتل بيله اسلامه نو مي کلمه مبارکه وويل مسلمان سوم، بيا مي غسل وکړی او احرام مي وتاړه، د حج نيت مي وکړی دا نن ګرده ورځ په تاسي پسي ګرځېدم، حامد وايي چي ابراهيم رح ماته وکتل او وه يې ويل انظر الى برکة الصدق في النصرانية کيف هداه الى الاسلام، نو ځوان زموږ ملګری سو حتی مات بين الفقرا ﷺ.

وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او په تحقيق خدای ﷻ ملګری دی د محصنانو بالنصر والاعانة في الدنيا والثواب والمغفرة في العقبٰى.

دروښ وايي: چي تفسير د سورت العنکبوت پر يوولس (١١) بجې د ورځې د جمعې مبارکي د صفر الخير (١٤٣١) هـ ق په توفيق او فضل د خدای ﷻ پای ته ورسېدی، الحمد لله والمنة والصلوة والسلام على سيد البرية وآله الكملة وصحبه البررة، ورپسې تفسير د سورت روم شروع کېږي ان شاء الله تعالى العزيز.

﴿﴿مناجات﴾﴾

چهار چيز آورده ام شها که در گنج تو نيست
عاجزی و مسکينی فقر گناه آور ده ام
الهي عبدک العاصي آتاکا..... مقراً بالذنوب و قد دعاکا
فان ترحم فانت لذاک اهل..... وانوان تطرد فمن يرحم سواکا
حاشا لجودک ان تقنط عاصياً..... الفضل اجزل والمواهب اوسع



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الرُّومِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ سِتُّونَ آيَةً وَسِتُّ رُكُوعَاتٍ

سورت روم مکي دی او آیتونه یې شپیته دي، روح البیان وایي پیله فسبحان الله الآیة. چې هغه مدني دی، او روح المعاني وایي چې ابن عباس او ابن الزبیر ﷺ یې مکي بولي، بلکې ابن عطیه او نور وایي چې په مکي والي کې ددې سورت اختلاف نسته او هیڅ آیت مدني نسته پکښې، او حسن ؒ وایي الا قوله تعالی فسبحان الله حین تمسون الآیة: رب یسر ولا تعسر وتممه بالخیر والعافیة وبک نستعین.

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ الرُّومُ ﴿٢﴾

درویش وایي: چې د حروف مقطعه قرآنیه بیان د سورت بقره په شروع کې تېر سوی دی او اختلافات د مذاهبو هم هلته ذکر سوي دي.

ترجمه: مغلوب کړل سوه رومیان چې اهل کتاب وه د فارسیانو له خوا څخه چې بت پرستان وه.

درویش وایي: چې ترمذي او حاکم له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې د مشرکانو د مکې دا خوښه وه چې په دې جنګ کې د روم او د فارس، فارس کامیابه سي او رومیانو ته شکست ورکړي، ولي اهل فارس بت پرستان وه، او د مسلمانانو دا پېرزوینه وه چې رومیان کامیابه سي او فارسیانو ته ماته په نصیب سي، ولي رومیان که څه هم کافران وه لکن اهل کتاب وه، نو په جنګ کې ابتداء فارسیان کامیابه وه او رومیانو ته یې شکست ورکړی، نو دا آیت نازل سو.

روح المعاني وایي چې روم د یوې لویې قبیلې نوم دی چې بعضې مؤرخینو یې نسب داسي بیان کړی دی: من اولاد رومي من یونان بن علجان بن یافث بن نوح[۳]. او بعض اهل تاریخ وایي من ولد یافان بن یافث بن نوح[۴]، او بعض وایي من ولد رعویل بن عیص بن اسحاق بن ابراهیم[۴].

فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ﴿٣﴾

او رومیان وروسته تر مغلوبیت (غلب مصدر دی مبني للمفعول) ژر دی چې غلبه به پیدا کړي پر فارس په یو څو کاله کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِي بِضْعِ سِنِينَ ۝

پوه سه: چي لفظ د بضع، بعض اهل لغت وايي چي له (۳) څخه تر (۷) پوري او بعض وايي تر (۹) پوري او بعض وايي چي ما دون تر (۱۰)، جوهري مصنف الصحاح في اللغة کي ويلي دي چي ترشل چي تر سي لفظ د بضع نه استعمالېږي لکن قول دده باطل دی، ولي چي په صحيح حديث کي راغلي دي: الايمان بضع وسبعون شعبة.

تفصيل: هذه الآية، کسرٰی يعني پرويز بن هرمز بن نوشيروان چي د فارس شاه ؤ درولد لښکريې روم ته واستاوه چي قومندان برجسته د فوج د شهريزاد په نامه ؤ او قيصر روم د رومیانو سلطان خپل لښکر واستاوه چي د قومندان نوم يې يحيس ؤ، نو دا دوه لښکره په اذرعات او بصره کي سره مخامخ سوه چي دا ځای هغه نژدې ځای دی شام ته محکو ته د عربو، نو اهل فارس غالبه سوه رومیانو شکست وخوړی، نو مسلمانانو ته د مکې چي دا خبر د مغلوبيت د رومیانو ورسېدی ډېر سخت خوابدي سوه او کفار مکه چي مشرکان وه ډېر خوشحاله او مسلمانانو ته د مکې به يې دا ويل چي تاسي اهل کتاب ياست او نصاری هم اهل کتاب دي، او موږ لکه فارسيان امیون يو. او دا دی زموږ وروڼو اهل فارس خو ستاسي پر وروڼو رومیانو غلبه پيدا کړه، نو که تاسي زموږ سره يو وخت جنګ شروع کړی موږ درباندي غالبه کېږو، نو دا آيت نازل سو يعني وهم من غلبتهم سيغلبون الآية، نو ابوبکر ؓ راووتی مشرکانو ته د مکې يې وويل چي تاسي خو خوشحاله سولاست په غلبه ستاسي د وروڼو فارسيانو، نو قسم په خدای دی چي ييرته به په بل جنګ کي روم پر فارس غلبه پيدا کوي علی ما اخبرنا بذالک نبينا ﷺ، نو ابي بن خلف و ابوبکر ؓ ته وويل کذبت، ابوبکر ؓ انت کذبت يا عدو الله، ابی ورته وويل چي راسه ما او تاګرو يعني قمار سره کښېږدو (او قمار په هغه وخت کي نه ؤ حرام سوی) چي په پښتو وايي شرط به سره کښېږدو تر معلوم وخت پوري، نو لس لس اوښان يې سره شرط کړه او مده يې دري کاله کښېښوله يعني که په دري کاله کي روم غالبه سو، ابی ورته وويل زه به لس اوښان درکوم او که فارس غالبه سو ته به لس اوښان راکوې، خير دا قرار داد يې سره وکړی او ابوبکر ؓ رسول الله ﷺ ته يې دا حال بيان کړی، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ما خو تاته داسي نه وه ويلي، يعني ما خو بضع په منځ کي تر دروپوري نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه ذکر کړې، ابوبکر ؓ ته یې وویل چې ورسه ییرته د ابي سره مده ډېره کنبېږده او شرط تر لس ډېر ورسره کنبېږده، نو ابوبکر ؓ ییرته ابي بن خلف ته ورغلی ابي ورته وویل څه کوې پښېمانه سوی خو نه یې، ابوبکر ؓ ورته وویل یا پښېمانه نه یم لکن شرط به ډېر کړو او مده به هم ډېره کړو، ابي ورته وویل چې ښه دی شرط یې سل سل (۱۰۰) اوښان مده یې نهه (۹) کاله، بیا قرداد وکړل سو، او بعض راویانه وایي مده اووه (۷) کاله سوه، څه وخت چې اُبي پرديې وبېړېدی چې نباید ابوبکر رونه تښتي له مکې څخه نو ورته راغلی ابوبکر ؓ ته یې وویل چې زه بېړېږم چې ته به له مکې څخه وتښتې، نو ماته به ضامن راکوې، ابوبکر ؓ ورته وویل چې زما زوی عبدالرحمن ستا زامن دی یعني که زه وتښتېدم او تا شرط وکړی زما عبدالرحمن زوی به تا ته سل (۱۰۰) اوښان درکوي، اخیر الامر رسول الله ﷺ او ابوبکر ؓ مدینې ته هجرت وکړی، نو اووه کاله چې پرې پوره کېدو سوه له وخت څخه د قرارداد رومیانو پر فارسیانو غلبه وکړه او خپل آسان یې په مدائن کي د فارسیانو وترل، په دې دوران کي د احد غزاء منځ ته راغله ابي بن خلف هم په هغه غزاء کي د کفارو په لښکر کي شامل سو جنګ چې جوړ سو د علیه الصلوة والسلام او د ابي بن خلف په مبارزه کي رسول الله ﷺ ابي بن خلف په خپله توره وواهه سخت ټپي سو، نو ابي بن خلف د ټپي کېدلو له سببه ییرته مکې ته راستون سو او په مکه کي مړ سو او شرط ابوبکر ؓ وګاټه، نو له ورثه څخه د ابي یې سل اوښان واخستل هغه اوښان یې و علیه الصلوة والسلام ته راوستل، علیه الصلوة والسلام ورته وویل تصدق به، خیرات یې کړه، واخرج الترمذي حدیث ابي بکر ؓ مثله.

مسئله: امام ائمة ابو حنیفه رحمه الله وایي چې عقود فاسده لکه ربوا او قمار په دار حرب کي په منځ کي د مسلمانانو او د کافرانو روا دی، دلیل یې قصه د ابوبکر ؓ او د ابي بن خلف ده کما مر چې په هغه وخت کي مکه مبارکه نه وه فتح سوې او دار حرب وه، او بل دا دلیل دی چې اموال د کافر په دار حرب کي معصوم نه دي یجوز اخذها مالم یکن عذراً بعد الاستیمان، یعني په پاسپورټ ورغلی وي کذا قال المظهري.

دروښ وایي: چې په سبب کي د غلبة الروم پر فارس باندې په تواریخو قدیمه وو کي اختلاف دی، په روضة الصفاء کي وایي چې د خسرو پرویز چې د فارس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلطان ؤ څلور کاله د سلطنت پر رومیانو تیر سوه غدریې وکړی د رومیانو د بادشاه سره او بادشاه یې سره د یوه زوی بناطوس قتل کړی او بل زوی یې ؤ خسرو وتښتېدی، نو خسرو دده کومک وکړی او دریې لوړ قدره رئیسانو یې ورسره کړه سره د لوی لښکره فد خلوا الشام وفلسطین وبیت المقدس د او د رومیانو ډېر ملایان چې په رومي ژبه ملاته دوی اسقف وایي بنډیان یې کړه او د نصاری ؤ یعني د رومیانو صلیب چې هوري بنخ وه په یوه تابوت کې د سرو زرو هغه یې و خسرو ته ورواستاوه او پر اسکندریه یې حمله وکړه هغه بنار یې هم له رومیانو څخه ونیوی او بنارونه د نوبته یې ځندي ونیول حتی تر اطرافو د قسطنطنیه ورسېدل او رومیان یې وهڅول چې زوی ته د قیصر تسلیم سول، او رومیانو پر خپلو ځانو بیعت د یو ستر شخصیت چې نوم یې هرقل ؤ وکړی دا یو سلطان عادل ؤ چې له خدایه ډېره ډېری چې خرابي د فارسیانو په بنارو کې د روم ولیدلی او قتل د رومیانو او غارت ګړي د فارسیانو ولیدل خدای ﷻ ته یې عجز وکړی او ژړل به یې چې خدایه ته په خپل قدرت عظیمه سره رومیان له تسلط څخه د فارسیانو خلاص کړې دعاء یې د وخت سره د اجابت مصادف سوه، څو شپې یې پر له پسې خوب ولیدی چې یو چا وده ته خسرو راوستی په غاړه کې یې ځنځیرؤ او په خوب کې چا وده ته وویل چې تلوار وکړه په محاربه کې د پروېز خسرو، ولې تاته خدای ﷻ بری درکوي او نصرت درسره کوي، نو هرقل خپل عسکر سره جمع کړه اعتماداً علی تلک الرؤیاء المعتددة، خسرو پروېز چې خبر سو (۱۲۰۰۰) زره فوج یې سره د ځټو قومندانانو په مشری ورته راوستل جنګ لاس په لاس شروع سو، هرقل د کسرۍ پروېز فوج داسې ماته ورکړه چې نهه زره (۹۰۰) عسکر د پېروز خسرو سره د رئیسانو ورقتل کړه او خوبونه یې خدای ﷻ رشتیا کړه، له قسطنطنیه څخه راوتلی ؤ ییرته خپل پای تخت ته ستانه سوه، وصدق قوله تعالی وهم (ای الروم) بعد غلبهم (وروسته تر مغلوبیت د فارس د فوجو د خوا) سیغلبون (رومیانو ییرته غلبه پیدا کړه پر فارسیانو) او په بعض روایاتو کې راغلي دي چې روم خپل آسان په مدائن کې چې د خسرو د مملکت یو لوی بنار ؤ ودرول، روح المعاني وایي چې ما په بعض کتابو کې ولیدل چې سبب د ظهور د رومیانو پر فارسیانو دا ؤ چې کسرۍ یعني د فارس باچا و خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امیر ته چې شهریار یې نوم وُ چې په جنګ کې د رومیانو دی سپه سالار مقرر سوی وُ خط نوشته کړی چې ته خپل ورور فرخان قتل کړه چې فرخان یوه خبره کړې وه چې هغه خبره دا وه چې زه خپل ځان داسې وینم چې پر تخت د کسرٰی ناست یم، دا خبره کسرٰی ته ورسېدلې وه او ډېر درد ورغلی وُ چې فرخان لکه چې زما د قتل توطیه ترلې ده، نو له دې سببه یې شهریار ته امر ورکړی چې ته خپل ورور فرخان قتل کړه، نو شهریار خپل ورور فرخان قتل نه کړی، کسرٰی چې خبر سو چې شهریار خپل ورور فرخان قتل نه کړی، نو بل مکتوب یې صادر کړی چې شهریار زما له خوا معزول دی، او فرخان یې ده پر ځان مقرر کړی، دده خبیث دا خیال وُ چې د دې دوو ورونو ترمنځ چاک پیدا کړي یو به بل قتل کړي، فرخان چې په دې حقیقت حال خبر سو ده حکومت ورور شهریار ته ورپرېښو، او شهریار د خپل ورور فرخان په مشوره و قیصر روم ته خط نوشته کړی او دوی د ملک الروم څخه کومک وغوښتی چې زمونږ سره کومک وکړه پر قتال د فارس ملک الروم هم همداغسې وکړه او فارسیانو ته یې شکست ورکړی او دا خبر مسلمانانو ته ورسېدی، ففرح المسلمون وهو قوله تعالی وهم من بعد غلبهم (او رومیان وروسته تر مغلوبیت به پر فارسیانو غلبه پیدا کړي) نو دا غلبه د رومیانو پر فارسیانو باندې له آیات بیناتو څخه ده چې شاهد ده پر صدق د نبوت د علیه الصلوة والسلام او پر دې چې قرآن مجید من عند الله دی، ولي دی که اخبار بالغیب دی الذي لایعلمه الا الله العلیم الخبیر.

فائده مهمه: حضرت علي، ابن عباس، ابن عمر او ابو سعید الخدري رضي الله عنهم دا عبارت قرآني غلبت الروم پر صیغه د معلوم وایي او سیغلبون پر صیغه د مجهول وایي. نو معنی د آیت داسې کرځي چې روم غلبه پیدا کړه پر اطرافود شام او دوی به مغلوب کړل سي د مسلمانانو له خوا څخه وقد غزاهم المسلمون في السنة التاسعة من نزول الآیة ففتحوا بعض بلاد الروم یعني چې د دوی په قبضه کې وه، مظهري رح وایي چې دا قرآئت قرائت شاذه دی او اول قرائت متواتره دی، او مظهري د دې قرآئت شاذه توجیه دا کړې ده چې امکان لري چې علیه الصلوة والسلام په وحي غیر متلو سره دا ویلي وي چې نته ورځ خو غلبه وکړه رومیانو پر فارسیانو في ادنی الارض وهم یعني رومیان پس له غلبې څخه پر فارسیانو سیغلبو هم المؤمنون فقره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذالک الوحي الغير في القرآن بعض القراء علی رواه الترمذي عن ابی سعید الخدري ؓ بفتح الغين غلبت علی البناء للفاعل وسيغلبون علی البناء للمفعول.

دروښ وايي: چې روح المعاني کوشش کړی دی چې ددې دوو قرائتو تطبيق سره وکړي لکن لم يتيسر له ذالک علی وجه يقبله العقول السليمة والله اعلم، او روح البيان خو اول قرائت متواتره راوړی دی او وروسته يې قرائت شاذه راوړی دی د روايت شاذه په بيان کې يې ويلي دي سيغلبون علی صيغة المجهول ای يکونوا (ای الروم) مغلوبين في ايدي المسلمين فکان ذالک علی يد عمر ؓ چې ده غلبه وکړه پر بلاد د شام او بيت المقدس يې د رومیانو له قبضې څخه وه ايستی په سنه (۱۵- يا ۱۶) کې د هجرت او بيت المقدس په قبضه کې د مسلمانانو ؤ (۴۰۰) څلور سوه کاله، او اووه اوويا (۷۷) کاله وروسته فرنګيانو غلبه پر وکړه د براة په مياشت په سنه (۴۹۲) من الهجرة او ددوی په لاس کې پاته ؤ (۹۱) کاله الی ان فتح الله علی يد الناصر صلاح الدين بن يوسف بن ايوب في يوم الجمعة (۱۷) رجب سنه (۵۸۳ هـ) واما بنعمة ربک فحدث.

دروښ وايي: چې بيانول ددې آيت غلبت الروم الآية د تواريخو سره برابر او قرائت متواتره او شاذه څېړل د تفسير ايوبي هديه دده، اللهم منک واليک.

لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۴﴾

خدای ﷻ ته ده قضاء نافذه د مخه تر غلبه د روم پر فارس باندې يعنې چې روم مغلوبه ؤ. او وروسته تر غلبې د روم پر فارس باندې کمامر بيانه، او په دغه ورځ د غلبې د روم پر فارس خوشاله وګرځېدل مؤمنان په نصرت د خدای ﷻ يعنې چې اهل کتاب يې چې اهل روم وه غالبه وګرځول پر هغو چې کتاب يې نه درلود او مشرکان وه چې اهل فارس وه او په دې هم خوشاله سوه چې د مؤمنانو رشتيا والی ثابت سو. السدي ؒ وايي فرح النبي ﷺ بظهورهم وغلبتهم علی المشرکين يوم بدر وظهور اهل الکتاب علی اهل الشرک.

سوال: په اول کې ددې سورت تېره سوه چې دا سورت مکي دی، نو سدي ؒ څرنګه وايي چې يوم بدر، د بدر غزاء خو وروسته تر هجرت وه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: جلال الدين المحلي ؒ وايي فرح المسلمون بذالک وعلموا يوم وقوعه يوم بدر بنزول جبرئيل ؑ بذالک مع فرحهم بنصرهم على المشركين په بدر کي فافهم، او بعض مفسرين وايي چې سبب د خوشالۍ د مؤمنانو دا ؤ چې روم که څه هم اهل کتاب وه خو بيا هم کافران وه لکه فارس، نو خداى ﷻ يو وار فارس پر روم غالبه کړى او بيا يې روم پر فارس غالبه کړى، نو ددې دوو کافرو قومو تر منځ تفارق او تضاد پيدا سو او د هر يوه شوکت او دبدبه کمه سوه، هم دا سبب دى چې په دعاء ماثوره کې داسې راغلي دي: اللهم اشغل الظالمين بالظالمين واخرجنا من بينهم سالمين غانمين.

بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝۵

خداى ﷻ نصرت ورکوي هغه چا ته چې اراده يې وسي يعني فينصر هؤلاء تارةً وهؤلاء تارة اخرى يعني د مثال په توګه فارس او روم "وهو العزيز" خداى غالب دى په خپله اراده کې حتى چې انتقام د دنيا د يو کافر قوم څخه په بل کافر قوم سره اخلي "الرحيم" او خداى مهربان دى چې مرسته وه اهل الحق ته پر اهل الباطل ورکوي.

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۶

روح المعاني وايي چې وعد الله مصدر مؤكد لمضمون الجملة المتقدمة يعني قوله تعالى سيغلبون وقوله سبحانه ويفرح المؤمنون لان ذالک في معنى الوعد فالمعنى وعدالله وعداً، او عامل يې محذوف دى وجوباً كما في سبحانه وقد بين وجه الوجوب في النحو، ودې قسم مصدر ته نحات مصدر مؤكد لنفسه وايي.

"لايخلف الله وعده" خداى ﷻ مخالفت له خپلې وعدې څخه نه کوي که په متعلق د امور دنيويه وي او که د امور اخرويه وي، لامتناع الكذب عليه تعالى.

ليکن د هر خلک لکه کفار مکه نه پوهيږي په صدق د وعد د خداى ﷻ يا په عدم الشريک له تعالى في المعبودية لجهلهم بشؤن الله ﷻ.

سوال: اسم جليل د الله تعالى خو په وعد الله کې عنقريب تېر سو، نو اظهار د اسم جليل په لايخلف الله کې د څه حکمت لپاره دى؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: لپاره د تفخیم او د تعلیل حکمي دی، ولي چې د اسم جلیل معنی داده چې معبود بالحق او متصف په صفاتو د کمال او منزه د ټولو عیبو او نقائسو څخه دی نو تر خلف الوعد لویه نقیصه به څه وي؟.

يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُونَ ۝٧

دوی پوهیږي په ظاهرو چارو د ژوند ناقص او فاني یعني ده ژوند د دنیا لپاره یا تجارت وکړی یا یې زراعت وکړی یا نور ورته کسبونه وکړي، او دوی له آخرت څخه چې دار البقاء دی غافله دی.

پوه سه: چې دوهمه کلمه د هم اعاده د اول لپاره ده تاکید یا مبتداء د غافلون یې خبر دی او جمله خبر د هم اول ده.

سوال: جمله چې خبر واقع سي عائد وه مبتداء ته پکښې ضروري دی کما تقرر في النحو؟

ځواب: راګرځول د لفظ د مبتداء په خبر کي کافي دی د ربط لپاره کما في قوله الحآقة ما الحآقة وعلى التقديرين دا جمله دليل کامل د پر کامل غفلت د دوی له آخرت څخه، ضحاک ؒ په تفسیر کي د یعلمون وایي ظاهرًا الآية یعلمون بنیان قصورها وتشقیق انهارها وغرس اشجارها، یعني الامور الموافقة لشهواتهم الملائمة لاهوائهم.

فائده: ظاهرًا چې یې نکره راوړی لپاره د تحقیر دی.

سوال: لایعلمون نفي د علم دی یعلمون ظاهرًا اثبات د علم دی، نو تناقض به نه وي؟

جواب: یا! مورد د نفي العلم بامور الدین والآخرة او مورد د اثبات علم پر امور د دنیا الدنیة الخسیسة.

فائده: په دې آیت کي تشبیه ده د اهل الغفلة عن الآخرة په بهائمو سره چې د هغو نظر مقصود دی پر اکل او شرب وبس، له ابن عباس ؓ څخه روایت دی یعلمون منافعها ومضارها (دوی پوهیږي په منفعتو د دنیا او په ضررو د دنیا) ومتی یزرعون ومتی یحصدون (چې کله به کښت کوو او کله به یې لو کوو)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وكيف يجمعون وكيف يبنون (او څرنګه به دنيا جمع کړو او څرنګه به کوټې او بنګلي جوړي کړو) يعني ونحو ذالک مما لايكون لهم منه في الآخرة اثر، وروى نحوه عن قتاده وعكرمه[۳].

پوه سه: چې دا جمله يعني وهم عن الآخرة آه تاکيد دی د مضمون د دمخه جملې يعني اکثرهم لايعلمون تشبيهًا بالحيوانات.

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم

آيا دوی فکر نه وهي په خپلو زړو کي.

پوه سه: چې همزه د استفهام لپاره د توبيخ دی او کلمه د واو لپاره د عطف ده پر محذوف، والتقدير اقصروا نظرهم على ظاهر من الدنيا كالحيوانات ولم يتفكروا.

پوه سه: چې "في انفسهم ظرف د تفكروا دی.

سوال: د في انفسهم څه فائده ده، ولي چې تفكر خونه دی مګر په نفس کي؟

ځواب: دا له قسمه څخه د بسط او تحقيق د قرآن کريم دی نحو قوله يقولون بافواههم مع ان القول لايكون الا بالفم، فافهم. او يا عبارت قرآني محمول دی پر حذف د مضاف والمعنى او لم يتفكروا في امر انفسهم، ولي انفس اقرب دي دوی ته تر غيرها، نو په فکر وهلو په خپل ځان کي يعني په څه شي اوږده کوي او په څه شي ليدل کوي او په څه شي خبري کوي او په څه تګ کوي، وامثال ذالک، نو چې دا فکر به دوی ته لوی بصارت حاصل کړي لان الانسان انموذج للعالم الكبير الصوري چې دا علم دوی ته حاصل سوی واى، نو دوی به داسي ويلاى.

مَا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى

چې نه دي پيدا کړي خداى ﷻ اسمانونه او مځکه او هغه شيان چې په مابين کي دا سمانو او مځکي دي چې کائنات الجو يې بولي، لکه وريځ، باران، واوره، پيلبو، تنداوي وغيرها مګر نه متلبس دي په حق سره يعني باطل او عبث نه دي بلکې حکمت بالغه او فوايد کثيره پکښي سته او انذار او بشارت پکښي سته، نو دوی به معرفت ته د خداى ﷻ په توحيد سره لار پيدا کړي واى او بتان به يې په عبادت کي نه ورسره شريکولاى لان الجمادات لايليق بما يليق به خالق السموات والسفليات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"واجل مسمى" تریو اجل معلوم پوري یعني دا اسمانونه او مځکه و مافیهما وما علیهما یې د خلګو لپاره نه دي پیدا کړي بل لاجل ینتهي الیه وبعد الاجل قیام د قیامت وي او ورځ د حساب او د ثواب او د عقاب به راځي کما قال عز من قائل: افحسبتم انما خلقناکم عبثًا وانکم الینا لا ترجعون، څوک چې په قلب سلیم سره فکر ووهي په نظام کي د اسمانو او مځکي وما بینهما هغه به حکم قطعي و کړي چې خالق ددې نظام حکیم دی او حکیم عبث کار نه کوي، ومعظم الحکمة في خلقهما معرفة خالقهما مع صفاته الجلالیة والجمالیة من العلم الشامل والقدرة التامة وغیرهما، او که بعث او نشور او ثواب او عقاب نه وای نو د عارف او کافر به څه فرق وای.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ ۝

او بې له خلګو څخه یعني اهل مکه په سبب د جهالت وعدم التفکر في خلق السموات والارض بل في خلق انفسهم په ملاقات د جزاء د رب ددوی چې دنیا تبره سي هر آئینه کافران دي ددوی ظن باطل لکه حکماء دا وایي چې دا دنیا ابدي ده او نه بعث بعد الموت ستنه او نه حساب او نه جنت او نه دوزخ ستنه.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا

آیا دوی سیر او سفر نه کوي په مځکه کي او نظر په غور نه کوي.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او توبیخ وانکار النفي اثبات یعني که دوی سفر وکړي، او واو لپاره د عطف دی پر محذوف، والتقدیر الم یخرج اهل مکة من دیارهم ولم یسیروا "في الارض فینظروا" منصوب دی په جواب کي د نفي (مراد نصب محلاً دی)

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

چې څه رنګه سو اخیر کار د هغو کسانو چې تر دوی دمخه وه په زمانه کي چې هغو هم لکه کفار مکه د بعث بعد الموت څخه انکار کاوه، والمراد الامم الماضیة کعاد وثمود وقوم لوط وقوم فرعون وغیرهم.

پوه سه: چې لفظ د کیف په محل کي د نصب دی خبر د کان دی او پر کان دمخه سو ولي دی متضمن معنی لره د استفهام الذي له صدر الکلام، وحاصل الآیة چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفارو د مکې سیر او سفر کړی دی او دوی لیدلي دي آثارد الذین کذبوا الرسل، یعنې خرابي ودانې په سبب د تکذیب د رسولانو، نو دوی باید عبرت اخستی وای او تکذیب د رسول محمد ﷺ یې نه کولای ... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نگیرند دیگران زتو پند

او کفار مکه تر مرغانو هم جاهلان دي ... بیت:

نرود مرغ سوئی دانه فراز ..... چو بیند مرغ دیگر اندر بند

كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارُوا الْأَرْضَ

وه هغه کفار ماضیه سخت تر کفارو د مکې از روی قوت لکه عاد، ثمود وغیرهم، یعنې چې کفار د قرون ماضیه ؤ سخت وه په قوت کې تر اهل مکه او دراز دراز عمرونه یې وه او اثار یې په مځکه کې ډیر وه تر اهل مکه چې بلنده بلنده قلاوې یې درلودې او بنه بنه باغونه یې درلوده.

او دوی مځکه اړول یعنې یوې کول یې لپاره د کښت، کذا قال الفراء او بعض مفسرین وایي چې مځکه یې کینله لپاره د اوبو لکه څاهان یې کښله یا لپاره د استخراج د معدنیانو الی غیر ذالک.

فائده: غوایي ته ثور وایي له هم دې سببه چې دی مځکه پرله اړوي یعنې یوې کوي یې لپاره د کښت، او محمد بن الحسین بن علي ﷺ ته چې امام باقر وایي لانه شق العلم ودخل فیه مدخلاً بلیغًا.

پوه سه: چې واثاروا الارض سره د ما عطف علیه عطف دی پر کانوا.

وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا

او امم ماضیه آباده کړې وه مځکه بالا تر هغه چې کفارو د مکې مځکه د مکې آباده کړې ده.

پوه سه: چې اکثر منصوب دی صفت د مصدر محذوف دی، والتقدیر عمروها عمارة (دا مصدر محذوف دی) اکثر تر عماره د اهل مکه ایاها، ولې چې اهل مکه په واد غیر ذی ذرع کې ژوند کوي، او دوی تسلط پر بله مځکه نه لري.

فائده: په دې جملو کې تهکم یعنې پسخند دی په اهل مکه کافرانو سره، ولې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دوی فخر په مکې کاوه او په دنیایي ژوند یې کبر او لویي کول، او سره ددې چې دوی اضعف حالاً په نړۍ کې وه او فراخي په مخکه کې نه لري او تسلط پر نورو بندګانو د خدای ﷻ هم نه لري نه خارج المکة عمارات لري، او کله نه وای ددوی رحلت په ژمي او دوبي کې یمن او شام دوی به د لوبډي مره سوي وای.

وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۖ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

او راتګ کړی وو امم ماضیه وو ته رسولانو ددوی، او نه وُ خدای ﷻ چې دوی یې هلاک کړه بالاستیصال چې پر دوی ظلم وکړي.

فائده: د قرآن کریم له فلاغت څخه دا دی چې جمله د ماکان الله آه عطف ده پر دوو جملو محذوفو باندې چې هغه عطف علی قوله تعالی وجائتهم الآیة، والتقدیر جائتهم رسلهم بالبینات فکذبوهم فدمر الله علیهم في الدنیا (په دنیا کې یې پر دوی هلاک مسلط کړی) فما کان الله لیظلمهم.

فائده: تر لام جاره د مخه ان مقدر دی لان حرف الجر لایدخل علی الفعل بدون التاویل بالاسم، والمعنی ماکان صفة الله ظلمهم (ظلمهم معنی ده د لیظلمهم وروسته تر تقدیر د ان مصدریه او دې لام ته په نحو کې لام جحود للانکار وایي) یعني مایفعل الله الظلم ای التعذیب بغیر جرم وارسال الرسل لینذروهم.

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝

لکن وه دوی چې پر خپلو ځانو یې ظلم وکړی، ولي چې دوی داسې اعمال کوله چې مفضي ددوی و هلاک ته وګرځېدله.

ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا السُّوْٓآٰى

وروسته تر تدمیر او هلاک (ثم، عطف دی پر جمله مقدره باندې، یعني فدمرهم الله) سو اخیر کار د هغو کسانو چې دوی عملونه بد کوله.

پوه سه: چې سوآی تانیث د اسوء دی کالحسنی تانیث احسن یعني الخصلة التي تسؤهم او عقوبة هي اسوء العقوبات او هو مصدر کالبشری نعت به مبالغة، وقیل السوی اسم من اسماء جهنم کما ان الحسنی اسم من اسماء الجنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي قراء د اهل کوفي او شام عاقبة په نصب سره وايي چي خبر د کان يې بولي او اسم د کان دا بولي.

أَنْ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَكَانُوا بِهَا يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١٠﴾

چي دوی تکذيب وکړی د آياتو د خدای ﷻ يعني د آياتو قرآنيه وُيا د معجزاتو د انبياء ﷺ او په هغو يې پسخند واهه يعني دغه اعمال سيئه وُ دوی باعثه کړه پر دې چي تکذيب د آياتو د خدای ﷻ يې وکړی او په آياتو د خدای ﷻ يې پسخند واهه.

پوه سه: چي وَكَانُوا عطف دی پر كَذَّبُوا علت دی داخل دی په علت کي د تعذيب دنيوي او اخروي ددوی.

فائده: په صيغه يې د مضارع راوړی للدلالة على الاستمرار والتجدد.

فائده: قراء د حجاز او بصري يې په رفع سره وايي چي اسم د کان يې بولي وخبره السُّوأى بولي.

اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾

خدای پاک پيدا کوي مخلوق ابتداءً وروسته را ګرځوي خلق بالبعث بعد الموت، وروسته تر بعث راجع کيږي و خدای ﷻ ته چي جزاء د اعمالو ورکړي ان خيرًا فخير وان شرًا فشر.

فائده: بعض قراء دا لفظ په ياسره وايي يعني يرجعون، ولي چي ضمير يې و قوم ته راجع دی او د قوم اسم ظاهر غائب دی او اکثره قاريان يې په تا د مخاطب وايي التفاتًا من الغيبة الى الخطاب للمبالغة في المقصود.

وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُونَ ﴿١٢﴾

"ويوم الساعة" ظرف متعلق على "يلبس المجرمون" ومجموع الجملة معطوفة على قوله الله يبدء الخلق الآية، قتاده او کلبي ؒ د يلبس ترجمه په يئسون من کل خير کوي، او مجاهد ؒ وايي چي رسوا به سي وه اهل محشر ته، او فراء ؒ وايي چي قطع به سي کلام ددوی او اعتذار ددوی وعلى كل تقدير فالمراد بالمجرمين الكافرون، او قاموس وايي چي مبلس په حرکاتو سره من لاخير عنده وابلس ويتحر ويئس متحدة في المعنى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ كٰفِرِيْنَ ﴿١٣﴾

يعني د هغو شيانو څخه چې دوی شريک کړي وه د خدای ﷻ سره په عبادت کې پر زعم ددوی انهم يشفعون لنا عند الله فهم دغه بتان "شفعؤا" شفاعت کونکي ددوی نه دي لکونها جمادات لاتنفع ولاتضر، او کافران به له شرکاؤ څخه منکر سي چې دوی يعني کافرانو خو هغه نه وسوه حين يئسوا من شفاعتهم ونفعهم، او بعض مفسران وايي چې دوی په سبب د شرکاؤ ددوی کافران بلل کېدل "ويوم تقوم الساعة" دا ظرف دی متعلق دی په يتفرقون پورې.

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿١٤﴾

"يومئذ" بدل دی من يوم القيامة يعني "يوم تقوم الساعة" او تاکيد له. والمعنى يوم اذا كانوا مبلسين عن شركائهم كافرين بالله، نو په دې ورځ به سره جلا سي بعد الحساب فريق في الجنة وفريق في السعير ثم لايجتمعون ابدًا وان كانوا في المحشر مجتمعين ..... شعر:

يکی خندان بصد عشرت .... يکی نالان بصد حسرت
يکی در راحت وصلت .... يکی در شدت هجرت

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿١٥﴾

الفاء للتفصيل هرچه هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې هم کړي وي، نو هغه به په روضه کې وي.

پوه سه: چې روضه هغه ځای ته وايي چې ښې ښې مېوې پکښې وي او قسم قسم ګلان پکښې موجود وي او ويالې پکښې جاري وي، مراد څنډي رياض الجنة دی.

"يحبرون" ابن عباس ﷺ وايي يسکنون، او مجاهد او قتاده ﷺ وايي ينعمون او ابو عبيده وايي يسرون والحبرة السرور، وقيل الحبرة كل نعمة حسنة والتحبير التحسين، او په نهايه کې وايي الحبرة بفتح الحاء النعمة وسعة العيش والحبرة بالكسر الجمال والهيئة الحسنة وفي القاموس نحوه.

دروښ وايي: چې وهذه المعاني التي ذكروها متلازمة يعني اهل جنت ته دا ټولې معاني حاصل دي په حديث شريف کې راغلي دي چې ابو موسى الاشعري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يو وخت قرائت وايه او عليه الصلوة والسلام غوږ ورته نيولی ؤ نو ابو موسیٰ چې وروسته خبر سو چې عليه الصلوة والسلام ستا و قرائت ته غوږ نيولی ؤ نو ويې داسې وويل لو علمت انک يا رسول الله تسمع لقرائتي لحبرت بها لک تحبيراً، يعني ما به په ډير ښه آواز او په ښه لهجه به مي قرائت ويلی واى، او الطبراني او البيهقي عن ابی امامة رضی الله عنه عن النبي ﷺ چې ده مبارک وويل: ما من عبد يدخل (يعني داره في الجنة) الا عند راسه وعند رجليه ثنتان من حور العين يغنيان (غزل وايي) باحسن صوت سمعه الانس والجن وليس بمزمار الشيطان (او نه دی د شيطان رباب چې د فسق او فجور غزلي دی وايي) بلکه بتحميد الله وتقديسه (يعني د حمد د خداى ﷻ او د پاکی د خداى ﷻ غزلي وي، مظهري رح وايي چې ضرب بالشعر والغناء في الدنيا لايحصل الا بذكر المحبوب بكلام موذون في صوت حسن موذون ولاشک ان اهل الجنة اذا فازوا برؤية جمال الله ﷻ الذي لاجمال فوقه فلا محبوب لهم غيره تعالى فيطربون بسماع ذكره تعالى بصوت حسن موذون، وجاء في بعض الاحاديث ان الحور العين يغنين لازواجهن باصوات ما سمعها احد قط ومما يغنين نحن الخيرات الحسان، ازواج قوم كرام كذا اخرج الطبراني مرفوعًا والبيهقي وابن ابی الدنيا عن انس رضی الله عنه نحوه.

دروښ وايي: چې روح المعاني او روح البيان وخصوصًا المظهري په دې باب کې د بيان د معنی د تحبرون دېر اقوال او احاديث راوړي دي چې د ټولو راوړه به درونډ وکړځي پر متعلمينو د تفسير ايوبي وفيما ذكرناه كفاية.

وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾

او هغه کسان چې کفر يې کړی وي يعني کفر يې مختاره کړی وي او تکذيب يې کړی وي په آياتو سره او په ملاقات سره د ورځې د قيامت ای البعث بعد الموت، نو هغه کسان به په عذاب کې داخل کړل سي چې همېشه به په عذاب کې وي.

پوه سه: چې احضار په عرف کې هغه دی چې په زور سره وي، نو د دوزخ مثال د بندي خانې د دنيا دی چې په زور سره بندي ور وستل کېږي، نو دوزخ سجن الله دی په آخرت کې نو کافران په ځنځيرانو او په غاړو به يې طوقونه وي و دوزخ ته به کشول کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾

پوه سه: چې سبحان الله مصدر دی د فعل محذوف، و التقدير فسبحوا الله سبحانًا (نو سبحانًا که څه هم مصدر د مجرد دی لکن دلته اسم مصدر یعني اسم دی په معنی د تسبیحًا چې مصدر دی د سبحوا چې له بابه د تفعیل دی لکه انبته الله نباتًا حسنًا، بیا یې فعل حذف کړی او مصدر یې مضاف کړی و مفعول ته چې لفظ د الله دی لکن بعد الاضافة اظهار د فعل روا نه دی کما في شروح الكافية وشروح سلم العلوم.

نکته: کلمه د فاء لپاره د سببیت ده او تفریع پر دمخه صفاتو د خدای ﷻ من الابداء والاعادة وغیرها، والمراد بالتسبیح في هذا المقام الصلوة كما يدل عليه مابعده.

"حِيْنَ تُمْسُوْنَ" ای تدخلون في المساء یعنې په مابنام کې چې دې ته صلوة المغرب[1] وایي، دا لمونځ شکریه ددې ده چې ورځ په خیر او سلامت او نعمت سره تېره سول او داخل په مابنام کې سوله لپاره د سکون او استراحت.

نکته: شروع یې د مابنام د لمانځه سره وکړه ددې سببه چې شپه تر ورځې په حساب د هفتې او د میاشتو په اصطلاح د عربو کې پخه ده.

"وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ" او هغه وخت چې تاسي داخلیږئ په ورځ دا لمونځ شکریه ده ددې چې شپه په خیر او عافیت او سلامت او راحت تېره سوه اوس ورځ داخله سوه لپاره د کسب د معاش.

سوال: تر مابنام وروسته خو ماخستن دی، نو د صباح د لمونځ څه حکمت دی په راورلو کې؟

ځواب: حکمت یې مقابلة الصباح بالمساء دی لمانځه ته صلوة الفجر[2] وایي یا صلوة الصبح وایي.

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾

ابن عباس ؓ وایي ای یحمدون الله اهل السموات والارض ویصلونه.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده "عشیًا" ای اخیر النهار چې صلوة العصر دی[3] او صلوة وسطی یې هم بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د مازديگر لمونځ يې ولې پر ماپښين دمخه راوړی؟

ځواب: لپاره د اهتمام د مازديگر په لمانځه سره، ولې چې په دې وخت کې خلک د بازار و په کاروبار اخته وي يعني بايد چې مسلمانان احتياط وکړی چې په دنيا وي کار سره صلوة العصر به سړی وګرځي مصداق د دې آيت الذين الذين لايلهيهم تجارة ولابيع عن ذكر الله.

"وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ" يعني چې داخل په غرمه کې سي يعني بعد الزوال چې د ماپښين لمونځ دی.

نکته: چونکه ديار د عربو عموماً ګرم دي، نو شايد په دې ګرمي سره به مو ګرمي د دوزخ درپيژاد سي او نجات به ځندي وغواړئ.

فائده: حين تمسون و مغرب او عشاء دواړو ته اشاره ده كما اخرج ابن جرير والطبراني والحاكم قول ابن عباس ؓ ان هذه الآية جامعة للصلوات الخمس وحين تمسون كناية عن المغرب والعشاء جميعًا او محي السنة البغوي ؒ وايي چې نافع بن الاذرق وه ابن عباس ؓ ته وويل چې پنځه سره لمونځونه په قرآن کريم کې ته پيدا کولای سي؟ ابن عباس ؓ ورته وويل نعم! وقرء هاتين الآيتين وقال جمعت هذه الآية الصلوات الخمس ومواقيتها انتهى.

فصل: في فضائل التسبيح، قال النبي ﷺ من قال حين يسبح وحين يمسي سبحان الله وبحمده (١٠٠) مرة غفرت له خطاياه، وان كانت مثل زبد البحر (که څه هم وي ګڼهونه دده په مثل د ځګ د درياب کناية عن الكثرة) وروى البخاري في آخير كتابه الصحيح في الحديث (كلمتان خفيفتان على اللسان حبيبتان الى الرحمن ثقيلتان في الميزان: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ) رواه البخاري بسنده عن رسول الله ﷺ، والمعنى: دوې کلمې دي پر ژبه سپکې او محبوبې دي خدای ﷻ ته او درنې دي په ترازو کې په ورځ د قيامت، وعن ابن عباس ؓ قال قال رسول الله ﷺ من قال حين يصبح سبحان الله حين تمسون وحين تصبحون الى قوله وكذالك تخرجون ادرک مافاته في يومه ذالک (چې له ده څخه فوت سوي وي په دغه ورځ يعني من نوافل العبادات والصلوات چې د هغو ثواب به خدای ورکړي) ومن قالهن حين يمسي ادرکه مافات في الليلة، رواه ابو داؤد عن ابی هريرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ څوک چې ووايي سبحان الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وبحمده (۱۰۰) مرة لم يأت احد يوم القيامة افضل مما جاء به الا احد قال مثل قال (۱۰۰) او زاد عليه، بخاري مسلم، وعن جويرية بنت الحارث ؓ ان النبي ﷺ خرج ذات غدات (يوه وړځ) من عندها (وكان اسمها برة) فخرج وهي في المسجد فرجع بعد ما تعالى النهار (چې وړځ ډېره تېره سوې وه) وقال ؓ مازلت في مجلسک هذا منذ خرجت بعد (ته تر اوسه پورې ناسته يې په ځای کې د ناستي چې داغه دی د هغه وخته چې زه درځخه ولاړم تر اوسه، دې ورته وويل نعم) فقال رسول الله ﷺ لقد قلت بعدک (يعني بعد خروج عنک) اربع كلمات ثلث مرات (څلور کلمې درې واره) نو وزنت بكلماتک لوزنتهن (که وتلل سي ستا د کلمو سره زما کلمې به پر غالبه سي) (۱) سبحان الله وبحمده عدد خلقه (۲) ورضاء نفسه (۳) وزنة عرشه (۴) ومداد كلماته، رواه مسلم.

وعن سمرة بن جندب ؓ قال قال رسول الله ﷺ افضل الكلام اربع سبحان الله والحمد لله لا اله الا الله والله اكبر، وفي رواية افضل الكلام الى الله اربع سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر لايضرك بايتهن بدئت (تاته ضرر نه دي په هره يوه کلمه د دغو څلورو کلمو چې شروع وکړې، رواه مسلم) وعن ابي ذر ؓ قال سئل رسول الله ﷺ اى الكلام افضل؟ قال ﷺ ما اصطفى لملائكته سبحان الله وبحمده رواه مسلم، وعن جابر قال قال رسول الله ﷺ من قال سبحان الله العظيم وبحمده غرست له نخلة في الجنة رواه الترمذي (دده لپاره به شنه کرل سي يوه درخته د خورما په جنت کي)

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

راباسي ژوندی شی له مړه څخه لکه انسان چې له نطفې څخه پيدا کوي او مرغه له هګۍ څخه پيدا کوي، او خدای راباسي يعني پيدا کوي مړ شی له ژوندي څخه لکه نطفه د انسان څخه او هګۍ له حيوان څخه، او يا معنی داده چې تر حيوانت وروسته مرګ پيدا کوي او تر مرګ وروسته ژوند پيدا کوي، وقيل في تفسير الآية يخرج المؤمن من الكافر لكه ابراهيم ؑ له آذر څخه او کافر پيدا کوي له مؤمن څخه لکه کنعان د نوح ؑ څخه وقيل العالم من الجاهل والجاهل من العالم، وقيل يخرج المصلح من المفسد ويخرج المفسد من المصلح، ددې دواړو مثالونه ډېر دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾

او حيات ورکوي مځکي ته چې نباتات دي وروسته تر مرګ په وچ والي د مځکي له نباتاتو څخه لکه په ژمي کي، او داغه رنګه لکه مذکور اخراج تاسي به را ایستل کېږي له قبرو څخه احیاء بعد الموت، نو تاسي ولي انکار کوئ د بعث بعد الموت څخه ایها المشرکون او سره ددې چې امثله مذکوره وینئ.

پوه سه: چې دا دلیل د ژوند وروسته تر مرګ في یوم القیامة، حاصل ددې دا دی چې ابداء او اعاده په قدرت کي د خدای ﷻ سره برابر دي، شیخ سعدي ؒ وایي:

بامرش وجود از عدم نقش بست ..... که داند جز او کردن از نیست هست
دگر ره بکتم عدم د ر برد ..... و از آنجا بصحرائ محشر برد

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿٢٠﴾

او له دلائلو څخه د قدرت د خدای ﷻ پر بعث بعد الموت دا دی چې تاسي یې پیدا کړي یاست له خاورو څخه یعني په ضمن د خلق د آدم ؑ جد کم الاکبر، یا عبارت په حذف سره د مضاف دی ای خلق اصلکم آدم، او سره ددې چې په خاورو کي هیڅ د ژوند ماده نه وه.

حکمت: چونکه په عناصر اربعه وو کي یعني النار، والماء، والهواء، والارض تر ټولو متواضع عنصر خاوري دي، نو آدم ؑ چې یې له خاورو څخه پیدا کړی باید انسان ځان متواضع او عاجزه وبولي، او د تکبر خولی له سره وغورځوي، کریمه: منها خلقناکم وفیها نعیدکم ومنها نخرجکم تارةً اخرٰی.

پوه سه: چې کمله د اذا لپاره د مفاجات ده (په پښتو وایي نابیره) او کلمه اذا مضاف دی وروسته جملې ته او عامل په معنی د مفاجات ده، والتقدیر فاجأتم وقت کونکم بشراً پاشي په مځکه کي یعني بعد ما کنتم جماداً بلا حس وحرکة یعني التراب، په مفردات کي وایي چې بشر ظاهر ته د پوست وایي، نو انسان ته چې بشر وایي په دې اعتبار چې ظاهر د پوست یې په وېښتیانو پټ نه دی بخلاف الحیوانات العادیة لکه اوښ چې پوست یې په وبر پټ دی، یا پسونه چې پوست یې په صوف پټ دي، یا بوزۍ چې پوست یې په شعر پټ دی (یعني اوجغوني).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نکته: ما قید د عادیه ووایه احتراز دی له ماهي، مار وغیره څخه فافهم،
قیل: .. خلقت من التراب فصرت شخصًا .... بصیرا بالسوال والجواب
وعدت الی التراب فصرت فیه .... کانک مابرحت من التراب

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ

"ومن آیاته" ای من دلائل قدرته تعالی علی البعث بعد الموت، دادی چې خدای ﷻ ستاسي د نفع لپاره پیدا کړی ستاسي د انسانانو له ځانو څخه لکه ام کبری حواء د پوښتنې څخه د آدم ؑ او نوري بنځي له نطفو څخه د نورو.

پوه سه: چې کلمه د من لپاره د بیان ده یعني ستاسي ماینې ستاسي له جنس څخه دي یعني انسانان نه له بل جنسه لکه خره یا غوا مثلاً.

اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا

ماینې چې تاسي میل او محبت ورسره وکړئ لان الجنسیة سبب الالفة والاختلاف في الجنس سبب التنافر او کراهت دی.

وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢١﴾

او ګرځولی دی ستاسي نرو او بنځو ترمنځ محبت او مهرباني، بخلاف سائر الحیوانات که نروي او که بنځي، او په تحقیق په دغه ازدواج کې د نر او بنځو دلائل دي د لوی قدرت د خدای ﷻ هغه قوم لره چې فکر لري، نو ددې ازدواج حکم او مصالح به ورته معلوم سي من التناسل وتعمیر الارض الی اجل معلوم وغیر ذالک.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۭ

او له دلائلو څخه د قدرت بلا شرکت دی پیدائښت یعني د خدای ﷻ په قدرت د اسمانو او مځکې (یعني مع مافي السموات من عجائب قدرة الله تعالی کالشمس والقمر والنجوم وغیرها، او په مځکه کې من الاشجار المثمرة والنباتات والجواهرات وغیرها.

فائده: متعلقة بالآیات السابقة.

پوښتنه: خدای ﷻ وویل من انفسکم ازواجًا چې ترجمه یې د هغه آیت په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسير كي تېره سوه. نو سوال دادی چي فقهاء او علماء وايي چي علوق يعني حمل او وطي د جنس سره لازمي نه دی بلکې د جن او انس تر منځ هم ازدواج او حمل کېدای سي کمامر في قصة بلقيس؟

ځواب: دا آيت مبني دی پر عرف غالب يعني چي متزوجين به د يوه جنسه وي وقصة بلقيس من النوادر في الغاية، والامر الغالب كما قال الشاعر:

بجنس خود کند هر جنس آهنگ ..... ندارد هيچکس از جنس خود ننگ
بجنس خويش دارد ميل هر جنس ..... فرشته با فرشته انس با انس

ايضًا: کند همجنس باهمجنس پرواز .... کبوتر با کبوتر و باز با باز

"واختلاف السنتكم" عطف على قوله خلق السمٰوات آه.

پوه سه: چي السنه جمع د لسان ده يعني جارحه مخصوصه چي په پښتو يې ژبه بولي، دلته مراد ځندي لغات مختلفه دي يعني هر صنف ته د انسان خدای ﷻ قدرت ورکړی دی د يوه لغت چي په هغه لغت هغه خبري کوي او کيفيات او اصوات د هغو سره جلا دي چي يو لغت او ژبه د بل لغت او ژبي سره پوشيده کېږي كاللغة العربية، وهذه اللغة افضل اللغات لانها لغة القرآن ولغة عليه الصلوة والسلام ولغة اهل الجنة في الجنان، كما ورد في الحديث النبوي الصحيح، وروسته تر عربي الفارسيه الدرية افسح الالسنة، او دا نور لغت سره برابر دي كالعبرية والتركية والهندية والافغانية وغيرها.

پوه سه: چي "والوانكم" عطف على السنتكم، او په اختلاف ستاسي د رنګو من الحمرة والصفرة والبياض والسواد وغيرها.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ ﴿٢٢﴾

په تحقيق په دې خلق السمٰوات والارض او په اختلاف کي د ژبو او لغتو او د رنګو دلائل کثيره دي (يعني پر وجود د صانع وقدرته وتوحيده وجلاله وجماله، لپاره د عالميانو يعني من ذوی العلم منهم لو تفكروا بقلب سليم من الاستكبار والعناد ..... سعدي رح:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت كردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

او له آياتو څخه يعني له دلائلو څخه د خداى ﷻ د وجود او د وحدت دى خوب ستاسي (منام مصدر ميمي دى) د شپې لپاره د استراحت د قوى د روح او د بدن وهو الغالب المعتاد في الناس في كل البلاد، او د ورځې لكه قيلوله في ايام الصيف.

وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ

او طلب كوي د معاش الدنيا مثل التجارة والاجرة او طلب د امور د آخرت بالصلوة والتعليم والتعلم يعني هم په ورځ كي وهو الاغلب او د شپې، او بعض مفسرين وايي چې مراد خوب دى د شپې او ابتغاء الرزق بالنهار بناءً على عادة اغلب الناس فافهم.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ۝

په تحقيق په دې منام الليل كي او ابتغاء الرزق بالنهار يا دواړه په دواړو كي كمامر دلائل دي د صانع با قدرت بدون المشاركة د هغه قوم لپاره چې آيات قرآنيه په سماع تدبر و تفكر سره اوري لان السماع بدون التدبر كسمع الحيوان حيث يسمعون الحيوانات مجرد الصوت بلافهم معناه فافهم.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا

او بعض له دلائلو څخه د وجود الصانع وقدرته وعلمه بمصالح اهل الارض چې په تاسي وينې (پېلبو)

فائده: يريكم په تقدير د ان المصدرية مبتداء ده او من آياته يې خبر مقدم دى او بېله تقديره د ان هم فعل مضارع مبتداء واقع كېداى سي لكه (تسمع بالمعيدى خير من ان تراه)

دروېش وايي: چې په هغه آياتو كي چې په اول كي يې من د جاره واقع وي داسي حكم كېداى سي چې من جاره دي په معنى د بعض مبتداء وي وروسته د يې خبر وي كما قال العلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني ؒ في تفسير سورة البقرة، ومن الناس من يقول الآية في حاشيته على الكشاف، وفيه بحث وله جواب قد مر في هذا لتفسير هنالك فافهم "خوفًا وطمعًا" له جهته څخه د بېرې د تكې يعنې كه په سفر كي وي څوك او له جهته څخه د طمع د باران كه په كور و كي واست.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې طمعًا او خوفًا منصوب دی علت د فعل مذکور دی یعنې یریکم آه په حذف د مضاف ای لارائة خوف وطمع، او یا په تاویل د مجرد چې خوفًا و طمعًا دی په مزید سره ای الاخافة والاطماع لکه یو څوک چې وایي ما فلانی فعل وکړی رعمًا للشیطان ای ارعامًا له.

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيِۦ بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا

او خدای ﷻ را اوروي له اسمان څخه اوبه یعنې باران، نو ژوندی کوي په هغو اوبو سره مځکه (حیات د مځکې عبارت دی له نباتاتو څخه او موت د مځکې کنایه ده له وچ والي څخه) "بعد موتها" ای یبسها.

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾

په دغو افعالو کې د خدای ﷻ (یعنې د یریکم څخه شروع تر دې ځایه پورې دلائل دي د قدرت د رب العزت، د هغه قوم لپاره چې له عقل څخه کار واخلي او د قادر متعال په قدرت او حکمت ځانونه پوه کړي.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ السَّمَآءُ وَالْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ

او بل له دلائلو څخه د قدرت د خدای ﷻ دادی چې ولاړ دي اسمانونه او مځکه پر خپلو ځایونو بېله دې چې نه میل ستنه او نه تنبه په قضاء او قدرت د خدای ﷻ، عبر عن الارادة بالامر مبالغة.

ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ الْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾

وروسته تر هغه په تا خې سره یعنې چې میعاد د یوم القیامة والبعث والنشور ورسېږي او خدای ﷻ تاسي راوبولي یعنې ایها الموتی اخرجوا.

پوه سه: چې داعي في الحقیقة کې خو اسرافیل ؑ دی چې پر صخره د بیت المقدس ودرېږي او صور پوه کړي النفخة الآخیرة، لکن خدای پاک نسبت وځان ته وکړی له دې سببه چې خدای ﷻ مسبب آمر د نفخ د اسرافیل دی.

فائده: کلمه د ان په ان تقوم کې مصدریه ده، نو معنی یې قیام السماء والارض ده، نو جمله د ثم اذا دعاکم آه عطف ده پر ان تقوم په تاویل د مفرد لانه لایجوز عطف الجملة علی المفرد کما في کتب النحو، نو گویا تقدیر د عبارت قرآني داسي دی ومن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آيته قيام السماء والارض، دا معطوف عليه چې په ان مصدريه سره مفرد گرځېدلی وُ ثم خروجكم من القبور اذا دعاكم دعوة واحدة، دا معطوف دی په تاويل د مفرد كمامر.

فائده: ثم يا د تراخي د زماني ده خروج من القبور ده كمامر في ترجمة الآية او يا لپاره د تراخي د رتبې ده چې په دې ورځ هولناكه امور منځ ته راځي.

فائده: ابن عساكر رح روايت كړی دی له زيد بن جابر رح څخه په تفسير كې د هغه قول د خداى ﷻ واستمع يوم ينادالمنادی من مكان قريب، ده ويلي دي چې اسرافيل پر صخره د بيت المقدس چې نژدې د محكود واسمان ته او داسې ناره وكړي يا ايها العظام النخرة يعني بوسيده او وراسته والجلود المتمزقة يعني اى پوستكو چې سره جلا سوي ياست ان الله يامركم ان تجتمعوا لفعل الحساب، فاذاهم قيام ينظرون.

فائده: اذا ثانيه ده مفاجات دی كما قلنا سابقًا قائم مقام الفاء دی په جواب كې د اذا اولى چې شرطيه ؤ.

پوښتنه: مناسبت د فاء او د جواب اذا څه شى دی چې كلمه د اذا قائم مقام الجواب وه كړځېدله؟

ځواب: فاء لپاره د تعقيب ده بلا فصل او جواب د اذا شرطي په عقب كې د شرط دی فافهم.

وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾

او د الله ج لپاره دي هغه چې په اسمانو او مځكه كې دي خلقًا و ملكًا.

پوه سه: چې تنوين د كل عوض د مضاف اليه دی اى كل واحد منها خداى پاك لره فرمان بردار ه دی.

فائده: مراد د من في السمٰوات والارض څخه ملائكه او انس او جن دی، والمعنى ليس لغيره تعالى شركة بوجه من الوجوه كما يدل عليه تقديم له.

سوال: په انس او جن كې خو كافران هم داخل دي، نو څرنگه صحيح كېږي چې ټوله فرمانبردار ه دي؟

ځواب: مراد له قنوت څخه فرمان برداري د اراده د خداى ده چې امور تكوينيه يې بولي، لاطاعة الامر بالعبادة او يا مراد شهادت دی د ټولو پر وحدانيت د خداى كما قال الشاعر: وفي كل شيئ له اية ..... تدل على انه واحد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سعدي ؒ ميگويد:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقي دفتريست معرفت كردگار

دروېش وايي: چې پر دې تقدير ضرورت نسته و هغه خبري ته چې كلبي ؒ ويلي دي هذا خاص بمن كان مطيعًا منهم آه، البته ابن جبير ؒ چې ترجمه د قانتون يې په مقرون بالعبودية سره كړې، نو عموم پر خپل ظاهر نه دی، وقال ابن عباس ؓ كل مطيع له تعالى في الحيوة والموت والبعث ونحو ذالك وان عصوا في العبادة انتهى.

دروېش وايي: چې پر دې ترجمه هم معموم پر خپل ظاهر دی كما قلنا سابقًا چې مراد فرمان برداري د ارادې د خداى ﷻ آه.

وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

او خداى ﷻ دی چې ابتداء د خلق الملائكة والانس والجن يې كړې ده او وروسته تر اهلاك يې بيرته راكړ ځوي يعني يوم البعث.

پوښتنه: دمخه خداى ﷻ وويل وله من في السموات والارض آه، او ترجمه د هغه هم تاسي واورېده، نو دا قول د خداى ﷻ وهو الذي به تكرار د هغه نه وې او كه تكرار د هغه وي، نو فائده د تكرار يې څه ده؟

ځواب: هو تكرار د اول خو دی مګر فايده د تكرار يې دفع د تعجب د كفارو ده من الاحياء بعد الموت كما اخرج ابن ابی حاتم عن عكرمه ؓ.

وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ؕ

او دا اعاده اسانه ده وه خداى ﷻ ته.

پوه سه: چې ضمير راجع دی و اعادې ته او سبب د تذكير يې مع ان الاعادة لفظ مؤنث په سبب د تذكير د خبر دی، او يا اعاده مؤل ده په ان مع الفعل سره چې په حكم كې د مصدر ده او لتأويل الاعادة بالبعث.

پوه سه: چې جمله د وهو اهون عليه حال ده له فاعل څخه د يعيد يا عطف ده پر ما سبق.

پوښتنه: پر خداى ﷻ خو د ايجاد اولاً او اعاده فرق نسته فما معنى اسم تفضيل يعني اهون، ولې د تفضيل څخه خو دا فهميږي چې ايجاد اولاً ګران او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سخت دی او اعاده تر هغه اسانه ده و خدای ﷻ ته مع اندلیس کذالک لان الابداء والاعادة في سلک واحد من قدرته؟

ځواب: روح المعاني وایي چي افعل لپاره د تفضیل دی ای الاعادة اسهل علی الله من المبدء والاسهلیة علی طریقة التمثیل بالنسبة الی مایفعله البشر یعني بشر چي یو کار ابتداءً وکړي بیا اعاده د هغه کار ورته اسانه وي، او فائده ددې تمثیل تقریب وي د اعاده و افکارو ته د منکرانو من الکفرة له بعث بعد الموت څخه.

دروښ وایي: چي دا ځواب حسین کاشفي په تفسیر حسیني کي هم راوړی دی، اعاده باعتقاد شما اسان تر است از ابداء پس چون ابداء را اقرار دارید اعاده را چرا منکرید و ابداء واعاده نزد قدرت او یکسان است... چون قدرت او منزه از نقصان است... اوردن خلق وبردنش یکسانست... نسبت بمن وتو هرچه دشوار بود .... درقدرت پر کمال او آسانست انتهی.

او دغه ځواب روح البیان او مظهري هم راوړی دی، او ربیع بن الخیثم او الحسن او قتاده ؒ وایي چي اهون په معنی د هین ویجئ افعل بمعنی الفعیل وهو روایة الدنی عن ابن عباس ؓ.

وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ

او خاص خدای ﷻ لره لا لغیره تعالی وصف اعلی چي بل چا لره نه هغه صفت سته یعني مساوي د هغه او نه تر هغه لوړ او نه وهغه صفت الهي ته نژدې کالقدرة التامة للخلق وایجاد السموات والارض وغیرها والعلم الشامل لجمیع ذرات العالم والحکمة الشاملة، عن ابن عباس ؓ لیس کمثله شیئ یعني في شیئ من صفات الجمال والجلال، او قتاده ؒ وایي چي شهادة ان لا اله الا الله.

دروښ وایي: چي مراد د قتاده ؒ شهادة ان لا اله الا الله مع لوازم هذه الکلمة الطیبة فیرجع هذا التفسیر الی الاول، او مظهري ؒ وایي قلت الوصف بالوحدانیة.

دروښ وایي: چي د مظهري او د قتاده ؒ د تفسیر څه فرق دی چي ده د قلت په ویلو سره علاحده تفسیر کړ ځولی دی، او سره ددې چي دمخه مظهري قول د قتاده هم رد کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

په اسمانو او مځکه کي يا په نطق سره لکه ملائکه او انس او جن يې کوي يا يې د دلالة الحال سره چې غير ناطق شيان کالنجوم في السمٰوات والنباتات په مځکه کي... سعدي شيرازي رح:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٢٧ ع

او خدای رح دی غالب في ملکه وخلقه ونفاذ امره في کل شيئ لايعجزه شيئ من الابداء والاعادة او په هره ذره کي د ذراتو د عالم حکمت لري که په حکمت يې ځوک پوهېږي او که نه... بيت:

زهر ذره بدو روی وراهيست..... بر اثبات وجود او گواهيست

درويش وايي: چې يو سړی که قصر، کوټې بنګلې د يو غني سړي وويني چې په ډېرو ښائسته مفروشاتو فرش وي او قسم قسم عطر پاشونکي ګلان پکښې ولاړوي او رقم رقم نقشونه پر ديوالو وويني او عجائب څراغان رڼا اچونکي هم وويني الی غير ذالک نو د تعجب ګوته په غاښ ونسي او علی الدوام و نورو خلګو ته د دغه قصر او بنګلې بيانونه کوي او دغه سړی په انفس او افاقو کي بيوت مزينه باسمائه وصفاته واثاره وينې، او هم دغه په مشاهده کي د دغو اثارو او بيوتو پوهه وي، ولي چې ادراک د عجائب د قدرت د خدای جل جلاله په زړه سره کېږي او د زړه مړی او د غني د قصر او بنګلې عجائب په ستر ګو معلومېده ستر کي د ده ژوندی وي... بيت:

اعميت عيني من الدنيا وزينتها..... فانت والروح شيئ غير مفترق

پوه سه: چې طبراني له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چې مشرکانو په وخت کي د شروع بالحج او العمرة دا سي تلبيه ويله، اللهم لبيک لاشريک لک الا شريکا هو لک تملکه وما ملکت فنزلت هذه الآية.

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ۭ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

الله تعالی بيان کړي دي تاسي ته ايها المشرکون، يو مثال چې منتزع دی ستاسي له ځانونو څخه چې تاسي ته ترتولو شيانو درنژدې دی، آيا تاسي لره سته د هغو مريانو څخه چې ستاسي په ملک يمين کي دي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِّنْ شُرَكَآءَ فِى مَا رَزَقْنَٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ

له شریکانو څخه ستاسي د مالو په هغه شیانو کي چي په ملک در کړي موږ تاسي ته من الاموال والضیاع، او تاسي او ستاسي مریان په تصرف کي د هغو مالو سره برابر یاست یعني لکه تاسي چي تصرف په هغو مالو کي کوی من البیع والهبة وغیرهما ستاسي مریان هغو مره تصرف پکښي کولای سي.

تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ

چي تاسي د هغو مریانو څخه بېرېږئ که تصرف په خپل مال کي وکړی پېله حضور د مریانو لکه چي بېرېږئ له خپلو خانو څخه.

پوه سه: چي مراد له انفسکم څخه نور امثال ددوی دي په حریت کي یعني لکه چي د نورو احرارو څخه چي بېرېږي.

كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ

داغه رنګه ای تفصیلاً مثل ذالک التفصیل، موږ تفصیل او توضیح د معقول په محسوس سره کوو فان التمثیل یوضح المعقول ویقربه الی اذهاد المتکرین للعقول، د هغه قوم لپاره چي له عقله کار اخلي په فکر وهلو په امثالو کي.

بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ

بلکي متابعت کړی دی هغه کسانو چي ظلم یې کړی دی پر خپلو خانو بالاشراک بالله، د خپلو خواهشاتو زائغه في الاشتراک بالله.

پوه سه: چي کلمه د بل اضراب او اعراض دی له مخاطبه څخه د کفارو یعني چي خدای ﷻ دوی ته ارشاد وکړی وحق ته بضرب المثل کما مر، او تفصیل د آیاتو ورته وکړي او مقدمات حقه او معقوله ورته بیان کړي کانه قیل لم یتبعوا شیئا من الآیات المفصلة بل اتبع آه.

پوښته: د الذین ظلموا په ځای کي چي بې ضمیر راوړی وایي یعني بل تبعوا عبارت په اخصر نه وای؟

ځواب: په دې وضع کي د موصول په ځای کي د ضمیر نکته داده چي دوی په دغه اتباع د هوئی ظالمان دي پر خپلو خانو بتعریضها للعذاب المخلد، یا معنی داده چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وضع د شيئ بې ځايه وکړه يعني نو دوی بايد اتباع د آياتو بيناتو کړې وای لکن دوی د خواهشاتو نفسيه وو وکړه وهو معنی الظلم "بغير علم" دا حال دی له فاعل څخه د بل اتبع يعني متلبسين بغير علم ای جاهلين بما يجب عليه من اتباع الحق المبين.

فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ

کلمه د فا لپاره د سببيت ده والاستفهام للانکار، والمعنی اذا اتبعوا اهوائهم ولم يقبلوا هدی الله فمن يقدر علی هدايتهم يعني لا احد يقدر علی ذالک.

دروښ وايي: چې معنی د اضلال د خدای خلق الضلالة فيهم بعد اختيارهم الضلالة بکسب موجبات الضلال لان خالق افعال العباد هو الله، والعباد کاسبون للافعال کما هو مذهب اهل السنة والجماعة خلافًا للمعتزلة والفرق بين الخلق والکسب دقيق چې تفصيل به يې د متعلمانو د تفسير ايوبي د حال مناسب نه وي، او بيان ددې فرق علامه ثاني سعد الدين التفتازاني رحمه الله په شرح العقائد وشرح المقاصد کې کړی دی، او سيد جرجاني رح په شرح کې د مواقف هم کړی دی، او محب الله البهاري رح په مسلم الثبوت کې هم کړی دی.

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٩﴾

نسته دوی لره، ای من اضل الله لره، مرسته کونکی چې له عذابه د خدای رح دوی خلاص کړي.

پوه سه: چې ضمير د جمع راجع دی ومن ته په اعتبار د معنی، ناصرين يې جمع راوړه علی معنی انه ليس لاحد منهم ناصر واحد کما يقتضيه مقابلة الجمع بالجمع کما في قولهم لبثوا ثيابهم وركبوا دوابهم يعني هر يوه واغوستل کالي خپل او سپور سو پر خپله دابه.

شيخ سعدي رح درباب هوی نفسانی چه خوش گفته:

غبار هوی چشم عقلت بدوخت ..... سموم هوس کشت عمرت بسوخت
وجود تو شهريست برنيک وبد ..... تو سلطان دستور دانا خرد
هوا و هوس را نماند متين ..... چو بيند سر پنجه عقل تيز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا

پوه سه: چي کلمه د فاء د سببیت ده یعني داخل پر شرط ده، والتقدیر لما ثبت وحدانیته تعالی وظهر لک ان المشرکین انما اتبعوا اهوائهم فاقم انت یا محمد ﷺ ته ثابت او سپه پر خپل مخ سره و دین ته د اسلام، حنیفًا مائل و دین ته د اسلام مستقیمًا علیه غیر ملتفت الی غیره.

فائده: حنیفًا منصوب دی علی الحالیة من ضمیر اقم ای حالکونک مائلاً الی دین الاسلام عن سائر الادیان مستقیمًا علیه.

دروښ وایي: چي په دې کي که څه هم مخاطب علیه الصلوٰة والسلام دی لکن تنبیه ده امت لره د استقامت پر دین اسلام، وعدم الالتفات الی غیره من الادیان.

فِطْرَتَ اللّٰهِ

پوه سه: چي د فطرة الله اصل ترجمه خلقة الله ده، والمراد به دینه یعني الاسلام او نصب د فطرة الله علی الاغراء دی (یعني باعثه کول پریږدئ شي) کذا قال ابن عباس رضي الله عنه وجماعة من المفسرین، نو معنی د آیت داده الزموا فطرة الله فالآیة خطاب للنبي ﷺ ولامته بتبیعته، نو دا آیت گویا تاکید دی د ماقبل یعني فاقم آه، او که اضمار د اسماء الافعال رواسي نو علیکم اسم فعل و رسره مقدر دی او مفسر مکي وایي چي فطرة الله منصوب دی په اضمار د فعل ای اتبع فطرة الله ودل علیه قوله تعالی فاقم وجهک لان معناه اتبع الدین واختاره الطیبي رحمه الله. او طیبي رحمه الله ویلي دي چي دا تقدیر اقرب دی و نظم ته د آیت یعني قوله تعالی بل اتبع الذین ظلموا اهوائهم آه، او دا هم روا ده چي منصوب په اضمار د اعني دي وي، والتقدیر اعني فطرة الله آه، او روح المعاني دا احتمال هم راوړی دی چي فطرة الله دي مفعول مطلق وي د فعل محذوف چي دلالت وروسته فعل پر کوي یعني التي فطر الناس علیها.

سوال: د تقدیر څه ضرورت دی، ولي چي مفعول مطلق د فعل مذکور نه دی یعني التي فطر الناس علیها؟

ځواب: هغه یې عامل نسي کېدای، ولي التي فطر الناس خو صفت د فطرة الله دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ

چې خدای پیدا کړي دي خلګ مستعد د هغه او قادر پر ادراک د هغه دین د حقیت، او بعض مفسرین وایي چې مراد د فطرة الله څخه هغه عهد ماخوذ د آدم ؑ له ذریت څخه دی بقوله الست بربکم قالوا بلی، وفي الحدیث الصحیح کل مولود یولد علی فطرة الاسلام، فابواه یهودانه او ینصرانیه او یمجسانه، الحدیث، رواه ابو هریرة رضی الله عنه الحدیث بطوله، متفق علیه.

دروښ وایي: چې په "لاتبدیل آه" کې لاد نفي دی جمله خبریه ده په معنی د نهي ده، والمعنی لا تتبدلوا دین الله (وهو الاسلام) بکفر، او مجاهد ؒ او ابراهیم نخعي ؒ وایي: الزموا دین الله (دا معنی د فطرة الله) ولا تبدلوا التوحید بالشرک (دا معنی د لاتبدیل لخلق الله) او بعض مفسرین وایي چې دا جمله پر خپل خبریت پاته ده او معنی یې په هغه حدیث کوي: کل مولود یولد علی فطرة الاسلام الحدیث کما مر عنقریب، او د هغه حدیث داسي ترجمه کوي کل مولود یولد علی الفطرة ای خلقت التي جبل علیها في علم الله من الشقاوة وکل منهم صائر الی ما فطر الله علیها، نو معنی د لاتبدیل لخلق الله داسي کوي لاتبدیل لما جبل علیه الانسان من السعادة والشقاوة یعني شقي في علم الله سعید نه سي کبدای او نه سعید في علم الله شقي ګرځي، جف التعلم بما هو کائن الی الابد.

دروښ وایي: چې دد ې معنی د لاتبدیل لخلق الله هغه حدیث کوي چې بخاري او مسلم یې د عبدالله بن مسعود ؓ څخه روایت کړی دی قال حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق (چې دی صادق دی او خدای ﷻ یې هم تصدیق کړی دی) ان خلق احدکم یجمع في بطن امه (پیدائښت د یوه ستاسي جمع کیږي په نس کې د مور یعني في رحمها) اربعین یومًا نطفة (څلویښت ورځې نطفه وي یعني د مور او پلار په رحم کې د مور یعني د قدرت تصرف پر جاري وي) ثم یکون علقة مثل ذالک (بیا یوه توته وینه سي په مثل د هغه یعني څلویښت ورځې یعني د قدرت الهي تصرف پر جاري وي) ثم یکون مضغة مثل ذالک (بیا لکه ژوولي غوښه وګرځي په مثل د هغه یعني څلویښت ورځې) بیا خدای ﷻ یوه ملکه ورته را استوي، نو هغه یې عمل نوشته کړي، او اجل یې نوشته کړي او رزق یې نوشته کړي او سعید یا شقي یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوشته کړي، يعني په خپل اختيار سره بعد ان يبلغ البلوغ بدون الجبر من الله تعالى كما مر، وهو مذهب الجبرية الملعونة، وروسته تر نوشتې ددې څلورو خبرو چې ذکر سوې روح پکښې پوه کړل سي، يعني ژوندی انسان وګرځي، وروسته عليه الصلوة والسلام په ذات جليل داسي قسم واخستی قو الذي لا اله غيره چې يو ستاسي عمل کوي په عمل د اهل الجنة مايکون بينه وبينها الا ذراع (چې نه وي او په منځ کې دده او د جنت يعني الموت على دين الاسلام مګر يو ګز، کناية عن قلة زمان موته لکن چونکه په وخت کې د کتاب د ملکي شقي نوشته سوې وي فيسبق عليه الكتاب فيعمل بعمل اهل النار فيدخلها يعني وړاندې والی پرده کتاب مذکور نو عمل وکړي په عمل د اهل يعني الكفر، نو اور ته داخل سي يعني پر کفر مړ سي چې عاقبت يې اور دی، او عليه الصلوة والسلام زياته کړه ان احدكم يعمل بعمل اهل النار (يعني الكفر) حتى لا يكون بينه وبينها (يعني النار چې مؤنث سماعي دی) الا ذراع فيسبق عليه الكتاب فيعمل بعمل اهل الجنة يعني الاسلام والطاعة فيدخلها يعني پر اسلام مړ سي چې عاقبت يې جنت دی، او احمد رح له ابی الدرداء رض څخه روايت کړی دی بينما نحن عند رسول الله ﷺ نتذاكر ما يكون (يعني موږ بحث کاوه چې آئنده حال به څرنګه وي؟) نو رسول الله ﷺ راته وويل چې که تاسي واورېدل چې يو غر له خپله ځايه را ايسته سوی دی) فتصدقوه (نو دراوي تصديق وکړئ يعني چې احتمال يې سته محاله خبره نه ده) واذا سمعتم رجل تغير عن خلقه (يعني چې يو سړي تغير وکړی د ما خلق عليه من الشقاوة والسعادة في علم الله تعالى) فلا تصدقوه فانه يصير الى ما جبل عليه (تصديق يې مه کوئ يعني که څه هم په ظاهر کې خلاف د ما جبل عليه وي) ..... شعر:

مشکل آيد خلق را تغيير خلق ..... آنکه بالذات است کی زائل شود
اصل طبعست وهمه اخلاق فرع ..... فرع لابد اصل را مائل شود

ولذا ورد في الحديث الصحيح السعيد سعيد في بطن امه. والشقي شقي في بطن امه.

درويش وايي: چې صحبت لره لوی تاثير سته كما قال عليه الصلوة والسلام حكاية عن رب العزة چې حديث قدسي يې بولي: كل عبادي خلقت حنفاء (ټول زما بندګان ما پيدا کړي دي حنيف يعني مائل ودين اسلام ته، نو مفعول ه خلقت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محذوف دی ای خلقتهم) فاجتالهم الشياطين عن دينهم وامروهم ان يشركوا بی غيری (نو دوی بوزي شيطانان د خپل دين څخه چې حنيف ؤ او دوی يې امر کړي چې شريک ونسي دما سره غير زما) ... شعر:

برسلامت زايد ازمادر پسر ..... آن شقاوت راپذيرد از پدر

صدق محض است اين که گفتم شاهدش ..... درخبر وارد شد از خير البشر

دا شاعر اشاره وکړه و هغه حديث ته چې دمخه تېر سو، کل مولود يولد علی فطرة الاسلام فابواه يهودانه الحديث.... شعر:

بـابـدان يـار گشت همسر لوط .... خـانـدان نبوتـش گم شد

سگ اصحاب کهف روزی چند .... پی نيکان گرفت و مردم شد

کما مر قصة في تفسير سورة الكهف.. شعر:

نفس از همنفس بگيرد خوی .... پـر حذر باش از لقای خبيث

باد چون بر فـضای بد گذرد .... بوی بد گيرد از هوائی خبيث

پوښتنه: د خلګو په زړو کې يوه وسوسه پيدا کېږي چې کل مولود يولد علی فطرة الاسلام الی اخير الحديث استغراق او کليه به يې څرنګه صحيح سي او حال دادی چې په حديث صحيح کې راغلي دي الغلام الذي قتله الخضر ؑ طبع علی الکفر يعني پر کفر پيدا کړه سوی ؤ؟

ځواب: محمود آلوسي ؒ په روح المعاني کې ددې سوال په ځواب کې داسي ويلي دي بان معنی ذالک انه قدر انه لو عاش يصير کافرًا باضلال غيره له او بآفة من الآفات البشرية وذالک لاينافي الفطرة علی دين الاسلام بمعنی خلقه ميتهئًا له ومستعدًا لقبوله انتهی.

پوښتنه: ايوبي ستا خو حواله ويو تفسير ته عادت نه وه په دې ځواب کې دي څرنګه حواله وتفسير روح المعاني ته ورکړه؟

ځواب: نعم! لکن چونکه دا ځواب ډېر دقيق ؤ او د حاسدانو تر فهم لوړ ؤ او حاسدان په خزه کې د ښکارد دروېش ناست دي که ما حواله نه وای کړې روح المعاني ته دستي حاسدانو په غشي د حسد ويشتلم يعني ايوبي درواغ وويله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

"ذالک" اشاره ده ودين مأمور بالاقامة في قوله تعالى فاقم وجهک يا وه فطرة ته في قوله تعالى فطر الناس عليها، دا سم برابر دين دى چې هيڅ کج وپېچ پکښې نسته، خو د هر خلک نه پوهېږي (مراد ځندې کفار د مکې دي) په استقامت د دې دين لعدم تدبرهم في حقيته.

فائده: اصل د قيم چې صيغه د مبالغې ده قيوم على وزن فعيل، په زرادي کې (د علم صرف يو ابتدائي کتاب دى) وايي في مثل ذالک اللفظ واو ويا، بهم آمدند نخستين ايشان ساکن بود واو را ييا بدل کردند ويا را دريا ادغام نمودند، نو قيم ځندې جوړ سو.

مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ

معناه راجعين اليه تعالى بالاخلاص مرة بعد اخرى كما هو معنى اناب، او بعض مفسرين وايي منقطعين اليه ﷻ من غيره.

فائده: منيبين منصوب دى په فعل مقدر سره اى كونوا بقرينة عطف لاتكونوا عليه او يا حال دى من الضمير في الزموا، او يا ملتزمين چې ناصب مقدر دى په فطرة الله کې او يا په اقم کې لان الخطاب فيه للرسول ﷺ وامته.

دروېش وايي: چې اولاً په اقم وجهک کې مخاطب يوازې عليه الصلوة والسلام ؤ او تبعًا امت هم ورسره داخل لتعظيم شانه ﷺ او په دې ځاى کې عليه الصلوة والسلام او امت يې ټوله مخاطب کړه.

وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝

او د خداى ﷻ ځخه وېرېږئ، او لمونځ په خپل وخت کې کوئ على الدوام مع مراعات الفرائض والواجبات والسنن وتعديل الاركان كما هو معنى اقامة الصلوة. او مه ګرځئ له مشرکانو ځخه چې تبديل د فطرة الله وکړئ، وهذه الآية تاكيد ومبالغة في قباحة الشرک.

سوال: انابة اليه تعالى خو مستلزم دى تقوى لره، نو په ذکر کې ځه حکمت دى؟

ځواب: حکمت يې تعظيم د امر د تقوى.

فائده: دروېش وايي چې په تفسير تيسير کې چې يو قديم تفسير دى په فارسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژبه داسي نقل راغلی دی از شیخ محمد اسلم طوسي ؒ نقل میکند که حدیثی بمن رسیده که علیه الصلوة والسلام فرموده که هرچه از من روایت کنند عرض کنید بر کتاب الله تعالی اگر موافقی بود قبول کنید، من این حدیث را که من ترک الصلوة متعمداً فقد کفر، خواستم که از قرآن کریم موافق او پیدا کنم، دپرش کاله مي په دې فکر کي تپر سوه تا این آیت یافتم واقیموا الصلوة ولاتکونوا من المشرکین، انتهی.

دروښ وایي: چي دا حدیث که په سند صحیح وي محمول دی پر ترک د لمانځه انکاراً او یا محمول پر زجر کما في حدیث لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد، محمول دی پر زجر د تارک الجماعة، یا دا حدیث من لازکوة له فلا صلوة له، محمول دی پر زجر د مانع الزکوة والا فمذهب اهل السنة والجماعة دادی چي په کور کي لمونځ صحیح دی او داسي نه ده چي څوک د زکوة مانع وي سره د تصدیق پر فرضیت د لمانځه لمونځ یې قبلیږي البته ترک د جماعت مع القدرة ګناه کبیره ده بالاجماع او دغه رنګه منع د زکوة ګناه کبیره ده، نو ددې آیت معنی داده چي لمونځ کوي د مشرکانو سره ځان مه مشابه کوه چي هغه لمونځ نه کوي.

دروښ وایي: چي دا نقل محمد اسلم طوسي ؒ د هغه حدیث څخه هم مخالف دی چي علیه الصلوة والسلام وایي اوتیت القرآن ومثله معه، او کما قال والله اعلم بالصواب وعنده علم الکتاب. دروښ وایي چي وروسته آیت قرینه ده پر ما قالنا باندي.

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ

دا موصول بدل دی له المشرکین څخه یا عادة الجار وبالفارسیة: میباشید آنانکه جدا کرده اند دین را وپراگنده کردند دین خود را بقبول بعض احکام وانکار بعضها، کالیهود والنصاری چي د تورات هغه آیاتونه چي ایمان به پر نبي اخیر الزمان راوړی چي نوم به یې محمد وي فلانی بې نښانې وي، نو دوی منکره سوه، نو دا خو صراحةً کفر دی په کتاب التوراة سره چي د محمد ﷺ د نبوت تائید یې کاوه او نور تورات یې منی "وکانوا شیعًا" وګرځېدل دوی ډله ډله بعض مفسرین وایي چي مراد له دې ډلو څخه اهل بدعت دي امت دي کالمعتزلة والخوارج والشیعة، والقدریة والجبریة والکرامیة وغیرها من فرق الضلالة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: من الذين فرقوا دينهم آه. خو بيان د حال د مشركانو دى او اهل بدع خو مشركان نه دي كه څه هم په دوى كي بعض فرق كغلاة الرافض كافران دي؟

ځواب: د مشركانو اطلاق پر دې فرقو په سبب د دې سو چې دوى دين حق پرېښو او متابعت د هوا نفساني يې شروع كړى فكانوا من الذين اتخذوا الهه هواه. له عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دى قال قال رسول الله ﷺ ستفترق امتي (۷۳) فرقة كلهم في النار الا واحدة منهم قيل من هي يا رسول الله ﷺ قال ما انا عليه واصحابي چې زه پر هغه ملت يم او زما اصحاب دي دوى هم پر هغه ملت وي، رواه الترمذي.

دروېش وايي: چې هغو ته اهل السنة والجماعة وايي.

كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿۳۲﴾

يعني د دغو ډلو څخه چې په ټپ د دې شي وي من العقائد، خوشحالي كوي د دوى دا زعم دى چې حق هم دا زمونږ عقائد دي. نوري ډلې پر ضلال دي... ابيات:

هر كسى درخور مقدار خويش ..... هست نوعى خوشدلى در كار خويش

ميكند اثبات ونفي غير او ..... چه امام صوم صعه چه پير دير

پوه سه: چې ان الدين عند الله الاسلام من لدن آدم ﷺ الى يومنا هذا، البته شرائع او احكام يعني په فروعو كي د دين به اختلافات وي په اعتبار د امتو او د زمانو لكن په اصولو كي د دين يعني په معتقداتو كي اختلاف نه سره لري ثم صاروا فرقا مختلفة كاليهود والنصارى والمجوس، او عبادت كونكي د بتانو يا د ملكو يا د ستورو ونحو ذالك، وقد روى ان ملة ابراهيم صاروا بعده بزمان (۷۰) فرقة كلهم في النار الا واحدة او هغه ډله ده چې دوى په اصولو او فرعو كي د ابراهيم ؑ پر مسلك وه، او امت د موسى ﷺ وروسته تر ده په مرور د زمانو (۷۱) فرقې سوې كلهم في النار الا واحدة چې هغه پر اعتقاد د موسى ؑ او پر عمل د ده ثابت قدمه وه، او امت د عيسى ﷺ وروسته تر ده پري زماني (۷۲) ډلې سوې چې تولې يې په اوركي دي الا واحدة وافقت عيسى ؑ في الاعتقاد والعمل، وان امة محمد ﷺ صاروا بعد حين (۷۳) فرقة كلهم في النار الا فرقة واحدة چې دا ډله هغه كسان دي چې پر اعتقاد او عمل د عليه الصلوة والسلام او د اصحابو ؓ د ده باقي پاته دي وهم الناجية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا درواوویا (٧٣)ډلې څو کلیات د ډلو دي، او جزئیات د ډلو یې ډېر دي لاتعد ولا تحصیٰ، چناچنه بعض علماء وایي چې ما په ولایت کي د فارس سل (١٠٠) مذهبه ولیدل چې ددې درې اوویا (٧٣)ډلو سره یې هیڅ تعلق نه ؤ، نو دا د یوه ولایت حال دی! نو په عالم دنیا کي په امت محمدیه کي به څومره ډلې وي؟ انتهی.

دروښ وایي: چې مجوسیان چې د اور عبادت کوي او عبدة الاوثان چې د بتانو عبادت کوي کمشرکی مکة والهند، یا د ستورو عبادت کوي یا د ملکو عبادت وغیرها، دا ټولې ډلې په دې درې اوویا (٧٣) پورې اړه نه لري، دا که څه هم امت دعوت دي لکن دا (٧٣) ډلې په امت اجابت کي دي والله المستعان.

وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ

او چې ورسېږي وه انسان ته یو ضرر (لکه فقر، ناجوړي، قحط د باران الی غیر ذالک) دوی خواست د دفع د هغه ضرر کوي ورب ته خپل یعني د یاربي نعرې وهي په داسي حال کي چې دوی راجعین و خدای ﷻ ته وي د دعاء او خواست ستده بتانو. ولي چې دوی په دې پوهېږي چې کاشف الضر فقط خدای ﷻ دی لا الاصنام، ولي چې په صحیح روایت کي راغلي دي چې مشرکان د مکې چې به په سفر د دریاب تله نو په کښتی کي چې به سپر بدل خپل یو معبود یعني بت به یې له ځانه سره اخستی، لکن چې کښتی به طوفاني سوه او د دوی په زړو کي به د غرق بېره پیدا سوه، بت به یې و دریاب ته وغورځاوه او دیا ربنا نعرې به یې شروع کړې.

دروښ وایي: چې لفظ د انسان که څه هم عام دی، لکن عموم مفسرین یې تفسیر په اهل مکه مشرکینو سره کړی دی.

ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

وروسته هغه وخت چې دوی به وځکي یعني دوی ته به ورسېدی د خدای ﷻ له خوا څخه رحمت یعني هغه ضُر به په قدرت د خدای ﷻ دفع سو.

پوه سه: چې کلمه د اذا لپاره د مفاجات ده چې په پښتو وایي نابیره، والتقدیر بالعربیة فاجأ فریق منهم، یوه ډله د دوی په هغه رب سره چې دوی یې له شدت او ضرر څخه خلاص کړه شریک نسي، یعني نسبت د عافیت او دفع الضرر و بتانو ته کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: فريق منهم تخصيص يې وکړی له دې سببه چې بله ډله ييا داغسې نه کوي کما جاء في قوله تعالى: فلما نجاهم الى البر فمنهم مقتصده آه، يعني ثابت قدم وي پر دې عقيده چې کاشف الضر رب تبارک وتعالى ؤ کما هو حال المؤمنين بالله بلکې بعض ميانه رو مشرکان چې له ضرځخه خلاص سي دا ربنا يا ربنا په نارو سره ييا هم نسبت د کشف الضر و خداى ﷻ ته کوي و ستانو ته يې نه کوي. والله اعلم بمراده في کتابه، وما على الفقير الا بذل الوسع والطاقة.

دروښ وايي: چې د دې آيت سره موافق بخاري او مسلم د زيد بن خالد ځخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ په هغه سهار چې موږ په حديبيه کې ؤ (حديبيه د يو مقام نوم دی قريب و مکې ته چې عليه الصلوة والسلام سره د (۱۵۰۰ يا ۱۶۰۰) اصحابو ﷺ په نيت د عمرې له مدينې ځخه راغلي وه او مشرکان د مکې يې د عمرې کولو مانع وګرځېدل، نو عليه الصلوة والسلام سره د اصحابو په حديبيه کې اقامت پذير سوه خير قصه اوږده ده، اخير د عليه الصلوة والسلام او د قريشو د مکې تر منځ صلح وسوه د راتلونکي کال پر راتګ د عمرې لپاره) د شپې باران وسو عليه الصلوة والسلام چې د سهار جماعت وکړی پر خلګو يې مخ راواړاوه او داسې يې وويل: هل تدرون ماذا قال ربكم؟ قالوا الله ورسوله اعلم، قال ﷺ قال ﷻ اصبح من عبادي مؤمن وكافر (تاسې خبر ياست چې خداى پاک ځه وويل؟ دوی ورته وويل چې خداى او رسول خبر دي، نو عليه الصلوة والسلام وويل چې خداى ﷻ وويل: باران چې وسو بعض بندګان مؤمن دي بعض يې کافر دي) فاما من قال مطرنا بفضل الله ورحمته فذالک مؤمن بي وكافر بالكواكب (هغه چا چې داسې وويل چې پر موږ باران وسو په فضل د خداى ﷻ او رحمت د خداى ﷻ د هغه چا پر ما ايمان دی يعني چې اورونکی د باران خداى ﷻ دی او کافر دی په ستوري سره يعني نسبت د باران و ستورو ته کوي يعني چې فلانی ستوری راوختی نو دا باران وسو) ومن قال مطرنا بنوء كذا فذالک كافر بي ومؤمن بالكواكب (او که چا داسې وويل چې پر موږ باران وسو د فلاني ستوري په سبب هغه سړی کافر دی په ما سره چې زما د صنع او خلق ځخه منکر سو او ايمان يې پر کوکب دی چې د باران نسبت يې و ستوري ته وکړی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ

پوه سه: چي دې لام ته لام عاقبت وايي يعني لام غرض نه دی.

فائده: د عاقبت معنی اخیر کار ده، نو مفهوم يې تراخي ده، ځکه دې لام ته لام امهال هم وايي او لام مآل يې هم بولي، او بعض مفسرين وايي چي دا لام لپاره د امر او نهي دی لکن امر لپاره د تهديد دی لکه يو سړی چي په حال کي د غضب زوي ته ووايي اعصني ما استطعت.

فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾

تاسي تمتع او فائده يعني بنعم الدنيا فيه التفات من الغيبة الى الخطاب.

پوه سه: چي سوف لپاره د استقبال بعيد دی، والمعنی ژر دی چي تاسي په عاقبت د خپل تمتع پوه سئ ای يوم القيامة.

أَمْ أَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا

پوه سه: چي کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل ده چي لپاره د انتقال دی او د همزه چي لپاره د انکار دی، عطف ده دا جمله پر کل حزب بما لديهم فرحون باندي، او داسي هم روا ده چي منفصله سي عطف پر مقدر وي، والتقدير ايشرکون بلا حجة (وهذا هو معطوف عليه المقدر) ام آتيناهم سلطانًا، ابن عباس ؓ وايي چي مراد له سلطان څخه عذر دی، قتاده ؒ وايي چي مراد څندي کتاب دی، او بعض مفسرين مضاف محذوف بولي يعني ذو سلطان، والمراد ملگا مع برهان على صحة شرککم يا رسول الله مؤيد بالمعجزات. ومعنی الانکار على هذا التقدير انه ليس شيئ من ذالک موجود.

فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا بِهِ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾

چي هغه سلطان خبري کوي په لسان قال سره يا په دلالة الحال سره، کلمه د ما يا مصدريه ده ای باشراکهم وصحته، او يا موصوله ده والعائد محذوف ای بالامر الذي بسببه يشرکون به وبالوهيته.

پوه سه: چي استفهام په ام کي يا لپاره د تقرير دی يعني حمل المخاطب على الاقرار على ان شرکهم بلا حجة ولا برهان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا بيت مناسب دی له حال سره د مشرکانو:

ترسم نه رسی بکعبه ای اعرابی ..... کین راه که تو میروی بترکستان است

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا۟ بِهَا ۖ

هغه وخت چې موږ وځکو (لیس من ذوق الفم بلکه مراد اذا اصبنا الناس) رحمةً یعني صحت او عافیت او فراخه رزق) دوی خوشاله سي په هغه رحمت سره.

سوال: خوشالي په رحمت سره بالمعنی المذکور خو امر طبعي دی نو دا خود انسان د ذم خبره نه ده مع ان المقام ههنا مقام الذم؟

ځواب: لیس المراد ههنا الفرح الطبعي بلکې مراد خوشالي د بطر یعني د کبر مع ان اللازم علیه الشکر.

وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾

او که دوی ته ورسېږي یو سختي لکه مسکنت او مریضي په هغه سبب چې ددوی ترلاسو تېر سوی ډمخه یعني من المعاصي، نا ببره دوی د خدای ﷻ له رحمت څخه نا امیده سي.

سوال: تولې معاصي خو په سبب د لاسونه کېږي، مثلاً شرک د زړه کار دی او بعض ګناهونه په ژبه سره کېږي لکه غیبت او بهتان، او بعض په فرج الی غیرها من الاعضاء؟

ځواب: چونکه لاسونه د ډېرو کارو واسطه ده، نو ځکه نسبت د تولو ګناهو ولاسونو ته کېږي، په پښتو کې هم ورته خبره پښتانه کوي، یو مصیبت چې چا ته پېښ سي بل سړی ورته ووایي د خپله لاسه د رپېښه سوه.

دروښ وايي: چې دا دواړه خویونه د مؤمن خویونه دي، بلکې مؤمن د نعمت په وخت کې شکر د خدای ﷻ وایي او امید د خدای ﷻ ته لري په وخت کې د شدت یعني د کشف الضر والشدة، او صبر کوي او خدای ﷻ ته امید د ثواب لري په صبر کې عند المصیبة.

أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ

آیا دوی یعني انسانان چې مراد ځندي کافران وه فکر نه وهي؟ (نو مراد رؤیت علمي دی لا البصري)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي همزه لپاره د انکار دی يعني دوی بايد دا دوه کاره چي ذکر سول نه کولای، او واو لپاره د عطف دی پر مقدر باندي کما مر مرارًا، والتقدير الم يتفكروا (هذا هو الفعل المقدر) ولم يعلموا (هذا هو معنى لم يروا)

"ان الله يبسط الرزق آه" بيشکه خدای ﷻ فراخه کوي رزق د هغه چا لپاره چي اراده د فراخی يې ورته وسي او تنګوي رزق يعني لمن يشآء، والحاصل چي څه سبب دی کافرانو لره چي د فراخی د رزق په وخت کي کبر او لويي کوي او شکر د نعمت نه وايي، او د تنګی په وخت کي ولي نا اميده کيږي او رجوع و خدای ﷻ ته نه کوي بالندم والتوبة وترک المعصية او صبر نه کوي لکه مؤمنانو چي دا دوه کاره کول.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾

په تحقيق په دې قبض او بسط کي په تاويل د مذکور د هر دلائل د قدرت او حکمت الهي هغه چا لره چي ايمان پر خدای ﷻ لري (نو مضارع په معنی د حال ده)

سوال: آيات يې جمع راوړه او سره د دې چي قبض او بسط خو دوه دي؟

ځواب: قبض او بسط په اعتبار د کثرت د کافرانو د هر آيات دي، او لان المراد بالجمع الجمع اللغوي، والاول هو الابلغ فافهم، هداک الله تعالى.

فائده: شقيق بلخي رحمه الله وايي: اې بنده! لکه ته چي په خپل ژوند کي بالابود نسي راوستلای، داغه رنګه ته په خپل رزق کي بالابود نسي راوستلای، نو په طلب کي د رزق ځان مه سرګردانه کوه..... بيت:

رزق گر بر آدمی عاشق نمی باشد چرا .. از زمين گندم گريبان چاک می آيد چرا

او ابراهيم بن ادهم رحمه الله وايي: طلبنا الفقر (موږ طلب کاوه د فقر) فاستقبلنا الغنى (غنی مخ راباندي راوراوه) نو پر عاقل سړي دا واجب ده چي سکون او اطمنان د زړه حاصل کړي او غنی د قلب مد نظر وګرځوي او دا يې ايمان وي چي خدای پاک ﷻ يفعل مايريد على وفق علمه وحكمته.

دقيقه: که يو مؤمن له فقره په دې سببه بې پرېدی چي آفات په دين کي پيدا نسي نو دا هم د ايمان له سببه څخه دی.

نکته: تاريخ وايي چي معروف کرخي قدس سره په يو امام پسي لمونځ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جماعت وکړی، وروسته تر سلام امام پوښتنه ځندي وکړه او داسي يې ورته وويل من أين تأكل يا معروف؟ معروف ؓ ورته وويل چي ته صبر وکړه اې امامه چي زه راوګرځوم هغه لمونځ چي په تا پسي مي وکړی، بيا به ځواب درکړم فان الشاك في الرازق شاك في الخالق ولا يجوز اقتداء المؤمن المؤقن بالمتزلزل المتردد، قال الله تعالى: لآيات لقوم يؤمنون، ابوبکر محمد بن سابق ؓ داسي خواږه بيتونه په دې باره کي يعني مطابق د تفسير سره د دې آيت ان الله يبسط الرزق الآية ويلي دي.

فكم قوى قوى في تقلبه..... مهذب الراى عنه الرزق ينحرف
كم ضعيف ضعيف في تقلبه..... كانه من ثبج البحر يغترف
هذا دليل على ان الآله له..... في الخلق سر خفي ليس ينكشف

حکايت: د بضع علماؤ څخه چا پوښتنه وکړه: ما الدليل على ان للعالم صانع واحد؟ هغه عالم ورته وويل درې شيان د دې مسئلې جواب او دليل دي (۱) ذل اللبيب د هر دانشمند او په هره خبره پوه سړي ذلت دی (۲) فقر الاديب: د ډېر عقل دانا سړي مسکنت دی (۳) وسقم الطبيب: ناجوړي د طبيب.

دروښ وايي: چي عربي عبارت د دې ځواب ډېر زړه پورې دی يعني: ذل اللبيب، وفقر الاديب، وسقم الطبيب.

فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ

کلمه د فا لپاره د سببيت جزاء د شرط محذوف ده، والتقدير اذا عرفت ان قبض الرزق وبسطه من جانب الله تعالى، نو ورکوه (ذا القربى) قربي مصدر دی په معنى د قرابت دی (حقه) من البر والنفقة الواجبة.

پوه سه: چي مخاطب په نږد بعض مفسرينو عليه الصلوة والسلام دی اصالةً وامته تبعًا، او بعض مفسرين وايي چي مخاطب کل من بسط له الرزق.

پوه سه: چي امام اعظم ابو حنيفه ؒ په دغه آيت سره دليل وايي پر وجوب د نفقې د ذوی الارحام (يعني خاوندان د قرابت المحارم چي د سړي محرم وي په وخت د احتياج د هغو يعني چي سپين ږيری يا سپين سړي وي چي کسب د نفقې نسي کولای، يا ګود يا روند الى غير ذالک.

دروښ وايي: چي د سورة البقرة په تفسير کي تفصيل د نفقة المحارم تېر سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ

يعني مسكين چي بېكانه وي او مسافر چي في الحاله دده مال نه وي كه څه هم دی مال په وطن كي لري ددوی حقوق له مال څخه دي اغنياء ورکوي لپاره د رضی د خدای ﷻ او د اميد د فضل د خدای ﷻ في الدنيا و الآخرة.

فائده: په كشف الاسرار كي وايي: قرابت دو قسم است قرابت دين و قرابت نسب مجرد، و قرابت دين سزا وار تر است بمواسات از قرابت نسب مجرد انتهى.

ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۳۸﴾

دغه ورکړه د مال و ذی القربٰی الخ ته (يعني ذالک اشاره ده و مصدر ته د "فآت") خير: بهتره ده تر خاصولو د خپلو ځانو په لذاتو او مشتهياتو سره، د هغو کسانو لپاره چي اراده لري د رضٰی د خدای ﷻ، يعني قصد يې په انفاق سره رضا د خدای ﷻ وي او ثواب د خدای ﷻ (نو لفظ د وجه کنايه ده د رضاء د خدای ﷻ په وسه: چي مفضل عليه د خير محذوف دی په قرينه د ماقبل يعني من الايتآء رياءً وسمعةً) او هم دغه کسان فلاح مندونکي دي.

پوه سه: چي هم ضمير فصل دی لپاره د حصر يعني په دوی کي فلاح او خلاصون له عذابه د خدای ﷻ حصر دی، دون غيرهم يعني چي ددوی پر صفت نه وي. ولي چي هغو کسانو چي په ايتاء کي يې قصد وجه الله وه رايه نيول په دنيا فاني سره ثوابونه د عقبٰی چي باقي او بالعکس دی حال د رياکارانو او د سمعت د طرفدارانو.

وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا

او هغه مال چي تاسي يې ورکوئ و سود خور ته له کټې څخه يعني زيادة محرمة في الشرع چي لس درهمه ورکوي په عوض کي د سلو روپو پور مثلاً، يا په نورو ربويه مالو. کالحنطة و الشعير و غير ذالک، يعني کټه مشروطوي في عقد المعاملة يا عطية مباحة يعني هديه يا هبة لپاره د مکافات.

سوال: هبه يا هديه خو سود نه دی، ولي چي مشروط في العقد نه دی، نو دې ته ربا ولي وويل سو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: مقصود چې په دې هبه يا هديه کې زيادت ؤ، نو په نامه د مشروط في العقد ربی ورته وويل.

پوه سه: چې ابن کثير د قراء سبعه ؤ څخه د دواړه ځايه اتيتم په قصر سره وايي. چې معنی يې ماجئتم به من اعطاء زيادة محرمة او عطيه مباحة ده، او د جمهورو قراؤ قرائت په مد د الف دی کما في المصاحف المطبوعة.

لِّيَرْبُوَا۟ فِىٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرْبُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ۖ

"ليربوا" ای ليزيد في اموالهم، په مالو کې د خلګو، نو هغه ورکړه ګټه نه لري په نيز د خدای ﷻ يعني ثواب يې نسته. محي السنة بغوي ؒ وايي چې د دې آيت په معنی کې اختلاف دی، سعيد بن جبير، مجاهد، طاؤس، قتاده او اکثر مفسرين رحمهم الله وايي چې دا آيت په شان کې د هغه نازل سوی دی چې يو سړی بل سړي ته يوه عطيه او يا هديه ورکړي د دې لپاره چې هغه به د غيرت د لاري ماته ډېر عوض راکړي، نو داسي که څه هم سود نه دی بلکې مباح دی لکن ثواب يې په ورځ د قيامت و ده ته نه ورکوي، وهذا معنی قوله تعالى فلا يربوا عند الله، لکن آنحضرت ﷺ داسي ورکړه حرامه وبلل، کريمه: ولا تمنن تستكثر، او ضحاک ؒ وايي چې دا آيت په باره کې د هغه سړي دی چې خپل قريب يا اشنای ته مال ورکړي لپاره د ډېر والي د مال د هغه سړي يعني قريب يا اشنای رضاء د خدای ﷻ يې منظور نه وي، نو د دې سړي ته هم خدای ﷻ ثواب نه ورکوي، ولي چې وجه الله دده مقصود نه ؤ وهذا معنی قوله فلا يربوا عند الله، او شعبي ؒ وايي چې دا په شان کې د هغه چا نازل سوی دی چې يو سړی د بل سړي سره په سفر کې ځان ملګری کړي او خدمت يې کوي، نو هغه مخدوم ودې خادم ته څه ګټه د تجارت ورکړي په سبب د کومک او خدمت د خادم لا لوجه الله، نو په دې ورکړه کې هم ثواب نسته لانه لا يريد وجه الله وهذا معنی قوله تعالى فلا يربوا عند الله، رواه البخاري في اول كتابه الصحيح، انما الاعمال بالنيات (ای ثواب الاعمال بالنيات لا وجودها) وانما لكل امرء ما نوى فمن كان هجرته الى الله ورسوله (ای الهجرة من مكة الى المدينة، په نيت د ثواب من الله او د عليه الصلوة والسلام د رضا او محبت لپاره) فهجرته الى الله ورسوله، يعني خدای ﷻ ثواب ورکوي او عليه الصلوة والسلام ځنډي راضي کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي پر دغه ترجمه چي ما وکړه د حديث مذکور هغه سوال نه وارديږي چي په حديث مذکور کي خو من شرطي وٌ يعني متضمن معنی لره د شرط، نو څرنګه جمله شرطيه يې په جزاء کي راوړل سوه او دا په نحو کي ممتنع ده چي شرط او جزاء دي يو شی وي، وحاصل الدفع په مختصره توګه دادی چي دا جمله په شرط کي مقيد ده په قصد او اراده سره او په جزاء کي په ثواب سره فافهم جداً) ومن كان هجرته الى الدنيا يصيبها (يعني چي انصار د مدينې د مهاجرينو سره د مکې مالي مرسته کوي) او امرئةٌ ينكحها (يا يوه ښځه به هوريږي په مدينه کي په نکاح کړم لکه مهاجر د ام قيس چي د دغه غرض لپاره يې هجرت مدينې ته کړی وٌ) فهجرته الى ماهاجر اليه (يعني ثواب د هجرت عند الله نه لري لعدم نيته ذالک بلکې ثواب يې هغه دنيا ده يا د هغې ښځي سره نکاح ده)

پوښتنه: چي دا حديث مسلم هم راوړی دی دواړو په روايت د عمر بن الخطاب ؓ څخه.

دروښ وايي: چي دا حديث ډير مشهور دی حتی چي بعض محدثين يې متواتر بولي وهو اصل عظيم في امور الآخرة وتصحيح النية في اعمال الشريعة.

وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ

هغه مال چي تاسي يې ورکړئ.

دروښ وايي: چي روح المعاني تفسير د زکوة په صدقه سره کړی دی، او روح البيان يې تفسير داسي کړی دی ای مفروضة چي زکوة مصطلح دی او صدقه (ای نافله) او مظهري ؒ يې هم په دواړو سره تفسير کړی دی.

پوښتنه: صدقه نافله ته ولي زکوة وايي؟

ځواب: صدقه نافله هم سبب د نما او زيادت د مال ده لکه زکوة فرضي چي هم په دغه سبب زکوة بولي.

تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿۳۹﴾

"تريدون وجه الله" ای ذاته او ثوابه او رضاه، نو دغه کسان چي فرضي زکوة يا نفلي صدقه لوجه الله ورکړه ددوی دي چي ثواب مضاعف ورکول کيږي يو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لس بیا تر اووه سوه مثله پوري الی ماشاء الله تعالی، والتفاوت بتفاوت النیات والاخلاص، وتفاوت المعطي له في القرابة والجوار او في الفقر والمسکنة، وایضًا مضاعف کبري مالونه ددوی په دنیا کي ببرکة الزکوة والصدقة.

پوښتنه: مضعفون خو صیغه د اسم فاعل ده، نو به صیغه د اسم مفعول چي معنی بې دا وای چي مضاعف ثواب ورکول کېږي به اولی نه وای، کما في قرائة ابی رضی الله عنه؟

ځواب: صیغه د اسم فاعل دلته په معنی د صار ذا ضعف چي باب د اضعف چي د افعال باب دی په معنی د صار ذا ضعف راغلی دی، لکه اقوی په معنی د صار ذا قوة وایسر ای صار ذا یسار وغنی، د علم صرف په کتابو کي وایي چي باب د افعال ګاهي لپاره د صیرورة د فاعل ذا اصله ای مجرده کما في الامثلة المذکورة، او بل ځواب دادی چي همزه د باب د افعال دی لپاره د متعدي والي وي کما هو الاکثر في الباب المذکور او مفعول دي محذوف وي، والمعنی الذین (دا یې مفعول محذوف دی) ای اخذوا تلک الاضعاف ببرکة الزکوة ویؤید هذا الوجه قرائة ابی رضی الله عنه علی صیغة المضعفون بفتح العین علی صیغة المفعول من باب الافعال فافهم.

پوښتنه: مناسب د ماقبل آیت سره یعني فلا یربوا عند الله داسي عبارت نه وُ فهو یربوا عند الله کما یقتضیه المقابلة؟

ځواب: ددې کسانو د حال په بیانولو کي خدای ﷻ تغییر راوستی، ولي چي په دمخه کي یې جمله فعلیه راوړه یعني فلا یربوا عند الله، او دلته یې جمله اسمیه راوړه یعني فاؤلئک هم المضعفون، او مصدر یې اسم اشاره سره وګرځول یعني فاؤلئک، او ضمیر فصل یې هم ورسره راوړی چي لفظ د هم دی دا ټوله تغییرات او زیادت لپاره د مبالغې دی په حال د فریق ثاني (۱) دوی ته یې مضاعفة ثابت کړی چي هغه ابلغ تر مطلق زیادت دی لکه په اول کي (۲) علی طریق الجملة الاسمیة (۳) والضمیر الفصل (۴) وحصر ذالک بالاستحقاق (۵) مع في الاشارة یعني باؤلئک من التعظیم لدلالته علی علو مرتبتهم (۶) والالتفات عن الخطاب حیث قال فاؤلئک دون فانتم للتعظیم کانه سبحانه تعالی خاطب بذالک الملائکة ؑ وخواص الخلق تعریفًا لحالهم الی غیر ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ شُرَكَآىِٕكُمْ مَّنْ یَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَیْءٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۴۰﴾

لفظ الله مبتداء ده وروسته ټوله خبر دی، يعني خداى ﷻ هغه ذات مقتدر دی چې تاسي يې پيدا کړي ياست ايها المشرکون (تخصيص د مشرکانو چې فقير وکړی له دې کبله چې خطاب د دوی سره کما يدل عليه مابعده) مراد د خلق څخه خلق په رحم د مور دی نطفة اولاً علقةً ثانيًا مضغةً ثالثًا ثم کسوة العظام لحمًا رابعًا ثم نفخ الروح خامسًا، ثم اخراجکم من بطن الام وروسته زرق درکوي مدة حياتکم، بيا مو وژني عند الاجل الموعود (ثم يحييکم يې ذکر کړی وان کان المشرکين لايعترفون بذالک)

آيا سته له شريکانو څخه ستاسي يعني تاسي د خداى ﷻ شريکان بولي، يعني الاصنام وغيرها چې تاسي يې عبادت کوئ لکه ستوري، يا جن يا ملکي والاستفهام للانکار ای ليس شيئ منها چې فعل دي وکړي د دغو مذکوره شيانو څخه د يو شي فضلاً عن الجميع.

پوه سه: چې تر دې ځايه خداى ﷻ ذکر کړه لوازم د معبوديت او ټوله يې ځان ته ثابت کړه او له غير څخه يې نفي وکړې مؤکدًا بالانکار کما يدل عليه الاستفهام الانکاري، وهذا يوافق البرهان والعيان، وروسته يې په نتيجه کې ډاسي وويل: پاک دی خداى ﷻ او عالي دی د مايشرکون څخه.

دروېش وايي: چې په حديث قدسي کې راغلي دي: انا اغنى الشرکاء عن الشرک (زه ډېر غني يم د هغه عمل څخه د بنده چې زما سره په عمل کې شريک وګرځوي بل شی، نو اسم تفضيل يعني اغنى لپاره د مطلق زيادت دی يعني که څه هم په مضاف اليه کې هيڅ خير نه وي کما في عبادة الصنم) من عمل عملاً اشرک فيه معي غيري ترکته وشرکه.

پوه سه: چې شرک په فتح د کاف دی په معنی د شريک دی.

پوه سه: چې علماء وايي چې شرک في العبادة (۱) شريک خداى ﷻ له ويل دی په ذات کې لکه مجوسيان چې وايي چې عالم لره دوه واجب الوجود خدايان دي، يو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خالق الامور النافعة دی، دوی وایي چي د هغه نوم یزدان دی. او بل خالق دی د مضر اشیاء لکه مار، لړم، ځوزان وغیرها، دوی وایي چي د هغه نوم اهرمن دی (۲) شریک دی په افعالو کي د بنده لکه معتزله چي وایي چي خالق د افعالو د بندګانو خپله بندګان او اهل السنة والجماعة وایي چي خالق د ذات د بندګانو او د افعالو د دوی خدای ﷻ دی کریمه: والله خلقکم وما تعملون، تفصیل او دلائل او واجباتو د دې مسئلې په علم الکلام کي دی (۳) شریک په عبادت کي چي ریاء یې بولي، تفصیل الریاء شیخ ابو حامد محمد الغزالي رح وایي وان کان مع الریاء قصد الثواب راجحًا، یعني د هر جانب د عبادت قصد د ثواب وُ لکن ریاء لږ وړ سره وه، دی وایي چي زما ظن دا دی والله اعلم چي اصل ثواب د دغه عبادت منفي نه دی لکن مضاعفت یې نسته، نو هغه حدیث چي ذکر سو محمول دی پر دې چي قصد د ثواب او ریاء سره برابر وي یا قصد د ریاء یې راجح وي. وقال الشیخ الکلاآبادي رح صح نیته في اوله لم یضره فساده بعده یعني الریاء، په وروسته کي ولا یحبطه شیئ دون الشرک الجلي لان الریاء ما یفعل العبد من اوله لیرائي الناس ویکون ذالک قصده ومراده عند اهل السنة والجماعة کذا في شرح المشارق لابن الملک په فتاوی الاشباه والنظائر نقلاً عن التاتارخانیة وایي لو افتتح الصلوة خالصًا لله تعالی ثم دخل في قلبه الریاء فهو علی افتتح یعني ریاء تاوان نه ورته کوي.

دروښ وایي: چي فقهاء رحمهم الله وایي چي د فرضي لمانځه په اصل کي ریاء ځای نه لري، البته په هیئت کي یې ریاء سته یعني چي یوازي لمونځ کوي تعدیل الارکان او خشوع نه وي پکښې او چي په حضور کي د خلګو فرضي لمونځ کوي په ښه تعدیل الارکان او خشوع سره یې کوي، نو په دې صورت کي د اصل لمانځه غاړي یې خلاصي دي او د تعدیل الارکان وغیره ثواب یې نسته او د نفلي لمانځه په اصل او هیئت دواړو کي ریاء ځای لري، مثلاً چي څوک نه وي نفلونه نه کوي او یا چابک چابک یې کوي، او د خلګو په مخ کي نفلي لمونځونه کوي او په ښه هیئت سره یې کوي.

حکایت: یو ریاکاره شیخ وُ چي مریدان یې هم درلوده، یو ډېر مالدار سړی په سبب دده د ظاهري کار لیدلو څخه د هغه شیخ مرید سوی وُ، نو رفته رفته رفت او آمد شروع سو، یوه ورځ مالدار مرید ورته وویل چي ننه شپه زما لپاره یې سره د صاحب زاده یعني زوی، شیخ دعوت قبول کړی او سرمایه داره مرید ډېر فوق العادة خواږه په کور کي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپل کور والا باندي زېرمه کړي وه چې نته شپه پير صاحب زمونږ مېلمه دی بايد بند خواړه تيار کړئ، خير ما بنام چې پير صاحب او زوی راغله او سترخوان هوار سو رقم رقم خواړه پر کښېښول سوه، پير صاحب يو څو ګولې د يو قسم خوړو څخه وخوړلې او داغه رنګه د بل قسم خوړو څخه يعني په محدود ډول يې وخوړلې، نو پير صاحب تر شا سو ډوډی يې بس کړه، سرمايه دار مريد ورته وويل چې صاحب ډوډی دي ولي بس کړه؟ پير صاحب ورته وويل چې ډېره ډوډی خوړل سړي ته ډېر خوب ورولي او د شپې زمونږ د وظائفو مانع ګرځي، هرڅه تينګار چې سرمايه داره مريد وکړی پير صاحب انکار کاوه، او د پير صاحب زوی په مارغنس ډوډی وخوړل، سترخوان چې تول سو مريد ورته وويل چې تبرګا به د ماخستن لمونځ مونږ ته په دې مهمان خانه کې په جماعت راکوې، پير صاحب دمخه سو جماعت پسې محدود نفر و در پدل، سرمايه دار او د هغه مزدوران او د پير صاحب زوی پسې ودر پدل، پير صاحب په ډېره خشوع او په نهايت تعديل الارکان لمونځ وکړی او يوازې دوه رکعته سنت يې وکړه وتر يې و تهجد ته پرېښول، خير پير صاحب د خپل سرمايه دار مريد څخه رخصت واخستی دی او زوی يې کور ته راهې سوه، پير صاحب چې کور ته ورغلی ماينې ته يې ووېل چې سترخوان راواخله ډېر وډی يم، ماينې يې ورته ووېل چې د مهمانی څخه څرنګه وډی راغلې هوړې به دې ځان نه مونږ کړی وای، پير صاحب پر ماينې منت وکړی چې څرنګه ناپوه يې، که ما هوړې ځان مونږ کړی وای د سرمايه داره مريد زما څخه عقيده اوبنته چې دا څرنګه خبثور پيردی، خير ماينې يې وچه ډوډی راواخستل، پير صاحب دا وبو په کومک ځان ترپزې په مونږ کړی، زوی ورته ګوري، پير صاحب چې له ډوډی څخه فارغه سو، زوی يې ورته وويل چې بابا لمونځ دي هم راوګرځوه، ولې تا خو کور داسې لمونځ نه کاوه لکه د سرمايه داره په کور کې چې دي وکړی.

دروښ وايي: چې دا وه د حکايت پېنتو ژباړه، او دا د رياء في هيئت الصلوة.

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

بنګاره سو فساد په صحراء کې او په درياب کې.

دروښ وايي: چې مفسرين رحمهم الله په متفقه قول سره وايي چې مراد له فساد څخه د بر (۱) کاختې د بارانو چې خشک سالي يې بولي (۲) ډېر مړي يا په خدايي مرګ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یا د انسانانو یو د بل سره وژل (لکه په موجوده کلو کي په افغانستان کي امریکایانو او د هغو د ښتو اندیوالان لکه انګریزان، کاناډایان او نورچې پر افغانستان یې یرغل وکړی او ټوله دیار که ښاروونه دي که صحراوي دي تر قبضې لاندي یې راوستلې او پر بېچاره مسلمانانو یې د بمبار طیارو بمان غورځول چې اووه کاله کېږي چې دا سلسله جاري ده یعني تر اوسنۍ سني (۱۴۳۱ هـ ق) لکن چونکه د افغانستان غیور قوم دی د بېګانه یعني کافرانو حکومت پر ځان نه قبلوي، نو بېچاره او بې وسه او بې سلاح اقوام د دې ظالمانو په مقاومت او په جهاد بوخت دي چې تر اوسه پورې په زرهاؤ مسلمانان بلکې امریکایان او د دوی همکاران هم پکښې وژل کېږي والله اعلم الی ای وقت تجري هذه السلسلة یعني کشت و خون په افغانستان کي به جاري وي، اللهم نصرًا للمؤمنین بحرمة النبي علیه الصلوة والسلام علی اعدائک نصرًا عزیزًا عاجلاً وصبرًا علی البلایا الواردة من جانب اعدائک واعداء الدین علی اولیائک من المؤمنین، دا ؤ تفسیر د موتان د مثال په توګه.

(۳) کثرة الحرق والغرق، د اور سوځنه د دې مثال هم په موجوده زمانه کي افغانستان دی چې ټانګان او بمباري طیارې د امریکایانو اورونه پاشي د افغانستان پر وګړو او زراعتي مځکو او پر قریو (۴) جنګونه به ډېر وي د دې مثال په نړۍ کي افغانستان دی (۵) والجدال: نحقه بحثونه به جاري وي (۶) برکتونه د مځکو او د باغو او د تجاراتو به قطع سي (۷) ظلمونه به ډېر سي (۸) یو بل ته ضرر رسول به ډېر سي (۹) امراض به ډېر سي چې پر زړو هسپتالونه او پر ډاکټرانو به واری نه کېږي (۱۰) مفسد بادونه به پر دریابو مسلط سي چې د دریابو پر حیواناتو په ضرر تمامېږي چې یو له هغو څخه اصداف دي.

دروښ وایي: چې صدف د یو حیوان ژوندي شي نوم دی چې داسي کاسه لري چې په خپل اختیار یې خلاصوي او پر ځان بنده وي او چې کاسه بنده کړي یو څاځکی اوبه و داخل ته نه ورځي په هر صورت مثال د صدف کشف دی پر مځکه چې هغه دوې کاسې لري او خلاصول او بندول یې ده په اختیار کي دي، نو د پسرلي د دوهمي میاشتي اتلس (۱۸) تاریخ د شمسي حساب دغه اصداف ټوله پر مخ د اوبو چې دریاب په څپو سي یعني بحر الهند والفارس او ټوله مخ د اوبو ونسي او کاسې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلاصي کړي چي کاسې يې ښخي سپيني دي، نو مخ د اوبو د دوی د کاسو څخه معلومېږي لکه ملغلري چي پر پاشلي وي او د رب العزة په قدرت پر دغه دريابو يې وربڼ پيدا سي او غټ غټ څاڅکی باران شروع سي او دې کوچني حيوانانو خولې خلاصي ورته نيولي وي، په بعضو کي يو څاڅکی باران وسي په بعضو کي دوه څاڅکي او په بعض کي درې وهکذا الی مأة، وروسته اصداف خپلي کاسې بندي کړي او د درياب پای ته ولاړ سي، هورې چي ورسېده هغه حيوان سمدلاسه مړ سي، او هغه څاڅکی د دې حيوان په نس کي کرار کرار ملغلره کېږي، که يو څاڅکی وُ يې وه ملغلره پيدا کېږي او که دوه څاڅکي وه دوې ملغلري پيدا کېږي وهکذا، نو هغه صدف چي يو څاڅکی يې په خوله کي واقع سوی وُ د خدای ﷻ په قدرت دومره لوی ملغلره سي چي کاسه ټوله په ډکه سي چي دې ملغلري ته دريتيمه وايي او فريده يې هم بولي، يتيمه يې په دې بولي چي مثل يې نسته، او فريده يې په دې بولي چي په صدف کي يوازي ده، او په فارسي يې دريکتا بولي، او په پښتو يې بې ساري ملغلره بولي، چي د دې ملغلري په لکو روپۍ قيمت دی، ثم وثم چي څاڅکي د هرېږي ملغلري د هرېږي او کوچنی کېږي او قيمت يې هم کمېږي، وروسته غواصان د دريابو په دريابو کي غوتې وي هر شی چي يې په مخه ورغلی وه يې کاږي او بغل ځولی چي په غاړه کي يې وي و هغه ته يې واچوي، خوش قسمت تر ټولو خوټه خورونکی هغه دی چي دريتيمه صدف په لاس ورسي ثم وثم.

دروبش وايي: چي بارانونه نه وي د درياب اصداف ناکامه د درياب پای ته ولاړ سي تر بله کاله پوري او د ملغلرو کاروبار هم قطع سي، وهذه مصيبة عظيمة في البحر کما لايخفٰی.

دروبش وايي: چي په تفسير کي د بر او بحر اختلاف دی، بغوي ؒ وايي چي له بر څخه مراد دښتونه او صحراوي دي چي مالدار خلک چي پونده يې بولي گزاره پر کوي، نو چي بارانونه نه وي د دښتونه او بيابانونه له وښو څخه خالي وي، نو د پوندو او د دوی د اوښانو او مېږو او بزو به څه چاره وي، او هم بغوي ؒ وايي چي له بحر څخه مراد هغه بناروڼه او قريې دي چي د جاري رودو او ويالو پر غاړه پراته وي، نو چي خشک سالي وي او د رودو او به خشکي سي، نو دوی د باغونو د انګورو او انارو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د سبزیجاتو به څه حال وي، او عطیه رح وایي چې مراد له بر څخه د مځکې مخ دی که صحرا یعني دښتونه وي او که قریې او ښارونه وي، او له بحر څخه مراد معنای معروف د بحر ده چې رودونه یا لوی لوی ویالې دي، او ابن عباس او مجاهد رح وایي چې له فساد څخه د بر مراد قتل دی د هابیل ابن آدم ع د خپل ورور قابیل د خوا چې قصه یې مشهوره ده، او له فساد څخه د بحر مراد ظلم دی د ملک عمان چې جلندي یې نوم ؤ، چې آیت کریمه یې شاهد دی: يأخذ كل سفينة غصبًا: كما في قصة موسىٰ والخضر علیهما السلام، روح المعاني وایي چې قتل د هابیل یا غصب د جلندي د کښتیو پر طریقه د مثال دي د فساد في الارض، یعني فساد في الارض په دغه کې حصر نه دی.

دروښ وایي: چې روح المعاني او مظهري او روح البیان د الضحاک رح څخه داسې روایت په تفسیر کې د ظهر الفساد آه کړی دی چې په زمانه کې د آدم علیه السلام تولې مځکې سرسبزه او شاداب وه حتی چې هري درختي ته به بني آدم ودریدی په هغې درختي پورې به یوه خوراکي میوه ځړېدل هغه به بني آدم په مزه وخوړل او د بحر محیط او به خوږې وې، او په ځنګلو او غرو کې به زمري په بقرة الوحش کار نه درلودی چې ښکار یې کړي او نه لېوه په پسو کار درلودی حتی چې قابیل چې د آدم ع زوی ؤ خپل ورور هابیل قتل کړی یعني ناحقه قتل چې فساد ددوی منځ ته راغلی، مځکې خپل سرسبزي د لاسه ورکړه او ځنګلي او غرني درختو د میوو پر ځای ځوزان راویستل او د بحر محیط او به ترخې سوې، او د حیواناتو لکه زمری او بقرة الوحش او د لېوه او د پسو ترمنځ عداوت پیدا سو کما نراه الآن.

بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ

په سبب د کسب د لاسو د خلکو ای بشوم معاصیهم مثلاً په مکه مکرمه کې کاختي او خشک سالي چې له اطرافو څخه به ذوی ته خوراکي مواد راوړل کېدل یعني د تجارو له خوا څخه هغه هم قطع سوه، ولي چې د لاري په اوبدو کې او به نه وې.

دروښ وایي: چې دا هغه وخت ؤ چې کفارو د مکې علاوه پر شرک د علیه الصلوة والسلام په ربرولو او ازار لاس پورې کړی او علیه الصلوة والسلام داسې خدای ﷻ ته خواست وکړی: رب اعنی علیهم بسبع کسبع یوسف، حتی تر دې اندازې ورسېدل چې هډوکي به یې په اوبو کې وه ایشول څه غوړي چې به پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوه هغه به يې وه څيښل او مردار شيان يې هم خوړل... شاعر وايي:

چون عمل نيکو بود گلها دمد ..... چونکه زشت آيد بروييد خارزار
گر بد و گر نيک باشد کارتو ..... هرچه کار بد روی انجام کار
از خدا خواهم توفيق ادب ..... بې ادب محروم گشت از فضل رب

لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾

چې په دوی وځکي يعني دوی ته ورسوي بعض جزاء د هغو کارو چې دوی يې عمل کاوه (فالعبارة بحذف المضاف ای لفظ الجزاء) بعض يې له دې سببه ووايه چې تمام او کامل جزاء خو په قيامت کې ده، کلمه د لام لپاره د بيان د علت ده او يا لام عاقبت دی "لعلهم يرجعون" يعني لکی يرجعوا عن اعمالهم الخبيثة، لعل متعلق دی په ليذيقهم پورې، قال قتادة رح چې مځکه ټوله د ظلم او ظلالت څخه ډکه وه قبل مبعث النبي ﷺ او دی مبارک چې خدای ﷻ راواستاوه رجع راجعون من الناس يعني له شرک او معاصيو څخه.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ

ته ووايه کفارو ته د مکې چې تاسي سفر وکړئ په مځکه کې، نو وګورئ چې څرنګه سوی دی اخير کار د هغو کسانو چې تر تاسي د مخه وه.

پوه سه: چې قبل مبني پر ضمه دی، په سبب د حذف مضاف اليه ای قبلکم، چې فقير په ترجمه کې د آيت اشاره ورته وکړه، والحاصل چې په دغو سفرو کې به تاسي وويني کورونه د ظالمانو خالي او خراب کمنازل قوم لوط و قوم ثمود.

كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾

وه اکثره "الذين من قبل" مشرکان.

پوه سه: چې جمله د کان حال ده په تقدير د قد کما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً، او يا جمله مستأنفه ده لپاره د دلالت پر دې چې سوء عاقبت د دوی په سبب د ظهور د شرک و غلبته فيهم (نو لفظ د اکثريې په اعتبار د غلبه ووايه) او يا معنی د آيت داده چې شرک خو په اکثر کې د دوی وو په لږو خلګو کې خو شرک نه وو، لکن نور معاصي وه، نو ټوله هلاک سوه ما دون الشرک په سبب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوء الجوار او يا معنى داده چي غير مشركينو و مشركانو ته امر بالمعروف نه كاوه او نهي عن المنكر، نو دوی هم ورسره هلاک سوه، وفي المثنوي:

بارها پوشد پی اظهار فضل ..... باز گیرد ازپی اظهار عدل
تا پشیمان میشوی از کاربد ..... تا حیا داری ز الله الصمد

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ

(الفاء للسببية ای اذا كان الامر كذالک ای ماسبق من قوله تعالى ظهر الفساد آه كمامر تفصيله) نو ثابت او دائم وگرځوه يامحمد (ﷺ) خپل مخ (كناية عن تمام التوجه) هغه دين ته چي كامل الاستقامة دی چي هيڅ كج او پيچ نسته پكښي وهو دين الاسلام، كه څه هم مخاطب عليه الصلوة والسلام دی لكن امت يې تبعاً ورسره دي.

مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾

دمخه تر دې چي راځي هغه ورځ چي هيڅ څوک يې د رد طاقت نه لري (من الله) يا متعلق دی په يأتي پوري يعني چي راتلګ له جانبه د خدای ﷻ دی يا متعلق دی په مرد پوري چي مصدر دی يعني خدای ﷻ يې هم نه ردوي چي اراده يې تعلق پوري ونسي والظاهر ان المراد به يوم القيامة.

پوه سه: چي اصل د "يصدعون" يتصدعون ؤ، والمعنى خلق فرق وګرځي فريق في الجنة وفريق في السعير، او كه مراد ورځ د قيامت نه وي، نو معنى د آيت فريق يعذب في الدنيا كما في يوم بدر، وفريق في الآخرة.

مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾

كه څوک كفر اختيار كړي نو پر هغه وبال د كفر دی في الدنيا والآخرة او كه څوک عمل صالح وكړي، نو د خپلو ځانو لپاره منازل جوړوي په جنت كي.

لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْ فَضْلِهِ ۚ

يعني ليجزي الله متعلق په يمهدون پوري دی، چي ورکړي هغه كسانو ته چي ايمان يې راوړی وي او عمل صالح يې كړي وي له خپل فضله څخه، يعني پر خدای ﷻ وجوب نسته بلكي دا فضل د خدای ﷻ دی، قال ابن عباس ؓ چي تر عملو بالابود شی لان الحسنة بعشر امثالها الى سبع مأة الى ماشاء الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای ﷻ یوازې اثابه د مؤمنانو بیانوي، د کریم اصل اراده ده الا من ابی باختیاره وقبل النار لاجل کفرهم کما یدل علیه قوله.

إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾

په تحقیق خدای ﷻ محبت نه کوي له کافرانو سره یعني یبغضهم لان لا واسطة بین حب الله وبغضه.

فائده: قوله من فضله دال علی ان الاصابة تفضل محض لانه لایجب علی الله شئ ولان الاعمال الصالحة من العباد لایکاد یکافي ما انعم الله ﷻ علیهم في الدنیا فبقی الثواب في الآخرة فضل محض، جلال الدین ؒ وایي چې په یصدعون پرې متعلق دی لیجزي او دی وایي چې خدای ﷻ جزاء د دوارو ډلو یعني المؤمنین والکافرین ذکر کړې ده، اما المؤمنون فبقوله لیجزي الذین آمنوا الی قوله من فضله، واما الکافرون فبقوله انه لایحب الکافرین لان معناه یبغضهم فیما قبهم لانه لیس الواسطة بین حب الله وبغضه، کما في العباد لانه قد یجب العبد شخصًا وقد بغض شخصًا آخر وقد لایجب شخصًا ولا بغضه کما في صورة ان لایکون الشخص الآخر لاولیاء له ولا عدوًا.

فائده: والدلیل علی ان الاثابة یعني ثواب ورکول په جنت سره صرف او صرف تفضل د خدای ﷻ دی هغه حدیث د احمد ؒ دی له ابو الحارث ؓ څخه چې خدای پاک وحي وکړې و داؤد ؑ چې وبیروه زما صالح بندګان چې دوی دي په خپلو اعمالو صالحه وو سره عجب نه کوي، ولي که زه یو بنده زما له بندګانو څخه (یعني که څه هم صالح وي في الغایة) د حساب و ځای ته ودروم (یعني خپل نعم دنیویه پر حساب کړم او دده اعمال صالحه هم حساب کړم) او پرده باندي وځنډوم فضل خپل (یعني تفضل ځندي منع کړم) الا عذبته دی به خامخا په عذاب وم (ولي دده حسنات به خلاص سي زما د پر نعمتونه د دنیا به بې شکره او بې عبادته پاته سي، فالعدل في مثل ذالک العذاب) او په بل روایت کې راغلي دي وقل لاهل معصیتي من امتک چې دوی نا امیدي نه کوي زما له رحمت څخه فاني اغفر الذنوب ولا ابالي، کریمه: لاتیئسوا من روح الله، او طبراني ؒ له واثلة بن الاسقع ؓ څخه روایت کړی دی چې: یبعث الله یوم القیامة عبدًا لا ذنب له، نو خدای ﷻ دې بنده ته ووایي ای الامرین احب الیک ان اجزیک بعملک او بنعمتي علیک (له دې دوو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبرو څخه ستا کومه خبره خوښه ده چې تاته جزاء درکړم یعني جنت درکړم ستا په عمل سره او یا زما په نعمت او فضل سره پر تا جنت درکړم) دا بنده ورته ووایي انت اعلم اني لم اعصیک (یعني ته ښه خبر یې چې ما خو ستا عصیان نه دی کړی (د بنده په دې ویلو کې اشاره ودې ته ده چې زما په عمل جنت راکړه، ولي چې ما هیڅ عصیان نه دی کړی) نو خدای ﷻ د حساب ملائکو ته ووایي: خذوا عبدي بنعمة من نعمي (یعني د دې بنده سره حساب وکړئ د یوه نعمت زما پر ده، او د ده حسنات په هغه نعمت کې ځندي حسابئ مثلاً د سترګو د لیدلو، د غوږونو د اورېدلو یا د پښو د تللو یا د نورو اعضاؤ داخله؛) ملکي چې حساب شروع کړي د دې بنده ټولي حسناتي په هغه یوه نعمت کې د خدای ﷻ ختم سي، نو بنده په ډېر عجز خدای ﷻ ته ووایي بنعمتک ورحمتک (یعني ماته ثواب او جنت راکړه ستا په احسان سره او ستا په رحمت سره یعني نه په مکافات د اعمالو حسنه وو زما)

پوښتنه: د دې احادیثو په رڼا کې مؤمنانو ته دا سوال په زړه کې ورګرځي انه لایبقی حینئذ فائدة في الطاعة وترک المعصیة فان الله تعالی لو لم یتفضل عذب اهل الطاعة ولو تفضل غفرله المعصیة وادخله الجنة؟

ځواب: طاعت د خدای ﷻ مقتضي دی د محبت د خدای ﷻ قال رسول الله ﷺ حکایة عن الله سبحانه تعالی (چې ورته حدیث قدسي وایي په عرف کې د اهل الحدیث) مایزال عبدي (همېشه زما بنده) یتقرب الي بالنوافل (یعني ماته نژدې کېږي یعني قرباً معنویاً لاقرباً مکانیاً په نفلي عباداتو سره یعني من الصلوة الی الصیام والصدقات) حتی احببته (چې زما محبت ورسره پیدا سي) رواه البخاري عن ابی هریرة ؓ في حدیث طویل.

والمحبة یقتضي تفضل والاحسان للمحبوب والتفضل سبب لجلب کل خیر ومنه الثواب والجنة ودفع کل ضرر ومنه دخول النار.

دروښ وایي: چې له دې کبله په دعاء مأثوره کې راغلي دي اللهم ارزقني حبک وحب حبیبک وحب عمل یقربني الی حبک، ولي بنده چې د خدای ﷻ محب سي، خدای ﷻ هم د بنده محب کړځي لان الحب نسبة متکررة من الجانبین.

سوال: د دمخه آحادیثو مبارکه وو څخه دا معلومه سوه چې د خول د جنت فضل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من اللهﷻ نو دا به معارض د هغه آیت نه وي (ادخلوا الجنة بما کنتم تعملون) ولي چي له دې آیت څخه خو دا ظاهره ده چي دخول د جنت په عمل سره دی؟

ځواب: په جنتو کي ډېري متفاوتي درجې ستة پر اندازه د تفاوت د اعمالو، نو په آیت مذکوره کي مراد دخول د درجاتو د جنت دی چي متفاوت په سبب د عملو د بندګانو، واما نفس دخول الجنة والخلود فیها فبفضل الله ورحمته، او ددې جواب تائید کوي هغه حدیث د هناد عن ابن مسعودؓ قال رسول اللهﷺ تجوزون الصراط بعفو الله وتدخلون الجنة برحمة الله وتقسمون المنازل باعمالکم والله اعلم.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ

"ومن آیاته" ای من دلائل قدرته تعالی چي خدای ﷻ را استوي یعني پیدا کوي بادونه، مظهري ؒ وایي من المشرق الی المغرب بالعکس ومن الشمال الی الجنوب وبالعکس آه.

دروښ وایي: چي داسي تفسیر عام د وروسته سره منافي دی یعني "مبشرات" حال دی د ریاح یعني زېرې کونکي په باران سره وجه المنافات د بورباد یعني له مغرب څخه و مشرق ته، چي په پښتو یې د کنبې باد بولي، زېرې کونکي په باران نه دی بلکې دا باد د عذاب دی کما یدل علیه قولهﷺ نصرت بالصبا (یعني د پاسه باد) واهلکت عاد بالدبور (د کنبې باد) په روح المعاني کي وایي چي دبور باد لپاره د بلا دی هغه کمه بلا یې داده چي په ستر کو کي د خلکو خاشې او خاوري پاشي، او په روح البیان کي وایي چي د بور ربیح العذاب دی، او په حدیث شریف کي راغلي دي چي باد به را والوتی علیه الصلوة والسلام به ویل اللهم اجعلها ریاحًا (اشاره ودې آیت ته ده یعني وه یې ګرځوي مبشرات) ولایجعلها ریحًا (اشاره و هغه آیت ته ده) وارسلنا علیهم ریحًا صرصرًا الآیة.

وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ

چي په تاسي وخوري د خورلو شیان له دانو څخه لکه غنم وغیره او له میوو څخه لکه انګور وغیره.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر مبشرات.

سوال: دا خو جمله ده او مبشرات خو مفرد یعني جمله نه وه فکیف یصح العطف؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: مبشرات په تاویل لیبشرکم دی، او مظهري ؒ وایي یا معطوف دی پر مقدر، تقدیره یرسل الریاح لیذهب عنکم الحر ولیذیقکم آه روح المعاني. وقیل الواو زائدة ولیس بوجه "من رحمته" متعلق دی په لیذیقکم پوري، مراد رزق له بادو څخه پیدا کیږي، یعني چې بادونه وریځ پیدا کړي او وریځ اوربنت وکړي.

وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ

چې چلیږي کښتی په دغو بادو سره په دریاب کې په اراده د خدای ﷻ، ددې قید فائده داده چې ارسال الریاح یو ظاهري او عادي سبب د خدای ﷻ دی اصل جریان الفلک په اراده سره د خدای ﷻ دی..

فائده: لفظ د فلک هم مفرد راځي او جمع مستعملیږي فرق د مفرد او جمع یې اعتباري دی که مفرد وي ضمه د فاء لکه ضمه د قفل چې مفرد دی، او که جمع وي ضمه ده، نو ضمه د فاء یې لکه د اُسد چې جمع د اسد ده.

سوال: د جمع او مفرد به څوک فرق څرنګه کوي؟

ځواب: فرق یې په دې سره کیږي که فعل مسند ؤ فلک ته یا ضمیر راجع ؤ وه فلک مذکر ؤ. نو لفظ د فلک مفرد دی او که فعل مسند یا ضمیر راجع و فلک مؤنث ته ؤ نو فلک جمع ده په تأویل د جماعت فعل مسند یا ضمیر راجع یې مؤنث راغلی، لکه په دې آیت کې چې د لتجري اسناد وه فلک ته سوی دی، ولې چې تجري څو مؤنث دی.

وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾

چې تاسي په ذریعه د کښتیو طلب د فضل یعني د رزق د خدای ﷻ بالتجارة في رکوب البحر یعني في السفائن.

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې رکوب البحر للتجارة روا دی. بیت:

سود دریا نیک بودی گر نبودی بیم موج
صحبت گل خوش بودی گر نیستی تشویش خار

شیخ عطار ؒ وایي:

بدریا در منافع بیشمار است..... اگر خواهی سلامت در کنار است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ولعلكم تشكرون" ای لکی تشکرون چې تاسي شکر د نعمتو د خدای ﷻ وو ایاست فتؤمنون وتوحدون اللهﷻ.

پوه سه: چې جمله د من آیاته متصل ده په هغه قول پورې د خدای ﷻ الذي خلقكم.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ

(لام موطئه د قسم ذی یعني جواب د قسم محذوف دی یعنی والله قد ارسلنا) موږ استولي دي رسولان ترتا دمخه یا محمد (ﷺ) و خپلو قومونو ته.

سوال: رسلاً خو جمع وه د قوم یې ولي مفرد روا ړی یعني داسي یې نه وویل الی اقوامهم؟

ځواب: په لفظ کي د قوم مفرد او جمع برابر دي فافهم.

فَجَاءُوهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ

هغو رسولانو راتلګ وکړی هریوه و خپل قوم ته په دلائل او معجزاتو ظاهراتو سره چې دلالت یې کاوه د رسولانو پر صدق په دعوی کي د رسالت نو ایمان راوړی پر هغو رسولانو بعض خلګو او نورو کفر اختیار کړی.

سوال: دا خبره له کومه ځایه فهمیږي چې بعض د قوم ایمان راوړی؟

ځواب: دا وروسته قول د اللهﷻ.

فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

موږ انتقام واخستی د هغه کسانو څخه چې جرم یې کاوه یعني کفر ته یې دوام ورکاوه، یعني عذاب مو پر نازل کړی (د فهم وجه یې داده که ټوله پر کفر پاتې وای نو خو اخصر دا وه چې فانتقمنا منهم، نو خدای ﷻ چې قید د ممن الذین ووایه نو معلومه دا سوه چې بعض د قوم مؤمنان وه نو هغه حق د عذاب نه لري)

او حق دی پر موږ باندي مرسته (کومک) د مؤمنانو.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر جمله محذوفه باندي ونصرنا الذین آمنوا وکان حقا علینا نصر المؤمنین.

فائده: په دې آیت کي اشاره ده چې انتقام له کافرانو څخه لپاره د نصرت د مؤمنانو دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: له حقّا څخه دا فهمېږي چې دا نصرت پر خدای ﷻ واجب دی مع انهم قالوا لا وجوب لشئ علی الله؟

ځواب: مراد دادی چې حق دی پر خدای ﷻ بمقتضٰی وعده و بسبب تفضله تعالی ویرد علیه چې حق سي پر خدای ﷻ نصرت د مؤمنانو له هره سببه څخه چې وي، نو باید هیڅ وخت مؤمنان نه مغلوبه کېدای مع انه لیس کک الا تری الی غزوة احد چې مؤمنان مغلوبه سوه او اوویا (۷۰) شهیدان یې له لاسه ورکړه، او بل جواب دادی چې اضافت د نصر و مؤمنانو ته او لام د لفظ د المؤمنین لپاره د عهد دی چې مراد هغه مؤمنان دي چې په جهاد د کفارو سره اخته وي خالصًا لاعلاء کلمة الله. او د رسول ﷺ له امر څخه سرغړونه ونه کړي لکه په احد کې چې هغه کسانو چې مرکز یې پرېښو چې په مشری د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه پر هغه مرکز ګمارل سوي وه د رسول الله ﷺ له خوا څخه چې تعداد یې پنځوس (۵۰) کسه وه په طلب د غنیمت کما مر في تفصیل قصة احد، نو له دې سببه د رب جل وعلا نصرت یې په نصیب نه سو والا فلا یخلف الله وعده، او بل ځواب دادی چې موعود د خدای ﷻ له خوا څخه نصرت د مؤمنانو دی و لو بعد حین وقد انجز الله وعده حین فتح مکة علی المؤمنین، والله اعلم بما في کتابه.

اَللّٰهُ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ فَتُثِیْرُ سَحَابًا فَیَبْسُطُهٗ

لفظ الله مبتداء ده موصول سره د صله یې خبر دی، والمعنی خدای ﷻ هغه مقتدر خدای دی چې را استوي بادونه یعني د رحمت لکه باد صبا یعني شرقي بادونه یا خدای ﷻ وګرځوي دا وریځ متصل واحد یعني ګاهي.

فِی السَّمَآءِ کَیْفَ یَشَآءُ وَیَجْعَلُهٗ کِسَفًا

په اسمان کې یعني في جهة السماء څرنګه چې د خدای ﷻ اراده سي.

پوه سه: چې کیف یشاء حال دی له مفعول څخه د یسبطه چې وریځي ته راجع ؤ ای واقعًا مطبقًا او غیر مطبق من جانب دون جانب.

پوه سه: چې کسفًا جمع د کسفة ده په معنی د ټوټې یعني ګاهي دا وریځ ټوټې وي متصل واحد نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ

نه ته وينې (ايها المخاطب الغير المعين) چې د باران څاڅکي راوځي له منځ څخه د وريځې، يعني في الحالين چې وريځ که متصل واحد وي او که ټوټه ټوټه وي.

فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝

نو هغه وخت چې ورسوي خدای ﷻ دغه باران وه هغه چا ته يعني مځکو او قريو ته چې د خدای ﷻ اراده ورته وي، پس نابيره دوی خوشالي کوي چې کښتونه او باغونه يې اوبه سوه اوبشه کلي جوړه سوه چې په عربي يې خصب بولي.

وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ۝

پوه سه: چې ان مخففه دی د مثقل څخه او اسم يې محذوف دی او خبر يې کانوا دی. والتقدير وانهم (هم اسم دان دی) وه دوی د مخه تر دې چې پر دوی اوربښت د باران کېدی د مخه تر هغه هر آئينه نا اميده له باران څخه، ولې چې له دې وخته باران نه وسو، نو دوی نا اميده وه.

سوال: لفظ قبل خو نژدې تېر سو، تو د وروسته من قبله ته څه ضرورت ؤ او په راوړلو کې يې د خدای ﷻ څه حکمت ؤ؟

ځواب: تکرير د قبل لپاره د تاکيد دی او فائده او حکمت يې دا دی چې دلالت وکړي پر تطاول د عهد هم بالمطر او استحکام د دوی د نا اميدی.

پوه سه: چې په قرائت کې د ابن مسعود ؓ دو هم من قبله نسته فلا حاجة الى توجيهه بما مر على هذه القرائة.

فائده: کلمه د لام په لمبلسين کې فارقته په مابين کې د ان مخفف له مثقل څخه او د ان نافيه ده، او دا احتمال هم مظهري راوړی دی چې ان دي نافيه وي او لام دي په معنی د الا وي، والتقدير وما كانوا (دا معنی د ان نافيه ده) من قبله الا (دا معنی د لام ده) آيسين نا اميده.

درويش وايي: چې دويمه توجيه د مظهري بعيده ده، او د فقير د تلاش سره سره چې د تفاسيرو يې کړی دی دا توجيه يې په بل تفسير کې نه ده ليدلې، والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَانْظُرْ إِلَىٰ آثَارِ رَحْمَتِ اللَّهِ كَيْفَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ

وګوره اې مخاطب غیر معینه و آثارو ته یعني فوائدو ته د رحمت د خدای ﷻ (چې مراد ځندي باران دی چې آثار یې نباتات دي او د درختو مېوې او د ارتزاقي موادو دانې لکه غنم، ورجې، جوارو غیره، او مېوې لکه انګور، انار، سیب وغیرها دي، نو هم د ډېرو والي په سبب یې اثار په لفظ د جمع راوړی)

څرنګه ژوندی کړه خدای ﷻ مځکه په نباتاتو سره وروسته تر مرګ ددې یعني چې له نباتاتو څخه خالي وه او سپېره وه.

دروښ وایي: چې ددې ټولې بیان مقصود بیان دی د فساد د رایي د مشرکانو چې دوی بعث بعد الموت نه مانه او وایي کیف یحي العظام وهي رمیم، او سره ددې چې دوی وینې مثل د احیاء الموتی چې نباتات د مځکې دي پر عقب د یبس څخه د مځکې، نو خدای پاک وایي:

إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝

په تحقیق دغه ذات مقتدر پر احیاء د مځکې بعد موتها، ژوندی کونکی دی د مړو دی په ورځ د قیامت، او خدای ﷻ پر هر شي قدرت لري، ولي چې نسبت د قدرت د خدای ﷻ و ټولو ممکناتو ته برابر دی... بیت:

تعالی الله زهی قیوم و دانا .....توانایی ده هر ناتوانا

شیخ مغربي ﷺ چه خوش گفته است: یعنی در گلشن چه رنگا رنگ گلها و هرچه بویهای قسم قسم از گلهای گلشن میوزد رنگ و بوی قدرت ایزد متعال هستند.

وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا مِن بَعْدِهِ يَكْفُرُونَ ۝

(لام موطئه د قسم دی) که چېرې مونږ راواستوو باد (یعني چې سبب د وچوالي د نباتاتو د مځکې وګرځي چې د کښې وچ باد دی) نو وویني کافران دا باد یعني اثر ددې باد چې شنه نباتات او کښتونه یې مړاوي کړه.

پوه سه: چې جمله د لظلوا جواب د لام موطئه د قسم دی چې پر حرف شرط داخل وُ، نو قائمقام د جواب د شرط هم دی، له دې سببه د ظلوا صیغه که څه هم ماضي ده ترجمه یې په استقبال سره کېږي، ولي حرف شرط ماضي په جواب کې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مستقبل سره اړه وي ای یظلوا، او ضمیر د بعده و اصفرارته راجع دی چې د ریحًا له لفظ څخه وفهمېدی کمامر، دوی کفر کوي بلا مهلته.

وحاصل معنی الآیة ان الکفار لا اعتماد لهم علی ربهم له دې سببه چې دوی خیر او خصب او نعمت د خدای ﷻ ویني د خدای ﷻ شکر نه وایي، او نه هم اطاعت د رب جل وعلا کوي بالایمان او د نعمت په خوشالی کي غرق وي او له خالق څخه د نعمت غافله وي او که یو ادنی ضرر وویني في الفرع (د الفرع معنی غولانځ د مواشي ده او د الذرع معنی کښت ده) او الزرع جزع او بیقراري او بې صبري کوي او له سابق نعمتو څخه غافله سي او په وخت کي د ضرر استغفار او انابت و خدای ﷻ ته نه کوي، او د مؤمن حال داغسي نه دی فانه یشکر عند النعمة ویصبر عند المحنة والنقمة، او نه نا امید کیږي له رحمت څخه د خدای باعادة النعمة ویلتجئ بالطاعة والاستغفار تاچې جلب نعمت د ذو الجلال باللیل والنهار، مولنا جلال الدین الرومي قدس سره په مثنوي کي وایي:

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... چون نباشد از تضرع شافعی
جز خضوع و بندگی و اضطرار ..... اندرین حضرت ندارد اعتبار
چون تو غم بینی تو استغفار کن ..... غم بامر خالق آمد کار کن

فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ

دا دلیل دی د هغه قول چې: ماقبل څخه وفهمېدی، یعني د کفارو خدای ﷻ بیان کړی چې دوی چې هر څه اثار د رجعت د خدای ﷻ ولیدل بیا یې هم ایمان نه راوړی، نو یا و علیه الصلوة والسلام ته وویل سول چې ته مه غمجن کیږه په دې سره چې دوی هدایت نه کړی پیدا ستا په لار ښوونه سره فانک لاتسمع الموتی آه، وپر مفسران وایي چې مثال دی د دې چې کفار و خپل حواس کالسمع والبصر والاذن د حق له اورېدلو څخه یا د معجزاتو د لیدلو څخه غوږونه یې د حق له اورېدو څخه بنده کړي دي، نو حکه ستا د تبلیغ او د قرآن د اورېدلو سره او د معجزاتو د لیدو سره ایمان نه راوړي، په تحقیق ته نه سې اورېدلای په مړو (چې کفار دي) خبري د وعظ ستا یعني په سمع د قبول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا خو ترجمه وه د آیت پر ظاهر او پر مراد لکن تحقیق د سماع الموتی، یوه ډېره پیچیده مسئله ده او علماء د مذهب او د صحابه کرامو ﷺ هم پکښې اختلاف دی.

نو واوره: ابن الهمام په فتح القدیر کي وایي: اکثر مشائخنا ؒ علی ان المیت لایسمع، او دلیل هم په دغه آیت سره وایي یعني: انک لاتسمع الموتی آه: او دغه رنګه په هغه آیت چي په بل ځای کي د قرآن ذکر سوی دی یعني "وَمَآ اَنۡتَ بِمُسۡمِعٍ مَّنۡ فِی الۡقُبُوۡرِ" دلیل وایي، نو ځکه دغه مشائخ په تلقین د مړي چي په قبر کي یې کښېږدي نه دي قائل، او دوی وایي چي که سړي قسم واخستی چي زه د فلاني سره خبري نه کوم او وروسته تر مرګ یې خبري ورسره وکړې په قسم کي نه دی حانث، ولي چي د حالف مقصود خو دا ؤ چي داسي خبري نه ورسره کوم چي دی یې واوري، او سفارینی ؒ وایي چي سیدتنا ام المؤمنین عائشه ﷺ له سماع الموتی څخه منکره وه، ووافقها طائفة من العلماء علی ذالک، دلیل یې هم دغه آیت دی فانک لاتسمع الموتی، او بعض طائفې د اهل علم د سماع الموتی قائل دي، ابن عبدالبر ؒ وایي چي اکثر د علماؤ د سماع الموتی قائل دي وهو اختیار ابن الجریر والطبري، وکذا ابن قتیبة وغیره ؒ، بقول روح المعاني، دا علماء دلیل په هغه حدیث د بخاري او مسلم وایي چي په اصطلاح متفق علیه حدیث یې بولي او بخاري و مسلم ته شیخان وایي. چي علیه الصلوة والسلام چي غلبه وکړه په ورځ د بدر پر مشرکانو د مکې، او اوویا (۷۰) کسه یې ځندي ووژل له رئیسانو څخه د قریشو، او ټوله دا مړي په یو بیکاره اوبې اوبو ځاه کي اصحابو ﷺ په امر د نبي کریم ﷺ وغورځول، نو علیه الصلوة والسلام د ځاه پر غاړه ورته ودریدی او ورنارې یې کړې یا اباجهل بن هشام یا امیة بن خلف یا عتبه بن ربیعه وهکذا الیس قد وجدتم ما وعدکم ربکم حقًا، فاني قد وجدت ما وعدني ربي حقًا (یعني النصر علیکم) فقال عمر ؓ یا رسول الله ﷺ ما تکلم من اجساد لا ارواح لها (ته څرنګه خبري کوې د هغو اجسامو سره چي ارواحان نسته پکښې، دا قول د عمر ؓ استفهامًا و لا انکارًا، علیه الصلوة والسلام ورته وویل والذي نفس بیده ما انتم باسمع لما اقول منهم زاد في روایة لمسلم، عن انس ؓ ولکنهم لایقدرون ان یجیبوا،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل دلیل د دغې ډلې د علماؤ چې په سماع الموتی قائل دي، دا دی چې یوه ښځه وه په مدینه کې چې ام محجن یې نوم ؤ چې همیشه به یې مسجد نبوي جارو کاوه. نو دا چې مړه سوه اصحابو رضی الله عنهم علیه الصلوة والسلام نه کړی په خبر او دفن یې کړه، نو علیه الصلوة والسلام د جنت البقیع په مقبره کې تپړیدی، نو دا نوی قبر یې ولیدی نو یې وویل چې دا قبر دا چا دی. هغو ورته وویل د ام محجن رضی الله عنها، علیه الصلوة والسلام ورته وویل هغه ښځه چې مسجد به یې جارو کاوه؟ خلکو ورته وویل نعم! فصف الناس فصلی علیها (دا تکرار د صلوة الجنازه له خواصو څخه د علیه الصلوة والسلام دی) فقال رسول الله ﷺ ای عمل وجدت افضل (دا خطاب دی وام محجن ته) صحابه کرامو رضی الله عنهم ورته وویل یا رسول الله ﷺ اتسمع؟ قال علیه الصلوة والسلام ما انتم باسمع منها فذکر علیه الصلوة والسلام (یعني واصحابو رضی الله عنهم ته) انها اجابته قم المسجد یعني جارو کول، او داغه رنګه د دغه طائفې د علماؤ دلیل دی چې البیهقي او الحاکم یې روایت کړی دی، او نور محدثین هم له ابی هریره رضی الله عنه څخه چې علیه الصلوة والسلام چې له احد څخه رجوع وکړه وقبر ته د مصعب بن عمیر رضی الله عنه او اصحاب دده، ودرېدی وقال اشهد انکم احیاء عند الله تعالی وقال لاصحابه تاسي د دغو شهداؤ د قبرو زیارت کوئ او سلام وراچوئ، فو الذي نفسي بیده لایسلم علیهم احد الا ردوا علیه السلام الی یوم القیامة، دا حدیث حاکم په مستدرک کې صحیح باللی دی، او په حدیث د ابن عبد البر چې عبد الحق الاشبیلي یې اسناد صحیح باللی دی عن ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعًا الی رسول الله ﷺ دغه طائفه دلیل وایي چې علیه الصلوة والسلام وویل ما من احد یمر بقبر اخیه المؤمن کان یعرفه في الدنیا یسلم علیه الا عرفه ورد علیه (یعني سلامه)، او داغه رنګه هغه حدیث د بخاري او د مسلم د دې طائفې دلیل دی چې علیه الصلوة والسلام ووویل ان العبد اذا وضع في قبره وتولی عنه اصحابه یعني اقارب دده وغیرهم څنډي را ایسته سي) انه یسمع قرع نعالهم الی اخیر الحدیث.

مظهري رح وایي چې که چېرې د علیه الصلوة والسلام په صحیح نقل سره ثابته سي چې مړی د ژوندو خبرې اوري، نو د دې آیت معنی داده انک لاتسمع بقدرتک واختیارک کما انت تسمع الحي علی ما جری به عادة العبد لکن الله یسمع الموتی کلام الاحیاء اذا شاء او انک لاتسمع الموتی سماعًا تترتب علیه الفائدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا دوه جوابه روح المعاني هم راوړي دي، او روح المعاني دا مبحث د سماع الموتی او عدم سماعهم نهایت اوږد کړی دی تخمیناً دري صفحي يې په نیولي دي، او مظهري بالعکس دې ډېر کوتاه تفسیر د دې آیت کړی دی.

وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾

ته نسې اورېدلای یا محمد (ﷺ) په کنیانو (نو صم جمع د اصم ده) بلنه، هغه وخت چي دوی راهي سي او شا درو ګرځوي.

فائده: عدم اسماع د صم يې مقید کړه اذا ولوا مدبرین سره لبیان استحالة الاسماع في حال ادبارهم، ولي چي صم چي شانه و ګرځوي که څه هم خبره خو نه اوري ګاهي له حرکت څخه د شوندانو د داعي یا نورو قرائنو څخه وفهموي. نو کفار مکه وو به هم په وخت کي د وعظ او تبلیغ د علیه الصلوة والسلام به يې ده مبارک ته شا کړه او راهي به سوه، نو په دې سره خدای پاک امید د علیه الصلوة والسلام قطع کړی ددوی له ایمان راوړلو څخه في الحالة الظاهرة الحاضرة.

وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ الْعُمْيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْ ۖ

او نه يې ته هدایت کونکی یعني و مقصد ته رسېدونکی د ړندیانو (نو عمی جمع د اعمی ده) یعني الکفار چي معجزاتو ته د آنحضرت ﷺ نه ګوري په نظر د عبرت ددوی له ګمراهی څخه یعني چي شاهراه د حق ځندي ورکه ده، نو ته يې پرلار نسې برابرولای، کریمه: انک لاتهدي من احببت ولکن الله یهدي من یشآء الآیة.

إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾

ته نسې اورېدلای یعني په سماع سره د قبول مګر نه هغه څوک چي ایمان لري پر آیاتو زمونږ، نو هغوی اسلام قبلونکي دي، ولي چي ایمان ددوی پر آیاتو زمونږ دوی باعثه ګوي پر اورېدلو د تبلیغاتو او د امر نهي د علیه الصلوة والسلام. او بعض مفسرین وایي چي مراد د من یؤمن څخه مشارف یعني نژدې و ایمان ته دی او بعض وایي چي مراد ځندي هغه څوک دی چي د خدای ﷻ په علم ازلي کي ده ته هدایت منظور وي یعني چي دی به ایمان راوړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ

خدای ﷻ پیدا کړي یاست تاسي له ضعف څخه.

پوه سه: چي ضعف په ضم سره یعني په پښتو سره او په فتح سره مقابل ته د قوة ته وایي فرق یې دا دی چي بالفتح قرائة د بني تميم و اختاره عاصم و حمزة من القرآء السبع بالفتح في المواضع الثلاثة ه والضم لغة قريش و اختاره الباقون من القراء او په هر صورت ضعف مصدر دی ویأول باسم الفاعل ای الضعيف فمعنی الآية من اصل ضعيف و هو التراب في خلق آدم، ولي چي خاوري په عناصر اربعه ضعيف عنصر چي نه حرکت لري او نه تکبر لکه اور او هوا، او یا نطفه ده په اولاد کي د آدم کما ورد في موضع آخر من ماء مهين ای ضعيف وهي النطفة للوالدين.

ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً

ثم لپاره د تراخي دی او جعل په معنی د خلق دی لتعديته الى مفعول واحد او مراد له قوت څخه د طفوليت قوت دی چي طفل ته حاصل سي بالحرکة و استدعاء اللبن بالبکاء "قُوَّةً" ای قوة اخرى بعد البلوغ وهي قوة الشباب.

قانون نحوي: النكرة اذا اعيدت نكرة كان الثانية غير الاولى كما ههنا والنكرة، او المعرفة اذا اعيدت معرفة كان الثاني عين الاول كما في قوله تعالى اني مع العسر يسرًا ان مع العسر يسرًا، فالعسر واحد وقبله يسر وبعده يسر، ولهذا قال ابن عباس ﷺ حيث قال لن يغلب العسر يسرين، هكذا حققه الامام الراغب الاصفهاني وتبعه اجلاء المفسرين.

ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَيْبَةً

بیا یې پیدا کړی دی وروسته تر قوت ضعف.

پوه سه: چي ابتداء د دې ضعف له څلو پښت کاله څخه کېږي، او بعض حکماء وایي د (٣٥) کاله څخه لکن لږ لږ محسوس کېږي چي دې ضعف ته ضعف د شيخوخه او کبر سن وایي "وشيبة" او شيبه ضعف دی تر مرګ پورې.

فائده: دا درجاتې چي بيان سوې په اختلاف سره د امزجه وؤ او ابدانو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انسانانو مختلف کړي، چنانچه فقیر اومس اوس و سن ته د (۹۶) کالو داخل دی ومعهذا قوت او دید د سترګو او د غوږو او د پښو او د لاسو بفضله تعالی معتدل دی خوب او خوراک مي پر ځای دی الی غیرها من النعم الالهیة، وذالک فضل الله یؤتیه من یشاء، لکن بقی في ذمة الفقیر شکر المنعم الحقیقي جلت قدرته کریمه: وقلیل من عبادي الشکور، اللهم اجعلني من الشاکرین لنعمک المتوالیة علی هذا العبد الفقیر العاصي... سعدي ؒ:

عطا ئیست هر موی بر بر تنم..... چگونه بهر موی شکری کنم

يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ ۝

خدای ؒ پیدا کوي هغه شی چي اراده یې وسي من الضعف والقوة والشباب والشیب "وهو العلیم" یعني بتدبیر خلقه حسب حکمته وارادته، وهو القدیر علی کل شیئ.

وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُونَ ۝

پوه سه: چي یوم منصوب دی علی الظرفیة لقوله یقسم، او مراد له ساعت څخه ورځ د قیامت ده.

نکته: قیامت ولي ساعت بولي؟ اما لانها تقوم في اخیر ساعة من ساعات الدنیا، و اما لانها تقوم بغتة یعني ناپیره په پښتو، او اچانک په اردو، لکن ساعة علم بالغلبة دی لپاره د ورځي د قیامت کالکوکب للزهرة والنجم للثریا.

"یقسم المجرمون" قسم اخلي مجرمان یعني المشرکین المنکرین للساعة.

مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ

سوړ درنګ نه دی کړی په دنیا کي او په قبرونو کي، غیر ساعة من الزمان، والمراد الساعة الزمانیة.

پوښتنه: مشرکانو خو په سوو ولکې په زړو کلونه په دنیا او قبرونو کي تیر کړي وه، نو دوی ولي ویل ما لبثوا آه؟

ځواب: دا لږوالی چي دوی بیان کړی بالنسبة الی عذابهم في الآخرة یا نسیانا لفرط اهوال یوم القیامة، او یا له دې سببه چي ماضی کان لم یکن بلل کیږي، کلبي او مقاتل ؒ وایي: ما لبثوا في القبور یعني ما اقاموا في القبور بعد الموت الا ساعة ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قطعة قليلة من الزمان، او بعض مفسرين وايي ما لبثوا بعد فناء الدنيا والبعث وهو مابين النفختين، او هغه چي روايت له قتاده رحمه ځخه ډېرو راويانو کړی دی چي ددوی مراد لبث دی په دنيا کي غير ساعة آه، فقول غير مقبول، روح المعاني وجه د عدم قبول دا بيان کړي ده چي لبث ددوی خو مغيا په يوم البعث سره دی کما سيئاتي ان شاء الله تعالى، او لبث ددوی په دنيا کي خو غاية بې يوم البعث نه ده کما لا يخفى.

لکن دروېش وايي: چي قتاده رحمه الله چونکه لوی مفسر دی، نو مناسبه داده چي دده د قول تأويل وکړل سي چي مراد له بعث ځخه في الدنيا حال قبر هم دی، ولي قبور خو د دنيا جزء دي وحينئذ لاريب ان البث في الدنيا مع اللبث في القبور غايته يوم البعث ده، والله اعلم.

كَذٰلِكَ كَانُوا يُؤْفَكُونَ ۝

دغسي لکه چي دوی مصروف کړئي (يعني په دې قول کي ما لبثوا غير ساعة چي له حقه خلاف خبره وه) كانوا: يعني في الدنيا، دوی درواغ ويل او له حق ځخه مصروف وه چي دوی خدای جل جلاله لره شرکاء ويل او دا يې هم ويل لا بعث بعد الموت، الحاصل چي د درواغو پای تمام دی مشرکان په دنيا کي هم درواغ ويل چي بعث بعد الموت نسته چي هغه يې درواغ سوه په حشر د يوم القيامة سره او تر حشر وروسته هم درواغ وايي يعني ما لبثوا غير ساعة، حافظ شيرازي رحمه الله وايي:

بصد ق کوش که خورشيد آيد از نفست
که از دروغ سيه روئ گشت صبح نخست[1]

وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيمَانَ

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر يقسم المجرمون باندي او تعبير په ماضي سره دی يعني قال که څه هم دا قول ددوی خو په مستقبل بعيد کي دی، له دې سببه وسو چي دا موعود د خدای جل جلاله دی وما وعده الرب تبارک وتعالى فهو متيقن الوقوع كما في الماضي، او مراد له اوتوا العلم والايمان ځخه ملائکه او انبياء او مؤمنان دي ردّاً لقول الكفار ما لبثوا غير ساعة.

---

[1] يعني صبح كاذب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِي كِتٰبِ اللّٰهِ

یعني لبثتم زمانًا کتبه الله لکم یعني غیر ساعة کما قلتم، في کتاب الله یعني اللوح المحفوظ او صحف الملائکة الموکلین بالارحام کما قال رسول الله ﷺ ان خلق احدکم یجمع في بطن امه اربعین یومًا نطفة ثم یکون علقة مثل ذالک یعني (۴۰) یومًا، ثم یکون مضغة مثل ذالک (۴۰) ثم یبعث الله ملکًا باربع کلمات فیکتب عمله واجله الی اخیر الحدیث.

او یا مراد له کتاب څخه قرآن کریم دی یعني قوله تعالی ومن ورآئهم برزخ الی یوم یبعثون.

اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ

تر یوم بعث پورې، دا متعلق دی په لبثتم پورې، دغه ورځ د بعث بعد الموت ده چې تاسي په دنیا کې انکار کوئ.

پوه سه: چې جمله د فهذا یوم البعث ځواب د شرط محذوف ده، والتقدیر ان کنتم تنکرون البعث فهذا یوم البعث یعني، نو تاسي په دنیا کې پر باطله عقیده واست چې بعث بعد الموت ممکن نه دی او تاسي ته اوس ښکاره سو بطلان د قول ستاسي بالمشاهدة.

وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

لکن واست تاسي په دنیا کې نه پوهیدلاست په بطلان د خپل قول چې انکار ؤ له بعث څخه، ولي تاسي دقیق نظر په قدرت کې د خدای ﷻ نه کاوه، یعني تاسي ته به معلومه سوې وای چې هغه څوک چې قادر دی پر ابتداء د خلق پر اعاده یې قادر دی بالطریق الاولی.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ۝

نو په دغه ورځ د قیامت فائده نه کوي و هغو کسانو ته چې ظلم یې کړی یعني په دنیا کې عذر ددوی (معذرت مصدر میمي دی) مراد له الذین ظلموا څخه کافران دي، یا مطلق ګناه کاران دي چې په توبې مړه وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي قراء د کوفې لاينفع په ياسره وايي کد څه هم فاعل په معذرتهم لکن هغه مؤنث غير حقيقي دی تانيث د فعل مسند يې نه دی لازم، او بلکې مفصول يعني په منځ کي د مسند چي ينفع دی او دده فاعل چي معذرتهم فصل دی په الذين ظلموا سره او نور قراء يې په تاء التانيث سره وايي لتانيث الفاعل اعني معذرتهم مع کون التانيث غير حقيقي او مفصول هم دی، او نه له دوی څخه طلب د عتبی يعني د رضاء د خدای ﷻ کذا في القاموس يعني لايطلب منهم موجبات رضاء الله من الايمان و التوبة عن المعاصي و الطاعة کما کان يطلب منهم ذالک في الدنيا. قال الشيخ السعدي قدس سره:

کنوانت که چشم است اشکی بيار ..... زبان در دهانست عذری بيار
کنون بايدت عذر تقصير گفت ..... نه چون نفس ناطق ز گفتن بخفت
بشهر قيامت مرو تنگدست ..... که وجهی ندارد بحسرت نشست

شيخ عطار په الهي نامه کي وايي چي دده تصنيف دی:

مگر يک روز در بازار بغداد ..... بغايت آتشی سوزنده افتاد
فغان برخاست از مردم بيکبار ..... وزان آتش قيامت شد بديدار
بره بر پير زالبی مبتلايی ..... عصا در دست می آمد ز جای
يکی گفتا مگر ديوانۀ تو ..... که افتاد آتش اندر خانۀ تو
زنش گفتا توئی ديوانۀ نه من ..... که حق هرگز نسوزد خانه من
بآخر چو ديد عالم جهانی ..... نبود آن زال را از آتش نشانی
بدو گفتند هان ای زال دمساز ..... بگو کز چه بدانستی تو اين راز
چنين گفت آنگهی زال فروتن ..... که يا خانه بسوزد يا دل من
چو سوخت از غم دل ديوانه را ..... نخواهد سوخت آخر خانه را

وفي الحديث: الدنيا ساعة فاجعلها طاعة.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ

په تحقيق مونږ بيان کړي دي خلګو ته په دې قرآن کي، له هر مثل څخه يعني انواع د حکاياتو غريبه وو چي په غرابت کي لکه متلونه دي لکه مثل د صفت د کفار بعد البعث يعني يوم القيامة، او هغه حال چي دوی څه وايي او دوی ته څه ويل کيږي، او دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی لره په عذر ویلو کي کومه فایده نسي ترلاسه کولای، او طلب د عتبٰی هم نه ځني کیږي، او دوی ته په قرآن کریم کي په بنائسته بنائسته آیاتو مبارکه وو په کراتو مراتو دلائلو د توحید او د بعث بعد الموت او د صدق د رسولانو بیان کړل سوی دی.

وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿۵۸﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی او کلمه د ان شرطیه ده، او مراد له آیاتو څخه یا آیات قرآنیه دي یا معجزات باهره متکاثره دي "لیقولن آه" ځواب د قسم محذوف دی او قائم مقام د جواب د ان شرطیه دی، هر آئینه وایي به هغه کسان چي کفر کوي له دې ډیره غباوت او خرګندي څخه او له غایته سنګدلي څخه او له نهایته بې حیایي څخه، تاسي نه یاست مګر باطلي خبرې کوئ.

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾

یعني مثل د طبع او مهر چي موږ لګولی دی پر زړو د کفارو د مکي الذین قالوا ان انتم الا مبطلون، موږ مهر او طبع لګوو پر زړو د هغو کسانو چي علم نه لري، پر توحید د خدای ﷻ یا معنی داده چي دوی طلب د توحید د خدای نه کوي، بلکې د آباء او اجداد د جهل مرکب وړغندی یې په غاړه دی او ورته د هغو کارونه کوي.

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۶۰﴾

ته صبر وکړه په تحقیق د الله وعده په نصرت سره او په اظهار د دین ستا پر تولو ادیانو ثابت پر ځای ده، اذ لا خلف لوعده لانه نقص وعیب والله تعالی منزه عن النقائص والعیوب، او تا دي پر سپکوالي او اضطراب باعث نه کړي هغه کسان چي ستا پر نبوت یقین نه لري بلکې صراحةً نسبت د کذب درته کوي، بلکې پرته له دې دي لا نور هم ازاروي.

پوه سه: چي استخفاف کنایه ده له بې صبرۍ څخه یعني ته صبر وکړه د خدای پاک وعده پر ځای ده استعجال مه کوه.

دروښ وایي: چي په ورځ د پنجشنبې د ماښښین پر څلور بجې ۳ ماه ربیع الثاني (۱۴۳۱) هجري تفسیر د سورت روم په خیر او عافیت سره پای ته ورسېدی، په زړو وارونه دي حمد خدای ﷻ لره وي لانه الموفق، اللهم منک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والیک او په سوو وارونه دي صلات او سلام وي پر سید البشر او ددہ پر آل او اصحابو ﷺ، تر دې وروسته تفسیر د سورة لقمان شروع کېږي ان شاء الله تعالی په دې عجز او نیاز د خدای ﷻ له جناب څخه غواړم چې د سورت لقمان د تفسیر توفیق راکړي، او په ښه صحت او عافیت سره مي په تفسیر کي د سورة لقمان په ښه وجه کامیاب وګرځوي وما ذالک علی الله بعزیز.

پاکه خدایه په دې شوق او محبت د تفسیر پر خوا را روان یم، لکن دلاري له دې څخه دې بېرېږم یعني الموانع، نو ته خدایه په فضل او کرم سره موانع د تفسیر له عاصي څخه دفع لره، د حافظ شیرازي په دې بیت دې خوشحاله یم:

دلا در عاشقی ثابت قدم باش ..... که در این راه نباشد کار بی اجر

شعر: تروم العز ثم تنام لیلاً ..... یغوص البحر من طلب اللآلي

بقدر الکد تکتسب المعالی ..... ومن طلب العلی سهر اللیالي

دروښ وایي: چې شپې به بیداره کړم او په دریاب کي د فکر به غوتې ووهم او کد تکلیف به حتی الوسع وکړم، لکن دا مي ایمان دی چې بېله توفیقه د خدای ﷻ به هیڅ په لاس را نسي، فاقول:

حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْل. صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم



تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا

سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ

۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة لقمان مكية وهي اربع وثلاثون آية كذا في المظهري وروح البيان.

دروښ وايي: چې روح المعاني وايي اخرج ابن الفريس وابن مردوية والبيهقي في الدلائل له ابن عباس رضي الله عنه څخه چې ده وويل چې سورت لقمان په مكه مكرمه كې نازل سوی دی، په دې روايت كې استثناء د بعض آيتو نسته يعني چې هغه دي مدني وي، او نحاس په خپل تاريخ كې له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روايت كړی دی چې درې آيتونه په سورة لقمان كې مدني دي يعني "ولو ان ما فی الارض من شجرة اقلام الی اخير الثلاث فانها نزلت بالمدينة" قصه دا وه چې رسول الله ﷺ چې هجرت وكړی مدينې ته، نو احبار يعني ملايان د يهودانو ورته راغله چې موږ ته رسېدلې چې ته وايي يعني ستا په كتاب كې سته (وما اوتيتم من العلم الا قليلاً) په دې آيت ستا خپل قوم قريش غرض دي يا موږ يهودان؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل كلا عنيت (دواړه مي قصد دی) دوی ورته وويل چې تاته معلومه ده چې موږ ته تورات راكړل سوی دی وفيها بيان كل شيئ؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې هغه د تورات علوم په علم كې د خداى ﷻ لږ دي، فانزل الله تعالى الآيات.

او علامه داني رحمه الله نقل كړی دی له عطاء او ابو حيان او هغو له قتاده رضي الله عنه څخه چې دوی وويل چې سورت لقمان مكي دی الا آيتين هما (ولو ان ما فی الارض اقلام الی اخير الآيتين) هغه په مدينه كې نازل سوي دي يعني څه وخت چې احبار د يهودو و عليه الصلوة والسلام ته راغله كما مر فی الرواية السابقة.

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾

دروښ وايي: چې په اول كې د سورة بقره تحقيق د مقطعات قرآنيه وو سوی دی فارجع، والمذهب الصحيح عند الحنيفية، الله اعلم بمراده بذالک.

بوه سه: چې اشاره په تلک سره و آياتو ته ددې سورت ده او اشاره د بعيد چې تلک دی لپاره د تعظيم د آياتو ده، او له كتاب څخه مراد قرآن كريم دی، او اضافت د آياتو و كتاب ته په معنی د من دی او د حكيم معنی و حكمة بالغة او المحكم من التغيير والتبديل كالتورات والانجيل، نو پر دې تقدير توصيف د كتاب په حكيم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره حقيقةً ده، او بعض مفسرين وايي چي وصف د كتاب په صفت سره د خداى ﷻ وكړى على الاسناد المجازي كما قالوا في الاسلوب الحكيم اى الحكيم صاحبه.

هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۙ﴿۳﴾

فائده: دا دوه لفظه حمزه ؒ په رفع سره وايي چي خبر بعد الخبر د تلك يا خبر د مبتداء محذوفي يې بولي اى هي هدًى ورحمة (يعني دا آيت لارښوونه ده او رحمت دى) او حمل پر آياتو يې مبالغةً دى لكه زيد عدل، او يا په حذف سره د مضاف دى اى ذات هدًى، او نور قاريان يې په نصب سره وايي چي حال يې بولي له آياتو څخه او عامل يې معنى د اشاره بولي په تلك كي كما في قوله هذا بعلي شيخًا.

تنبيه: پر تقدير د حاليت هم هغه د مخه توجيهاتو ته ضرورت ستة لان الحال يجب حمله على ذى الحال، او له محسنين څخه مراد عاملين للحسنات دي، مفسرين ؒ وايي چي محسن لايطلق الا مدحًا للمؤمنين، او خداى ﷻ چي تخصيص د خپل كتاب وكړى په هدايت د محسنينو يې اشاره ودې ته وكړه چي د غير محسنين لپاره يعني المؤمنين هدايت نه دى په معنى د دلالة موصله وان كان هدايت القرآن بمعنى ارائة الطريق عامة ولهذا ورد في القرآن هدى للناس فافهم هداك الله تعالى.

الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝﴿۴﴾

هغه كسان دي چي اقامة الصلوة (يعني الصلوة الخمس المفروضة) كوي.

پوه سه: چي اقامة الصلوة پر ځاى كول دي د لمانځه پر وجه المشروع چي مشتمل وي پر فرائضو او واجباتو لكه تعديل الاركان والسنن وغيرها، او مراد له زكوة څخه فرضي زكوة دى كه نقود وي لكه ذهب او فضة او كه د سوائمو وي لكه پسونه وغيرها.

فائده: الذين يا مجرور محلاً دى صفت كاشفة د محسنين دى، او يا بدل يا عطف بيان د ما قبل دى، او دوى پر ورځ د آخرت يعني قيامت يقين لري.

دروښ وايي: چي تخصيص ددې درو صفتو چي يې وكړى لانه ورد في الحديث النبوي ﷺ الصلوة عماد الدين، والزكوة قنطرة الاسلام، واما الايمان بيوم القيامة فهو الداعي الى فعل جميع الطاعات وترك جميع المنهيات،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وتوكيد الضمير يعني هم للتوكيد في الايمان بالآخرة كمامر آنفًا، وروسته خدای پاک بیان کړی حال د دغو کسانو.

أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝

دغه کسان دي پره هدایت عظیمة (نو تنوین او تنکیر د هدًی لپاره د تعظیم دی) له جانبه څخه د خدای او هم دوی دي خلاصون پیدا کونکي له عذاب څخه د خدای في الدنیا والآخرة، ولي چې ددې کسانو هم عقیده محکمه ده او هم یې عمل صالح دی.

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ

یوه سه: چې من الناس په تأویل د بعض الناس مبتداء او من یشتری آه یې خبر دی کما ذهب العلامة التفتازاني ؒ في تفسیر قوله تعالی من السورة البقرة ومن الناس من یقول آمنا الآیة.

فائده: دا جمله معطوف ده پر ماقبل باندې، عطف القصة علی القصة.

فائده: لهو الحدیث علی ما روی عن الحسن ؒ کل ما شغلک عن عبادة الله تعالی لکه سمر یعني د شپې نقلونه لکه په پخوا زمانه کې په پښتو کې هم رواج وه. او اضاحیک یعني د خندا توکي، تاکي، مسخرې او خرافات یعني بې معنی او بې فائدې خبرې یا سروز وغیرها.

فائده: اشتراء دلته استعاره د استبدال څخه ده یعني یختارون لهو الحدیث علی القرآن کالمشتری بشیئ وفي روایة ذکرها البیهقي في السنن عن ابن مسعود ؓ هو رجل اشتری (وهو النضر بن الحارث) کما جاء في روایة عن ابن عباس ؓ ان النضر بن الحارث قنیة (مینځه سروز کونکې) نو چې ده به واورېدل چې څوک اراده د اسلام راوړلو لري، نو هغه به یې وروستی خپلي قنیه ته، نو مینځي ته به یې وویل دوه دی ورکړه شراب ورکړه او غزل ورته ووایه هغې به دا غسي وکړه، نو نضر به هغه سړي ته چې اراده د اسلام به یې درلوده وویل هذا خیر مما یدعوک الیه محمد ﷺ من الصلوة والصیام وان تقاتل بین یدیه، فانزلت هذه الآیة.

روح البیان وایي چې اکثر اهل التفسیر پر دې شان نزول دي، دا چې آیت نازل دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په نضر بن حارث بن کلدة کي چې سخت خصومت يې د عليه الصلوة والسلام سره درلودی چې دا کافر د بدر په غزاء کې ژوندی ګرفتار سو او عليه الصلوة والسلام په خپل مبارک لاس قتل کړی (وفي الحديث: لعنة الله على من قتل نبيًا او قتله نبي) دا نضر بن الحارث بن کلده فارس ته په تجارت تللی ؤ او هورې يې کليلة او دمنة چې دوه کتابونه وه که څه هم په فارسي ژبه وه لکن په عربي ترجمه سوي وه هغه يې رانيول چې په هغو دوو کتابو کي اخبار د رستم او اسفنديار وه، او د فارس د بادشاهانو د جنګو قصې هم پکښې وې، نو ده به دا قصې د قريشو په مجلسو کي کولې او دا به يې ويل ان محمدًا يحدثكم عن عاد د ثمود وانا احدثكم بحديث رستم و اسفنديار، نو قريشو به ډير خوند پر اخستی او استماع د قرآن يې پرېښول، نو پر دې تقدير اشتراء پر خپل حقيقت يعني يشتري بماله كتبًا فيها لهو الحديث وباطل الكلام.

پوښتنه: دمخه تا د ابن مسعود او د ابن عباس ﷺ روايتونه رانقل کړه چې نضر بن الحارث يوه مينځه رانيولې وه چې هغې به قريشو ته غزلي ويلې الخ، او دلته دي دا روايت راوړی چې کليلة او دمنة يې رانيولي وه، فكيف الجمع بين هذه الرواية وما قبلها؟

ځواب: څه مانع دی چې نضر بن الحارث لپاره د غايت بغض د آنحضرت ﷺ دي دواړه کاره کړي وي، فتدبر هداك الله تعالى.

المسئلة الشرعية في الغناء: بغوي رح له ابی سلمة ﷺ څخه روايت کړی دی لايحل تعليم المغنيات واثمانهن حرام، او دا آيت يې تلاوت کړی ومن الناس من يشتری لهو الحديث الآية، او عليه الصلوة والسلام زياته کړه ما من رجل يرفع صوته بالغناء الا بعث الله اليه شيطانين احدهما على هذا المنكب والآخر على هذا المنكب يعني پر يوه او بله اوږه. ولا يزالان يضربان بارجلهما حتى يكون هو الذي سكت.

دروېش وايي: چې دا حال د نرو د غناء دی، نو د ښځو د غناء چې په ودو کي بدلي وايي او دباندي تر کورو په کوڅو کي هم اورېدل کيږي څه به وي؟! اللهم نصرًا.

تنبيه: دروېش وايي چې څه وخت چې تفسير د قرآن عزيز تر دې ځايه پورې رسيدلی ؤ تخمينًا دوې مياشتې تفسير معطل ؤ له دې سببه چې فقير سره د خپل زوی عبد الهادي حسب العادة د عمرې په مقدماتو اخته ؤ حتى ويزه د وسعودي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له خوا تر لاسه کړه، يوه مياشت مو په حرمينو شريفينو کي تېره کړه وروسته چې کوټې ته را ستانه سوو، بيا د مېلمنو آمد ورفت شروع ؤ، نو نن ورځ د سه شنبې پر ځلور بجې مي په توفيق د خداى ﷻ شروع وکړه اللهم وفقني لتفسير هذا الجزء من القرآن الكريم يعني ۲۱ بالخير والعافية والصحة والسلامة.

لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

پوه سه: چې مفعول د ليضل محذوف دى اى الناس.

چې ګمراهان کړي خلګ له لارې ځخه د خداى ﷻ، قيل عن دينه وقيل عن ذكره وقيل عن قرائة كتابه.

تحقيق حال الغناء: اخرج ابن ابى الدنيا والبيهقي في شعبه عن ابن مسعود ؓ انه قال لعن الله تعالى المغنى والمغنى له وفي السنن عن ابن مسعود ؓ الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء البقل، وقال الضحاك ؒ الغناء مفندة للمال مسخطة للرب مفسدة للقلب، وفي رواية الغناء داعية الزنى، واخرج سعيد بن منصور واحمد والترمذي وابن ماجه وابن جرير وابن المنذر وابن ابى حاطم والطبراني وغيرهم، عن رسول الله ﷺ قال لا تبيعوا المغنيات ولاتشروهن ولا تعلموهن الغناء ولا خير في تجارة فيهن وثمنهن حرام، وفي مثل هذا نزلت هذه الآية ومن الناس من يشتري لهو الحديث، وفي رواية عن ابن ابى الدنيا وابن مردوية عن عائشة ؓ قال رسول الله ﷺ ان الله تعالى حرم القينة وبيعها وثمنها وتعليمها والاستماع اليها ثم قرء ومن الناس من يشترى لهو الحديث.

دروښ وايي: چې واختلف العلماء في حكم الغنى فحكى تحريمه عن ابى حنيفة ؒ والقاضي ابو الطيب والقرطبي والماوردي والقاضي العياض وفي التاتار خانية، اعلم: التغنى حرام في جميع الاديان، حكى عن ظهير الدين المرغيناني من قال لقارئ زماننا (اى الذي يقرء القرآن على نهج الموسقي والتغني عند قرائته احسنت كفر) وصاحب الهداية والذخيرة سمياه كبيرة اى التغني، ويدخل فيه صوفية زماننا في المساجد بالاشعار والاذكار مع اختلاط اهل الاهواء والمرد (بې ډيري بنائسته هلکان) بل هذا اشد من كل تغن لانه حرام مع اعتقاد العبادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: واما التغني وحده بالاشعار لدفع الوحشة او في الاعياد والاعراس فاختلفوا فيه. قال صاحب روح المعاني الصواب النهي منه مطلقًا في هذا الزمان، وفي الدر المختار التغني لنفسه لدفع الوحشة لا بأس به عند العامة على ما في العناية وصححه البدر العيني، قال ولو كان وعظ وحكمة فجائز اتفاقًا ومنهم من اجاز التغني في العرس كما جاز ضرب الدف فيه، وفي البحر والمذهب حرمة التغني مطلقًا بل ظاهر الهداية انه كبيرة ولو لنفسه، وقال لاتقبل شهادة من يسمع الغنّى او يجلس مجلسه انتهى كلام الدر، او امام طرسوسي ؒ په خپل کتاب کي په تحريم کي د سماع الغنى وايي چې امام ابو حنيفة ؒ يکره الغنى ويجعله من الذنوب، وکذالک مذهب اهل الکوفة، سفيان الثوري وحماد وابراهيم والشعبي وغيرهم ؒ لا اختلاف بينهم في ذالک، روح المعاني وايي ولا نعلم خلافًا بين اهل البصرة في ذالک اى کراهة الغنى والمنع منه انتهى.

فائده: والمتقدمون من اهل المذهب کثيرًا ماتريدون بالمکروه الحرام، کما في قوله تعالى: کل ذالک کاسيؤه مکروهًا، او امام طرسوسي ؒ د امام مالک ؒ څخه هم نقل کړی دی چې هغه هم نهي له غنّى څخه کولې او له اوربدلو څخه د سماع و نقل عنه اذا اشترى جارية فوجدها مغنية فله ان يردها بالعيب ونقل الطرسوسي ؒ تحريم الغنى عن جمع من الحنابلة على ما نقله شارح المقنع الحنبلي وغيره، او امام السلفيه والوهابية ابن تيميه په خپل کتاب کي چې نوم يې البلغة دی وايي چې اکثر اصحاب ددوی پر تحريم د غناء دي، او د عبدالله بن الامام احمد صاحب المذهب روايت دی، ده وويل ما سوال وکړی له پلار څخه په باره کي د غناء، فقال: الغناء ينبت النفاق في القلب ثم ذکر قول مالک ؒ انما يفعل الغناء عندنا الفساق، وقال المحاسبي في رسالة الانشاء: الغناء حرام کاکل الميتة، وذکر الطرسوسي ؒ ايضاً: في کتاب ادب القضاء ان الشافعي ؒ قال ان الغناء لهو مکروه، يشبه الباطل والمحال ومن استکثره منه فهو سفيه ترد شهادته، وفي الکتاب المذکور ان صرح العارفون بمذهب الشافعي ؒ قائلون بتحريم الغناء، او انکار کړی دی پوهان د مذهب د شافعي ؒ پر هغه چا چې نسبت د حل د غناء و امام شافعي ؒ ته کوي، لکه قاضي ابى الطيب والطبري، والشيخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابی اسحاق في التنبيهه، وذكر بعض تلامذة البغوي ؒ في كتابه الذي سماه التقريب ان الغناء حرام فعله وسماعه، وقال ابن الصلاح في فتاواه بعد كلام طويل فاذن هذا السماع حرام باجماع اهل الحل والعقد من المسلمين انتهى.

درويش وايي: چې اول به تر بيان د حل او حرمت د غناء مور مفهوم د غناء بيان کړو: نو پوه سه! که د غږلو سره دولک يا طبله يا رباب يا سارنګی هم موجود وه دا خو بلا خلاف غناء محرم ده، او که دا شيان نه وه موجود لکن ابيات د موسقی پر طرز ويل کيدل او خلګ پر جمع وه دا هم غناء محرم ده، او که يو سړی يوازي ناست ؤ د خپل زړه د دفع د وحشت لپاره يې بعض ابيات ويله نه پر وزن د موسيقی فهو جائز لابأس به، او که ابيات د دعاء وه مثل: الهی يا الهی يا الهی .... ندارم جز اميدت تکيه گاهی الی اخير الابيات لکه چې درويش څو ځايه دغه ابيات پوره راوړي دي فهو لا بأس به لانه لا فرق بين الشعر والنثر في الدعاء، او که چېرې شعرونه د علم په باره کې وه لکه پنج کتاب، يا د تصوف په باره کې وه لکه مثنوي معنوي، ديوان بيدل وغيرهما د هغو اشعارو په ويلو کې هيڅ حرج نسته، لانها من امور الدين لا من اللهو واللعب كما لايخفى.

درويش وايي: چې آنحضرت ﷺ چې مدينې ته هجرت وکړی اول يې په بني نجار کې واړول، نو د بني النجار نجونو دغه بيت مکرر وايه او عليه الصلوة والسلام انکار هم پرو کړی ... بيت:

نحن جوار من بنی نجار ..... يا حبذا محمدًا من جار

او بيهقي له سيدتنا عائشه ؓ څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام چې مدينې منورې ته راغلی جعل النساء والولائد والصبيان يقولون:

طلع البدر علينا من تنيات الوداع ... وجب الشكر علينا ما دعى لله داع

ايها المبعوث فينا بالامر المطاع.

او عليه الصلوة والسلام انکار نه پرو کړی چې د لهو په صورت کې نه وه بلکې د شکر نعمت په صورت کې وه، او امام احمد له انس ؓ څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام چې مدينې منورې ته راغلی حشبه و په خپلو نېزه بازيو د عليه الصلوة والسلام استقبال او خشو آمديد ښکاره کړی او امام ابو حامد محمد الغزالي قدس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره په احياء العلوم کي وايي السماع مباح في اوقات السرور تهيجًا له يعني دپاره پر جوش راوستو د خوشالي. ان کان ذالک السرور مباحًا کالغناء في ايام العيد و في قدوم الغائب وفي الوليمة والعقيقة وعند ولادة الولد وعند حفظ القرآن المجيد.

دروښ وايي: چې په هامش کي د مکتوبات د امام رباني قدس سره السامي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام يوه ورځ د يو اعرابي څخه واورېدل:

لسعت حية الهوى كبدى ..... فلا طبيب لها ولا راقى

الا الحبيب الذى شغفت به ..... فعنده رقيتي وترياقى

فامره عليه الصلوة والسلام بتكراره.

سوال: روح المعاني خو پر دې سخت انکار کړی دی؟

ځواب: روح المعاني پر نفس سماع د دغو دوو بيتو او امر د قائل بالتکرار نه دی کړی بلکې ددې دوو بيتو سره راوايانو ډېر ملحقات او کاذب اخبار راوړي دي، روح المعاني پر هغو سخت انکار کړی دی او کذب بحت يې بللي دي فارجع الى روح المعاني جزء ۲۱. وفي الذخيرة منهم من قال لابأس بالدف في الاعياد. روى ان رسول الله ﷺ كان جالسًا في بيته يوم العيد وجاريتان تغنيان بالدف في دهليز بيته فجاء ابوبكر ؓ وقال اتغنيان لهوا اتغنيان في دهليز رسول الله ﷺ، فقال رسول الله ﷺ دعهما فهذا اليوم يوم عيد.

دروښ وايي: چې اشعار ويل لپاره د دفع له حريم څخه د اسلام او د عليه الصلوة والسلام فلا بأس به بل هو مندوب كما يدل يدل الاحاديث الشريفة ان النبي ﷺ يضع لحسان بن ثابت الشاعر منبرًا في المسجد النبوي ويقول اهجوهم اى الكفار ويقول اللهم ايده بروح القدس وفي رواية فان جبرئيل معک.

دروښ وايي: چې مظهري په خپل تفسير کي داسي احاديث راوړي دي چې پر اباحة د غناء دلالت کوي بل على اباحة ضرب الدف (دريه).

(۱) حديث د ربيع بنت معوذ بن عفراء (چې د يوې ښځي نوم دی) دا وايي چې عليه الصلوة والسلام راغلی هغه وخت چې زما د واده ورځ وه نو زما پر ځای (يعني نژدې ماته کښېنستی) کمجلسک مني نو نجونو درې وهلې او هغه غزلي يې ويلې چې زما د نيکه ګانو په باره کي ويل سوي وې په ورځ د بدر، په دې دوران

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي يوې نجلۍ داسي بيټ وايي: وفينا نبي يعلم ما في الغد، عليه الصلوة والسلام ورته وويل دا مه وايه هغه دمخه بدلي وايه، رواه البخاري، وروى ابن ماجه نحوه وفيه اما فلا تقوله لما في لانه لايعلم ما في غد الا الله.

(۲) له حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی چې يوه ښځه د انصارو يوه سړي ته ور واده سوه، نو عليه الصلوة والسلام وويل ما كان معكم لهو (يعني يوه بدله مونه ورسره وويل) فان الانصار خوند ورکوي بدلي، رواه البخاري.

(۳) انكحت عائشة ذات قرابة لها الى رجل من الانصار، فجاء رسول الله ﷺ فقال اهديتم الفتاة (ناوې مو ور واده کړه) عليه الصلوة والسلام راته وويل چې داسي ښځي درسره وې چې بدلي يې ويلې، ما ورته وويل يا، عليه الصلوة والسلام راته وويل چې د انصارو د واده په وخت کي بدلي خو ښې دي، فلو بعثتم معها من يقول اتيناكم اتيناكم، فحيانا وحياكم، رواه ابن ماجه.

(۴) عن عامر بن سعد قال دخلت على قرض بن كعب وابى مسعود الانصاري في عرس (په يو واده کي) خو نجوني وې چې بدلي يې ويلې فقلت اى صاحبي، رسول الله ﷺ واهل بدر يفعل هذا عندكم (يعني ستاسي په حضور کي بدلي ويل کېږي) دوی راته وويل اجلس ان شئت فاستمع معنا وان شئت فاذهب فانه قد رخص لنا في اللهو عند العرس.

(۵) يوه ښځه راغله چې ما نذر کړی دی يا رسول الله ﷺ چې زه به ستا پر سر دريه وهم عليه الصلوة والسلام ورته وويل اوفی بنذرک (نذر دي پر ځای کړه يعني دريه وواهه) رواه ابو داوٗد، مع ان رسول الله ﷺ قال لا وفاء بنذر في معصية الله رواه مسلم، نو دا معلومه سوه چې دريه وهل معصيت نه دی، له دې سببه چې عليه الصلوة والسلام اجازه د وفاء بالنذر المذكور ورکړه.

(۶) د محمد بن حاطب الجمعي څخه روايت دی عن النبي ﷺ قال فصل ما بين الحلال (اى النكاح) والحرام (اى الزنى) الصوت (بدلي) والدف (دريه وهل يعني په حلال کي چې نکاح کي نه په حرام کي زنی ده)

دروښ وايي: چې مظهري د صوفيه قول رانقل کړی دی او داسي يې ويلي دي اذا كان ذى قلب مطمئن بذكر الله فارغا عن غيره لا يلتفت الى ماسوى الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولايكون المغنى محلاً للشهوة وكان المجلس خاليًا (اى عن غير الصوفية) ولايكون وقت الصلوة وغيرها من العبادات جاز له السماع الى اخيره، وقال في منهيه تفسيره بل جاز الرقص والتواجد آه.

دروېش وايي: چي دا شرطونه چي مظهري له اهل تصوف څخه رانقل کړي دي په مرور د زمان کالتعليق بالمحال دی او د اهل زمان حاضر چي ځانونه صوفيان بولي لار خلاصول دي چي دوی په خپلو مجلسو کي رقص وکړي لکه موږ يې وينو ددې زمانو په پيرانو کي ورته کارونه يعني رقص او شلي کوي، که څوک د علماؤ څخه دوی منع کړي نو دوی په استدلال په قول د مظهري کوي .... مصرع:

وللناس فيما يعشقون مذاهب.... مقوله:

من نه اينکار ميکنم (يعنى في ازمنة ظهور الفسق في بعض المشائخ) ونه انکار ميکنم (يعني علماء اهل التصوف في الزمان القديم يعني چي دغه شرائط چي مظهري راوړي دي پکښې امکان پذيره وه)

دروېش وايي: چي نه له نبي کريم ﷺ او نه له صحابه کرامو ﷺ څخه دا په ثبوت رسېدلي ده دوی استماع د غناء تقربًا الى الله تعالى کوله، او هم له دې سببه مشائخ د طريقت عليه نقشبنديه دا کار کوي چي په غناء سره تقرب الى الله ﷻ غواړي او نه پر نورو مشائخو چي دا کار کوي انکار کوي، والله اعلم بالصواب، دا ؤ تحقيق د فقير په باره کي د غناء حسب الوسع والطاقة ونرجع الى تفسير القرآن العزيز.

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ

متعلق بقوله ليضل الناس آه، والمعنى چي دوی علم نه لري په حال ما يشتر به من اللهو، او بالتجارة حيث استبدل اللهو تجارة القرآن قتاده ؒ وايي بحسب المرء من الضلالة ان يختار الحديث الباطل على الحديث الحق والمآل واحد "ويتخذها" او وګرځوي آيات الله "هزوًا" چونکه هزوا مصدر دی نو دلته په معنى د مهذوا به دی ليصح حملها على آيات الله.

فائده: يتخذها منصوب دی معطوف پر ليضل چي منصوب په ان مقدرة سره بعد اللام ولي حرف جر پر فعل نه داخليږي بې تقدير د ان مصدري، او اکثره قراء يې په رفع سره وايي، عطف يې پر يشتري بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ۝٦

او دغو کسانو لره دی عذاب د اهانت او سپکاوي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا

پوه سه: چي ضمير د علیه راجع دی و من ته في قوله تعالی من یشتری چي تلاوت وکړل سي پر ده د آیاتو زموږ (چي آیات قرآنیه دي)

وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا

دی اعراض وکړي یعني توجه نه ورته کوي په داسي حال کي چي طالب د کبر وي یا په معنی د متکبر یعني سین د طلب زائد دی، پوه سه! چي جمله شرطیه عطف ده پر یشتری.

"کان لم یسمعها" یعني ځان داسي وګرځوي لکه ده چي آیات نه دي اورېدلي (کان حال دی له ضمیر د ولی)

كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٧

ګویا د ده په غوږ کي ثقل او کنوالی دی. نو زېری ورکړه ده ته یا محمد (ﷺ) او یا کل یصلح الخطاب په عذاب سره چي درد ورکونکی دی چي عذاب د اور دی.

سوال: بشارة خو خبر سار ته وایي، عذاب الیم خو خبر سار نه دی؟

ځواب: اصل معنی خو داده اخبره تعبیر بالبشارة تهکمًا یې وکړی.

پوښتنه: لفظ د الیم خو فعیل د مجرد باب دی، تا یې ترجمه په درد ورکونکي سره وکړه چي معنی د مولم د باب د افعال؟

ځواب: په خواص الابواب کي راغلي دي چي ګاهي فعیل په معنی د مفعل راځي کما قول الشاعر: امن ریحانة الداعی السمیع یورقنی آه، دا سمیع په معنی د مسمع دی کذا في شرح الجامي، ولهذا الشعر قصة طویلة، کما ذکرناها في بعض مواضع.

دروښ وایي: چي عادت الهي په قرآن عزیز کي په دې سره جاري دی عموماً چي وروسته تر عذاب بیانولو د حال د کافرانو لکه په دې ځای کي ومن الناس من یشتری لهو الحدیث الآیة حال د مؤمنانو بیانوي لیکون القرآن الکریم نذیرًا وبشیرًا ولهذا قال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ ۝٨

په تحقيق هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي (يعني بما يجب الايمان به لکه چې آمنت بالله و ملائکته آه پر هغو عقائدو مشتمله ده) او عملونه د خصلاتو صالحاتو من العبادات البدنية والعبادات المالية والمركبة منهما من الفرائض والواجبات والسنن "لهم" ددوی لپاره (اللام للاختصاص الاصل نعيم الجنات لكن عكس التعبير للمبالغة)

خَالِدِينَ فِيهَا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٩

همېشه به وي دوی په هغه جنتو کې.

پوه سه: چې دا عبارت حال مقدره دی ای مقدرًا خلودهم فيها اذا دخلوها.

"وعدالله" ای وعدالله وعدًا.

دروښ وايي: چې په علم نحو کې وايي چې دا حال مؤکد لنفسه دی ولې چې د ماقبل تر ده يعني لهم جنات النعيم آه مفهوم عين وعده ده "حقًا" مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای حق ذالک الوعد حقًا.

پوه سه: چې دې ته مصدر مؤکد لغيره وايي په علم النحو کې لان کون الوعد حقًا مفهموه مغائر لنفس الوعد فافهم.

"وهو العزيز الحكيم" او خدای ﷻ غالب دی څوک يې نسي منع کولای د پوره کولو څخه د خپل موعود که ثواب وي او که عقاب، لان العجز على الله محال "الحكيم" يعني لايفعل الا مافيه حكمت باهرة.

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

پيدا کړي دي خدای ﷻ اسمانونه.

پوه سه: چې دا جمله صفت ده د الحكيم بحذف الموصول ای الذي خلق آه وهو تكلف مستغنى عنه، يا حال ده په تقدير د قد كما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً من الضمير المستتر في الحكيم "بغير عمد ترونها" پېله ميلانو او تمبو چې تاسي يې وينئ.

فائده: جمله د ترونها صفت دي د عمد والضمير المؤنث راجع الى عمد، والنفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متوجه الى القيد والمقيد يعني نه ستني (تمبي) سته او نه يې تاسي وينئ، يا مراد دادی چې تاسي يې نه وينئ که څه هم تمبې سته، والمراد على هذا التقدير العمد المعنوية وهي عمد القدرة الالهية كما في روح المعاني، وروح البيان.

وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ

او خدای ﷻ اچولي دي پر مځکه غرونه محكمه پر ځای ولاړ "ان تميد بكم" بحذف المضاف ای كراهة ان تميد بكم يعني چې مځکه حرکت ونه کړي متلبس په تاسي سره، او خدای ﷻ منتشر کړي دي په مځکه کې هرقسم دواب، الدابة مايدب على الارض چې حرکت کوي پر مځکه، والاستغراق في كل دابة په سبب د غاية كثرت د انواعو د دواب الارض في الجنس والنوع والهيئة والصغر والكبر الى غيرها من احوالها، كريمه: ولايعلم جنود ربک الا هو.

وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

او مونږ راتوی کړي له اسمانه اوبه يعني باران، مراد د اسمان څخه يا حقيقت اسمان او يا وريځ ده لان كل ماعلاک فهو سماء.

پوه سه: چې مراد اغلب د ما ينزل من السماء يعني كه څه هم اوربنت د واوري او ژليو هم له سماء څخه دی.

فائده: في قوله تعالى وانزلنا التفات من الغيبة الى التكلم.

دروښ وايي: چې التفات په خپلو شپږو قسمو د محسناتو څخه د عربيه كما ثبت في علم البديع.

فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝

نو مونږ شنه کړي دي په مځکه کې د هر قسم نباتاتو څخه چې حسن المنظر او كثير المنفعة دي يا د خورک لپاره يا د تداوي لپاره الى غير ذالک من الحكم المودعة فيها.

دروښ وايي: چې په دې آيتو کې خدای ﷻ خپل كمال قدرت او حكمت او علم يې بيان کړی او د وحدانيت خپل اساس يې كښېښو او نفي د شرک يې وکړې، نو په دې آيت کې اشاره ودغه ته ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ

په تأويل د ما ذکر خلق د خدای دي، نو تاسي بيان کړئ ايها المشرکون چې څه شی پيدا کړی هغه بتانو چې ماسوی د خدای ﷻ دي او تاسي يې عبادت کوئ او د خدای ﷻ شرکاء يې بولئ.

فائده: پوه سه! چې ما ذا منصوب دی په خلق او کلمه ما لپاره د استفهام انکاري ده او مبتداء ده او کلمه د ذا په معنی د الذي سره د صلې يې خبر دی.

سوال: کلمه د ما چې استفهاميه سي، نو "اروني" څرنګه عمل پکښې کوي آيا و صدارت ته د استفهام به ضرر نه وي؟

ځواب: مفسرين وايي چې اروني بنډ دی له عمل ځخه ډهنا فتدبر.

بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱۱﴾

پوه سه: چې بل لپاره د انتقال دی له تبکيت ځخه د مشرکانو و حکم ته د ضلال پر دوی.

پوښتنه: ځای خو د ضمير وُ يعني بل هم نو اسم ظاهر يې ولې راوړی؟

ځواب: لپاره د حکم پر دوی چې دوی ظالمان دي کما لا يخفی.

وَ لَقَدْ اٰتَیْنَا لُقْمٰنَ الْحِکْمَةَ اَنِ اشْکُرْ لِلّٰهِ ؕ

په تحقيق موږ ورکړی وُ لقمان ته.

تاريخ قديم وايي چې قصه د لقمان حکيم او وصايا دده په نيز د يهودانو يې ډېر شهرت درلودی، او عرب په يو مهم کي يعني يهودانو دوی ته رجوع کول: از حکمتهائ لقمان برائ ايشان ضرب مثل بودندی، حق سبحانه وتعالی از حال وی خبرداد وفرمود ولقد آتينا لقمان آه.

دروښ وايي: چې په نسب او احوالو کي د لقمان لوی اختلاف دی، محمد اسحٰق صاحب المغازي وايي چې لقمان بن باعور بن ياخور بن تارخ وهو آزر ابو ابراهيم الخليل ﷺ بود، او زر کاله ژوندی وُ چې زمانې ته د داؤد ﷺ ورسېدی او د هغه ځخه بعض علوم دينيه زده کړه او دمخه تر بعثت د داؤد ﷺ لقمان خلکو ته فتواوي ورکولې، چې داؤد ﷺ مبعوث سو لقمان بيا چاته فتوی نه ورکول، او چا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي به له ده څخه پوښتنه وکړه چي ته ولي اوس فتوی نه ورکوې؟ ده به ویل الا اکتفی اذا کفیت، او بعض اهل تاریخ وایي چي دده نسب دا وُ: لقمان بن عنقا بن سرون وکان عبدًا نو بیا یعني من اهل نوبة اسود اللون ولاضي فیه فان الله لایصطفی عباده اصطفا نبوة او ولایة وحکمة علی الحسن والجمال الظاهري، وانما یعطیهم علی ما یعلم من غائب امرهم، ونعم ما قال الجامي قدس سره:

چه غم و منفعت صورة اهل معنی را ... چو جان ازروم بود گوتن حبش میباش

بغوي ؒ وایي چي وهب بن منبه ؒ وایي چي لقمان د ایوب ﷺ د خور زوی وُ، او مقاتل ؒ وایي د ایوب ﷺ د خاله زوی وُ، او واقدي وایي چي لقمان قاضي وُ په بني اسرائیلو کي، او په درمنثور کي وایي چي ابن ابی شیبة او احمد په کتاب الزهد او ابن ابی الدنیا په کتاب المملوکین کي له ابن عباس ؓ څخه نقل کړی دی چي لقمان حبشي مریی وُ او نجار وُ، او بغوي ؒ د خالد الربعي څخه وقال قال مجاهد کان عبدًا اسود لوی شوندان یې وه چاودلې پښې یې وې، او سعید بن المسیب وایي چي لقمان خیاط وُ، او بعض وایي شپانه وُ، او بعض وایي مریی وُ هره ورځ به یې بادار ته یوه پلنډه بوتې راوړل.

دروښ وایي: چي روح المعاني په خپل تفسیر کي دا قولونه ټوله رانقل کړی دی، لکن په اخیر کي یې ویلي دي: ولا وثوق لي بشیئ من هذه الاخبار.

سوال: نو ولي دي رانقل کول!؟

ځواب: روح المعاني داسي ځواب ورکړی دی وانما نقلها تاسیًا (ای اقتداً) بمن نقله من المفسرین الاخیار، ده خپله رایه داسي بیان کړې ده چي لقمان یو صالح سړی وُ حکیمًا ولم یکن نبیًا انتهی (روح المعاني جزء۲۱)

"الحکمة" دروښ وایي: چي په قاموس کي وایي چي حکمت العدل او علم او حلم او نبوة والقرآن والانجیل ته وایي لکن مظهري وایي وکل من هذه المعاني یحتمل المقام، فقیر وایي چي د انجیل او قرآن ځرنګه احتمال سته که څه هم مراد ځندي علم الانجیل وعلم القرآن وي، ولي چي لقمان حکیم خو دهر مقدم وُ تر انجیل او قرآن فافهم.

پوه سه: چي په یو حدیث صحیح کي راغلي دي قال رسول الله ﷺ ان من الشعر لحکمة، مراد په دغه حدیث کي له حکمت څخه علم دی یعني بعض اشعار مشتمل پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علم دي لکه پنج کتاب مثلاً او مثنوي وغیر ذالک في الزمان الحاضر، او یا هغه اشعار چي په زمانه کي د آنحضرت ﷺ په مدحه کي دده مبارک او یا په بیان کي د قرآن عزیز د حقیت ویل سوي وه، او په هغه حدیث کي چي رسول الله ﷺ وایي: الا وفی رأسه حکمة، مراد څندي عقل دی، او بغوي ؒ وایي اتفق العلماء علی ان لقمان کان حکیمًا ای عالمًا فقیهًا ولم یکن نبیًا، مګر عکرمه ؓ وایي چي لقمان نبي ؤ، لکن دا قول ضعیف دی غایة الضعف لما اخرج ابن ابی حاتم عن وهب بن منبه انه سئل اکان لقمان نبیًا قال لا لم یوح الیه وکان رجلاً حکیمًا، وکذا اخرج ابن جریر عن مجاهد.

اخرج ابن مردویة عن ابن عباس ؓ چي حکمت علم او عقل و افطنة (یعني څیرک والي ته وایي) او اصابة في القول ته وایي، وقال الراغب الاصفهاني ؒ چي حکمت معرفة الموجودات علی ماهي علیه في الواقع وفعل الخیرات ته وایي.

او امام رازي ؒ په تفسیر کبیر کي وایي: چي حکمت عبارت دی د توفیق څخه عمل بالعلم.

دروښ وایي: چي نور هم تفاسیر د حکمت د لقمان ؒ په کتابو کي کړل سوي دي وبیان کلها مع مالها وما علیها یقضی الی التطویل الممل للمتعلمین لهذا التفسیر.

بعض علماء وایي چي اختیار ورکړل سو یعني د خدای ﷻ له خوا و لقمان ته په منځ کي د حکمت او نبوت فاختار الحکمة، قال البغوي ؒ وروی چي لقمان بیده ؤ په غرمه کي نو ډغ پر و کړل سو یا لقمان هل لک (یعني تاته رغبت سته چي خدای دي خلیفه وګرځوي په محکمه کي فتحکم بین الناس بالحق) لقمان جواب ورکړی که ماته اختیار راکوي خدای ﷻ قبلت العافیة (یعني چي زه له دې منصب څخه ځان ساتنه غواړم او که د امر د خدای ﷻ پر ما باندي د قبول د دغه منصب وي فسمعًا وطاعةً، ولي چي زه په دې پوهیږم چي په صورت ثاني خدای ﷻ زما مرسته کوي او د خطاء او ګمراهی څخه مي ساتي، نو ملکو وده ته وویل چي ده نه لیدلې لم یا لقمان (ولي ای دا منصب د تحکیم بین الناس په خپله خوښه نه قبلوې؟) لقمان جواب ورکړی چي حکم بین الناس سخت ترین د منازلو دی چي ظلم له هري خوا څخه ورته راځغلي، نو که زه په حکم حق ته ورسیږم، نو اقلاً داده چي زه به نجات پیدا کړم له عتاب څخه او که خطا وځم په حکم کي، نو لا رد جنت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مي خطا کړه او زیاته یې کړه چې سړی چې په دنیا کې ذلیل وي بهتره ده تر دې چې په دنیا کې رئیس او حاکم او شریف وي.... بیت:

بر فلک برتر بود اسرار او ..... شیئًا لله شیئًا لله کار او

او زیاته یې کړه من یختار الدنیا علی الآخرة تفته الدنیا (څندي فوت به سي دنیا لانها فانیة) ولا یصیب الآخرة (ولي ده یې طلب نه دی کړی) فعجبت الملائکة من حسن جوابه و کلامه، فنام نومة فاعطی الحکمة. نو دی راوینې سو خبري یې تولي حکمت وې. او پر داؤد علیه السلام هم ورته بړغ و کړل سو وروسته تر لقمان. داؤد علیه السلام یې قبول و کړی ولم یشترط ما شرط لقمان، نو څو ځایه په تحکیم کې خطا ورپېښه سوه کما جاء في القرآن العزیز کل ذالک یعفو الله عنه، نو لقمان لکه وزیر مشاور د داؤد علیه السلام وۀ. وفي الحدیث النبوي الصحیح کما رواه البخاري وغیره قال رسول الله ﷺ لي وزیران في الارض ابوبکر و عمر رضي الله عنهما الی اخیر الحدیث، په روح البیان کې وایي لقمان مردی حکیم بود از نیک مردان بني اسرائیل لکن سبط او ۱۲ سبط بنی اسرائیل معلوم نیست، خلق را پند دادی وسخن حکمت گفتی ولم یکن نبیا. وفي الکتب: لقمان هزار پیغمبر را شاگردی کرده بود و هزار پیغمبر را او وزیر مشاور بودی، درسخنهائ حکمت راوی گفت که از هزار پیغمبر هرچه شنیده ایم هشت کلام اختیار نمودام (۱) ان کنت في صلوة فاحفظ قلبک، یعني د امور بېهوده او د امور دنیاویه قلبک مشغول نګردانید (۲) وان کنت في الطعام فاحفظ حلقک: ته ستونی ساته چې دومره ګوله اخله چې تر ستوني په آسانی تېرېږي (۳) وان کنت في بیت الغیر فاحفظ عینیک: سترګې دي ساته یعني ډده د کور په شیانو کې کاته مه کوه (۴) وان کنت بین الناس فاحفظ لسانک: یعني ناڅېا خبره او چې د اهل مجلس ناخوښه وي پر خوله او ژبه مه راوړه (۵) واذکر اثنین، او دوه شیان په یاد کړه یعني الله ﷻ والموت (۶) دوه شیان هېروه یعني احسانک في حق غیرک واسائة الغیر في حقک، روایت دی چې یو چا لقمان ته وویل: ما اقبح وجهک؟ ده ورته وویل التعیب علی النقش ام علی النقاش. یعني زما خو د اقبح الوجه په اختیار نه ده نو پر ما څه عیب وایي، او نقاش چې پروردګار دی پر هغه عیب ویل حق نه دی لانه یفعل ما یشآء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت دی چي داؤد علیه السلام اول واضع د زغرو د جوړېدلو دی. لقمان به ورته ناست وُ چي داؤد علیه السلام به الغي سره جار ایستلې او مېخونه به یې پر وه ویشتل د لقمان به ګاهي اراده سوه چي پوښتنه ځندي وکړي چي ته دا څه شی جوړوې، بیرته به یې فکر وواهه چي ان من الحکمة الصمت، یعني پټه خوله حکمت دی، وایي چي داؤد علیه السلام چي دا شی پوره کړي په خپله به یې حکمت بیان کړي او داغسي هم وسوه چي داؤد علیه السلام چي زغره تکمیل کړه او وایې غوستل داسي یې وویل: نعم اداة الحرب یعني د جنګ په وخت کي په اسانۍ سره تړه دا زغره نسي پرې کولای، رواه الحاکم و البیهقي في شعب الایمان.

له لقمان رضی الله عنه څخه روایت دی چي له ده څخه چا پوښتنه وکړه: ای الناس شر؟ فاجاب الذي لایبالي ان رأه الناس علی العصیان من الله. او ابن ابی شیبة او احمد او ابن جریر له خالد ربعي څخه روایت کړی دی چي لقمان عبد حبشي وُ، نو دده بادار ورته وویل چي یو پسه حلال کړه او ماته غوښي ځندي راوړه، هغه د بري پاکي او خوبې دوې ټوټې غوښه راوړه چي زه یې وخورم، ده هم دغسي وکړه ژبه او زړه یې ورته راوړه، څو زمانه وروسته بیا د لقمان سید ورته وویل چي یو پسه حلال کړه او ماته هغه د بري خییثي دوې ټوټې غوښي راته راوړه، لقمان داغسي وکړه اما دا وار یې هم ژبه او زړه ورته راوړی، سید یې پوښتنه ځندي وکړه چي ولي دا طیب او اخبث په دواړو سرو کي دي ژبه او زړه راوړی؟ لقمان وویل: هما اطیب شئ اذا طابا، واخبث شئ اذا خبثا. یعني چي پرژبه د خدای ﷻ ذکر جاري وي او رشتیا وایي او فضول خبره نه کوي، نو دا ژبه طیب شی ده. او که په ژبه دروغ، بهتان، غیبت، فوج او فحش وایي نو اخبث شی ده. او داغه رنګه زړه په خلقت د اسمانو او مځکي و مافیها کي فکر وهي قائلاً ربنا ما خلقت هذا باطلاً، او داغه رنګه په وعد و وعید کي د خدای ﷻ فکر وهي یعني الوعد بالجنة في الایمان و عمل الصالحات، او دوبخ د کفر په صورت کي او ایتان بالمعاصي په صورت کي، نو داسي زړه اطیب شی دی، او که یې په زړه کي حب الدنیا و حب المعاصي وي نو دا زړه اخبث شی دی.

اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ

الظاهر ان تقدیر الکلام و قلنا له ان اشکر لله علی ما اعطاک من الحکمة اذ اتاک الله ایاها و انت نائم غافل عنها جاهل بها، او ظاهره ده چي داسي نعمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عظيمه چي بلا طلب و بلا تعب بنده ته حاصله سي موجب د عظيم شكر دی.

ومن حكمة لقمان ان داؤد عليه السلام قاله له يومًا كيف اصبحت؟ قال اصبحت بيد غيري زمامه فتفكر داؤد[۴] فيه فصعق يعنی نعره زد وبيهوش شد. ومراد لقمان قبضهٔ فضل الهی وقبضه عدل الهي يعنی اگر خداوند متعال فضل كند حالم خوب خواهد بود كه معاصی من برما شمرده نه شد واگر عدل كند كه مثقال ذرهٔ شر ما بر من بشمرد حال من خراب خواهد بود، ومن حكمتها قال ضرب الوالد ولده يعنی للتأديب لكه كښت ته چي انبار څوک ورکړي، نو ښه نما او حاصل کوي، دغه زوی په وهلو د پلار صالح صالح او عبد الرحمن جوړيږي. په صحيح حديث كي راغلي دي عليه الصلوة والسلام وويل: حقًا اقول لم يكن لقمان نبيًا ولكن كان عبدًا كثير التفكر حسن التقين احب الله فاحبه فمن عليه بالحكمة وهي اصابة الحق باللسان واصابة الفكر بالجنان (په زړه سره) واصابة الحركة بالاركان ان تكلم تكلم بالحكمة وهذا اصابة الحق باللسان وان تفكر تفكر بالحكمة (يعني هر فكر چي به ده وواهه هغه به حق وُ واصابة الحركة بالاركان (يعني حركات د اعضاؤ يې پر حق لار برابروه) وان تكلم تكلم بالحكمة (او خبري چي به يې كولې د حق د لاري سره برابري وې) وقال الامام الراغب الاصفهاني رح الحكمة اصابة الحق بالعلم والفعل. فالحكمة من الله تعالى معرفة الاشياء وايجادها على غاية الاحكام، كريمه: ان الله عليم حكيم، ومن الانسان كما في قوله تعالى لقمان الحكمة معرفة الموجودات على ماهي عليه في نفس الامر وفعل الخيرات بجميع ما كلف به.

دروښ وايي: چي حسبن الهروي الكاشفي رح وايي: حق سبحانه وتعالى اورا پسنديد وحكمت بر او اضافه كرد، بمثابه كه ده هزار كلمه حكمت ازو منقول است، كه كلمه بعالمی ارزد آه، فانظر الى قابليته وحسن استعداده لحسن حاله مع الله، مقوله: كن لله كان الله لك.

دروښ وايي: چي روح المعاني په خپل تفسير كي بطريقهٔ مشت نمونه از خروار از نصائح لقمان حكيم به پسر خود بسياری از مقالات ونصائح او اورده كه ميدان تنگ تفسير ايوبی گنجائش آن ندارد .... بيت:

تا طبع شريفت نه پذيرد ملالتی ... آن به كه به تفسير قرآن باز بگرديم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ

(ومن يشكر) اى لله (فانما يشكر لنفسه) اى لنفع نفسه، ولي چي فائده د شكرد خداى ﷻ وه ده ته راجع دى، مقوله: الشكر قيد للموجود وصيد للمفقود، كريمه: لئن شكرتم لازيدنكم، والشكر تقرب العبد الى الرب المعبود وثواب دار الخلود.

وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿۱۲﴾

(ومن كفر) اى نعمت الله، غني حميد يعني غنى عن شكره لايحتاج الى شكره او خداى بل الله ﷻ حقيق بالحمد وان لم يحمده احد بلسان المقال فانه ﷻ يحمده جميع مخلوقاته بلسان الحال.

وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ

پوه سه: چي اذ معمول دى د اذكر مقدر، يعني ياد كړه هغه وخت چي وويل لقمان و خپل زوى ته، طبري وايي چي د زوى نوم يې تاران ؤ، او بعض مؤرخين وايي چي د زوى نوم يې ماثان ؤ بالثاء المثلثة، او بعض وايي انعم ؤ، او بعض وايي اشكم ؤ كلاهما على وزن افعل، او بعض وايي چي مِشكم بدل الهمزة.

"وهو يعظه" جملة حالية من لقمان.

پوه سه: چي وعظ په قول د راغب ؒ خبر مقترن بتخويف، او خليل ؒ وايي چي وعظ پند ورکول دي چاته په خير سره چي پر زړه يې رقت او تاثير راولي.

يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ

"يابنى" تصغير د اشفاق دى نه د تحقير، قال الشاعر:

واذا ما حب شيئ تو ليت به ..... احرف التصغير من شدة الوجد

وقال آخر:

ما قلت حبيبي [1] من التحقير ..... بل يعذب اسم الشيئ بالتصغير

"لاتشرك بالله" ته شرک مه کوه په خداى ﷻ سره يعني خداى ﷻ ته شريک مه وايه لا في ذاته ولا في صفاته ولا في افعاله، په بعض رواياتو کي راغلي دي چي د لقمان

---

[1] بضم الحاء وفتح الحاء على لفظ التصغير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زوی کافرؤ، نو همیشه به لقمان نصیحت ورته کاوه حتی اسلم، وعلی تقدیر کون ابنه غیر مشرک. المراد بالنهی الدوام علی عدم الاشراک فیما بقی من الاوقات.

اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۳﴾

په تحقیق شرک لوی ظلم دی، دا علت دی د نهي عن الشرک، وتحقیق ذالک ان الظلم هو وضع الشیئ في غیر موضعه، او دا بنکاره خبره ده چي معبودیت چي خاصه مختصه د خدای ﷻ ده په بتانو کي اینبول لوی ظلم دی فافهم... بیت:

الحمد لله لا شریک له.....ومن اباها فنفسه ظلما

هر که دردریا وحدت غرقه باشد جان او
جوهر فرد حقیقت یافت از جانان او

وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ

امر کړی دی موږ هر انسان ته چي د مور او پلار سره احسان کوئ (فاللام للجنس او الاستغراق لان ما لهما واحد کما ثبت في محله) او شکریې وایاست او اطاعت یې کوئ (یعني في ماسوی الشرک والمعاصي لانه لا طاعة للمخلوق في معصیة الخالق.

پوه سه: چي دا جمله معترضه ده په قصه کي د لقمان.

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ

دی په حمل کي وړی دی مور.

فائده: دا جمله معترضه په معترضه کي ده تاکید د وصیت په حق کي د مور.

وفي الحدیث المتفق علیه عن ابی هریرة رضي الله عنه ده وویل چي یو سړي وویل وآنحضرت ﷺ ته یا رسول الله څوک دې هر حقداره دی په ښه صحبت چي زه یې ورسره وکړم؟ قال ﷺ امک قال الرجل ثم من؟ قال امک ثم امک ثم اباک.

فائده: ددې حدیث له نکته نګاه څخه معلومه سوه چي د مور درې حقه د حسن صحبت دي او د پلار یو، دلیل یې دادی چي مور اولاً زوی نهه (۹) میاشتي علی الاغلب په خپله خټه کي ساتلی دی چي ډېر مشقت و پر مور، وروسته په وخت کي د زېږېدلو او په جلاوالي کي د حمل پر دې ډېر تکلیف تېرېږي، بیا وروسته د رضاع په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وخت کي د عيال او دده کالي او مرداري ورپرېول او د شپې او ورځي دده خدمت کول. بلکې وروسته تر فطام هم تر ډېري زمانې پورې کما هو من اجلی البدهیات.

وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ

پوه سه: چې وهن ضعف ته وايي مصدر دی ای ذات وهن ای وهنا کائنًا علی وهن، ولي چې څونه حمل ددوی په رحم کي لوېږي ددې ضعف ډېرېږي الی ان تضع حملها.

فائده: بنځه په خلق يعني په بدن کي او په خُلق بضم الخاء يعني په اخلاقو کي ضعيفه ده لانه عليه الصلوة و السلام سماهن ناقصات عقل و دين.

"وفصاله في عامين" او له شيدو څخه د پرېکولو په دوه کال کي کېږي.

پوه سه: چې دا بل حق دی د خدمت د مور پر ولد باندې.

درويش وايي: چې مسئله د رضاع په بسط سره په فقه کي مذکوره ده علی الاختلاف بين ائمة المذاهب.

درويش وايي: چې په مرور د زمان اوس اوضاع د عيال او د مور او پلار بالعکس روانه ده.... بيت:

دختران را همه جنگ است با مادر ..... پسران را همه بدخواه پدر می بينم

مسئله: علماء وايي چې د مور خدمت او شفقت پر اولاد لازم دی او د پلار احترام او عزت پر اولاد لازم دی والفرق بينهما ظاهر فتدبر.

تاريخ قديم د الحسن البصري رحمه الله په احوالو کي وايي چې دی سره د علميت خداداده او د طريقت دلاري د پوره شهرت خاوند ؤ لکن دده پلار وختي وفات سوی ؤ او مور يې ژوندی وه، دی چې به د ماخستن د لمانځه څخه راغلی په سرای کي د مور خونه يې په مخ کي وه، نو اول به يې د مور احوال پرسي وکړه او بيو ګړی به يې مجلس ورسره وکړی، اخير به يې مور ورته وويل چې زه بيد يرم ولاړه سه خپل عيال ته، نو ده به ورته وويل چې راکه چې زه دي پښې مچ کړم، نو د مور پښې به يې مچ کړې او د خپل عيال خواته به ولاړی، دده په دې کي مقصد دا ؤ چې که زه بې پرسه او بې پرسانه د مور د عيال و خواته ولاړ سم نبايد چې دده به ګله او خيره په زړه کي پيدا سي چې داسي بې پرواه تر ما تېر سو، خير دده خو دا عادت هميشه ؤ، يوه شپه په سبب د يو شغل دی ماخستن په مسجد کي ځنډ پدلی ؤ، کور ته چې راغلی مور يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیده سوې وه. نو حیران سو چې که اوس زه د مور پښې مچ کړم له خوبه به ووځي او که د عیال وخواته تېرېږم زما دائمي احترام د مور به پاته سي، نو بالآخریې کرار داسي وکړه چې ډیره یې د مور د پښو په خاوره پوري مښلې چې موریې نسوه ویښه کورته ولاړې، او ده دا عادت وُ چې د سهار تر لمانځه وروسته د اشراق د لمانځه تر وخته دی او ده مریدان په ذکر او وظیفه مشغول وه، د اشراق دوه رکعته لمونځ چې به یې وکړی، نو پر مرید انو به یې مخ راوړه چې د شپې چا خوب لیدلی دی، که به چا خوب لیدلی وُ ده د هغه د خوب تعبیر بیان کړی وبالجملة همیشه ده دا معمول وُ. نو په دغه شپه چې ده د مور د پښو په خاوره پوري ډیره مښلې وه خوب ولیدی. د سهار تر لمانځه وروسته چې ده د مرید انو د خوب لیدلو باز خواست وکړی حسب المعمول یو مرید وویل چې ماته د شپې په خوب لیدلې چې د ډیري تول وپښتان دي د ملغلرو ډک وه، حسن البصري رح وویل چې دا خوب لیدل د برایي شپې زما د خدمت او احترام د موریوه واقعه ده، نو حال یې پوره و مرید انو ته بیان کړی او دا یې زیاته کړه چې زه دې ډېر خوشبخت یم چې د مور د پښو خاوره مي په دربار کي د باري تعالی په ملغلرو منظور سوه، انتهی قصة الحسن رح.

دروېش وایي: چې ما د مور د وضع الحمل تکلیف بیان کړی، یو ستر عالم په کتاب کي خپل ودې تکلیف ته په وخت کي د وضع الحمل د مور تشبیهًا اشاره کړې ده او داسي وایي ..... بیت:

رنجی کشیدم مدتی چون رنجهائی درد زه
تا من برائیدم چنین تحفهٔ نصائح نا بور

ترجمه: رنج او تکلیف مي یووړی څه مده لکه تکلیفونه د درد د زه (یعني وضع الحمل لنګوالي ترڅو چې ما وزېږول یعني تصنیف مي کړه داسي تحفه نصائح نامور یعني نامداره ده.

پوه سه: چې تحفه نصائح نوم د کتاب فارسي مشهور دی په بیتو سره چې په هغه کي تولې عقائد او عملیات او نوري فوائدي تر پایه پورې مصنف په فارسي شعرو بیان کړی دی، او د تعجب وړ خبره داده چې قافیه د تولې کتاب د بیتو پرې راغلې مهمله ده.

دروېش وایي: چې زما د تعلم اول په وخت کي ملایانو په درس وایه تحفة النصائح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي علاوه تربیان د امور دینیه ؤ د فارسي ژبې د زدکړي لپاره لوسرمایه وه.

فائده علمیه: پوه سه! چي په دې بیت کي د تحفه نصائح استعاره تمثیلیه ده وهي في اصطلاح علم البیان ان لایکون في شیئ من مفردات المشبه والمشبه به مجاز بل یشبه الهیئة المنتزعة من المشبه بالهیئة المنتزعة من المشبه به فالتشبیه بین الهیئتین کما في قولهم للشخص المتفکر في امر من الامور، رئیتک تقدم رجلاً وتؤخر اخرٰی فافهم.

اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ؕ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۱۴﴾

دا چي زما شکر وویایه په طاعت او عبادت کولو سره او په ژبه هم (مثلاً الحمد لله رب العالمین علی ما هدانا الی الاسلام، وجعلنا من امة محمد ﷺ (ان مفسره دی تفسیر دی د وصینا آه) او د مور او پلار شکر وایه په خدمت او حسن عشرت او امتثال امرهما موافقًا للاسلام، سفیان بن عیینة وایي په تفسیر کي ددې من صلی الصلوات الخمس (یعني بجمیع ارکانها و واجباتها و سننها وغیر ذالک) فقد شکر الله ومن دعی لوالدیه في ادبار الصلوة الخمس مثلاً اللهم اغفر لوالدي کما رباني صغیرًا فقد شکر لوالدیه "الي المصیر" ماته ستاسي مرجع ده په ورځ د قیامت.

پوه سه: چي جمله هم وعد ده او هم وعید یعني اجازیک علی الشکر بالجنة ونعیمها وکفرک بالنار ...

فائده: حق د استاذ او د معلم الدین فوق دی تر حق د والدینو، تاریخ وایي چي د اسکندر څخه چا پوښتنه وکړه مالک تعظیم مؤدبک یعني استاذک اشد من تعظیمک لابیک؟ ده ورته وویل: ان ابی حطني من السماء الی الارض، ومعلمي رفعني من الارض الی السماء، قال الحافظ الشیرازي ؒ:

من فلک بودم و فردوس برین جایم بود
یعنی روحی آدم آورد درین خراب آبادم

حکایت: بزرجمهر ته چا وویل چي څه سبب دی چي ته تعظیم د معلم ډېر کوې تر تعظیم د پلار؟ ده ورته وویل لان والدي سبب لحیواتي الفانیة (یعني چي مده د عمر ده) ومعلمي سبب حیاتي الباقیة.

دروښ وایي: چي ددې زمانې شاګردان د استاذانو په ازار کي تر امیانو ډېره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برخه اخلي، مثلاً که مقتدی د مسجد چي دی يعني شاګرد يې امام وُ هغه مقتدی د شاګرد د استاذ په عداوت کي وُ، شاګرد هم د خپل استاذ په عداوت کي لپاره د مراعات د مقتدي چي ته ده تنخوا يا زکوة مثلاً ورکوي سرګرم کوشان وي.

مسئله: په حديث شريف کي راغلي دي چي که د چا مور او پلار مړه وه په داسي حال کي چي د هغه سړي څخه ازار وه او دی ژوندی وُ فليستغفرلهما ويتصدق لهما (يعني طلب د بخښني دي کوي د مور او پلار لپاره او خيرات دي پسي کوي) حتى يکتب بارًا لوالديه، ومن زار قبر ابويه او احدهما في کل جمعة او احدهما کان بارًا (يعني اذا کان يمکن للولد زيارتهما في کل جمعة)

وَإِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِىْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا

او که کوشش وکړی او طلب وکړی له تا څخه مور او پلار تا چي ته شريک کړه ايها المؤمن يعني په عبادت کي هغه شی چي عبارت له بتانو څخه دی وغير ذالک من الملائکة والشمس والقمر چي تا لره نسته ای مؤمنه په شرک د هغو د خدای ﷻ سره علم، نو په دې باره کي د مور او پلار په خوله مه کوه، ولي حق د خدای ﷻ غالب دی پر حق د هر چا، کما ورد في الحديث قال رسول الله ﷺ لاطاعة للمخلوق في معصية الخالق، رواه احمد والحاکم في المستدرک عن عمران والحکم بن عمرو الغفاري او په بخاري او مسلم او په سنن ابی داوُد والنسائي عن علي ؓ نحوه.

والحاصل: ته ای مؤمنه څرنګه به د مور او پلار په خوله کوې په هغه شي کي يعني الشرک چي تاته يې بطلان په دلائلو قاطعه وو سره ثابت دی.

وَصَاحِبْهُمَا فِى الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا

او ته ای مؤمنه ژوند کوه او ګذاره کوه د دغه مور او پلار سره چي دوی تاته دعوت د شرک درکوي په دنيا کي هغه چي معروف په شرع کي وي يعني شرع او عقل سليم يې قبلوي.

مسئله: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي پر مؤمن واجب ده نفقه د مور او پلار چي فقيران وي که څه هم کافران وي، وجاء في حديث اسماء بنت ابی بکر ؓ چي زما مور مدينې ته راغله او دا مشرکه وه په هغه زمانه کي چي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکې او مدینې ترمنځ تګ او راتګ په صلح کې د حدیبیې په منځ کې د علیه الصلوة والسلام او د قریشو سوی ؤ، نو اسماء ﷺ وایي چې ما د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چې زما مور ماته راغلې ده وهي راغبة عن الاسلام. آیا صله رحمي ورسره وکړم یعني د طعام او خرڅ د لارې په باره کې؟ نو علیه الصلوة والسلام راته وویل هو! ورسره وه یې کړه، بخاري مسلم.

مسئله: که مور او پلار وه زوی مؤمن ته وویل چې موږ تر بت خانې ورسوه په خوله دې نه کوي، ولي چې معصیت او شرک ته ځي، او که پلار او مور بت خانې ته پر خپلو پښو تللي وه او زوی ته یې وویل چې موږ تر کوره پورې بوزه، پر زوی واجب دی ددوی بهول، فتدبر في حق الوالدین المؤمنین ایها المؤمن.

دروښ وایي: چې دا یو ځو بیته په حق کې د مور او پلار او په زیات والي کې د حق د مور کمامر في الحدیث النبوي ﷺ امک ثم امک ثم اباک، دا بیتونه له بعضې عربو څخه مروي دي چې موریې حج ته په شا راوستلې وه او دا بیتونه یې ویله:

احمل امي وهي الحمالة..... ترضعني الدرة والعلالة

ولله در القائل في حق الام

لامک الحق لو علمت کبیر ..... کثیرک یا هذا لدیه یسیر

فکم لیلة باتت بثقلک مشتکی ..... لها من جراها انة وزفیر

دا خو په وخت کې د حمل د مور حال ؤ

وفي الوضع لو تدری علیها مشقة ..... فمن غصص لها الفواد یطیر

دا خو حال د لنګېدلو د مور ؤ

وکم غسلت عنک الاذی بیمنها ..... وما حجرها الا لدیک سریر

وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ

او ته متابعت کوه یا مؤمن د لارې د هغه چا چې رجوع یې ما ته وي، یعني اطاعني وهو النبي ﷺ واصحابه ؓ، ابن عباس ؓ وایي: چې مراد له انابه څخه ابوبکر ؓ دی وذالک حین اسلم یعني ابوبکر ؓ راغله ده ته عثمان بن عفان وطلحة والزبیر وسعد بن ابی وقاص وعبدالرحمن بن عوف ؓ، دوی ابوبکر ؓ ته وویل قد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صدقت هذا الرجل يعنون النبي ﷺ وآمنت به؟ قال نعم هو صادق يعني في دعوى الرسالة فآمنوا به، نو تاسي هم ايمان راوړئ، نو هغو د ابوبکر ؓ متابعت وکړی، نو ابوبکر ؓ دوی رسول الله ﷺ ته وروستل او هغو تولو ايمان راوړی.

دروښ وايي: چي دغه کسان صحابه کرام ؓ متقدمين د اسلام دي.

مسئله شرعيه: نه دی روا اطاعت د والدينو چي زوی امر کړي په پرېښولو د يو فرضي کار او يا په کولو د مکروه تحريمي کار، ولي چي زوی د مور او پلار په قول عمل ونه کړي، خو امتثال د امر د خدای ﷻ يې وکړی، او که يې په خوله وکړی امتثال د امر د غير الله يې وکړی وهو شرک في الحقيقة، وقد قال رسول الله ﷺ لاطاعة للمخلوق في معصية الخالق.

مسئله: د مور او پلار اطاعت واجب دی پر زوی که يې په امر مباح سره امر کړی يعني چي نه ممنوع شرعًا ؤ او نه عقلاً.

مسئله: که مور يا پلار زوی امر کړی چي ډېر ذکر د خدای ﷻ مه کوه مثلاً، يا ډېري نفلي روژې مه نسه، يا په تبليغي جماعت کي مه داخليږه، او يا ډېر حرص د دنيا مه کوه، ونحو ذالک، ففيه اختلاف، بعض علماء وايي چي امتثال يې واجب دی، بعض علماء وايي چي نه دی واجب، امام مظهري ؒ وايي چي ظاهره داده چي نه دی واجب، اول دليل يې دا دی چي خدای ﷻ په دې آيت کي "واتبع سبيل من اناب" امر کړی دی په اتباع د سبيل د من اناب ولاشک ان اکثار النوافل لکه ډېر ذکر کول يا ډېري روژې نيول يا ترک د حرص د دنيا سبيل المنيبين الى الله ده، الا ترى چي صحابه کرام ؓ ترکوا الاوطان وهاجروا الى الحبشة والى المدينة وبذلوا انفسهم واموالهم في سبيل الله على خلاف مرضات ابائهم وامهاتهم، او خدای ﷻ په دې باره کي دا آيت نازل کړی دی "قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ۝

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو څرنګه به روا وي پرپښول د مجاهدي في سبيل الله مع النفس والشيطان التي سماه رسول الله ﷺ الجهاد الاكبر، لپاره د ارضاء د مور او پلار، دوهم دليل دادی چي حاکم د عامر بن عبدالله بن الزبير ؓ څخه روايت کړی دی عن ابيه چي ابو قحافه چي د ابوبکر ؓ پلار ؤ، څه وخت چي ابوبکر ؓ بلال حبشي ؓ ازاد کړی بلال او عامر بن فهيره وام عميس وزبيرة او نور ازاد کړه، ابو قحافه ده ابوبکر ؓ ته وويل چي زه تا وينم چي ته ضعاف افراد ازادوې، نو کاشکي تا په ځای کي د ضعاف مريانو او مينځيانو اقوی مريان ازاد کړي وای چي ستا په ښه به درغلي وای، او پر دښمن به ستا کومکيان وای، نو ابوبکر ؓ ورته وويل يا ابت انما اريد ما عند الله فنزلت وسيجنبها الاتقى الذی يؤتی ماله يتزکی، يعني في عتق هؤلاء المذکورين من العبيد والاماء، او هجرت وکړی ابوبکر ؓ مع رسول الله ﷺ الی المدينة واخذ معه اربعة آلاف درهم ولم يترک لاهله شيئًا على خلاف مرضات ابيه ابی قحافة، او دا قصه په تفصيل سره په قصه کي د هجرت د عليه الصلوة والسلام مع ابی بکر ؓ الی المدينة في تفسير سورة التوبة بيان کړل سوې ده فراجع.

ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

وروسته يعني په ورځ د قيامت رجوع ده ستاسي (نو مرجع مصدر ميمي دی او ضمير د جمع راجع دی وزوی، مور او پلار ته) نو زه به تاسي خبر کړم په هغو عملو چي تاسي په دنيا کي کول يعني جزاء به درکړم، زوی تاته پر اسلام او مور او پلار ته پر کفر.

فائده: ترجمه د ما کنتم تعلمون چي فقير وکړه پر تقدير ددې وه چي ما موصوله سي وحينئذ فالعائد الی الموصول محذوف ای تعملونه او باعمالکم که مصدريه سي.

پوه سه: چي دا دوه ايته معترض دي په بيان کي د وصيت د لقمان وزوی ته.

تتمه حقوق الوالدين: په صحيح حديث کي راغلي دي چي يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او داسي يې ورته وويل چي يا رسول الله ﷺ زما مور نهايته سپين سړې او ضعيفه ده چي زه يې په خوله کي ډوډی ورکم او په خوله کي يې اوبه ورکوم او زه اودس ورتازه کوم او هر ځای ته يې په شا وړم، نو آيا ددې حق پر ځای دی او که څرنګه؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل لا ولا واحدًا من مأة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه سړي ورته وویل: لم یا رسول الله ﷺ؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل: دې چې ستا خدمت کاوه هغې په نهایت وخت کې د ضعف ستاؤ ددې اراده وه چې خدای ج تا ورلوی کړي یعني ستا د ژوند غم یې کاوه او ته چې یې خدمت کوې ددې د مرګ په طلب کې یې، لکن بیا هم احسنت والله یثیبک علی القلیل کثیرًا، وفي الحدیث الصحیح طوبٰی لمن بر بوالدیه، وویل لمن عقمهما او د عطاء بن یسار رح څخه روایت دی چې یو قوم چې په سفر روان وه فنزلوا بریة (په یوه صحراء کې یې واړول چې تولې شپه یې د خره ناړې اورېدلې چې دوی یې له خوبه هم وه ایستل چې سهار سو دوی شاوخوا وکتل یوه خیمه د بزې د وجغونه څخه جوړه یې ولیدل چې په خیمه کې یوه سپینې سرې ښځه ناسته وه، نو دوی ورته وویل چې موږ ستا د چاپړې له خوا څخه د خره ناړې اورېدلې تر سهاره پورې، او ستا سره خر هم نسته؟ هغې ورته وویل ذالک ابنی کان یقول لي یا حمارة فدعوت له ان یصیر الله حمارًا، نو دی چې مړ سو په دا نژدې مقبرې کې مو دفن کړی، نو داغه دی چې تر سهاره د خره ناړې وهي، له وهب بن منبه څخه روایت دی چې نوح علیه السلام له کښتۍ څخه راووتی له ډېرې بد خوابۍ له سببه څخه بیده سو، نو د خوب په حالت کې یې عورت ښکاره سوی وُ، او دده زوی حام ناست وُ پر خندل یې او عورت یې نه کړی ورپټ، فسمع سام و یافث نو راغله د نوح علیه السلام پر عورت یې یوه کپړه جامه وروا چول او عورت یې ورپټ کړی، نوح علیه السلام چې ددې ماجرلی څخه خبر سو، نو حام زوی ته یې په دغو الفاظو بښېرا وکړه غیر الله لونک فصار لونه اسود فالسودان من نسل حام فصار السواد والذل لاولاده الی یوم القیامة... سعدي رح:

جوانی سر از رائ ما در تباقت دل درمندش بآزر بتافت
چو بیچارشد پیشش آورد مهد ... که ای هست مهر و فراموش عهد
نه گریبان و درمانده بودی و خرد ... که شهباز دستش خوابم نبرد
نه در مهد نیروی حالت نبود ... مگس راندن از خود مجالت نبود
تو آنی که از یک مگس رنجهٔ ... که امروز سالار سرپنجهٔ
بحالی شوی باز در فقر گور ... که نتوانی از خویشتن دفع مور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰبُنَيَّ اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ

(يا بنى) على صيغة التصغير (انها) اى الخصلة من الاسائة او الاحسان، وقال قتادة ؓ الضمير راجع الى الخطيئة وذالک لان ابن لقمان قال لابيه يا ابت ان عملت خطيئة حيث لايراني احد كيف يعلمها الله فقال لقمان.

فائده: مرجع الضمير مذكور حكمًا في قول ابنه السائل فافهم هداک الله، تفسير معترض آخر لقوله تعالى: فانبئكم بما كنتم تعملون، اخرج ابو يعلى والطبرانى وابن مردوية وابن عساكر عن ابى عثمان النهدي ان سعد بن ابى وقاص ؓ قال: چې دا آيت وان جاهداک الآية په ما كي نازل سوى دى، دى وايي چې زه د مور ډېر خدمت گار وم. نو چې اسلام مي راوړى مور مي راته وويل: يا سعد ما هذا الذى اراک قد احدثت؟ (دا څه نوى كار تا وكړى تعنى الدخول في الاسلام) نو يا به ته دا دين پرېږدې او يا زه نه خواړه خورم نه اوبه څيښم حتى اموت نو خلک به تاته پېغور دركوي او درته وايي به يا قاتل امه، په اردو كي وايي (بھوک ہڑتال کرنا) په پښتو يې (د نه خوړلو احتساب كول) بولي، نو سعد ؓ وايي ما ورته وويل: موري دا كار مه كوه ولې چې زه دا دين نه پرېږدم لشيئ ابدًا، نو مور مي يوه شبانه روز خورک نه وكړى او اوبه يې ونه څيښلې نو ډېره ضعيفه سوه، نو دې بل شبانه روز هم خوراک او څيښاک ونه كړى فقد اشتد جهدها (يعني ضعف يې نهايت ته ورسېدى) سعد ؓ وايي ما چې د مور دا حالت ودليدى نو مي په غوږ كي ورته وويل: يا امه ته پوه سه چې زه د اسلام دين نه پرېږدم او زما قسم په خداى ﷻ دى چې كه ته سل روحه ولرې او يو يو روح درڅخه خېژي ما ترکت ديني فان شئت كلي وان شئت لا تأكلي، مور چې زما دا خبره واوربدل په خوراک يې پيل وكړى، فنزلت هذه الآية، انتهى، والله اعلم بالصواب.

دروښ وايي: چې اوس بيرته د تفسير پر خواء

«(اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ)» كه وي دا خصلت په كوچنيوالي كي.

پوه سه: چې اصل د تک تكون ؤ چونكه حركت د نون په ان شرطيه حذف سو نو التقاء د ساكنين راغله په واو او نون كي، بيا يې نون هم حذف كړى تشبيهًا بحرف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العلة في امتداد الصوت او بالواو في الغنة فصارتک، او بعض مفسرين وايي چي نون يې حذف کړی تخفيفًا لکثرة الاستعمال، ولي چي لم يصن چي اصل يې يصون ؤ نون نه دی حذف سوی، والمثقال ههنا بمعنى الوزن، والحبة بالفارسية دانه والخردل معناه اسپند بالفارسيه، او سپلنی په پښتو.

بوه سه: چي اسم د تک مستتر دی رجع دی و خصلت ته چي دا نها ضمير هم ورته راجع ؤ او مثقال په نصب سره يې خبر دی، او نافع رح مثقال په رفع سره وايي چي مثقال يې اسم سي او تک تامة دی ای توجد.

پوښتنه: مثقال خو مذکر دی، نو تک يې مؤنث ولي راوړی؟

ځواب: تانيث په اعتبار د تانيث د مضاف اليه د مثقال يعني حبة لاتحادهما لکن ضمير د انها پر دغه قرائت ضمير القصة دی.

فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ

نو وي دغه حبة په منځ کي د ديوې لوی ډبري چي من کل الوجوه خفي او پټ ځای دی، يا په اعلی ځای کي د اسمانو چي د چا دست رست نه ورته کيږي، او يا په ډبر کښته ځای کي لکه منځ د مځکي، مولی جامي او صاحب البحر رح وايي چي صخره اصلب المرکبات واشدها منعًا لاستخراج ما فيها چي په پښتو يې ګاره بولي، چي ګاهي دومره سخته وي چي د اوس زماني چاه عميق او په بل نامه برمه ورته وايي چي دغه مخ ته راسي نو آلات د بري چي د مشين او بجلی په زور چلږي له ماتولو څخه يې عاجزه سي کما دل عليه التجربة في هذا الزمان، روح البيان وايي چي مراد له صخرة څخه مطلق صخرة اية صخرة کانت کمايدل عليه ايرادها بلفظ النکرة.

دروښ وايي: چي مظهري او روح البيان له ابن عباس رض څخه نقل کړی دی، کما اخرج ابن مردوية عن ابن عباس رض: چي مځکه د ماهي پر شا ده او ماهی پر درياب پروت دی او درياب پر صخرة خضراء دی او صخره پر بنکر د غوايي ده او دا غوايی پر الثری ولاړ دی، ولايعلم ماتحت الثری الا الله تعالی انتهی، ابن عطيه وايي وکل ذالک ضعيف لايثبت سنده انما معنی الکلام المبالغة في التفهيم ای قدرته ﷻ تنال مايکون في تضاعيف صخرة ومايکون في السماء ومايکون في الارض انتهی، روح المعاني وايي الاقوی عندی وضع هذه الاخبار ونحوها انتهی قول روح المعاني، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روح المعاني زياته کړې ده چې ظاهره داده چې محکه په غیږ کې د ابو ده یعني الارض المکشوف لسکونة البشر والحیوانات والنباتات، او لیست الماء الا في جوف بالهواء وهکذا ینتهي امر الهواء الی سماء الدنیا ثم وثم الی عرش الرحمن والکل في کف قدرة الله ﷻ انتهی مع زیادة توضیح کلامه المجمل والله اعلم بالصواب وعنده ام الکتاب وعنده علم ما انزل في الکتاب العزیز والقرآن الکریم.

دروښ وایي: چې دا ؤ بیان هذا المقام الوعر حسب طاقة بالنقل عن التفاسیر المعتمدة.

يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿١٦﴾

هغه خصلت به حاضرېږي یعني په ورځ د قیامت او حساب پر کړه کېږي، بېشکه الله تعالی باریک بین دی چې رسېږي یې علم و هر خفي او دقیق ته، په حقیقت د هر شي خبر دی. دا هم قول د لقمان دی و خپل زوی ته، او قتاده ؒ وایي لطیف باستخراجها خبیر بمستقرها.

دروښ وایي: چې وروسته تر دې چې لقمان خپل زوی امر کړی په توحید سره الذي هو اول مایجب علی المکلف في ضمن النهي او ده ته تنبیه وکړه پر کمال قدرت د خدای ﷻ او پر کمال د علم د عزوجل امره بالصلوة التي هي اکمل العبادة لپاره د تکمیل من حیث العمل بعد تکمیله من حیث الاعتقاد فقال.

يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ

او وه یې ویل یا بني اذا جاء وقت الصلوة فلا تؤخرها لشیئ واسترح منها فانها دین (پور دی د پوره باید سړی ځان ژر خلاص کړي) وصل في جماعة. او امر کوه خلګو ته په معروف في الشرع ونهي کوه د منکر في الشرع کې لپاره د تکمیل د غیر.

دروښ وایي: چې ظاهره داده چې مراد له معروف او منکره معنیین معروفین دي مطلقًا. او هغه روایت چې ابن ابی حاتم له ابن جبیر څخه کړی دی چې له معروف څخه مراد توحید دی، او له منکر څخه مراد شرک دی فذکر افضل انواع الامر بالمعروف والنهی والمنکر، ومع ذالک التعمیم اولی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ

او ته صبر کوه پر هغو شدائدو چې تاته رسيږي خصوصًا فيما امرت به من اقامة الصلوة و الامر بالمعروف و النهي عن المنكر.

پوه سه: چې احتياج د امر بالمعروف و النهي عن المنكر الى الصبر ظاهر كما لايخفٰى.

اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾

په تحقيق دغه صبر يا جميع ما امر لقمان ابنه بذالک هر آئينه له معزومات څخه د امورد خداى ﷻ دى يعني حكم ايجاب كړى په دغو سره نو عزم مصدر دى چې معنى يې عقد القلب ده په معنى د مفعول دى.

دروښ وايي: چې روح البيان په دې ځاى كې يوه اوږده قصه د لقمان او دده د زوى په فارسي ژبه راوړې ده والله اعلم بصحتها. نو ما نقل نه كړه لطولها ولعدم الاعتماد على صحتها، او فقير چې هر څه تلاش وكړى نه يې په عربي او نه يې په فارسي تفاسيرو كې پيدا كړه، والعذر عند كرام الناس مقبول.

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ

ته روى ګرداني مه كوه، والمعنى لاتمل عنهم (نو كلمه د لام په معنى د عن ده) يعني د خلګو سره چې خبرې كوې مخ مه څنې پيچه، وهذا كناية عن التكبر كما قال ابن عباس ؓ يقول لقمان لابنه لاتتكبر فتحقر الناس وتعرض عنهم بوجهك اذا كلموك.

دروښ وايي: چې دا عادت د متكبرانو خلګو دى چې مخ په مخ د سړي سره خبرې نه كوي بلكې بارخو ورګرځوي او مخ بلې خواته واړوي.

وَلَا تَمْشِ فِى الْاَرْضِ مَرَحًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾

او ته تګ مه كوه په مځكه كې په خيال او فرح، په تحقيق د خداى ﷻ خوښ نه دى هر سړى چې په خيال روان وي په تګ كې او فخر كوي على الناس.

پوه سه: چې مرحًا مفعول له دى اى لاجل المرح والفخر.

دروښ وايي: چې مظهري نقلاً عن الزمخشري صاحب الكشاف، وايي چې ان الله آه تعليل دى د ماقبل يعني ولا تصعر آه ولاتمش آه پر طريقه د لف او نشر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غير مرتب حيث قال صاحب الكشاف المختال مقابل للمشي مرحًا، والفخور تعليل ومقابل للمصعر وجهك تكبرًا انتهى بحاصله، او اختيار د لف و نشر غير مرتب لپاره د مراعات د فواصلو د آيتو دى يعني اواخر د آيتو في قوله تعالى ان ذالک لمن عزم الامور وقوله الله ان الله الآية فافهم، او روح المعاني وايي چې لف او نشر مرتب هم كېداى سي، فان الاختيال يناسب الكبر والعجب، المراد بقوله ولاتصعر آه، وكذالک الفخر يناسب المشي مرحًا آه.

فائده: چونكه لفظ د كل تر نفي وروسته دى نو دې ته په منطقو كي رفع د ايجاب كل يوايي لكن مقصود ځندي سلب كلي دي كما هو المناسب لمقام وعظ لقمان لابنه فافهم.

پوښتنه: د لقمان ژبه عربي نه وه، دا فوائد او خواص چې بيان سول دا خو عربي عبارت دۍ؟

ځواب: د لقمان ژبه كه عربي نه وه لكن دا فوائد حكايت د قرآن كريم دي عن تبليغ لقمان الحكيم.

وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ

او ميانه رويي كوي په تګ يعني مه ډېر كرار ځه لانه دليل الخيلاء والمتكبرين يعني كه عذر نه ؤ يعني لكه د سړي چې زنګنونه درد كوي وغير ذالک چې داسي تګ ته په عربي دبيب وايي او ډېر چابک ځغله لانه مشي السفهاء او د سړي وهيبت ته تاوان دى، قال رسول الله ﷺ سرعة المشي مذهب بها المؤمن (اى هيبة وجماله وحقارته في اعيون الناس) اخرجه ابن عدي وابو نعيم في الحلية من حديث ابى هريرة رضي الله عنه.

پوه سه: چې د اسراع منهي عنه څخه مراد مايكون بجد فوق مشيه الطبعي واما الاسراع دون الخبب (يعني ډبلک) فمحمود يعني ښه كار دى.

پوښتنه: په حديث شريف كي چې روايت د يزيد بن الغنوي څخه كړى دى چې عليه الصلوة والسلام چې به پر لاري راهي سو داسي به چابک ؤ چې تر ده وروسته سړي به اوږې ښورولې چې هرومرله يې په عربي بولي نه سواى پسي رسېدلاى، نو اسراع څرنګه منهي عنه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څواب: دا طبعي تګ د علیه الصلوة والسلام ؤ داسي نه ؤ چي ځان ته یې تکلیف ورکاوه، والمنهي عنه هو الاسراع الذي معه التکلیف علی اعضاء المشئ بدلیل ماروی الطبراني والبیهقي عن ابی موسیٰ ؓ قال قال رسول الله ﷺ السکینة علیکم بالقصد في المشئ بجنائزکم وعن ابی مسعود ؓ انهم کانوا ینهون عن خبب الیهود ودبیب النصاری ولکن مشیًا.

دروښ وایي: چي دبیب تګ په مسلمانانو کي عادت دی د زهادو ریا کارو.

مسئله: که امام په لمانځه کي ؤ او پر رکوع بل سړی چي راغلی لپاره د ادراک الرکعة، نو یې ورمیدان کړه رکوع یې ونیوله، ففي الفقه الشریف انه خلاف المندوب، وقد ورد النهي عن ذالک في حدیث مرفوع صحیح.

وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنْكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ﴿١٩﴾

ته کښته کړه (صوت) آواز خپل (نو کلمه د من زائده ده لان الفعل المذکور ههنا متعد بنفسه) یعني ډېر په لوړ اواز ناري مه وهه او خبري مه کوه (کما هو عادة الاعراب واهل البادیة) په تحقیق سره اوحش او دهشت ناکه اواز د خرو دی چي اورېدونکی یې په نظر د کراهت او نفرت یې اوري، نو باید ستا اواز لکه اواز د خرو نه وي چي خلګ نفرت ځندي وکړي ستا د نارو ځخه لکه د خرو د اوازو ځخه چي اول یې زفیر بولي او اخیر ته شهیق وایي، او دا آوازونه په دوزخ کي د دوزخیانو اوازونه دي، راویان وایي چي لقمان ؑ دوولس زره (۱۲۰۰۰) بابه د حکمت وزوی ته بیان کړه، چي د خلګو ټوله حالات په دغو حکمتو کي دده درج دي، والحکمة في غض الصوت المامور به انه اوفر للمتکلم (یعني متکلم چي په غض الصوت خبري کوي ډېري خبري کولای سي بخلاف التکلم بالصوت الشدید) والبسط لنفس السامع وفهمه (او په غض الصوت خبري فراخه کوي نفس د السامع او فهم د هغه) او صاحب البحر وایي چي "انکر" افعل دی په معنی د مفعول، لکن د مفعول په معنی ده، افعل صیغه شاذه ده.

فائده: اهل جاهلیت به فخر کاوه بجهارة الصوت وتمدح به کما قال قائلهم:

جهیر الکلام جهیر العطاس ..... جهیر الرواء جهیر النعم

مسئله: وفي الخلاصة: لایجهر الامام فوق حاجة الناس والافهو مسئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې افسوس دی ددې زمانې پر امامانو چې که لس کسه پسې ولاړ وي هم دی قرائت په ګویا کې وايي چې په عمومي کوڅې کې سرتر پايه اوربدل کېږي.

مسئله: که لویه عیدګاه او یا بله لویه مجموعه وه د لمانځه چې تکبیرات د امام به نه ور رسېدل، نو نورو مؤذنانو به په پخوا زمانه کې تکبیرونه ویل لما فيه من النفع بخلاف ما اذا بلغهم صوت الامام فان التبليغ حينئذ بدعة منكرة باتفاق الائمة الاربعة رح. وای پر حال د امامانو او خطیبانو چې قرائة القرآن في الصلوة که یې څه هم دده په اواز اوږي خو بیا هم دی لمونځ او قرائت په لاوډ سپیکر کې وايي دا خلاف دی د ائمة اربعه رح له مذهب څخه، البته وعظ او تبلیغ او اذان په ګویا کې بدعت نه دی لاعلام الغائبين والمستورات في الدور فتدبر.

دروښ وايي: چې وروسته تر قصې د لقمان بیرته خدای ﷻ رجوع کوي و ماقبل ته من خطاب المشركين من اهل مكة، او توبیخ ددوی پر اصرار پر کفر مع مشاهدتهم لدلائل التوحيد، كما يقول الله ﷻ.

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

تاسي نه ګورئ ایها المشرکون چې خدای ج مسخره ګرځولي دي لپاره ستاسي یعني لپاره د نفع ستاسي، هغه څه چې په اسمانو کې دي من الشمس والقمر والنجوم.

پوه سه: چې تسخیر اماده کول د شي دي الى الغرض المختص به قهرًا كما قال الراغب رح وفي ارشاد العقل السليم، المراد بالتسخير دادی چې المسخر (پر صیغه د اسم مفعول) داسي ډول پیدا کړي چې مسخر له نفع پر اخلي عام تر دې چې منقاد دده وی يتصرف فيه مايشاء ويستعمله كيف يريد كعامة ما في الارض من الاشياء المسخرة للانسان چې انسان یې في وقت الحاجة استعمالوي من الجمادات والحيوانات والنباتات، او لايكون كذالك بل يكون مسببًا لحصول مراد الانسان من غير ان يكون له دخل في استعماله كجميع ما في السموات من الشمس والقمر والنجوم بل الملائكة چې په هغو سماویه شیانو سره منوط دي مصالح د عبادو و معاشًا ومعادًا (یا د دنیا په عیش کې یا د آخرت په عیش کې)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: که منافع د بندګانو چې په سماویه اشیاؤ سره خدای ﷻ منوط ګرځولي دي تفصیلاً بیان کړم، نو د ډېرو اوراقو د زیات والي سبب به وګرځي لکن مشت نمونه خروار، نو یوازي د لمر بعض خواص به بیان کړو: په لمر سره پرته له نوره څلور فصله پیدا کېږي (۱) ربیع درې میاشتي (۲) صیف درې میاشتي (۳) خریف درې میاشتي (۴) شتۍ درې میاشتي، چې په دې څلورو فصلو پورې منافع کثیره د عبادو مربوط دي، او د بعث بعد الموت دلائل هم پکښې موجود دي، او بارانونه چې له اسمانو څخه اوري د هغو په فائدو لوی او کوچنۍ ټوله پوهېږي، او رنګانګ میوې په دغو فصلو کې په قدرت د خدای ﷻ ښکاره کېږي، او په ستورو علاوه تر دې چې په بر او بحر کې په دوی سره اهتداء حاصلېږي، د میوو په رنګو او خوند کې هم دوی پوره وتړه لري، او ملائکه هم بعض پر باد او باران مسلطي دي، او بعضې پر انبیاؤ پر وحي راوړلو ګمارل سوي وې، او بعض ملائکه کرام کاتبین دي، او بعض لپاره د محافظت د انسان دي مابین یدیه وما خلفه.

"وَمَا فِي الْأَرْضِ" او په مځکه کې لکه معدنیا د غرو او خزانې د مځکې حتی الذهب والفضة والزیبق والکبریت الی غیر ذالک والنباتات والحیوانات چې پر دې ټولو خدای ﷻ قدرت ورکړی وانسانانو ته چې نفع پر واخلي بالذات او بالواسطة.

دروښ وايي: ولایمکن احصاء منافع مافي الارض بطوق البشر بل هي في علم الله خالق القوی والقدر.

وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً

او پوره او کامل درکړي خدای ﷻ نعمتونه خپل بنکاره او پټ.

پوه سه: چې ظاهرة او پرده معطوف حال دی له نعمت څخه، والنعم الظاهرة هي المحسوسة لکه حسن صورت، وتسویة الاعضاء، کریمه: ولقد خلقنا الانسان فی احسن التقویم، والرزق والعافیة والاهل والعیال وغیرها من النعماء الدنیویة والاسلام والرسول والقرآن من نعماء الدنیا والآخرة وتخفیف الشرائع وتوفیق اتباع الرسول وظهور الاسلام والنصر علی الاعداء وغیر ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وباطنة" يعني چې له حواسو څخه پټ وي لکه زړه او عقل، او حواس باطنه حس مشترک، خیال، وهم وغیر ذالک، وحسن الاخلاق (یعني بالنسبة الی الحیوانات والامداد بالملائکة في الغزوات کما في غزوة البدر والالهام یا الاعتقاد الموافق للقرآن والسنة وستر الذنوب في الدنیا لا کتابتها علی الباب کما للیهود وعدم التعجیل بالعقوبة بالذنوب، ونور معرفة الله في بعض الناس کالمؤمنین ورسوله وشفاعة رسوله یعني للمؤمنین اذا ماتوا بلا توبة وجعل الندم علی الذنب توبة منه وغیر ذالک.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

او ځینې له خلکو څخه هغه دي چې جګړه کوي.

پوه سه: هذا عطف علی البعید ای قوله ومن الناس من یشتری لهو الحدیث، ومابین المعطوفین کلها معترضات "في الله" ای في توحیده وصفاته "بغیر علم" بیله علمه چې مستفاد له دلیل څخه وي، بغوي رح وایي چې دا آیت نازل سوی دی په نضر بن الحارث وابی بن خلف وامثالهما من المشرکین الی یوم القیامة. ولي چې خصوص د مورد منافي د عموم سره د حکم نه دی کما تقرر في الاصول.

وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝

چې دا خبره دي راجع وه یوه نبي ته وي او نه یو کتاب ته چې منزل من عند الله دي وي، بل بالتقلید البحت للآباء کما قال الله تعالی.

وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ

چې دوی ته به وویل سول د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو له خوا څخه چې تاسي متابعت وکړئ د ما انزل الله یعني القرآن العزیز.

قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ

دوی به وویل بلکې موږ متابعت کوو د هغه دین چې وه پر هغه دین زمونږ پلرونه یعني الشرک.

پوه سه: چې معطوف علیه د بل محذوف دی یعني لا نتبع ما انزل الله تعالی.

فائده: لفظ آباء و اجداد و ته هم شامل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې تقلید په اصولو کې د دین یعنې المعتقدات ناجائز دی، قال الله تعالی:

أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿٢١﴾

(همزه د استفهام داخل دی پر محذوف ولفظ قل محذوف ای قل ایتبعون ابائهم) که څه هم وې شیطان بولي دوی (الوو للحال، ضمیر د هم راجع دی و آباؤ ته) وعذاب ته د اور لان الدعوة الی الشرک دعوة الی عذاب النار.

فائدة مهمة: مظهري ؒ وایي چې دا آیت دلیل دی له منع څخه د تقلید په اصول کې د دین او روح المعاني وایي وهذا ظاهر في منع التقليد في اصول الدين، او روح البيان وايي والآية دليل صريح في منع التقليد في الاصول ای اصول الدين من التوحيد والصفات آه.

پوه سه: چې تقلید وضع الشيئ في العنق محيطًا به ومنه القلادة (غاړکی) ثم استعمل في تفويض الامر الى غيره كانه بعنقه، واصطلاحًا قبول قول الغير ای غير الله ورسوله بلا حجة، والتقليد جائز في الفروع والعمليات بالاجماع.

لکن مسئله د منع د تقلید في الاصول ففي روح المعاني هذه المسئلة خلافية دی وایي فالذي ذهب اليه الاكثرون ورجحه الامام الرازي ؒ والقاضي الآمدي ؒ انه لايجوز التقليد في الاصول بل يجب النظر يعنې په مصنوعاتو کې د خدای ﷻ له اسمانو څخه رانیولې تر مځکې پورې تر حیواناتو تر نباتاتو وغیره پورې په نظام کلي کې فکر وکړي چې نظام خو په خپله نه پیدا کیږي خامخا خالق او صانع لري، نو پر صانع اعظم ؒ به یې علم یقین پیدا سي ... سعدي شیرازي ؒ وایي:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

له یو صحرائي څخه چا پوښتنه وکړه چې د خالق العالم پر وجود څه دلیل لرې؟ صحرائي اعرابي ورته وویل: البعرة تدل على البعير (یعنې د اوښ پچه چې سړی وویني دلالت کوي پر اوښ یعنې چې اوښ دلته تېر سوی دی) واثار الاقدام تدل على المسير (یعنې چې څوک د انسانانو پلونه پر مځکه وویني دلالت کوي تګ د انسانانو پر دغه مځکه) فكيف لايدل هذا العالم الكبير على الصانع الخبير (نو څرنګه به دلالت نه کوي دا عالم کبیر پر صانع خبیر باندې)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: ولله دره ما احسن استدلاله على وجود الصانع العالم الخبير، بيا دي سړی فکر وکړي چې په يوه مملکت کې چې دوه يا درې بادشاهان وي هغه ملک د خراب سره مخامخ کيږي، کريمه: لو كان فيهما آلهتان الا الله لفسدتا. نو به سړی پوه سي چې صانع العالم يو دی.

دا وه طريقه او دليل پر توحيد د صانع العالم وهكذا الدليل على قدرته وعلمه وصائر صفاته الجمالية والجلالية اجمالاً ثم نرجع الى تحقيق المسئلة الاختلافية فنقول والذي ذهب اليه عبيدالله بن الحسن ؒ وجماعة جواز التقليد في الاصول وروى عن بعضهم ان تقليد عقائد المحق صحيح وان كان اثمًا بترک النظر على القول الاول.

دروښ وايي: چې د امام ابو الحسن الاشعري ؒ څخه چا نقل کړی دی چې ايمان د مقلد في الاصول نه دی صحيح وقال الاستاذ ابو القاسم القشيري ؒ هذا مكذوب عليه (دا پر امام اشعري ؒ چا درواغ ويلي دي) ولي پر دې طريقه لازمېږي حکم د کفر کولو پر عوام الناس وهم غالب المؤمنين.

دروښ وايي: چې مزيد تحقيق په روح المعاني او تفسير کبير کې مطالعه کړئ، والله اعلم بالصواب.

وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗٓ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ

څوک چې وارډي خپل مخ د خدای ؒ پر خوا.

پوه سه: چې له مخ څخه مراد ذات دی، والمعنى من يسلم نفسه الى الله. لكه تسليم د مأمور و خپل آمر ته بان فوض امره اليه واقبل بكلية عليه.

فائده: كلمه د من شرطيه ده فقد استمسک جزاء ده، والواو للحال في وهو محسن اى والحال انه محسن مخلص في علمه او عمل يې پر وجه لائق لجنابه تعالى دى كما جاء في الحديث الطويل الذي رواه البخاري ومسلم عن عمر بن الخطاب ﷺ الاحسان ان تعبد الله كانک تراه فان لم يكن تراه فانه يراک يعني يعلم حالک في الاخلاص والرياء والغفلة، والمراد الحضور التام.

فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى

نو په تحقيق ده لاس ټينګ کړی په دستکي محکم سره.

پوه سه: چې په دې آيت تمثيل لطيف دی د متوكل على الله بحسن الاخلاص

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واليقين الذي هو امر معقول بالامر المحسوس يعني لاس ټينګونکی په محکم لاستي سره د کوزې يا ګلوې چې احتمال د قطع يې نه وي يعني عمل بالاحسان هم هيڅ احتمال د قطع نه لري، والحاصل ان ثواب الله ﷻ على العمل بالاحسان متيقن في الدارين.

وَإِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْأُمُوْرِ ﴿۲۲﴾

او خاص خدای ﷻ ته دی اخير کار د ټولو مخلوقاتو اذ الكل صائر اليه.

وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ؕ

او که څوک کفر وکړي يعني لم يسلم وجهه الى الله.

پوه سه: چې اصل جزاء د من شرطيه محذوفه ده يعني فقد اضر نفسه خپل ځان ته يې ضرر ورساوه، تاته هيڅ ضرر نسي رسولای لا في الدنيا ولا في الآخرة، نو چونکه عدم الضرر وه عليه الصلوة والسلام ته علت وُ د عدم حزن په کفر د کافر اقيم مقام اصل الجزاء فافهم.

اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۳﴾

ومورِ ته رجوع ده د خلګو خاصةً (نو مرجع مصدر ميمي دی، في الدنيا والآخرة لان العبد لايستقل في شيئ) نو زه به دوی خبر کړم په هغه شي چې دوی يې عمل کړی وي من الكفر والمعاصي يعني بالتعذيب عليها.

په تحقيق خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چې د خلګو په سينو کي يعني په زړو کي دي من الاعتقادات الحقة والباطلة والشكوک والشبهات والخطرات الشيطانية فضلاً عن الاعمال الظاهرة فيجازی كلا حسب اعتقاده وعمله ان خيراً فخير فان كان شراً فشر.

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۲۴﴾

نو تمتع او مهلت ورکوو (تمتيعًا قليلاً که مفعول مطلق وي، او زمانًا قليلاً که ظرف وي، يعني في الدنيا مدة عمرهم فيها ثم) مورِ دوی مجبوره کوو په آخرت کي وډير ثقيل عذاب ته وهو عذاب النار.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

که پوښتنه وکړي ددوی څخه يعني د مشرکانو څخه چې چا پيدا کړي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسمانونه او مځکه؟ دوی درته وایي چې الله پیدا کړي دي، ولي چې بل ځواب دوی نه لري مثلاً چې استناد د خلق و خپلو بتانو ته وکړي.

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

ته ورته ووایه چې حمد دي وي خدای ﷻ لره (چې په دې اقرار سره ستاسي اشراک د بتانو په عبادت کي د خدای ﷻ سره د بېخه څخه ولاړی) بلکې اکثره ددوی په دې نه پوهېږي چې په دې اقرار کي موږ ملامت سوو، ولي چې ددوی سره مرض د جهل مرکب همراه دي:

آن کس که نداند وبداند که بداند ..... درجهل مرکب ابد الدهر بماند

وانما قيل اكثرهم لان بعضهم يعلمون لكن انكروه عناداً وتكبراً، کاشکي دوی په خپل جهل سره اعتراف کړی وای، نو د مرض شرک علاج یې ممکن وُ:

آن کس که نداند وبداند که نداند ..... او اسپ خود از گنبد فیروزه جهاند

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

خدای ﷻ لره دي یعني خدای ﷻ خالق او مالک دی د هغو شیانو چې په اسمانو کي دي من الشمس والقمر والكواكب والملائكة.

دروښ وایي: چې له هم دې کبله یې کلمه د ما راوړه چې پر مذهب تحقیق د نحاتو وذوی العقول او غیر ذوی العقول ته شامله ده، او هغه شیان چې په مځکه کي پر ظاهر د مځکي دي لکه انس او جن، والحيوانات العجم والنباتات والثمار وغیرها که په باطن کي د مځکي وي من الخزائن والدفائن والجواهرات في اعماق جبال الارض وغیرها مما لا يعلمه الا الله تعالى.

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝

په تحقیق خدای ﷻ غني دی له حمد څخه د حامدینو او له عبادت څخه د عابدینو، مستحق د حمد دی که یې څوک حمد وایي او که نه..... بیت:

ای غنی درذات خود از ما سوای خویشتن
خود تو میگوئی بحمد خود ثنایی خویشتن

وفي الاربعين الادريسية: ياحميد الفعال ذا المن على جميع خلقه بلطفه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شیخ سهروردي ؒ وایي که څوک دوام وکړي پر دغه ذکر یحصل له من الاموال مالایمکن ضبته، له دې آیت مبارک څخه دا معلومه سوه چې تفویض د کارو و خدای ﷻ ته او توکل پر خدای ﷻ او اخلاص د مقصد او اعراض د ما سوی الله څخه او اقبال علی الله بالتوحید یعني لا اله الا الله وطاعة الله من موجبات حسن العاقبة وهي الجنة والقربة الی الله ﷻ والوصل بلا فصل:

درین دنیا که بگذشت عمر عزیز .... بخواهد گذشت این دمی چند نیز
کنون وقت تخمست اگر پروری .... گر امید داری که خرمن بری

سعدی شیرازی قدس سره السامی فی کتابه البستان:

شندیم که نا بالغی روزه داشت .... بصد محنت آورد روزی بچاشت
پدر دیده بوسیده هم ومادرش .... فشاندند بادام وزر بر سرش
چو بر وی گذر کرد یک نیمه روز .... فتاد اندر زانش معده سوز
بدل گفت اگر لقمهٔ چند خورم .... چه داند پدر غیب یا مادرم
چو روئ پسر در پدر بود و قوم .... نهان خورد وبیدا بسر برد صوم
پس این پیر ازان طفل نادان ترست .... که از بهر مردم بطاعت دراست

یعنی شیخ وپیر ریاء کار.

ابن اسحاق صاحب المغازي د عطاء بن یسار ؒ څخه وکذا البغوي الشافعي المذهب انه قال نزلت بمکة، وما اوتیتم من العلم الا قلیلاً، نو علیه الصلوة والسلام په مدینه کې چې د یهودو ملایان ورته راغله، دوی ورته وویل چې موږ ته دا خبره رسېدلې ده چې ستا په کتاب قرآن کې دا آیت سته وما اوتیتم من العلم الا قلیلاً. آیا ستا په دغه آیت مراد خپل قوم دی، که موږ دي مراد یو؟ فقال ﷺ کلا علیت خپل قوم او تاسي دواړه مي مراد دي، دوی ورته وویل آیا ستا په قرآن کې دا نسته "انا اوتینا التورات وفیها تبیان کل شیئ؟" فقال رسول الله ﷺ چې تو له ما في التورات نسبت و علم ته د خدای ﷻ قلیل دی، فانزل الله تعالی هذه الآیة.

وَلَوْ اَنَّ مَا فِی الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ

ژوه سه: چې لو حرف شرط دی دخول یې پر ان چې حرف تحقیق دی، په علم النحو کې روانه دی، نو له دې سببه تر لو وروسته ثبت مقدر دی، والتقدیر لو ثبت ان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: شجرة يې مفرد راوړه اشجار يې نه وو ايه مع انه اشمل، له دې سببه چې له شجرة څخه مراد جنس دی فيشمل جميع الاشجار، والاقلام جمع قلم وهو مايكتب به.

ترجمه: كه چېرې دا ثابته سي چې په مځكه كې جنس درختي يعني ددوی ښاخونه پر اندازه د قلم پرې سي.

وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِنْ بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ

"والبحر" ای البحر المحيط بالارض "يمده" ای ينصب ويزيداه "من بعده" ای من خلفه، اووه دريابه نور يعني دا دريابونه د دغو قلمانو مداد سي يعني سياهی او رنگ يعني قلمان په لندوي او خط په كاږي.

فائده: مراد له سبعه څخه عدد مخصوصه نه دی، بلكې لپاره د مجرد تكثير دی د مداد فيشمل المائة والالف وتخصيص السبعة لما ان ايام الاسبوع سبعة والكواكب السيارة سبعة.

مَّا نَفِدَتْ كَلِمَٰتُ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾

نه بسي تمام كلمات د خدای ﷻ چې مراد څندي معلومات دي، يعني بتلك الاقلام وبذالك المداد ولا بالاكثر من ذالك بالغا مابلغ، ولي چې معلومات د خدای ﷻ غير متناهي دي لايمكن نفادها، او دغه رنگه قلمان او دغه مداد متناهي دي وقد قالوا لايمكن احاطة المتناهي بغير التناهي.

فائده: كلمات يې جمع قلت راوړه لپاره د تنبيه پر دې چې دغه اقلام او مداد پر قليل د معلوماتو د خدای ﷻ احاطه نسي كولای فكيف بالكثير منها كما لايخفى.

"إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ" خدای ﷻ غالب دی چې هيڅ شی يې نسي مغلوب كولای، او د حكمت څښتن دی لايخرج عن علمه وحكمته شيئ فكل ما يخلقه الله ففيه حكمته عرفها الناس او لا تعرفوها.

فائده: اهل التجربة اولياء الله وايي: چې خاصيت د اسم جليل يعني يا عزيز وجود الغنى والعز، نو څوك چې دا اسم عزيز څلوېښت (۴۰) واره في كل يوم څلوېښت ورځې ورد وگرځوي اغناه الله تعالى واعزه ولم يحوجه الى احد، او شرط دا چې د ذكر په وخت كې همت د خلگو له خوا څخه د خدای ﷻ وخواته فقط مبذول گرځوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: خاصيت د اسم جليل عارفانو دا بيان كړی دی چې خدای ﷻ به دفع د بلاؤ ځندي وكړي او دروازې د حكمت به ورته خلاصي كړي من اكثر ذكره صرف عنه مايخشاه من الدواهي والآفات وفتح له باب الحكمة وقطع العلائق مع الخلائق والتوكل على الله وتفويض الامر اليه تعالى شرط قوى فى ذالك.

مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ ۗ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾

نه دي پيدا كول ستاسي ايها الناس اجمعين او نه بعث بعد الموت ستاسي ټولو مګر نه لكه خلق او بعث د يوه سړي، ولې خداى پاك يو كار د بل كار كولو څخه نه مشغوله كوي ويكفى بوجود الكل تعلق ارادته مع قدرته الذاتية، نو نه دى ګران و خداى ﷻ ته خلق الكل لكه چې نه دى ګران خلق د نفس واحدة انما امره اذا اراد شيئًا ان يقول له كن فيكون.

په تحقيق خداى ﷻ اوري بل لا بآلة السمع فمعناه يعلم كل مسموع ليدونكى د هر شي لا بآلة البصر والعين فمعناه يعلم كل مبصر، حسين كاشفي ؒ ميګويد يعني حق تعالى در خلق اشياء ودر بعث از قبور بآلات وادوات احتياج ندارد بلكه اسرافيل را ګويد برخيز و بګو برخيز از ګورها بيك دعوت او همه خلائق از ګورها بيرون آيند انتهى، ومثاله في الدنيا ان السلطان عند الرحيل يضرب نقارة الرحيل فيتهأ الكل من الفوج في ساعة واحدة.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

آيا ته وينې (الاستفهام للانكار ونفي النفي اثبات) يعني ته وينې ايها المخاطب چې خداى ﷻ داخلوي ساعات د شپې په ورځ كې (يعني شپه كوتاه كړي او ورځ اوږده كوي لكه په دوبي كې) او داخلوي ساعتونه د ورځې په شپه كې يعني ورځ كوتاه كړي او شپه اوږده كړي لكه په ژمي كې.

كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى

او مسخر يې ګرځولي دي لمر او سپوږمى. (كلّ: التنوين عوض عن المضاف اليه اى كل واحد من النيرين) روان دي په خپل اسمان كې تر يو وخت معين پورې وهو يوم القيامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په تسخير کي يې شمس د مخه کړی تر سپوږمی لان الشمس اعظم جرمها وتسخيرها اعجب من تسخير القمر لصغر جرمه اي القمر بكثير من جرم الشمس كما ثبت في كتب الهيئة.

فائده: وروسته تر قيامت به ضوء د شمس او قمر د له منځه ولاړ سي او دوی دواړه به دوزخ ته وغورځول سي لا للتعذيب بلکې لپاره د درد پر هغو کسانو چې د لمر او سپوږمی عبادت يې کاوه لکه بتان د مشرکانو هم سره ددوی د عابدينو دوزخ ته اچول کبرې لانهم ظنوا في الدنيا ان هؤلاء الاصنام شفعائنا عند الله.

وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝

او په تحقيق خداى ﷻ ستاسي په عملو خبر دى، عطف على الم تر ان يولج.

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ

دغه چې بيان کړل سوه له فراخې څخه د علم د خداى وشمول قدرته وعجائب وصفه "بان" اى بسبب ان چې خداى حق او واجب الوجود دى وثابت جميع كمالاته وصفاته والثابت استحقاقه للعبادة، او هغه شيان چې مشرکان يې عبادت کوي اى الاصنام باطل ددوی چې دعوى الوهيت د هغو کوي.

وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۝

او دا چې خداى ﷻ پورته دى پر هر شي او مسلط دى پر کار من الايجاد والاعدام وسائر امور العباد او صاحب د کبرياء ظاهر دى وكلما كان كذالك يكون علمه وقدرته شاملاً لجميع الاشياء.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ

پوه سه: چې همزه لپاره د استفهام انکاري داخل سو پر حرف نفي او نفي د اثبات دى او، رؤية که بصري وي نو ان مجموع مفعول دى او که رؤيت علمي دي نو ان الفلک يې قائم مقام المفعولين دى، والمعنى آيا ته وينې ايها المخاطب يا ته علم نه لرې چې کښتيانې روانې دي په درياب کي.

فائده: فقير ترجمه د فلک په جمع سره وکړه له دې سببه چې علماء وايي چې لفظ د فلک مشترک دى په منځ کي د مفرد او جمعي فرق د مفرد او د جمعي تقديري دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني كه فلک مفرد وي، نو ضمه د فاء لکه ضمه د قفل ده چې مفرد وي او کله جمع وي نو ضمه يې لکه ضمه د اسد چې جمع د اسد ده، والتمييز بين المفرد والجمع يا په صفت سره کېږي يا په ضمير راجع سره، يعني که يې صفت مذکر وُ نو فلک مفرد دی او که يې صفت مؤنث وُ نو لفظ د فلک جمع دی وهكذا الضمير في التذكير والتانيث، نو په دې آيت کې چونکه صفت يې تجري دی په فعل مؤنث، نو لفظ د فلک جمع دی حيث لم يقل يجري باليًا، فاحفظ هذه الفائدة في لفظ الفلک في جميع القرآن.

پوه سه: چې دا آيت متصل دي بقوله تعالى الم تر ان الله يولج آه.

بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ

په احسان د خدای ﷻ چې دونه ثقيل شی لکه کښتی، چې هم د بر خلګ پکښې ناست دي او هم تجارتي اموال ورسره دی د اوبو پر مخ روانه ده په امان کې غالبًا.

پوه سه: چې دا بل دليل دی پر عظيم قدرت د ايزد متعال وشمول انعامه للمؤمنين والكفرة كما لايخفى "ليركم الله آه" چې په تاسي وويني بعض د قدرت څپل من عجائب البحر في سفركم.

پوه سه: چې په درياب کې قسم قسم حيوانات ليدل کېږي، د مثال په توګه داسي ماهی به هم وليدل سي چې سړی وسر ته ولاړوي لکې به يې نه وينې، او هم دومره ماهی چې تام الخلق هم وي او تقريبًا په ستر ګو نه معلومېږي الى غير ذالک.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝

په تحقيق سره په دې سفر کې د کښتی دلائل د قدرت د ايزد متعال دی هغه چا لره چې کثير الصبر پر مشاق او سختيو د سفر مذکور (نو صيغه د صبار د مبالغې ده) وهكذا صيغة الشكور چې کثير الشكر وي د خدای په امن او عدم الغرق کې، نو عاقل لره لازمه ده چې تفکر په انفس او افاقو کې وکړی او نعمتونه د خدای ﷻ وپېژني او شکر يې ووايي او يا مراد دادی چې د مؤمنانو لپاره دي، كما ورد في الحديث النبوي الصحيح الذي رواه البيهقي في شعب الايمان عن انس ﷺ قال رسول الله ﷺ الايمان نصفان فنصف في الصبر ونصف في الشكر يعني يشكر في السراء ويصبر في الضراء ولا يخلو مؤمن عن احدى هاتين الحالتين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ

چي پټ کړي دغه راکبان د کښتۍ (ضمیر د جمع راجع و راکبینو ته د کښتۍ دی) څپې د دریاب یعني څپې تر دې لوړې سي.

فائده: کلمه ده اذا چي په ده کي معنی د شرط سته متعلق په دعوا الله پوري یعني هغه یې جزاء ده وهذه الجملة معطوف علی تجری في البحر خبر بعد الخبر لان ضمیر هم في غشیهم فاصل بین الاسم و الخبر کذا قال المظهري ؒ وروح المعاني وغیرهما.

كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ

(''کالظلل'' جمع د ظلة ده، قال مقاتل کالجبال، قال الکلبي کالصحاب یعني یو تر بل پرله سي، دا څپې د دریاب لکه سائبانونه پر دوی تیرپږي) نو دوی په ښه اخلاص دعاء کوي و خدای ﷻ ته یعني بتان وغیره نه ورسره شریکوي که څه هم راکبان مشرکان وي، ولي د دوی دایقین دی چي کاشف الضر بیله یزدان متعال بل څوک نسته، او د دوی یعني د مشرکانو له زړو څخه تقلید د آباؤ او د هوا او کبر ووځي لشدة الخوف من الغرق.

فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ

نو هغه وخت چي خدای ﷻ نجات ورکړی دوی ته د غرق او وهیې رسوي مځکي ته یعني خوف زائل سي الی البر په نجاهم پوري متعلق دی او جمله د فلما آه معطوف پر اذا غشیهم ده.

پوه سه: چي ''فمنهم مقتصد'' جواب د فلما دی، ومعنی المقتصد المقیم علی الطریق وهو التوحید وهذا حال المؤمن او متوسط في الکفر لانزجار الجملة یعني د شدة څخه د شرک نرم سوي وي، او بعض مفسرین وایي چي په ورځ د فتح د مکې چي وسوه آمان ورکړی رسول الله ﷺ تولو کافرانو ته د مکې، لکن څلورو کسانو ته یې د هغو په باره کي وویل اقتلوهم ولو متعلقین باستار الکعبة، عکرمه بن جهل و عبد الله بن خطل و مقیس بن سبهة و عبد الله بن سعد بن ابی سرح، عکرمه چي دا واورېدل وتښتېدی د دریاب پر خوا په کښتۍ کي سپور سو، پر کښتۍ ډېر تند باد راوالوتی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو اهل سفينه وويل اخلصوا دينكم يعني خالص و خداى ﷻ ته زارى كوئ، ولي ستاسي خدايان تاسي ته فائده د هيڅ شي نسي رسولاى، نو عكرمه وويل: لئن لم ينجي في البحر الا الاخلاص فما ينجئ في البر ايضًا الا الاخلاص اللهم ان لك علي عهدًا ان انت عافيتنى مما انا فيه اتيت محمدًا حتى اضع يدي على يده، يعنى بيعت د اسلام به ورسره كوم فسكتت الريح فرجع الى مكة فاسلم و حسن اسلامه يعني له نفاق څخه خالي ؤ، دا خو مقتصد وه او بل فريق چي هنوز يعني بعد الخروج من البحر پر خپل شرك مصر وه هغه له وروسته آيتو څخه فهميږي.

دروښ وايي: چي مظهري وايي فمنهم مقتصد جواب د لما نه دى بلكې جواب محذوف دى او دا دليل د جواب دى. تقديره فلما نجاهم الى البر فاختلفوا فمنهم شاكر لنعمة الله وهو المؤمن و منهم كافر مقتصد يعني د غايت سرسختي په كفر كي لږ نرم سو لانرجاء بما رئ.

دروښ وايي: چي قرآن كريم بهله تقديراتو صحيح دى، نو تقديراتو ته څه ضرورت سته او دومره تقدير چي تر مذكور في القرآن هم ډېر طويل دى، او روح المعاني هم د روح البيان رايه خوښه كړې ده او له تقديراتو څخه يې ډډه كړې ده، وقال و الظاهر ان المقابل لقسم المقتصد دل عليه قوله تعالى.

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ﴿٣٢﴾

او انكار نه كوي له آياتو څخه زموږ مگر ختار، مشتق دى له ختر څخه وهو اشد الغدر. "كفور" ډېر ناشكره د نعمت د خداى ﷻ دي (كفور، صفت دى د ختار)

فائده: دا آيت دليل دى د ابن مالك ؒ ومن وافقه چي دخول د فاء په جواب كي د لما روا دى، ومن لم يجوز قال جواب لما محذوف اى فلما نجاهم اقسموا قسمين فمنهم مقتصد ومنهم جاحد، ولعل المظهري ؒ اختار هذا المذهب لكن قد اطال في التقدير فوق الحاجة ولا ينبغي ذالك فافهم هداك الله تعالى، قال عمر بن معد يكرب:... وانك لو رئيت ابا عمير..... ملأ يديك من غد رو ختر

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِيْ وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ

اى خلكو وبېرېږي له خداى ﷻ څخه يعني له عذاب څخه د خداى، او ډېرېږئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له حساب څخه د هغې ورځې چې ورځ د قیامت ده، چې فائده نسي رسولای (لایجزي، صفت د یومًا دی) پلار وزوی ته.

پوه سه: چې د لایجزي سره د عائد محذوف دی لپاره د ربط د موصوف چې یومًا دی والتقدیر فیه، او مراد د والد څخه مؤمن دی او د ولد څخه کافر دی، مثلاً نوح علیه السلام سره د درجې د نبوت فائده کافر زوی کنعان ته نسي رسولای چې دفع د عذاب ورڅخه وکړي او شفاعت یې هم نسي کولای.

وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَالِدِهٖ شَيْـًٔا

او نه زوی یعني چې مؤمن وي (عطف علی والد، هو جاز صفت) د خپل پلار یعني چې کافر وي، لکه ابراهیم علیه السلام چې سره ددې چې خلیل الرحمن ؤ، وه خپل پلار کافر ته چې آذر یې لقب ؤ او تارخ یې نوم ؤ هیڅ فائده نه رسېږي او دفع د عذاب نسي څندي کولای او نه یې هم شفاعت کولای سي.

فائده: په دواړه ځایه کي مولود چې د ولد څخه مراد کافر دی او په بل ځای کي مو وویل چې د والد څخه کافر مراد دی، لان المؤمن ولدًا کان او مولودًا او غیرهما من الاقارب یشفع للمؤمن وان کان في غایة البعد في النسب بل یشفع المؤمن للمؤمن وان اجنبیا عنه بمجرد المعرفة، قال الله تعالی والذین آمنوا واتبعهم ذریتهم بایمان یعني الحقنا بهم ذریتهم چې مؤمنان وي بسبب شفاعتهم ای الذین آمنوا لهم، وقال الله تعالی جنات عدن یدخلونها ای الاولاد المؤمنین الصالحین، ومن صلح ای آمن من آبائهم وازواجهم وذریاتهم.

پوه سه: چې شیئًا یا مفعول مطلق دی ای شیئًا من الاجزاء.

فائده: د مؤمن مولود چې والد قریب ته فائده نه رسېږي چې کافر وي، نو جد وهکذا جد الجد ته په طریق اولی فائده نه رسېږي، وهکذا الوالد چې دده څخه زړه کړي ته چې کافر وي فائده نه رسېږي نو لمسي یا کړوسي څو څو چې کافران دي په طریقه اولی فائده نه رسېږي.

فائده: په دې آیت کي قطع د طمع د مؤمنانو د عصر نبوي علیه السلام ده چې د اکثرو پلرونه پر کفر مړه سوي وه او ددوی دا امید ؤ چې مور به یې شفاعت وکړو او له عذاب الهي څخه به یې خلاص کړو، او په عین حال کي رد دی پر یهودانو چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی به هره ګناه کوله په دې به دلاوره وه چې زموږ اباء و اجداد انبیاء تپر سوي دي حتمًا به زموږ شفاعت کوي ... ع: این خیال است و محال است و جنون.

إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ﴿٣٣﴾

په تحقیق سره د خدای ﷻ وعده حق ده، یعني بالبعث بعد الموت والعقاب والثواب. لایمکن تخلفه، نو تاسي دي نه خطاباسي زینت او جاه وجلال، مال و منال ددې ژوند ناقص چې فاني دی.

پوه سه: چې کلمه د فاء لپاره د سببیت د ماقبل ده یعني ان وعد الله حق مابعد لره یعني لاتغرنکم آه.

وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٣٣﴾

او تاسي نه خطاباسي د خدای ﷻ د حلم په سبب او د امهال په سبب "الغرور" غولونکی چې د اسماؤ څخه د شیطان دی یعني یا درته وایي لابعث ولا نشور یا درته وایي چې خدای غفور او رحیم دی، یا درته وایي چې ستاسي اباء انبیاء وه یا ستاسي اولاد صلحاء وه هغه به ستاسي شفاعت کوي او له عذابه د خدای حسب اعمالکم السیئة والکفر به مو خلاصوي.... مقوله:

ان السفینة لاتجری علی الیبس

کار امروز کن بفردا نگذاری زنهار ..... روز چون یافته کار کن و عذر میار

موعظت در حاصل این آیت:

برد مرد هوشیار دنیا خسی است ..... که هر مدتی جای دیگر کسی است

مه بر جهان دل که بیگانه ایست ..... چو مطرب که هر روز در خانه ایست

نه لائق بود عشق با دلبری ..... که هر با مدادش بود شوهری

مکن تکیه بر ملک وجاه وحشم ..... که پیش از تو بودست وبعد از تو هم

همه تخت ملک پذیرد زوال ..... بجز ملک فرماندهی لایزال

غم وشادمانی نماند ولیک ..... جزای عمل ماند ونام نیک

عروس بود نوبت ماتمت ..... اگر نیک روزی بود خاتمت

خدایا بحق بنی فاطمه ..... که بر قول ایمان کنم خاتمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ابن جرير او ابن حاتم له مجاهد ؒ څخه مرسل روايت (يعني د صحابي نوم يې نه دی ذکر کړی) چې يو سړی راغلی له صحراء نشيانو څخه، چې بغوي ؒ نوم حارث بن عمرو بن الحارث بن محارب بن حصفة بنسوولی دی، نو دې سړي له عليه الصلوة والسلام څخه دا پوښتنې وکړې (۱) عن القيامة ای وقتها؟ (۲) زما ماينه اميدواره ده ته ماته ووايه چې زوی به راوړي او که لور؟ (۳) زمونږ پر وطن باران به نه دي سوي، ته راته ووايه چې کله به اوربښت پر دوی کيږي؟ (۴) ماته خو دا معلومه ده چې په کوم وطن کې زه زوکړی يم، ته راته ووايه چې مرګ به مې په کوم وطن کې وي؟ فانزل الله تعالى هذه الآية.

إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ

په تحقيق په نيز د خدای ؒ دی فقط علم د قيام القيامة، يعني نه ملک مقرب په خبر دی او نه نبي مرسل په خبر دی، او خدای ؒ اوروي باران هر وخت چې يې اراده سوه لا يعلم وقت نزولها الا هو، او خدای ؒ خبر دی چې په رحمو کې د ښځو څه شی دي، نر دی او که ښځه، تام الاعضاء او که بعض اجزاء ناقص دي الى غير ذالک لا يعلمها غيره تعالى.

وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ

او نه دی خبر هيڅ سړی چې سبا به زه څه کسب کوم، او نه دی خبر هيڅ سړی چې په کومه ځمکه کې به زه مرم، وفي الحديث الصحيح الذي رواه ابن عمر ؓ ان رسول الله ﷺ قال چې خزائن د غيب پنځه دي لا يعلمها الى الله (۱) لا يعلم احد مايكون في غد الا الله (چې سبا ورځ به څه پېښيږي بيله خدايه (۲) لا يعلم ما في الارحام الا الله (کما مر بيانه عنقريب.

(۳) لا يعلم احد متى تقوم الساعة الا الله (۴) ولا تدري نفس بأی ارض تموت الا الله (۵) لا يعلم احد متى يجيئ المطر الا الله، رواه احمد والبخاري.

ابن ابی شيبه ؒ په خپل کتاب کې روايت کړی دی له خيثمه ؒ څخه چې يوه ورځ ملک الموت يعني عزرائيل ؑ د سليمان ؑ مجلس ته راغلی، نو ده د سليمان ؑ په مجلس کې يوه سړي ته دوه دري واړه وکتل، نو ملک الملک چې ولاړی هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړي سلیمان علیه السلام ته وویل چې دا څوک وُ چې ماته یې دوه درې واره وکتل؟ سلیمان علیه السلام ورته وویل چې دا ملک الموت وُ، دې سړي ورته وویل چې زما خیال دی چې دی زما د قبض روح لپاره راغلی وُ، ته باد ته امر وکړه چې ما له شام څخه یوسي په هندوستان کې مي ایله کړي، نو سلیمان علیه السلام دغسي وکړه، ملک الموت چې بیا د سلیمان علیه السلام مجلس ته راغلی، نو سلیمان علیه السلام پوښتنه ځندي وکړه چې ته ولي هغه سړي ته تېز تېز کتل؟ عزرائیل علیه السلام ورته وویل چې ما ده ته د تعجب له لاري کتل، له دې سببه چې پر ما امر الهي سوی وُ چې د دې سړي روح په هند کې قبض کړه او دی ستا په مجلس کې په شام کې ناست وُ، والله اعلم کذا في المظهري.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿٣٤﴾

یعني پرتولو شیانو کامل علم لري او په بواطنو د امورو داسي خبر دی لکه په ظواهرو د هغو.

حکایت: منصور چې د مسلمانانو خلیفه وُ، یوه شپه یې عزرائیل علیه السلام په خوب لیدی، ده ورته وویل چې زما عمر څونده پاته دی؟ عزرائیل علیه السلام په پنځو ګوتو اشاره ورته وکړه، نو سهار ده معبران د خوبو راجمعه کړه چې په هغو کې سراج الامة ابو حنیفه رحمه الله هم وُ، چا ورته وویل چې پنځه کاله اشاره ده چا ورته وویل چې د پنځو میاشتو اشاره ده چا ورته وویل چې د پنځو ورځو اشاره ده، به هر حال د منصور رنګ ژړ سو او وار خطا سو، نو د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه یې پوښتنه وکړه، ده ورته وویل چې عزرائیل علیه السلام چې تاته په ګوتو اشاره وکړه غرض یې دا وُ چې دا مدة العمر په پنځو غیبو شیانو کې دی چې لایعلمها الا الله، نو د منصور رنګ پرځای سو، او د امام اعظم فوق العادة احترام یې وکړی.

دروښ وایي: چې بحمد لله وحسن توفیقه تفسیر د سورة لقمان پر پنځه نیمي بجې د پنجشنبې د ورځې د جمادی الاخیر تخمیناً پر (۲۵) نېټه سنه (۱۴۳۱ هـ) پای ته ورسېدی، فاقول الحمد لله والمنة والصلوة والسلام علی سید البریة وعلی آله وصحبه الکملة البررة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقیر وایي: دا تفسیر که خدای ﷻ پوره کړی زما د عمر به سرمایه وي
او د آخرت به مي توښه وي
بل ارمان د عبید په زړه کي نسته
چي تفسیر یې خدای ﷻ پوره کړي
مرګ یقین دی چي راځي که یې څه وخت معلوم نه دی
خدای ﷻ قادر دی چي تفسیر تر مرګ دمخه را پوره کړي
نور نعمتونه مناسب زما د حال یې دي راکړي
ما ذلیل ته ذوالجلال
د تفسیر پوره کېده به د فقیر د سر شال وي
که دا شال پر سر را واچاوه ایزد متعال
زما د مرګ ماتم به لوی اختر وي
که تفسیر پوره زه ووینم راهي سم
زما په مرګ دي هیڅ څوک شور او ماتم نه کړي
په تمامه معنی ژوندی یم چي تفسیر خدای ﷻ را پورته کړي

التجاء:

الٰهی یا الٰهی یا الٰهی ..... ندارم جز امیدت تکیه گاهی
زکن موجود کردی جمله عالم ..... مرا از ذنب خود عذر خواهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی
ندارمت توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و آه آهی
شفیع آورده روی محمد ..... کرم کن بر من گم کرده راهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

تاريخ شروع تفسير سورة السجدة ٢٥ جمادي الثاني روز جمعه ساعت لس بجي (١٤٣١ هـ)

و ايضًا تسمى هذه سورة المضاجع كما في تفسير الاتقان.

يوه سه: چي اجماع د مفسرينو متفق دي پر مكيت د دې سورت تر اخيره پورې، روى عن ابن عباس رضي الله عنهما انها مكية، وايضًا روى بسند صحيح عن عبد الله بن الزبير رضي الله عنه انها مكية بتمامها، وروى النحاس عن جبر الامة رضي الله عنه ان سورة السجدة نزلت بمكة سوى ثلاث آيات، افمن كان مؤمنًا الى اخير ثلث آيات فانهما نزلت بالمدينة، والله اعلم.

الٓمّٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢﴾

قد سبق تحقيق الايات المقطعة القرآنية في اول سورة البقرة، والصواب في تفسيرها الله اعلم بمراده بذالک كما ذهب اليه امام الامة ابو حنيفة رحمه الله.

يوه سه: چې مفسرين دې آيت "تنزيل آه" په اعراب كې قسم قسم بيان كړى دى، والاوجه الانسب بما بعده داده چې تنزيل الكتاب مبتداء ده، ومعناه بالفارسية فرو فرستادن قرآن بتدريج، كما هو معنى التنزيل من باب التفعيل او لاريب فيه، حال من الكتاب اى حال كونه لاشک فيه عند اهل الانصاف، والنظر الدقيق اى لا المعاندين والمتكبرين والمقلدين للآباء كاهل مكة، من رب العالمين خبر المبتداء المذكور لان العلماء قالوا ان محط الفائدة في الجملة الاسمية هو الخبر وهو كونه من رب العالمين لان كفار مكة انكروا ذالک كما يدل عليه ما بعده.

دروښ وايي: چې دليل دې چې قرآن مجيد من عند رب العالمين دى دادى كه قرآن كلام البشر واى يعني محمد ﷺ كما قال كفار مكة لأتوا بمثله بل بمثل عشر سور مفتريات بل بمثل سورة منه، كريمه: لو كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بمثل سورة من مثله، وقد عجز بلغاء عدنان وفصحاء قحطان عن الاتيان بمثله بل عن الاتيان بما يدانيه.

دروښ وايي: چې قرآن مجيد معجزه پاتې ده كر الازمان وصر الدهور،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰهُ

پوه سه: چې ام منقطعه دی په معنی د بل، کلمه د بل لپاره د انتقال ده له مضمون څخه د جمله اولی چې پر حقیقت د قرآن مبارک یې دلالت کاوه و بلې جملې ته او همزه لپاره د انکار دی پر کولو د دې وروسته خبرې، نه پر وقوع ددې خبرې، ولې دوی خو دا خبره کوله یعنې دوی خو وایي چې محمد ﷺ دا قرآن له ځانه جوړوي او پر خدای درواغ وایي نعوذ بالله من هذا القول القبيح المتين، فهذا القول منكر متعجب منه لغاية ظهور بطلانه.

بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ

کلمه د بل لپاره د اضراب ده ددوی د قول څخه، والمعنی داغسي نه دی لکه دوی چې وایي بلکې قرآن حق دی منزل له جانبه څخه د خدای ﷻ دی کما یدعیه محمد ﷺ انظر ایها المخاطب و لطف او بلاغت ته د قرآن کریم، اولاً خدای پاک اشاره وکړه واعجاز ته د قرآن کریم بقوله، الم کما بینه القاضي بیضاوي بکلام طویل لایناسب نقله بحال المتعلمین للتفسیر الایوبي، ثم رتب علیه ان تنزیله من رب العالمین، وروسته یې ددې خبرې تائید وکړی بنفي الریب عنه، وروسته یې اضراب او انتقال وکړی د مشرکانو وه خبرو ته علی خلاف ذالک انکارًا له وتعجبًا منه، ولې دمخه تېره سوه چې ام منقطعه دی په معنی د بل آه دی والهمزة للانکار ثم انتقل بقوله بل هو الحق آه وبین حکمة تنزیله بقوله کذا قال البیضاوي ﷻ ونقله المظهري ﷻ.

لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝

چې ته وبېروې یعنې په قرآن سره هغه قوم چې دوی ته نه ؤ راغلی یو بېرونکی (کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده) تر تا دمخه چې مراد ځندې کفار د قریشو دي، لعل په معنی د لام کی دی ای لکی یهتدون بانذارک ایاهم.

پوه سه: چې کفار د قریشو له زمانې څخه د فترت دي بین عیسی و محمد علیهما السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي جمله د ما آتاهم صفت دی د قومًا، وفي الحديث الصحيح ليس بيني وبينه (ای عیسی) نبي.

سوال: اسماعیل علیه السلام خو نبي ؤ او په قوم د عربو ؤ؟

ځواب: اسماعیل علیه السلام نبي ؤ د مخه تر عیسی ۴ او نبوت دده په موت دده ختم سو.

پوه سه: چي مقصود له بعث څخه د انبیاء علیهم السلام بیان طریق الحق و کل یهتدي بقدر استعداده وبعض الناس لایکون فیهم استعداد قبول الحق بلکي استعداد فطري یې هم په سبب د اصرار پر کفر د لاسه ورکړي وي... بیت:

توان پاک کردن ز زنگ آینه .... ولیکن نیاید ز سنگ آینه

حکایت: راوي وایي چي شیخ نجم الدین الاصفهاني قدس سره د یوې جنازې سره تللی ؤ یعني من صالحي اهل مکة کان المیت، نو میت یې دفن کړی یو عالم یې و قبر ته کښېنستی تلقین یې میت ته کاوه یعني داسي یې ورته وویل چي که نکیر ونکر ملکي درته راغلې او تاته یې وویل من ربک ومن نبیک وما دینک (لکه د هر مړي څخه چي دا سوال کېږي) ته ورته ووایه ربي الله ونبي محمد ﷺ ودیني الاسلام، شیخ نجم الدین رح کرار وخندل او دده عادت دا ؤ چي هیڅ کله به یې نه خندل، نو بعضې شاګردانو یا مریدانو له ده څخه د ضحک سبب وپوښتی، شیخ رح زجر او خشکه ورته وکړه، وروسته چي له جنازې څخه فارغ سو خپل ځای ته راغلی بیا بعض اصحابو له ده څخه پوښتنه د سبب د ضحک وکړه، ده ورته وویل چي ما پر دې وخندل چي ملقن چي قبر ته کښېنستی او تلقین یې شروع کړی صاحب القبر وویل: الا تعجبون من میت یلقن حیًا، صائب اصفهاني رح وایي:

زبی دردان علاج درد خود جستن بدان ماند
که خار از پا برون ارد کسی بانیش گژدمها

وقال العارف الجامي قدس سره

بناخلفان زمانه غره شو هرگز .... مرو چو سامری از ره ببانگ گوساله

دروېش وایي: چي مراد د جامي رح د ناخلفانو د زمانې تېر ن پیران دي دوخت چي لافي د بزرګۍ ومریدانو ته وهي، دی وایي چي ددوی په لافو مه غولېږئ لکه سامري د موسیٰ ۴ د زمانې چي د لاري د حق چي دین د موسیٰ رح ؤ د ګیلکي چي ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جوړ کړی ؤ په اواز پسي روان وه، ددې بیت معنی داده چې جامي ؒ شکایت د
ټکانو پیرانو څخه کوي فافهم.. وقال الحافظ قدس سره:

درراه عشق وسوسه اهرمن بست ..... هش دار وگوش دل به پیام سروش کن

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ

لفظ الله مبتداء ده جمله یې خبر ده، خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چې پیدا
کړي یې دي اسمانونه یعني سره د مافیها من الکواکب والشمس والقمر
والملائکة والارض او مځکه یعني سره د ما علیها من الانس والجن والحیوانات
والنباتات ومافیها من الکنوز في جبالها والخزائن والدفائن وغیرها "وما
بینهما" من الریاح والسحاب وغیرها، په شپږو ورځو کي چې اوله ورځ یې یکشنبه
وه او اخیره ورځ یې جمعه وه.

ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ؕ

بیا یې غلبه وکړه پرپیدا ایښت د عرش چې اعظم د مخلوقاتو دی، دا تفسیر د
متأخرینو دی، والمتقدمون یقولون هذا الآیة من المتشابهات ویقولون استواء
یلیق به وقد مر تفسیر استوائه علی العرش في سورة یونس وسورة الفرقان.

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝

نسته تاسي لره ماسوا اله خدای ﷻ څخه یو ولي، کلمه د من لپاره د استغراق د
نفي ده یعني چې تاسي تر مرضات د خدای ﷻ تپر سئ، نو بیا تاسي لره کومک
کونکی نسته په هغه ځایو کي چې تاسي و نصرت ته محتاج یاست، او د شفیع
معنی د ناصر ده مجازًا.

پوه سه: چې جمله مالکم یا استینافیه ده یا حال ده له فاعل څخه د استوٰی.

"افلا تتذکرون" آیا تاسي فکر نه وهئ او عبرت نه اخلئ چې ایمان بالتوحید
راوړئ.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی پر عدم تذکر او فاء عطف ده مقدر کما هو
القانون في الحروف الواقعة بعد همز الاستفهام وقد مر مرارًا هذا القانون في هذا
التفسیر والتقدیر ههنا الا تتفکرون فلا تتذکرون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ

تدبیر د امورو د دنیا کوئ، دا جمله یا مستأنفه ده یا حال ده له فاعل څخه د استولی یا خبر بعد الخبر ده له لفظ الله څخه في قوله الله الذي آه "من السماء" یعني په امور سماویه سره لکه ملائکه او بارانونه چي د اسمان له خوا راځي، او دا توهم مه کوه چي خدای ﷻ په اسمانو کي دی او تدبیر د دنیا کوي، ولي چي خدای لره مکان محال دی، کما ثبت في کتب العقائد بالدلائل.

پوه سه: چي اصل تدبیر فکر وهل دي په اخیر د کار چي اخیر او عاقبت ددې کار به څه وي، که بفارسی میگوید (اندیشه کردن درعاقبت کار) او نسبت و خدای ﷻ ته معنی یې تقدیر او تهیه د اسبابو ده، او خدای پاک لره مدبرات سماویه سته، کریمه: فالمدبرات امرًا، فجبرئیل[۴] مقرر دی بنزول الوحي الی الانبیاء[۴] وایضًا بالریاح والجنود (لښکرو) ومیکائیل[۴] پر بارانو او پر نباتاتو وغیرها، وملک الموت علی قبض الارواح، او اسرافیل[۴] دوی ته امور د خدای ﷻ له خوا راوړي.

پوه سه: چي عروج لوړ تګ ته وایي او ضمیر د الیه راجع و خدای ﷻ ته دی نه په دې معنی چي خدای ﷻ په اسمان کي دی لانه محال بلکې په معنی ددې چي امر په علم کي د خدای ﷻ مثبت کړئ موجود بالفعل یعني کما انه علم تعالی ذالک الامر في الازل چي په فلاني وخت کي وجود بالفعل ته راوځي، فالعروج الیه تعالی حکمي باعتبار الرتبة. حسین کاشفي ؒ وایي: میسازد کار دنیا را یعنی حکم میکند بدان ومیفرستد ملکی را که موکلست بدان امر از آسمان بسوی زمین پس ملک می آید وآن کار را بجای میبارد، پس ملک عروج میکند بسوی آسمان.

فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ۝

درروزی که هست اندازه او هزار سال از آنچه شمار میکنید سالی را دوازده ماه وماهی را سی روز یعنی فرشته فرود می آید از اسمان وبالا میرود درمدتی که اگر آدمی رود وآید، جز هزار سال میسر نشود زیراکه از آسمان تا زمین پانصد ساله راه هست بسیر آدمی پس مقدار نزول وعروج هزار سال بود.

فائده: مراد له یوم څخه پر دې تقدیر مطلق وخت دی لا الیوم المتعارف لان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نزول الملائكة وصعودها غير مختص باليوم المتعارف (يعني ورځ) لكن الله تعالى بكمال قدرته قد جعل نزول الملك وعروجه في طرفة عين، او روح المعاني ددې آيت في يوم كان الخ تفسير داسي كړی ای في برهة (په يوه برخه کي) متطاولة من الزمان او دی وايي فليس المراد حقيقة العدد (يعني زر كاله) بيا روح المعاني ددې سوال په ځواب کي چې د مدة متطاولة څخه تعبير په الف سنه سره ولی وکړی، جواب يې داسي ورکړی دی لانها (يعني مدة زركاله) منتهی د مراتب د عدد ده يعني څوک چې حساب کوي تر زرو چې ورسېږي بيا داسي وايي يو زر دوه زره درې څم وڅم چې بيا زر ته ورسېږي، وايي، دوه زره څم وڅم.

پوښتنه: په سورة المعارج کي داسي راغلي دي (تعرج الملائكة والروح اليه في يوم كان مقداره خمسين الف سنة) نو ددې دوو آيتو ترمنځ به توافق څرنګه کوو؟

ځواب: بغوي رحمه الله وايي چې په اول آيت کي مراد عروج دی د ملکو من السماء الى الارض ونزولها، او په مذکوره آيت کي بيان مدت د مسافة من الارض الى سدرة المنتهٰى چې هغه ځای دی د جبرئيل عليه السلام او دده سره ورسره ملکو دی، نو معنی د مذکوره آيت داده چې جبرئيل ومن معه من في مقامه يعني سدرة المنتهٰى چې مسافت يې د پنځو زرو کلو دی يعني په سير د بشر او انسان لکن جبرئيل عليه السلام دا مسافت قطع کوي په يوه ورځ کي د ايام يعني برهة قليلة من الزمان، وهذا كله قول مجاهد او الضحاك رحمه الله انتهى قول البغوي رحمه الله.

دروېش وايي: چې د معراج په شپه چې جبرئيل عليه السلام د عليه الصلوة والسلام سره تر سدرة المنتهٰى پورې ورسېدی، نو جبرئيل عليه السلام و آنحضرت صلى الله عليه وسلم ته عذر وکړی چې زه تر دې ځايه لورې طاقت د پرواز نه لرم، چې شيخ سعدي رحمه الله دا موضوع داسي بيان کړې ده:

چنان گرم در تيه قربت براند .... که در سدره جبرئيل از و باز ماند
بدو گفت سالار بيت الحرام .... که ای حامل وحی بر تر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند .... بماندم که نيروی بالم نماند
اگر يک موی برتر پرم .... فروغ تجلی بسوزد پرم

دا د قدرت الهي او شرافت نبوي حال دی چې ملکه مقربه له تګ او پرواز څخه عاجزه سوه او آدم زاد سيد نوع البشر صلى الله عليه وسلم په پنځوس زره د نور په حجابو کي پورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړی، د جامي ؒ د معراج د شپې یو بیت واوریئ:

شد از سبو حیان گردون صدأده .... که سبحان الذی اسری بعبده

فائده: د بغوي ؒ پر توجیه د خمسین الف سنة ضمیر د الیه راجع دی و مکان ته د ملکي یعني جبرئیل ؑ یعني المکان الذی امره الله تعالی ان یسرح الیه.

دروښې وایي: چې روح البیان توجیه د الف سنة او د خمسین الف سنة لکه بغوي ؒ کړې ده، ده هم بیان کړې ده، وروسته یې ویلي دي یقول الفقیر قد اختلف العلماء في تفسیر هذه الآیة علی وجوه شتّی وسکت بعضهم تفویضًا لعلمها الی الله تعالی حیث ان في کل ما ذکروا فیها ای في تفسیرها نوعًا من الجرح ویشعر بشیئ من القصور فالتفویض الیه تعالي اسلم من جمیع ما ذکروه انتهی بعبارته.

او مظهري ؒ او روح المعاني ددې دوو آیتو په تفسیر کي ډېر طویل طویل بیانونه کړي دي لاینا سب نقلها لمتعلمي التفسیر الایوبي، فتدبر.

تنبیه لتائید قول روح البیان: اخرج عبدالرزاق وسعید بن المنصور وابن المنذر وابن ابی حاتم وابن الانباري في المصاحف والحاکم وصححه عن عبدالله بن ابی ملیکة، قال دخلت علی ابن عباس ؓ انا وعبدالله بن فیروز مولی عثمان بن عفان ؓ، نو عبدالله بن فیروز له ابن عباس ؓ څخه پوښتنه وکړه ددې قول د خدای یدبر الامر من السماء الی الارض ثم یعرج الیه في یوم کان مقداره الف سنة ابن عباس ؓ ورته وویل چې ما یوم مقداره خمسین الف سنة یعني چې دا آیت به څه په کوې چې پنځوس زره کاله پکښې ذکر سوي دي، هغه سړي ورته وویل چې ته به تفسیر د دوارو راته وکړې، فقال عثمان ابن عفان ؓ دا دوې ورځي دي چې خدای پاک په خپل کتاب ذکر کړي دي الله تعالی اعلم بها واکره او زه مکروه بولم ان اقول في کتاب الله تعالی ما لا اعلم انتهی.

دروښې وایي: چې ددې حدیث مفاد دادی چې تفویض د علم ددې دوو ورځو و خدای تعالی وکړل سي بهتره ده، ولي زه علم نه پرلرم، راوي وایي چې بیا موږ عبدالله بن المسیب ته ورغلو، نو د هغه څخه اتفاقًا یوه سړي پوښتنه وکړه ددې دوو ورځو په باره کي ابن المسیب هیڅ نه ورته وویل، راوي وایي چې ما ابن المسیب ته قول د ابن عباس ؓ بیان کړی، فقال ابن المسیب هذا ابن عباس ؓ چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منع يې وکړه له بيان څخه ددې دوو ورځو وهو اعلم مني، نو زه به څه بيان درته وکړم انتهى، والحاصل ان حبر الامة سيد المفسرين ابن عباس ؓ ددې دوو ورځو له تفسير څخه ډډه وکړه او تفويض د علم يې و خداى ﷻ ته وکړى او ابن المسيب هم د ابن عباس ؓ رايه اختيار کړه، نو دا معلومه سوه چې تفويض د علم الى الله اسلم وجوه البيان لهذين الآيتين فافهم.

والفقير بعد بيان ماقالوا في تفسير اليومين المذكورين يختار طريق التفويض الى الله ﷻ.... مصرع: وللناس فيما يعشقون مذهب.

ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٦

دغه مدبر د اسمانو او د مځکې ومابينهما دا مبتداء ده خبره (عالم الغيب) چې خبر دى په پټو شيانو يعنې له خلګو څخه والا فلا غيب عن الله ﷻ، (والشهادة) چې حاضر وي و خلګو ته فيدبر الامور كلها على حسب حكمته (العزيز) چې غالب دى يعنې چې مانع د ارادې دده څوک نسي کېداى (الرحيم) مهربان دى پر بنده ګانو په تدبير کې خپل تفضلاً واحسانًا حتى پر مؤمنانو او کافرانو په دنياوي تدبير کې .... بيت:

اى کـــريـمى كه از خـزانه .... گبر وترسا وظيفه خور دارى
دوستان را كجا كنى محروم .... تـو كه با دشمنان نـظر دارى

فائده: دا دوه لفظه يا صفتان دي د عالم الغيب والشهادة يا خبر ثان او ثالث لذالک.

ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ كُلَّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ

پوه سه: چې موصول سره د صله يا صفت دى بعد الصفتين المذكورتين يا خبر رابع دى يعنې چې ښه يې ورکړى دى هر شى چې خداى ﷻ پيدا کړي دي.

پوه سه: چې خلقه پر صيغه د ماضي صفت دى د شيئ، والمعنى بالفارسية نيكو كرد هر چيزى را كه بيافريد، يعنى بيار است بروجه نيكو بمقتضاى حكمت، او په پښتو يې معنى داده چې هر شى چې خداى ﷻ پيدا کړى دى و هغه ته يې ښه صورت ورکړى دى موافق دده د بنيه سره، مثلاً د بهائمو او د مراغانو پښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوږدې دي او غاړې يې هم اوږدې دي تاچې دوی ته مشکل نسي پيدا د خپل قوت او غزاء په باره کې وکذالک کل عضو من اعضاء الانسان مقدر لما يصلح له معاشه که څه هم متفاوت دي اشکال د بهائمو او مرغانو او انسانانو په حسن او خلقت کې کما قال الله تعالى: لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝، ولي انسان که هر څو بدرنګه وي لکن خپل صورت په صورت د خره يا بيزو نه بدلوي... شعر:

کـرد آنچـه درجـهان شايد .... کـرده آنچنانکه می آيد
ازتـو رونـق گرفت کارهـمه .... که توئی آفـريد گارهمه
نقش دنيا بلوح خاک ازتست .... دل دانا وجان پاک ازتست

درويش وايي: چې مخاطب په دې ابياتو کې خداى ﷻ دى، فافهم.

وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ۝

او شروع کړې ده د خلق د انسان (والمراد به ابو البشر آدم عليه السلام) له خټو څخه.

ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۝

وروسته يې کړ ځولى دى نسل او اولاد دده (من سلالة) اى نطفة، له اوبو ضعيفو څخه چې په پښتو يې منې بولي.

فائده: نطفې ته سلاله وايي له دې سببه چې له انسانه را بهيږي.

ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ

بيا يې برابر کړى انسان مذکور دى چې اعضاء يې ورکړه على ماينبغي، بيا يې داخل کړى په انسان مذکور کې.

پوه سه: چې ضمير د روحه يا راجع انسان ته دى او يا راجع دى الذى احسن آه ته يعنې خداى ﷻ ځندې مراد ؤ واضافة الروح اليه تعالى تشريف المضاف كما يقال للكعبة المباركة بيت الله.

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ

او پيدا کړې دي خداى ﷻ (التفات من الغيبت الى الخطاب) ستاسې د نفع لپاره (فاللام للفائد) اوربدل، او سترګې او زړونه، جمع د فؤاد ده، چې تاسې په سمع شى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واورئ او په ستر کو شی وويني او په زړو تاسي ادراک د شي وکړئ، وهذا دليل باهر على عظيم قدرته تعالى حيث كان الانسان نطفة بغير سمع وبصرة وتعقل.

تنبيه: فقير په ترجمه کي د آيت داسي وويل چي ثم سواه ای الانسان المذکور بيا د نفخ فيه په ترجمه کي هم وويل ای الانسان المذکور په دې دواړه ځايه د فقير د انسان مذکور څخه آدم عليه السلام ؤ يعني دواړه ځايه يې ضمير و آدم عليه السلام ته راجع کړی، لکن څرنګه چي د آدم ذکر بعيد دی او وروسته دا عبارت هم راغلی دی ثم جعل نسله آه واقع سو، نو اولی داده چي ضمير د سواه و نفخ فيه و نسل ته راجع سي، نو د آيت معنی داسي ده ثم سواه ای نسل د آدم يعني في رحم امه يعني د مور په رحم کي يې اعضاء وربرابر کړه من العظام وغير تلک العظام ثم نفخ فيه يعني د مور په رحم کي روح پکښې داخل کړی چي ژوندی انسان وګرځېدی، نو پر دې تقدير د من روحه ضمير راجع دی و انسان ته في رحم امه، او يا راجع دی و الذي احسن ته آه، کمامر او پر دې تقدير هم اضافت لپاره د تشريف د مضاف د هذا تقرير هذا المقام بعونه تعالى والله اعلم.

پوښتنه: د سمع لفظ يې مفرد راوړی، اود ابصار لفظ يې جمع راوړی، والافئدة ايضًا فرق يې څه دی؟

ځواب: لفظ د سمع مصدر دی په معنی د قوة سامعه يا عضو مخصوص (يعني غوږ) نه دی راغلی او په مصدر کي مفرد، تثنيه او جمع برابر دي، اود بصر لفظ که څه هم مصدر دی (يعني په معنی د ليدلو) لکن ډېر استعمال يې په قوة سامعه کي دی، نو ځکه يې جمع راوړی، او فؤاد خو زړه ته وايي هغه عضو مخصوص دی نو ځکه هغه يې جمع راوړی فتدبر.

قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ۝

پوه سه: چي ما زائد دی لپاره د تاکيد د قلت دی او قليلاً يا مفعول مطلق دی ای شكرًا قليلاً يا ظرف زمان دی ای زمانًا قليلاً تشكرون، يعنی شکر د معطي د دغو جليلو ؤ واياست يعني فتوحدونه وتعبدونه.

فائده: روح المعاني او روح البيان وايي چي قلت په معنی د عدم دی والمخاطب بهذه الآية الكفار وهو بيان لكفرهم بتلك النعم وربها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوٓا۟ ءَإِذَا ضَلَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ ءَإِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ۚ

(وقالوا) اى المشركين المنكرين للبعث بعد الموت وفيه التفات من الخطاب، في قوله قليلاً ماتشكرون الى الغيبة.

دروښ وايي: چې والالتفات مطلقًا من محاسن اللسان العربي وله ستة اقسام متبينة مع الامثلة في علم البيان.

"أاذا ضللنا في الارض" آيا چې موږ ورک سوو په مځکه کې اى بعد الدفن فيها او زموږ غوښې او هډوکي په مرور د زمانې خاوري سي او په نورو خاورو د مځکې ګډې سي، اى نبعث ونجدد خلقًا، قائل ددې قول که څه هم ابى بن خلف ولكن اسناد يې ټولو ته وکړى لرضائهم بذالک القول نحو بنوا فلان قتلوا والقاتل واحد منهم، والاستفهام لانكار البعث بعد الموت.

بَلْ هُم بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٠﴾

اى بما بعد الموت من الجزاء كافران دي، نو مراد له لقاء څخه ټوله امور د آخرت دي نه لقاء بالمعنى المتعارف.

فائده: اضراب په بل سره لپاره د مبالغې دى يعني يوازې دوى د بعث بعد الموت څخه نه دى منكر بلكې د ټولو امورو څخه د آخرت من دخول الجنة او النار او منكر دي.

قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ

ووايه دوى ته (يامحمد ﷺ) چې ستاسي روحان كامل اخلي بحيث لايبقى منهما شيئ او يا معنى داده چې ستاسي د ټولو روحان به قبض كوي عزرائيل ؑ، بغوي ؒ له عكرمه ؒ څخه روايت كړى دى، عن ابن عباس ؓ قال قال رسول الله ﷺ الامراض والاوجاع كلها بريد الموت ورسوله عطف تفسير دى (اى قاصده) فاذا جان الاجل (چې وخت ورسيږي د اجل اتى ملك الموت، نو ملك الموت وبنده ته وايي چې اى بنده څونه ډير خبر بعد الخبر او رسول بعد الرسول راغله، او تا عبرت نه اخستى او نه دي ما بعد البعث تيارى نيوله او شيطان دي په زړه طول الامل راسخ كړى، اوعزرائيل ؑ ورته ووايي: انا خبر ليس بعدى خبر وانا الرسول ليس بعدى رسول اجب ابک طائعًا او مكرهًا يعني كه په خوښه وي او كه په زوره..... مثنوي:

بس رجال از نقل عالم شادمان ..... وزبقايش شادمان اين كودكان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاذا اقبض روحه، نو قربان بغاري کړي، عزرائيل ؑ ورته ووايي چې پر چا ژاړئ والله ما ظلمت له اجلاً (يعني چې تر اجل مسمّى دمخه ما دده روح نه دی قبض کړی) ولا اكلت له رزقًا (نه ما خورلی دی دده رزق بلکې رزق موعود يې ختم سو) بل دعاء ربه (خدای ﷻ وغوښتی) فليبك الباكي على نفسه (هر څوک چې ژاړي پر خپل ځان دي ژاړي) فوالله لي عودات وعودات حتى لا ابقى فيكم احدًا (قسم په خدای ﷻ دي چې زه يا راځم يا راځم تر هغه وخته پورې چې يو ستاسي به ژوندي نه پرېږدم)

پوه سه: چې ملک جسم لطيف دی نوراني يتشكل باشكال مختلفة، وفي الصحاح توفى هـ الله ای قبض روحه والوفات الموت.

الَّذِيْ وُكِّلَ بِكُمْ

چې مقرر دی د خدای ﷻ له خوا څخه پر تاسي باندې يعني پر قبض د روحانو.

فائده: ملک الموت لايعلم بوقت وفات احد مالم يؤمر به، روايت کړی دی ابن الدنيا له ابن جريج څخه بلغنا انه يقال (ای من جانب الله) لملک الموت اقبض فلانًا في وقت كذا في يوم كذا، وروى احمد وابن ابی الدنيا عن معمر بلغنا ان ملک الموت لايعلم متى يحضر اجل الانسان حتى يؤمر بقبض روحه.

ترجمه: هغه ملک الموت چې ګمارل سوی دی له جانبه د خدای ﷻ په قبض سره د ارواحو ستاسي، وله اعوان من الملائكة.

فائده: ملک الموت يظهر للمؤمن باحسن صورة وللكافر باقبح صورة تفسير مظهري ؒ وايي اخرج ابن ابی الدنيا عن ابن مسعود وابن عباس ؓ.

دروښ وايي: چې ابن ابی الدنيا او د ابن مسعود او ابن عباس ؓ تر منځ ډېرې واسطې سته چې مظهري نه دي ذکر کړي، نو فقير يې د صحت ضمانت نه کولای والله اعلم، مظهري ؒ وايي په روايت د ابن مسعود او د ابن عباس ؓ چې ابراهيم ؑ ته خدای پاک د خليل الله منصب ورکړی، نو ملک الموت دا سوال له خدای ﷻ څخه وکړی چې ماته اجازه راکړه چې ابراهيم ته زېرې د منصب د خليليت ورسوم او خدای پاک اجازه هم ورکړه، نو ملک الموت ابراهيم ته راغلی او زېرې يې پر وکړی فقال ابراهيم الحمدلله بيا ابراهيم ؑ ملک الموت ته وويل چې ته په ما ووينه چې ته څرنګه قبض کوې روحان د کافرانو، ملک الموت ورته وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاتطيق رؤية ذالک يعني ته يې طاقت د ليدلو نه لرې، ابراهيم ؑ ورته وويل طاقت يې لرم، نو ملک الملک ورته وويل چې مخ يوې خواته واړوه، وروسته چې ابراهيم ؑ وکتل يو تور سړی ولاړ دی چې سر يې تر اسمانه رسېږي او تر خوله يې لمبې د اور راوځي او هر وېښته پر بدن دده په صورت د سړي دی چې د هغو تر خوله هم لمبې د اور وځي، نو ابراهيم ؑ چې دا سانحه وليدل بېهوشه سو، ثم افاق ملک الموت يې په صورت اولی کې وليدی، نو ابراهيم ؑ ملک الموت ته وويل يا ملک الموت لو لم يلق الکافر من البلاء والحزن غير صورتک لکفاه يعني دا صورت ليدل دده د عذاب لپاره کافي دی، بيا ابراهيم ؑ ورته وويل کيف تقبض ارواح المؤمنين؟ ملک الموت ورته وويل چې ته يوه خواته مخ واړوه، ابراهيم ؑ چې مخ واړاوه که ګوري يو سړی يې وليدی بنه ځوان احسن الناس وجهًا واطيبهم ريحًا في ثياب بيض، نو ابراهيم ؑ عزرائيل ملک الموت ته وويل لو لم ير المؤمن عند الموت من قرة عين والکرامة الا صورتک هذه يکفيه انتهى رواية المظهري.

دروېش وايي: چې ما ډېر تلاش وکړی په هيڅ تفسير کې مې دا قصه په مذکوره الفاظو ونه ليدل فالله اعلم، وقصاری مابينه المفسرون في قبض روح المؤمن يکون ملک الموت باحسن صورة وفي قبض روح الکافر باقبح صورة وانتنها وهذا لقدر صحيح نقله جمع کثير من المفسرين ؒ، حسين کاشفي ؒ وايي عجب از آدمی که باوجود چنين حريفی (يعني عزرائيل ؑ) در کمين چگونه لاف آسايش تواند زد .... بيت:

آسودگی مجوی که از صد است اجل .... کس زن انداده اند برات سلمی

يک لحظه صورت نه بندد امان .... چو پيمانه پرشد بدور زمان

يعني چې د عمر پيمانه ډکه او اجل ورسېږي، بعض علماء وايي چې غفلت د زړو د خلګو نه وايي، خدای ج به نه وای حواله کړی قبض د ارواحو د دوی ملک الموت ته، خير سباح قدس سره چې يو له عارفانو د رب العزت ؤ ناجوړی ؤ، ملکل الموت غوښتل چې دده روح قبض کړي، دی په ځان پوه سو چې وخت د قبض دي ورسېدی په دغه وخت کې يې وويل يا ملک الموت ته يو ګړی صبر وکړه چې زه د ماښام فريضه اداء کړم، ولي چې د فرمان الهي زمانه له لاسه وځي، وفرمان تو که روح بردن است از دست نمی رود چون نماز آداء نمود سر بسجده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نهاد گفت الهی آن روز که این ودیعت برمن نهادی (یعنی لمونځ) زحمت ملک الموت درمیان نبود چه باشد که امروز بی زحمت او روح من بسانی این بگفت وجان بداد (یعنی تولی قبض روح او بقدرت خود کرد.

دروښ میگوید که این حال محبان وعاشقان خدا است انکار ازان نباید کرد، واین حال منافی آیت کریمه نیست، اذا جآء اجلهم لایستأخرون ساعة ولایستقدمون، مصرع: با کریمان کارها دشوار نیست.

فائده: في موت سوى الادمين، روایت کړی دی ابو الشیخ والعقیلي في الصفاء والدیلمي عن انس ؓ قال قال رسول الله ﷺ آجال البهائم وخشاش الارض کلها في التسبیح فاذا انقضی تسبیحهه قبض الله ارواحها ولیس لملک الموت في ذالک شیئ، او دا حدیث بل روایت هم لري چي خطیب د ابن عمر ؓ څخه روایت کړی دی، مظهري ؒ وایي وکل ملک الموت واعوانه بقبض ارواح للانسان اکرامًا للمؤمنین واهانة وتعذیبًا للکافرین.

دروښ وایي: چي ددې اکرام د مؤمنانو او تعذیب د کافرانو دمخه نژدې تپرسو.

فائده: خطیب بغدادي ؒ په خپل تفسیر کي له ضحاک ؒ او هغه له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چي قبض د روحانو د ذوی الروح څلور ملکي دي (۱) پر قبض د روحانو د بني آدم مسلطه ده (۲) وملک في الجن (۳) علی الشیاطین (۴) وملک علی قبض ارواح الوحش والطیر والسباع والحیتان حتی النمل، فهم اربعة.

فائده: الملائکة یموتون في الصعقة الاولی یعني په اول نفخه کي او ملک الموت یې قبض د ارواحو کوي ثم یقبض الله روح ملک الموت.

دروښ وایي: چي مظهري دا حدیث رانقل کړی دی او بیا یې ویلي دي چي ددې حدیث په سند کي جویر راوي سته چي ضعیف دی جدًا او حدیث د ضحاک له ابن عباس ؓ په منځ کي د اسنادو راویان نه دي راوړل سوي.

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾

وروسته تر قبض الروح ستاسي رجوع و خدای ﷻ ته ده، معنی داده چي هغه ځای ته چي خدای ﷻ معین کړی دۀ ملکو ته چي اعوان د ملک الموت وه چنانچه د مؤمنانو روحان ملکي د رحمت وړي د اسمانو پر خوا چي اووم اسمان ته ورسېږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه د مؤمنانو د روحانو قرارګاه ده، او د کافرانو روحان ملکي د عذاب وړي د اسمان پر خوا او اول اسمان ته چې يې ورسوي دروازې د اسمان ورته بندي کړي فلا يفتح لهم، نو يې مځکي ته راوغورځوي، او معنی د آيت داده چې ترجعون بعد الحشر ژوندي وځای ته د حساب نو هر چا ته من المؤمن والکافر والمطيع والعاصي جزاء ددوی د عملو وکړل کيږي.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا۟ رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ

که ته وويني يا محمد (ﷺ) چې مجرمان ای المشرکين چې دوی به په دنيا کې ويله (اذا ضلنا في الارض ائنا لفي خلق جدير) چې ځرولي به يې وي له خجالته خپل سرونه د خپل رب په وړاندې له پښېمانی، او حسرت څخه.

پوه سه: چې بعض مفسرين وايي چې "لو" شرطي دی او جزاء يې محذوفه ده بعد تمام الکلام تقديره لرئيت امرًا فضيعًا (يعني خوفناکه حالت) او بعض د مفسرينو وايي چې کلمه د لو لپاره د تمنی ده يعني کاشکي چې ته وويني.

پوښتنه: کلمه د "لو" او د اذ خو لپاره د ماضي دي او دا مذکوره امور په آيت کې مستقبل دي في يوم القيامة؟

ځواب: هغه چې متحقق وي په علم کې د خدای ﷻ که څه هم مستقبل وي لکه ماضي متحقق الوقوع دی لامحالة.

رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ

دوی وايي (دا جمله حال ده له فاعل څخه د ناکسوا يا حال مرادف دی د ناکسوا يا جمله استينافيه بيانيه ده په جواب کې د ددې سوال مايقولون (ربنا ابصرنا) بتقدير النداء ای خدايه موږ وليدلي په سترګو حشر بعد الموت چې په دنيا کې موږ ځندي منکرؤ (وسمعنا) او موږ واورېدی له تا څخه تصديق د رسول خپل چې موږ يې په دنيا کې تکذيب کاوه (فارجعنا) موږ بيرته رد کړه دنيا ته موږ به عمل صالح کوو لکه چې ستا رسول موږ ته ويل، زموږ اوس يقين دی پر هغه شي چې موږ پکښې شک کاوه بلکې منکر وو يعني البعث بعد الموت.

پوه سه: چې مفعول د ترى محذوف دی دل عليه ناکسوا رؤسهم والتقدير لو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تری نکوس رؤسهم، یو محقق شاعر شاید سعدي ؒ به وي ددې حال د مشرکانو دا خوارې ابیات ویلي دي:

سر از جیب غفلت براور کنون .... که فردا نماند بخجلت نگون
کنونت که چشمت اشکی ببار .... زبان دردهانست عذری بیار
نه هـــموار باشد روان دربدن .... نه هموار گردد زبان دردهن

وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّيْ

که زموږ اراده وای (لاتینا کل نفس) ای العاقلة من الجن والانس "هداها" یعني هدایت د هغه نفس (لکن حق القول مني) ای ثبت وتحقق قولي وسبقت کلمتي چې ما وویل وابلیس ته چې ده وویل لاغوینهم اجمعین الاعبادک منهم المخلصین فالحق والحق اقول لاملئن جهنم منک ومن تبعک اجمعین.

پوه سه: چې مفعول د شئنا محذوف دی چې جواب د لو دلالت پر کوي. والتقدیر لوشئنا ان نؤتی کل نفس هداها ای مایهتدی به الی الایمان والعمل الصالح وخلق الانقیاد لرسوله قلبًا وقالبًا.

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳﴾

زه به ضرور د کوم جهنم له جن او انس څخه ډکوله.

فائده: تقدیم د الجنة یې تر ناس وکړی ولي په خطاب کې د ابلیس مقدم جن ؤ تر انس او هورې چې یې جن مقدم کړی لانه الاوفق لمقام تحقیر ذالک المخاطب علیه اللعنة، او بعض مفسرین وایي چې تقدیم د جن دواړه ځایه لپاره دده چې اهل جهنم له جن څخه اکثر دی تر اهل جهنم من الانس، هر آئینه او په تحقیق زه هرو مرو د کوم دوزخ د جنیاتو او د انسانانو څخه.

پوه سه: چې لام په الجنة والناس کې لپاره د عهد دی، والمراد المجرمون والکافرون من الفریقین الذین مرذکرهم (اجمعین) لپاره د تاکید دی او دا معنی د هغه حدیث صحیح چې مسلم یې روایت کړی دی عن عائشة ؓ قالت قال رسول الله ﷺ ان الله خلق للجنة اهلاً خلقهم لها وهم في اصلاب آبائهم وخلق للنار اهلاً خلقهم لها وهم في اصلاب آبائهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لام د لاملئن جواب د قسم محذوف دی، له شبلي نعماني ؒ څخه روایت دی چې دده څخه چا د دې آیت پوښتنه وکړه، ده وویل یا رب املأ نارک من الشبلي واعف عن عبیدک.

درویش وایي: چې اهل الله د خدای ؒ رضا غواړي د جنت او دوزخ غم نسته ورسره، د سلطان العارفین بایزید بسطامي قدس سره السامي څخه منقوله ده چې ده په یو مناجات کي داسي وویل چې: خدایه که بایزید په دوزخ کي وي او ته ځندي راضي یې، بایزید ته به هغه دوزخ جنت معلومیږي. او که بایزید په جنت کي وي او ته ځندي ناراضه یې، بایزید ته به هغه جنت دوزخ ایسي، ددې وینا ژوندی مثال په موږ انسانانو کي دادی چې یو سړی د چا کور ته مېلمه ورسي او هغه صاحب البیت ساده بنوروا مېلمه ته راوړي او په ډېر ورین تندي او خوش طبعي ډوډی، د مېلمه سره وخوري، نو شک نسته چې مهمان ته دا ساده بنوروا لکه ورجي وغوښي، سالن، پېرني وغیره ده، او که د چا کره مېلمه ورسي او بنه ډول خواړه یې پخ کړي وي او صاحب البیت په ډېر تریو تندي ور ووځي او د مېلمه دمخه زوی په چپلاخه ووهي او نور کارونه ددې قسم څخه وکړي، نو هغه مېلمه ته دا ډوډی لکه زهر داسي ایسي.

فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ

"فذوقوا" لیس من ذوق الفم بل بمعنی جربوا والفاء للسببیة یعنی لما حق القول منی کمامر، نو ملکي چې خازنان د دوزخ دي دوی ته ووایي وروسته تر دخول د دوزخ ذوقوا یعني عذاب جهنم "بما نسیتم" کلمه د باء سببیه ده او کلمه د ما مصدریه ده ای بسبب نسیانکم، ملاقات ددې ورځي یعني البعث والرجوع الی الله ای الی موقف حسابه تعالی، هذا صفت دی د یومکم.

إِنَّا نَسِينَاكُمْ ۖ وَذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

موږ تاسي هېر کړلاست یعني پرې مو نبولاست (چونکه حقیقت نسیان پر خدای ؒ محاله ده، نو معنی نسیناکم ترکناکم من الرحمة العامة او یا ترکناکم في العذاب) او وڅ عذاب د همېشه والي په دوزخ په سبب د هغه چې تاسي عمل کاوه په دنیا کي من الکفر والمعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا آیت چې یې مکرر کړی لپاره د مزید نا امیدی ددوی له خلاصون څخه د اور، او بله فائده یې داده چې تصریح یې په مفعول سره وکړه یعني عذاب الخلد چې په اول ذوقوا سره مقدر ؤ، او بله فائده یې داده چې بیان د علت د ذوقوا بیان کړی یعني الکفر و المعاصي لکه د مخه چې یې تعلیل په بما نسیتم آه سره بیان کړی.

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا

ایمان نه راوړي په آیاتو سره مګر هغه کسان چې دوی ته پند او وعظ ورکړل سي په آیاتو سره، دوی ولوبړي پر مخانو له خوفه د عذاب د خدای ﷻ سجداً حال دی ای ساجدین.

وَّسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۩

"وسبحوا" ای نزهوا الله عما لایلیق به تعالی کالعجز عن البعث بعد الموت یعني متلبسین بحمده تعالی یعني حامدین له شکرًا علی ما وفقهم الاسلام یعني یقولون سبحان الله وبحمده، او دوی کبر نه کوي له ایمان او طاعت څخه د خدای ﷻ دا آیت د سجدې دی.

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ

"تتجافی" حال دی من فاعل سبحوا پورته وي یعني لپاره د تهجد د لمانځه، جنوبهم ای بغلونه ددوی د هغه ځایه چې دوی پر ییده وه، دوی عبادت کوي د خدای ﷻ حال من من الضمیر المجرور في جنوبهم وهو الفاعل في الحقیقة تتجافی "خوفًا" له سببه د عذاب د خدای ﷻ او له غضب څخه د خدای ﷻ وطمعًا او طمع یې هم وي د ثواب او د رحمت د خدای ﷻ.

فائده: ځای د سجدې دی وهم لایستکبرون بالاتفاق، کاشفي ﷺ وایي: این سجده نهم است بقول امام اعظم ﷺ، او امام شافعي ﷺ وایي چې دا لسمه سجده ده من سجود القرآن، حضرت شیخ اکبر قدس سره وایي: که این را سجده تذکر وساجد باید که متذکر گردد آن چیزی را که ازان غافل شده بود وتصدیق کند دلالات وجود وحدانیت خدا را که دلالتها درهمه اشیا موجود است.. سعدی ﷺ:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برگ درختان سبز درنظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وقال محقق آخر:

همهٔ ذرات از مهٔ تا بماهی ..... بوحدانیتش داد گواهی

همه اجزای کون از مغز تا پوست ..... چو وابینی دلیل وحدت اوست

فائده: ينبغي ان يدعوا الساجد في سجدة هذه الآية بما يليق بآياتها ففي هذه الآية يقول اللهم اجعلني من الساجدين لوجهک المسبحين بحمدک واعوذبک من ان اکون من المستکبرين عن امرک.

پوه سه: چې کلمه د من په مما کې لپاره د تبعیض ده، او مراد له انفاق څخه صدقه ده که فرضي وي که نفلي، فائده د من تبعیضي داده چې ټوله مال دي سړی نه صرفوي ولي که دی ټوله مال صرف کړي په لاره کې د خیر، نو چې مسکین سي پر صرف المال کله به پښیمانه وي او پر فقر به بې صبري ځني کېږي.

دروښ وایي: وهذا يختلف باختلاف الاشخاص، ولي ابوبکرؓ ټوله مال په غزاء کې د تبوک علیه الصلوة والسلام ته راوړی علیه الصلوة والسلام رد نه کړی.

دروښ وایي: چې هناد له اسماء بنت زیدؓ څخه روایت کړی دی قال قال رسول اللهﷺ سره جمع به کړي خدای پاک د قیامت په ورځ خلګ په یوه مځکه کې چې د نعره کونکي اواز اوري او په سترګو ټوله د ټولیو معلومېږي، یعني ملکه ولاړه سي او نارې کړي چې هغه کسان چې حمد د خدایؑ یې وایه في السرأ والضراء فیقمون وهم قلیل فیدخلون الجنة بغیر حساب، بیا هغه منادی ناره کړي این الذین کانت تتجافی جنوبهم عن المضاجع فیقیمون وهم قلیل فیدخلون الجنة بغیر حساب ثم یقوم سائر الخلائق یعني ماسوی د فوق الذکر دوو ډلو څخه، نو د هغو سره حساب شروع سي.

وعن ابی الاشعريؓ قال قال رسول اللهﷺ ان في الجنة غرفًا (جمع د غرفه ده بالاخاني) چې ظاهر یې له باطنه څخه معلومېږي او باطن یې له ظاهره څخه، خدایؑ اراسته کړي دي د هغو کسانو لپاره چې خبري په نرمی کې ي او مبلمه ته ډوډی ورکوي، او همېشه نفلي روژې نسي او د شپې لمونځ کوي، والناس ینام رواه البیهقي في شعب الایمان او ترمذي هم ورته روایت کړی دی، له ابو هریرهؓ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روایت دی چې مسلم راوړی دی قال قال رسول الله ﷺ افضل الصیام بعد رمضان (یعني بعد صیام شهر رمضان) شهر الله المحرم (یعني روژې دي د محرم د میاشتي چې پښتانه یې د حسن حسین میاشت بولي) وافضل الصلوات بعد الفریضة صلوة اللیل (یعني في جوف اللیل چې مراد ځندي د تهجد لمونځ دی) وعن ابن مسعود ؓ قال قال رسول الله ﷺ عجب ربنا عن رجلین، یعني د دوو کسانو څخه خدای پاک تعجب کوي.

پوه سه: چې تعجب په معنی اصلي چې ادراک د امر عجیب دی پر خدای ﷻ محال دی، نو مراد ځندي اظهار د رضی او محبت دی.

(۱) رجل ثار عن فراشه و وطئائه ولحافه (چې ولاړ سي د خپلي نالۍ یا کوربچې څخه او له هغه ځایه چې دی پر پروت ؤ او د خپل تلتک څخه) من بین حبه واهله (او له منځه د خپل محبوب او اهل چې عبارت له زوجې څخه دی) الی صلوته یعني صلوة التهجد، فیقول الله لملائکته انظروا الی عبیدي ثار عن فراشه ووطائه بین حبه واهل رغبة فیما عندي وشفقة مما عندي (یعني دده رغبت او محبت دی د هغه ثواب چې زما سره سته یعني الجنة، او دی بېرېږي د هغه څه څخه چې زما په قدرت کې سته من العذاب والنار)

(۲) او بل هغه سړی چې في سبیل الله یعني په غزاء کې وي، نو دی او ملګري یې وله شکست وخوري یعني له کافرانو څخه، نو دا سړی چې فکر وکړي پر ما څونده عذاب وي په شکست او تښتته کې او مالره به څونده ثواب وي چې بیرته پر دښمن حمله وکړم، فرجع حتی اهریق دمه (نو رجوع وکړي چې وینه یې توی سي یعني شهید سي، فیقول الله ﷻ لملائکته انظروا الی عبدي رجع فیما عندي وشفقة مما عندي حتی اهریق دمه انتهی.

دروښ وایي: چې عبد الله بن رواحة الخزرجي ؓ په مدح کې د رسول الله ﷺ دا بیت ویلی دی، عن ما رواه البغوي ؒ عن ابی هریرة ؓ:

وفینا رسول الله یتلو کتابه .... اذا انشق معروف من الفجر ساطع

یعني چې سپېدې راوچوي د سهار په لمانځه کې، د معروف معنی مشهور ده:

ارانا الهدی بعد العمی فقلوبنا ..... به موقنات ان ماقال واقع

موږ یې راوستولو حق لاري ته چې اسلام دی، وروسته تر رندوالي چې کفر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، او هغه خبري چي دی يې کوي من نصر الدين القويم والبعث بعد الموت وغير ذالک واقع کيږي.

يبيت يجافي جنبه عن فراشه ..... اذا استثلقت بالکافرين مضاجع

عن فراشه يعني لصلوة التهجد.

وروی احمد والترمذی وصححه، والنسائي وابن ماجه ومحمد بن نصر في کتاب الصلوة وابن جرير وابن ابی حاتم والحاکم وصححه، وابن مردويه والبيهقي في شعب الايمان عن معاذ بن جبل رضي الله عنه، ده وويل چي زه د رسول الله ﷺ سره په يوه سفر کي يوه ورځ وده مبارک ته نژدې روان وم، ما ورته وويل يا نبي الله ماته خبر راکړه په هغه عمل سره چي زه يې وکړم ما به جنت ته داخل کړي او له اوره به مې لېرې کړي؟ عليه الصلوة والسلام وفرمايل: لقد سئلت عن عظيم، يعني د لوی کار پوښتنه دي راځخه وکړه "وانه يسير" او په حقيقت کي دا کار اسانه دی "علی من يسره الله عليه، تعبد الله ولا تشرک به شيئًا وتقيم الصلوة (ای الصلوات الخمسة المفروضة مع مراعات ارکانها وواجباتها وسننها وغير ذالک کما هو معنی اقامة الصلوة، وتؤتی الزکوة وتصوم رمضان وتحج البيت (يعني که زکوة درباندي فرض ؤ او حج د بيت الله ان استطعت اليه سبيلاً) ثم قال الا ادلک علی ابواب الخير، الصوم جنة (سپر دی له ګنهو څخه) والصدقة تطفی الخطيئة (او صدقه که فرضي وي او که نفلي ګناه رژوي) وصلوة الرجل في جوف الليل ثم قرء تتجافی جنوبهم عن المضاجع حتی بلغ يعملون الی اخير الحديث.

او ابو الدرداء او قتاده او ضحاک رحمهم الله وايي چي مصداق ددې آيت هغه کسان دي چي د ماخستن او د سهار لمونځ په جماعت وکړي، او حسن رحمه الله وايي چي دا هغه خلک دي چي د ماخستن د لمانځه دمخه نه بدېږي او عبد الله ابن احمد په زواهد کي او ابن عدي او ابن مردويه له مالک بن دينار څخه روايت کوي چي ده وويل سئلت انس بن مالک رضي الله عنه عن هذه الآية تتجافی جنوبهم عن المضاجع. قال کان قوم من اصحاب رسول الله ﷺ من المهاجرين الاولين يصلون المغرب ويصلون بعدها الی العشاء فنزلت هذه الآية فيهم، او قتاده او عکرمه رحمهما الله هم دغه قبلي شان نزول تائيد کړی دی، واخرج ابن جرير عن ابن عباس رضي الله عنهما چي ده ددې آيت معنی داسي بيان کړه يعني تتجافی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنوبهم آه، چي دوی همېشه د شپې ذکر د خدای ﷻ کوي يا په لمانځه کي يعني التهجد يا په قيام کي يعني چي له ځايه ولاړ سي، او قعودًا او على جنوبهم يعني لايزالون يذکرون الله لکن مع هذا کله من الروايات، روح المعاني وايي چې جمهور د علماء ددې آيت حمل پر هغه مشهور روايت کوي يعني صلوة التهجد، او په فضيلت کي د تهجد ما لايخفى اخبار راغلي، او جمهور د علماؤ رحمهم الله وايي چې افضل د نوافلو د تهجد لمونځ دی. والله اعلم بالصواب.

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ ۚ

هيڅ سړی او څوک خبر نه دی که نبي مرسل وي او که ملک مقرب (وهذا السلب الكلي مستفاد من وقوع النكرة اعنى نفس فى سياق النفي) چې دوی ته پټ په علم کي د خدای ﷻ ساتل سوي دي له هغو نعمتو څخه چې د سړي سترګي په خونکي کېږي من منازل الجنة وحوراتها وغلمانها يعني چې دوی يې وويني، قال الكاشفي رح في تفسيره الفارسي: از روشناهی چشمها يعنى چيزى كه بديدن او چشمها روشن گردد آه.

پوه سه: چې قرة اعين کنايه ده له غايت خوشالي څخه په عربو کي، په پښتنو کي وايي سترګي دي روښانه.

پوه سه: چې د من بيان دی د ما، وهذا اول مما قال المظهري كلمة من زائدة، وقد جاء في الحديث الصحيح يقول الله ﷻ اعددت لعبادى الصالحين ما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر اقرؤا ان شئتم فلا تعلم نفس ما اخفى لهم آه رواه بخاري ومسلم.

دروښ وايي: چې والله اعلم مراد د عباد الصالحين څخه د خدای ﷻ په دې حديث کي مامر نعوتهم واعمالهم في هذه الآية تتجافى جنوبهم عن المضاجع الى اخيرها، قال السعدي الشيرازي قدس سره:

بد و نيک و ابذل کن سيم وزر .... که اين کسب خير است وآن دفع شر
ازآن کس که خيری بماند روان[1] .... دمادم رسد رحمتش بر روان[2]

---

[1] يعنى صدقه جاريه كالمساجد وتعليم العلوم الدينية وتصانيف في الامور الاسلامية.
[2] يعنى روح ته د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾

دا د ما اخفی لهم جزاء او ثواب دی د هغو عملو چي دوی په دنیا کي کول من اعمال الخیر.

فائده: جزاء یا منصوب دی مفعول مطلق د فعل محذوف دی یعني یجزون جزاءً یا منصوب علی کونه علت لما سبق، والتقدیر اخفی للجزاء فافهم، ذکر البغوي رح واخرج الواحدي وابن عساکر من طریق سعید بن جبیر عن ابن عباس رض چي په منځ کي د علي بن ابی طالب والولید بن عقبة بن ابی معیت تنازع وکلام في امر شيئ فقال الولید لعلي رض اسکت فانک صبي وانا والله ابسط منک لسانًا واشجع منک جبانًا واملاء منک حشوًا في الکتیبة، فقال علي رض اسکت فانک فاسق فاجر فانزل الله تعالی:

اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾

آیا کېدای سي هغه څوک چي مؤمن وي (کعلي رض ههنا) لکه هغه څوک چي فاسق وي (کولید بن عقبة ههنا) والاستفهام للانکار یعني داسي نسي کېدای، نه دي سره برابر.

پوښتنه: په اول کي د آیت کي په سبب د استفهام انکاري نفي د مشابهت وکړل سوې پر ابلغ وجه، نو د لایستون فائده به څه وي؟

ځواب: فائده یې زیادة التاکید ده او وروسته تفصیل هم پر بناء کوي.

فائده: جمع په لایستون کي په اعتبار د معنی د من ده، ولي چي لفظ د من اول عام دی هر مؤمن ته شامل دی او لفظ د من ثاني هم عام دی هر کافر ته شامل دی والافراد فیما سبق یعنی في لفظ کان في الموضعین مبني علی افراد لفظ من کما لایخفی.

دروښ وایي: چي استواء چونکه مجمل وه تفصیل د استواء خدای ﷻ په دې آیت کي وکړي.

اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى

هر چي هغه کسان دي چي ایمان یې راوړی وي او عملونه د خصلاتو صالحاتو کوي من الفرائض والواجبات والسنن والمستحبات من الاعمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البدنية والمالية والمركب منهما كالحج والعمرة وغير ذالک، نو دوی لره جنتونه دي د اوسېدو لپاره.

پوه سه: چې ځای د اقامت حقيقي جنتونه دي وبس، ولي دنيا د کوچ وبار ځای دی، نو ځکه مؤمنان به په مأوی حقيقي کي وي او کافران چې په خپل اختيار سره يې مأوی حقيقي پرېښول او په مأوی مجازي پوري يې لاسونه ټينګ کړي دي.

نُزُلًا بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾

پوه سه: چې نزل هغه شي ته وايي چې د مهمان لپاره يې څوک مرتب کړي، نزلاً حال دی له جنات څخه وهو في المعنى فاعل للظرف يعني فلهم، تدبر "يعملون" يعني بسبب اعمالهم الحسنة في الدنيا، نو کلمه د ما مصدريه ده او کلمه د باء سببيه ده او که کلمه د ما موصوله سي نو عائد يې محذوف دی والتقدير بما كانوا يعملونه.

وَأَمَّا الَّذِينَ فَسَقُوا فَمَأْوَاهُمُ النَّارُ

ای کفروا بای نوع من الکفر کالشرک والیهودیة والنصرانیة والمجوسیة والدهریة، نو ځای د اوسېدلو ددوی اور دی چې دا اور دوی په خپل اختيار سره د جنت المأوی په ځای کي مختار کړی.

كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا

هر وخت چې دوی اراده وکړي د وتلو له اور څخه راوبه ګرځول سي يعني د ملکو له خوا څخه يې رته اور ته د اشاره و خلود ته ددوی ده په دوزخ کي.

وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾

او وويل سي دوی ته چې تاسي برداشتوئ (يعني ليس المراد ذوق الفم) عذاب د اور چې تاسي واست يعني په دنيا کي د دغه عذاب النار تکذيب مو کاوه، ولي تاسي د بعث بعد الموت څخه منکر واست.

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى

"ولنذيقنهم" عطف دی على مأهم النار، زه به دوی ته وررسوم، يعني نژدې عذاب په دنيا کي ابی بن کعب او ضحاک او حسن او ابراهيم رح وايي چې مراد له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب ادنٰی څخه مصائب د دنیا او ناجوړی په دنیا کي، وفیه ان هذه المصائب مشترکة بین المؤمن و الکافر، وقال عکرمه ؒ اراد بها الحدود وفیه ان هذه ایضًا مشترکة بین المؤمن و الکافر، وقال مقاتل ؒ الجوع سبع سنین بدعاء النبي ﷺ قال ؒ اللهم اعني علیهم بسبع کسبع یوسف ؑ دا عذاب په مکه کي پر دوی مسلط سو حتی اکلوا الجیف و العظام و الکلاب.

پوښتنه: په دې عذاب کي مسلمانان د مکې هم ورسره شریک وه؟

ځواب: مسلمانان د مکې په ذکر د خدای ﷻ د لوړي ځخه مستغني وه له اکل ځخه د جیف و الکلاب و العظام وغیرها، دلیل یې دادی چې صوفیه کرام په خپلو اربعیناتو کي یعني څلوېښت ورځي چې به یې تېرولې صرف مابنام به یې روژه په یوه غرپ اوبو سره ماته کړه لپاره د دفع د کراهت د روژې د شپې په دا څلوېښت شپې کي بل هیڅ شی نه خوړی بلکې ذکر الله یې قائم مقام الغذاء ؤ، وهذا ثابت منهم بالتجربة الصادقة، وقال ابن مسعود ؓ هو القتل بالسیف یوم بدر وهو قول قتادة و السدي ؒ.

دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۱﴾

ماسوی د لوی عذابه، ای قبل العذاب الاکبر وهو عذاب الآخرة، شاید چې دوی به رجوع وکړي و ایمان ته یعني من بقي بعد القحط و بعد البدر.

ډروېش وایي: چې د من بقي په لفظ سره بعض توهمات دفع سوه کما لا یخفٰی فافهم.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا ؕ

او څوک د هر ظالم دی (کلمه د من لپاره د استفهام انکاري دی ای لا احد اظلم) تر هغه چې ده ته ذکر کړل سي آیات د خدای ؒ لپاره د ایمان بالله و روسته دی روی ګرداني وکړي له هغو آیاتو څخه یعني فکر نه پکښي ووهي او ایمان نه راوړي.

پوه سه: چې کلمه د ثم لپاره د استبعاد د روی ګرداني له مثل څخه د دغو آیاتو مع فرط وضوحها و ارشادها الی سعادة الایمان في الدارین.

اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۲۲﴾

په تحقیق موږ له مجرمانو څخه انتقام اخلو یعني بالعذاب في یوم القیامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

لام موطئه د قسم محذوف دی یعني جواب د قسم محذوف دی موږ ورکړی وُ موسٰی ﷺ ته کتاب یعني التورات، یعني لکه موږ چې تاته قرآن کریم درکړی دی تر تا دمخه مو موسٰی ﷺ ته کتاب چې تورات دی ورکړی وُ.

فائده: لقد آتینا موسٰی سره د معطوفاتو جمل معترضه دی په منځ کې د دې قول د خدای پاک: انا من المجرمین منتقمون، وبین قوله تعالی ان ربک هو یفصل آه.

فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ

نو ته یا محمد (ﷺ) مه کرځه په شک کې د لقاء څخه د قرآن.

پوه سه: چې اضافت د لقاء اضافت دی د مصدر و مفعول ته او فاعل یې محذوف دی ای ان لقیت الکتاب ای القرآن، ولي چې د کتاب ورکړه یو نوی کار نه دی چې دمخه دي نه وي پیښ سوی، ولي موسٰی ﷺ ته تر تا دمخه کتاب تورات موږ ورکړی وُ.

سوال: د نهي د علیه الصلوة والسلام د ارتیاب څخه په قرآن کې یعني په نزول کې د قرآن څه فائده ده او سره د دې چې په علیه الصلوة والسلام کې شک او مریه هیڅ امکان نه لري؟

ځواب: په دې کې تعریض دی پر مشرکانو د مکې چې دوی په شک بلکې په انکار کې وه له نزول څخه د قرآن پر علیه الصلوة والسلام، وجه الرد: چې نزول القرآن کوم نوی کار نه دی، ولي چې تر محمد ﷺ دمخه پر موسٰی ﷺ کتاب یعني تورات نازل سوی وُ، او طبراني له ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی عن النبي ﷺ في قوله تعالی فلاتکن في مریة من لقائه، قال ﷺ لقآء موسٰی ربه ای الکلام معه في الطور، او بعض مفسرین وایي اراد بذالک لقائه ﷺ مع موسٰی ﷺ في لیلة المعراج کما ذکر في الصحیحین وغیرهما.

سوال: دا آیت خو تر معراج النبي ﷺ دمخه نازل سوی دی فما معنی ملاقات النبي ﷺ مع موسٰی ﷺ؟

ځواب: روح المعاني وایي چې دا آیت وعده ده د خدای ﷻ له خوا څخه د نبي ﷺ سره چې ته به د موسٰی ﷺ سره ملاقات وکړې یو وخت وذالک الموعود وقع لیلة الاسراء فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ﴿۲۳﴾

او موږ وګرځاوه (بعض مفسرین وایي چې ضمیر راجع دی و هغه کتاب ته چې پر موسیٰ ؑ نازل سوی وٗ، او قتاده ؒ وایي چې په خپله موسیٰ ؑ ته ضمیر راجع دی، کذا روی الطبراني عن ابن عباس ؓ عن النبي ﷺ حیث قال جعل موسیٰ هدًی لبني اسرائیل) لارښوود د اولاد د اسرائیل چې مراد ځندي یعقوب ؑ دی.

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَىِٕمَّةً

او موږ وګرځولي وه د بني اسرائیلو څخه امامان. امام و هغه چا ته وایي چې نور خلګ اقتداء پسي کوي په امورو کې د خیر و منه امام المسجد، لکن دلته مراد ځندي انبیاء دي چې په بني اسرائیلو کې یو په بل پسي راتلله، حتی قیل ان الانبیاء من بني اسرائیل (۴۰۰۰) و کلهم علی دین موسیٰ ؑ و کتابهم التورات، او قتاده وایي چې مراد له ائمه څخه اتباع د انبیاء دي، والرائ الاول مقبول و منقول عن کثیر من الروات.

يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا ؕ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۲۴﴾

(یهدون) والمفعول محذوف ای الناس چې دوی لارښوونه کول خلګو ته (بامرنا) یعني موږ دوی امر کړي وه په هدایت د خلګو د احکام د تورات، او بعضې مفسرینو د امر معنی په توفیق سره کړې ده ای بتوفیقنا ایاهم (لما صبروا) هغه وخت چې دوی صبر و کړی پر خپل دین او پر بلاوٗ د دښمنانو له خوا څخه، او وه دوی چې زموږ پر آیاتو یې یقین درلود ی.

فائده: په دې آیت کې دلیل دی چې صبر یورث الامامة.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ وایي من عدوهم بمصر یعني فرعون آه، دا تفسیر صحیح نه دی ولي چې صبر پر دښمن په مصر کې خو یوازې موسیٰ او هارون ؑ کړی وٗ او فرعون سره د قوم خو غرق سوه او د مصر سلطنت د بني اسرائیلو لاس ته ورغلی، نو په نورو انبیاؤ کې خو عداوت د فرعون نه وٗ، نو اول تفسیر اولی او احری بالقبول دی، ولي مطلق دښمنان خو په هره زمانه کې د انبیاء علیهم السلام موجود وه.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

په تحقیق سره رب ستا به فیصله وکړي په منځ کې د دوی په ورځ د قیامت او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محق او مبطل به سره جلا کړي.

پوه سه: چې دا آيت متصل دی بقوله تعالى: انا من المجرمين منتقمون، او قصه د موسىٰ ﷺ تر له جمل معترضه وې په منځ کې کما مر سابقًا، لکن په دې آيت کې التفات د تکلم څخه په آيت سابقه کې يعني انا ده وغيبت ته في قوله ان ربک آه فافهم.

فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾

په هغه امر کې د دين چې د کفار مکه وو او مؤمنانو پکښې اختلاف ؤ، فيصله د خداى ﷻ په هغه ورځ داده چې مؤمنان به جنت ته واستوي او کفار مکه به په اهانت دوزخ ته تېله کړي.

أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا

آيا هدايت نه دی کړی خداى ﷻ ودوی ته يعني کفار مکه ته، يعني بيان يې نه دی کړی.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او کلمه د واو عطف ده پر مقدر باندې. والتقدير الم يعتبروا بمن سبقهم ولم يهد لهم الله.

(کلمه د کم خبريه ده مفيد د کثرت ده) څومره ډېر مونږ هلاک کړي دي.

مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ

(کلمه د من بيان د کم ده) تر دوی دمخه يعني تر اهل مکه د قرون يعني اهل قرون ماضيه بسبب کفرهم.

پوه سه: چې قرن پر صحيح روايت سل کاله ته وايي "يمشون" چې تګ کوي اهل مکه په خپلو سفرو کې "في مسكنهم" چې کفار ماضيه پکښې اوسېدل.

فائده: له دې آيت څخه مطلب دادی چې کفار د مکې بايد له هغو څخه عبرت اخستی واى ... بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾

په تحقيق په دې اهلاک کې د امم ماضيه ؤ دلائل دي پر قبح د ما فعلوا من الكفر و المعاصي و على قدرتنا من الانتقام منهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي همزه لپاره د انکار دی او کلمه د فاء عطف ده پر مقدر باندي تقديره ايعرضون عن آياتنا فلا يسمعونها سماع تدبر وقبول الوعظ... ابيات:

کسی را که پند ارد (کبر) سر بود .... پندار هرگز که حق بشنود
زعلمش ملال آيد از وعظ تنگ .... شقائق بباران نروید زسنگ

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ

آيا دوی علم نه لري بلکي لري يي، فالمهزة للانکار والواو للعطف علی مقدر والتقدير الم يتفکروا (هذا هو المعطوف عليه المقدر) ولم يروا ای لم يعلموا بل علموا وهذا هو معنی الانکار) موږ روانوو اوبه يعني د باران و هغه مځکي ته چي نباتات يي قطع سوي وي دا معنی د الجرز ده.

فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنْفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾

نو موږ را باسو په هغو اوبو سره کښت چي خورک کوي له هغه کښت څخه د دوی چارپايان يعني بلکونه او پرورږيي او د دوی ځانونه چي غنم، اوريشي، جواري او مېوې د درختو، آيا دوی يي نه وينې، کلمه لپاره د انکار ده يعني دوی يي وينې، والفاء للعطف علی مقدر الا يلقون ابصارهم فلا يبصرون ما ذکرنا حتی چي دوی به دا صنع عجيب دليل گرځولې وای پر کمال قدرت زموږ او پر کمال احسان زموږ د بندگانو سره او د دوی د انعامو سره او هم دا به يي دليل گرځولی وای پر قدرت زموږ پر بعث بعد الموت، بغوي رح وايي په روايت له قتاده رح څخه چي اصحابو کرامو رض مشرکانو ته وويل چي موږ يي وه ورځ لر وچي موږ به له جنجاله څخه ستاسي په استراحت سو او خوش وقت به سو او خدای ﷻ به فيصله وکړي زموږ او ستاسي تر منځ چي مراد له دي ورځ د قيامت ورځ ده چي خدای ﷻ حکم کوي په منځ کي د بندگانو فريق في الجنة وفريق السعير، او کلبي رح وايي چي مراد له دي ورځي څخه ورځ د فتح د مکي ده، او سدي رح وايي مراد څندي ورځ د بدر ده، ولي چي مسلمانانو به دوی ته ويل الله ناصرنا ومظهرنا عليکم، په هر صورت کفارو د مکي به د پسخنده ورته ويل:

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾

دوی به استهزاء ويله، کله به وي دا فتح او فيصله ستاسي د استراحت لپاره که تاسي رښتيا واياست.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ويقولون معطوف دی پر مضمون د افلا يبصرون ولي چې نفي د ابصار آياتو د قدرت انکار د آيات د قدرت، فالتقدير اينکرون القدرة الالهية ويقولون استهزاءً متّى آه.

قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٢٩﴾

(''قل'' دا جمله مستأنفه ده في جواب ما ذا قول لهم حين قالوا ذالک ای متّى هذا الفتح آه) ورته ووايه چې ورځ د فتح فائده نه کوي و هغو کسانو ته چې کافران وه ايمان د دوی، او نه دوی ته مهلت ورکول کېږي چې بيرته دي دنيا ته رد سي.

دروښ وايي: چې دا عبارت صريح دی په دې کې چې مراد د يوم الفتح څخه ورځ د قيامت ده، ولي په ورځ د قيامت ايمان پر وحدانيت د خدای ﷻ او پر بعث بعد الموت او ايمان پر جنت او دوزخ فائده نه کوي، ولي چې مشرکان په دار التکليف دنيا کې خو له دې شيانو څخه منکر وه، او قيامت دار التکليف نه دی، نو کلبي ؒ چې ويلي وه چې مراد د يوم الفتح څخه فتح د مکې ده، او يا سدي ؒ چې ويلي وه مراد ورځ د بدر ده، څرنګه به دا آيت توجيه سي يوم الفتح لاينفع الآية، ولي په ورځ د فتح مکه يا د بدر خو د پر کسان کافران وه او بيا يې ايمان راوړی ايمان يې قبول دی اجماعًا بلا خلاف، وغاية التوجيه لقول الكلبي والسدي ؒ بمراعات علو كعبهم في التفاسير ان المراد لاينفع الذين كفروا و قتلوا في حال الكفر او ماتوا على الكفر ايمانهم رد والعذاب بعد موتهم.

پوښتنه: کافرانو چې دا سوال وکړی متّى هذا الفتح آه، او خدای پاک په جواب کې ددوی وويل: قل يوم الفتح لاينفع الذين الى اخير الآية، څرنګه ددوی سوال په دفع کېږي؟

ځواب: توجيه د تطبيق د سوال او جواب داده چې سوال ددوی چې متى هذا الفتح آه طلب ؤ د تلوار ددوی ويوم الفتح ته على وجه التكذيب والاستهزاء، نو دوی ته جواب ورکړل سو مطابق د غرض څخه ددوی په سوال، نو گويا په جواب کې يې داسي ورته وويل چې تاسي تلوار مه کوئ د يوم الفتح په باره کې او مه پسخند وهئ، ولي موږ او تاسي به يوم الفتح وويني او تاسي به ايمان راوړئ لکن ايمان به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده درته ونه کړي، او تاسي به مهلت وغواړئ او مهلت به هم درنه کړل سي.

دروښ وايي: وهذا غاية التوجيه في حل هذه الآيات واستظهرت في ايراد هذا التوجيه بروح المعاني وروح البيان والمظهري وتفسير الرازي والبيضاوي والله الموفق.

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ إِنَّهُمْ مُنْتَظِرُونَ ﴿۳۰﴾

ته روی ګرداني وکړه یا محمد (ﷺ) له دوی څخه (وكلمة الفاء جواب لشرط محذوف ای اذا عرفت حالهم وامرهم فاعرض عنهم، او باک مه کوه په تکذیب ددوی، ابن عباس ؓ وایي چي دا آیت منسوخ دی په آیت السیف سره یعني چي علیه الصلوة والسلام ته امر د جهاد وکړل سو) ته انتظار وکړه زموږ د فتح او ظفر ته پر دوی، دوی منتظر دي چي پرتا به حوادث د زمانې راسي او ته به مړ سې او دوی به ستا څخه مستریح سي.

دروښ وايي: چي خدای ﷻ خپله وعده د علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو سره پوره کړه فنصر عبده وفتح للمؤمنين على اعدائهم .... بیت:

شکر خدا که هرچه طلب کردم از خدا ..... بر منتهای همت خود کامران شدم
هر کرا اقبال باشد زهمنون ..... دشمنش گردد بزودی سرنگون

له ابو هریره ؓ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا وُ چي د سهار په لمانځه کي د جمعې په ورځ ده مبارک به په اول رکعت کي د الم تنزیل الخ سوره وایه، او په دوهم رکعت کي یې هل اتی علی الانسان آه سوره وایه، او له جابر ؓ څخه روایت دی چي نبي ﷺ تر هغو چي الم تنزیل سوره او تبارک الذي نه وایي قرائت کړې نه بیدیدی، رواه احمد والترمذي، وقال هذا حديث حسن صحيح، او له خالد بن سعدان ؓ څخه روایت دی چي ماته دا خبره رسیدلې ده في الم تنزیل ومثله في تبارک الذي ان رجلاً كان يقرء هما مايقرئ شيئًا غير هما او دا سړی د پر ګناه کار وُ، نو په ورځ د قیامت نشرت یعني کل واحدة من السورتين په مثال د مرغه د وژر خپل او داسي به ووایي رب اغفر له فانه ليكثر قرائتي، خدای پاک به یې شفاعت قبول کړي، وقال رب العزة وملكوته: اكتبوا له بكل خطيئته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حسنة وارفعوا له درجة، وقال[۴] ايضًا انها اى كل واحدة من السورتين عن صاحبها اى قارئها في القبر انها تكون كالطير تجعل جناحها عليه فتشفع له فتمتعه من عذاب القبر فقال يعني رسول الله ﷺ چي ددې دوو سورتونو تفضيل ورکړل سوى دى پر هر سورت د قرآن په شپيته حسنه سره، رواه الدارمى. او له ابن عباس ؓ څخه روايت دى که چا قرائت کړل الم تنزيل او تبارک الذي اعطى له من الاجر کانما احى ليلة القدر رواه الثعلبي وابن مردوية، لکن سيوطي ؒ وايي چي دا حديث موضوعي دى والله اعلم.

دروښ وايي: چي لله الحمد والمنة وعلى سيد رسله الصلوة والتحية، وعلى آله واصحابه الكملة، چي په ورځ د دوشنبې پر درې بجې څه بالا په اول د رجب رژه فارغ سوم د تفسير څخه د سورة الم السجدة سنه (١۴٣١) هجري قمري في کوئته وقت الهجرة، وروسته ان شاء الله تعالى تفسير د سورة الاحزاب شروع کړي.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ
۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الْأَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ آيَةً وَتِسْعُ رُكُوعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اخرج البيهقي في الدلائل وغيره عن ابن عباس رضي الله عنهما انه قال نزلت سورة الاحزاب بالمدينة وعن ابن مردوية عن ابى الزبير رضي الله عنه مثله وهي (٧٣) آية، الطبرسي وايي بالاجماع واخرج عبدالرزاق في المصنف والطيالسي وسعيد بن منصور وعبدالله بن احمد والنسائي والحاكم وصححه والضياء في المختارة وآخرون عن زربن حبيش رضي الله عنه، دى وايي ماته وويل ابى بن كعب رضي الله عنه چي تاسي سورة احزاب څو آيته بولئ؟ ما ورته وويل: درې اوويا آيته، ابى بن كعب رضي الله عنه راته وويل: ما سورة احزاب ليدلى دى او ويلى مي دى چي دى برابر دى د سورة البقرة او په دغه سورت كي دا آيت موږ ويلى دى، الشيخ والشيخة (يعني محصن او محصنة) اذا زنيا (چې زنا وكړي) فارجموهما، البتة نكالاً من الله.

دروښ وايي: چي ددې آيت كه څه هم قرائت منسوخ دى لكن نص حكم يې باقي دى بالاجماع والاحديث الصحيحة، والله عزيز حكيم فرفع فيما رفع هغه نور آيتونه منسوخ سوه فقط (٧٣) پاته سوه.

دروښ وايي:

په امید د ښه صحت او عافیت
اوس شروع کړم په تفسیر ددې سورت
دا کاروان د تفسیر په مشیت د خدای روان دی
خلک هر څه چې دوی وایي دوی دې وایي

پوه سه: چي جوير له ضحاك رحمه الله څخه او هغه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى چي اهل مكه منهم الوليد بن المغيرة وشيبة بن ربيعة دعوت وركړى و نبي عليه السلام چې تر خپل قول تپر سه يعني لآ اله الا الله موږ به تاته نيمى د خپلو مالو وركړو او بيا چې عليه الصلوة والسلام هجرت وكړى د مدينې منورې يهودانو ده ته وويل چې ته بيرته مكې ته ولاړ سه موږ به د لارې خرڅ وركړو او په دې اكرام به دې رخصت كړو، او كه نسې ولاړ موږ دې وژنو، نو دا آيت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ

فائده: نداء يې عليه الصلوة والسلام ته په لفظ د نبي وکړه ولم يقل يامحمد تعظيمًا لشانه ﷺ وامره بالتقوىٰ من الله تعظيمًا لشان التقوىٰ، وقال البغوي رح چې دا آيت نازل سوی دی په شان کې د ابی سفيان بن الحرب وعكرمة بن ابی جهل وبی ابی الاعور عمرو بن سفيان السلمي، موضوع داسي وه چې دغه کسان وروسته تر غزاء د احد مدينې ته راغله او د رئيس المنافقين عبدالله بن ابی پر کور يې وارول او د عليه الصلوة والسلام څخه يې امان وغوښتی چې مونږ ستا سره څه خبرې کوو، نود هغې ډلې اهل مکه چې عليه الصلوة والسلام ورکړی عبدالله بن ابی سعد او طعيمه بن ابيرق يعني من يهود المدينة هم ملګري سوه، او په دې دوران کې عمر بن الخطاب رض د عليه الصلوة والسلام سره ناست وَ، نو دې مکې والو و عليه الصلوة والسلام ته وويل چې ته پرېږده ذکر زمونږ د خدايانو اللات والعزىٰ ومناة په بدنامه يعني چې دا بتان جمادات دي لاتضر ولاتنفع او دا ووايه چې ددی آلهه وَ د شفاعت سته لمن عبدها او مونږ تا او ستا خدای ﷻ سره پرېږدو، نو پر عليه الصلوة والسلام ډېره درنه پرېوتل دا مطالبه ددوی، فقال عمر بن الخطاب رض ماته اجازه راکړه چې راغلي ټوله خلک قتل کړم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې ما دوی ته د خبرو لپاره امان ورکړی دی، نو عليه الصلوة والسلام ووويل اخرجوا في لعنة الله وغضبه وامر النبي ﷺ ان يخرجوهم من المدينة فانزل هذه الآية، وقيل الخطاب للنبي ﷺ وامره بالتقوى لكن المراد امته آه، وليس بشيئ ولاوجه للعدل عن الظاهر، قال صاحب روح المعاني وظاهر سياق مابعد ان الامر بالتقوىٰ للنبي ﷺ والمقصود الدوام والثبات عليها وقيل المقصود الازدياد من التقوىٰ، ولي چې تقوىٰ لره باب واسع دی وعرضًا عريضًا لايعلم..... الاعلام الغيوب.

دروښ وايي: چې د سياق د مابعد وهو النهي بقوله ولا تطع الكافرين دا توجيه برابره ده، ولي چې دا نهي خو بالاجماع خاص په عليه الصلوة والسلام پورې دي كما يدل عليه شان نزول الآية على ما ذكره البغوي رح وقد مر آنفًا، نو امر د تقوىٰ هم وده ته دی خاصةً لينظم السياق فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ﴿۱﴾

او ته متابعت د کافرانو مه کوه يعني من اهل مكة يعني ابا سفيان و عكرمة بن ابی جهل وابو الاعور، او د منافقانو په خوله هم مه کوه يعني من اهل مدينة چي عبد الله بن ابی رئيس المنافقين وعبد الله بن سعد وطعمة بن ابيرق دي كما مر شان نزول الآية "ان الله كان عليمًا" په تحقيق خدای ﷻ ښه خبر دی په خپل مخلوق سره او په مصالح او مفاسدو سره ددوی.

فائده: په عربي ژبه کي داسي عبارت راسي چي كان زيد غنيًا معنی يې داده چي زيد دمخه غني ؤ يعني اوس فقير دی، د خدای ﷻ په وصف کي چي داسي عبارت واقع سي كما في هذه الآية معنی يې هغه دول نه ده، بلکې معنی يې داده چي عليم ؤ او عليم دی او عليم به وي، فافهم هذه الفائدة في جميع القرآن "حكيمًا" په هر فعل کي حكمت لري يعني عبث او بې ځائدې کار نه کوي، البته د خدای ﷻ په حكمت به بعض خلک نه پوهيږي.

وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰۤى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۙ﴿۲﴾

او ته متابعت کوه چي تاته يې وحي کړل سوي دي له جانبه ځخه د رب ستا، يعني من التوحيد والاخلاص لله تعالى يعني على اتم وجه ودُم على ذالک.

(پوه سه: چي دا جمله يعني واتبع آه پر منزله د تاكيد ده د امر بالتقوى والنهي عن متابعت الكافرين) په تحقيق خدای ﷻ په ماتعملون سره خبر دی.

فائده: له قراء سبعه وو ځخه ابو عمر ﷺ يعملون په يا غيبت سره وايي، نو ضمير د يعملون راجع دی و كافرانو او منافقانو ته، يعني خدای ﷻ خبر دی ستاسي په چمو سره چي د اسلام او د مسلمانانو او د نبي ﷺ سره يې كوئ يعني د هغه جزاء به درکړي، او نور قاريان يې په تاء د خطاب وايي يعني تعملون خطابًا للنبي ﷺ واصحابه ﷺ، ولي چي امر بالتقوى كه ځه هم په صيغه د مفرد راغلی ؤ لكن المراد هو ﷺ وامته، نو پر دې تقدير دا جمله تاكيد د امتثال د امر الهي طمعًا في حسن الثواب وخوفًا عن قبح الجزاء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝

او ته اعتماد او تکیه پر خدای ﷻ وکړه، او کافي دی خدای ﷻ وکیلاً، یعني تولو امورد مسلمانانو و خدای ﷻ ته وسپاره لکونده قدیراً قدرة کاملةً ورحیمًا غایة الرحمة وعلیمًا بمصالح العباد ومفاسدهم علمًا تامًا، فائده: کلمه د بازائده ده في الفاعل.

پوښتنه: وکفٰی بالله وکیلاً خو جمله خبریه ده، نو عطف یې پر توکل چې امر دی او جمله انشائیه ده څرنګه صحیح کېدای سي؟

ځواب: زجاج ؒ نحوي وایي چې کفٰی بالله که څه هم خبریه ده لفظًا لکن په معنی د انشاء ده ای اکتف بوکالته ولاتفوض امورک الی غیره تعالی لانه سفه.

پوه سه: چې وکیلاً تمییز له نسبت څخه د کفی وخدای ؒ ته.

پوه سه: چې بغوي ؒ موافق دی د هغه سره چې روایت یې ابن ابی حاتم کړی دی له سعد او نجیع کړی دی له مجاهد ؒ څخه، وایي چې ابی معمر جمیل بن معمر الفهري چې ډېر فهیم او لبیب او بلیغ او حافظ سړی ؤ په کافرانو کي، نو قریشو به ویل چې دا دومره فهم او حفظ چې ده لره دی سبب یې دادی چې ده لره دوه زړونه دي او ده به هم ویل چې زه په سینه کي دوه زړونه لرم چې په هر زړه سره زیات فهم تر محمد ﷺ لرم، نو په ورځ د بدر چې کفارو شکست وکړی او په تېښته د مکې پر خوا روان سوه په دوی کي ابو معمر هم ؤ، نو ابو سفیان چې په حالت کي د تېښتي ؤ ابو معمر یې ولیدی چې یوه چوتې یې په لاس کي ده او یوه چوتې یې په پښه ده، نو ابوسفیان ورته وویل چې ابو معمره څه حال دی د خلګو؟ ابو معمر ورته وویل چې په حال کي د شکست دي، ابو سفیان ورته وویل چې ستا ولي یوه چوتې په لاس چې په حال کي د شکست دي، ابو معمر ورته وویل چې زه علم نه لرم زما خو دا خیال ؤ چې او بله دي په پښه ده؟ ابو سفیان ورته وویل چې دا خو هم دواړې چوتې مي په پښو دي، نو په دغه ورځ خلک وپوهېدل چې که د ابو معمر دوه زړونه وای، نو ولي یې چوتې هېرېدلې، یعني یوه په لاس کي او بله په پښو.

او له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې منافقانو به ویل د محمد (ﷺ) دوه زړونه دي، یو زړه یې د موږ سره دی او یو زړه یې د خپلو اصحابو سره، فاکذبهم الله تعالی في هذه الآیة، او بعض مفسرین وایي چې په متعددو روایاتو کې راغلي دي چې یو سړی ؤ په عربو کي چې خلګو به ذو القلبین باله، او ده به ویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي زما يو قلب ما امر كوي په يو شي سره او بل مي نهي كوي له يو كار څخه.

فائده: په آيت كي كه څه هم لفظ د رجل راغلی دی هغه په سبب د شان نزول كمامر لكن خصوص د رجل نه دی مقصود، والمعنی ماخلق لاحد من الرجال والنساء والصبيان بل لذی قلب من الحيوان مطلقًا من قلبين.

مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ

پوه سه: چي جعل په معنی د خلق دی، يو مفعول غواړي چي هغه قلبين دی او كلمه د من زائده ده لاستغراق النفي، او مراد له جوف څخه بطن د سړي دی چي ځيگر ته هم شامل سي، فلايرد انهم قالوا القلب لحم صنوبري مركوز في وسط الصدر مائل رأسه الى الجانب الايسر فافهم.

تنبيه: توجيه ده د سوال بناء پر دې ده چي جوف په اصطلاح د پښتنو نس ته وايي او زړه خو په نس كي نه دی بلكې په ځيگر كي دی.

فائده: في جوفه يا ظرف لغو دی متعلق په جعل سره دی او يا صفت دی د قلبين يعني كائنين في جوفه.

پوه سه: چي قلب معدن دی د روح حيواني او منبع د ټولو قوی حيوانيه دی.

فائده: دليل عقلي د نفي د دوو زړو دادی كما ذكره المفسرون چي كه فرضًا كه سړی دوه زړونه لري، فاما ان يفعل بكل واحد منهما شيئًا واحدًا من افعال القلوب فاحدهما فضلة لاحاجة اليه او يفعل بكل واحد منهما غيرما يفعل بالآخر فجاء يلزم التعارض والتمانع والتناقض.

فائده: يو روح انساني دی چي په هغه سره ادراک او علم او فهم مربوط دی نو هغه په هغه آيت كي مراد دی: ويسئلونك عن الروح قل الروح من امر ربی وما اوتيتم من العلم الا قليلاً: معنی يې داده چي د ماهيت او حقيقت د روح انساني د خدای ﷻ سره دی او تاسي ته لږ علم د كړل سوی دی پر روح يعني چي يا دا وواياست چي روح انساني يو مخلوق د خدای ﷻ دی، او يا داسي وواياست چي روح انساني هغه دی هر سړی په انا اريد ان افعل كذا وفلان يريد ان يفعل كذا او انت تريد ان تفعل كذا و هغه روح انساني ته اشاره كوي، وهذا الروح مفقود في الحيوانات العجم فافهم، هداك الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دمخه تېره سوه چي قريشو به ويل چي ابو معمر دوه زړونه لري او ده به هم ويل چي زما په سينه کي دوه زړونه دي، د مثال په توګه دوې شرعي مسئلې خدای ﷻ بيانوي چي هغه د امتناع د دوو زړو په سينه کي د يوه سړي دلالت کوي چي يوه مسئله د ظهار ده چي بيان به يې راسي، ماينه د مظاهر خو حقيقت مورد مظاهر نه ده، ولي ددې دوو نسبتو جمع ممتنع ده چي هم دي د سړي چي مظاهر دی هم مور وي او هم دې ماينه وي، او بله مسئله د متبنّٰی ده چي يو سړی د بل چا زوی په بنوت سره معرفي کړي چي په پښتنو کي دا ډېر پېښېږي چي سړی عقيم وي يعني عيال يې نسي کېدای د بل سړي زوی ځان ته منسوب کړي يعني په زوی ګلوي يې ونسي، نو دلته خو هم دا اجتماع ممتنع ده چي هلک دي هم د خپل پلار زوی وي او هم دي ددې بل سړي زوی وي حقيقةً، ولي دوه نسبه خو يوه لره نه وي، فقال الله تعالى.

وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ

نه دي ګرځولي يعني خدای پاک ستاسي ماينې هغه ماينې چي تاسي د ظهار لفظ ورته استعمال کړي ودوی ته، ستاسي مېندي په تحريم ابدي سره، چي په جاهليت کي دا لفظ و ماينې ته ويل طلاق قطعي وُ، او په شرع کي رانقل سو و حرمت ته چي په کفاره ورکولو سره پای ته رسېږي.

دروښ وايي: چي د ظهار تولي مسئلې خو په کتابو کي د فقهه شريفي بيان کړل سوې دي لکن لپاره د فهم د آيت څو خبري ضروري بيان کړل کېږي لانهم قالوا ما لايدرک کله لايترک کله، اول صورت د ظهار دادی على المشهور في الجاهلية وبعد الاسلام ايضًا چي سړی خپلي ماينې ته ووايي انت علي کظهر امي، بيضاوي وايي چي ذکر د ظهر په ظهار کي کنايه ده له بطن څخه، صريح لفظ د بطن چي يې نه ووايه له دې سببه چي نس فرج ته نژدې دی او ذکر د فرج د ادب خلاف دی په قرآن کريم کي، او يا لپاره د تغليظ، ولي اهل جاهليت حرام باله وطي د ماينې ولو في الفرج چي شا د ماينې دي د اسمان وخواته وای، په اسلام کي خو داسي فعل روا دی چي ځای د دخول فرج وي يعني دبره د ښځي نه وي فانه حرام وهو لواطة صغرى كما بين في الفقه، ابن الهمام په فتح القدير شرح الهداية کي وايي لايظهر ما هو الصارف عن الحقيقة آه، يعني د مور پر لځه شا خو هم د زوی پر پوا ته حرام دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: امهات جمع د ام ده په جمع کلمه د ها ورزیاته کړه تحسینًا للفظ في الجمع فافهم.

فائده: کفاره د ظهار یا ازادول د مینځي یا د مریي ده، فان عجز فصیام شهرین متتابعین لیس فیها رمضان ولاشیئ من الایام المنهیة، چي دوې ورځي د اختر دي، و ایام التشریق، که له دې څخه هم عاجزؤ بیا د سپینو (۶۰) مسکینانو دوډی نصف صاع لکل مسکین او قیمة ذالک علی مابین في الفقه، او دمخه تر اداد کفارې مانیه سړي ته حرامه ده، هدایه.

وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ

یعني تاسي زوی وبولئ چي په عربي یې تبنی بولي، یعني حقیقت ستاسي زامن نه دي، نو په تبنی سره هیڅ شی د احکامو د شرع نه ثابتیږي لکه میراث وحرمة النکاح.

دروښ وایي: چي په دې آیت کي رد دی د جاهلیت پر عربو چي مانیه د مظاهر وده ته حرامه وه لکه مور، او متبنی حقیقة لکه زوی دی چي میراث وړي او دوی به ویل یحرم من التبنی ما یحرم بالنسب.

بوه سه: چي تبنی په شرع کي روا ده، ولي چي رسول الله ﷺ زید بن حارثه ؓ چي دده مریی وؤ ازاد کړی وتبناه قبل الوحي واخا بینه وبین حمزة بن عبد المطلب، نو زینب بنت جحش چي د زید مانیه وه او هغه طلاقه کړه وروسته تر عده علیه الصلوة والسلام په نکاح کړه، منافقانو به ویل تزوج محمد زوجة ابنه وهو ینهی عن ذالک فانزل الله تعالی وما جعل ادعیاکم آه.

فائده: ادعیا جمع ده د دعي علی الشذوذ، قیاس یې دعوی یعني د جمع قیاس یې لکه جرحي جمع د جریح ده لانه (یعني دعي) فعیل په معنی د مفعول دی، وغایة التوجیه انه شبه فعیل بمعنی المفعول بفعیل بمعنی فاعل فجمع جمعه کتقي واتقیاء وسخي واسخیاء وشقي واشقیاء. کذا في روح المعاني وروح البیان والمظهري والبیضاوي وغیرها.

ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ

"ذالک" اشارة الی کل ماذکر، دا ټوله ستاسي د خولې خبري دي، یعني هیڅ حقیقت نه لري لکه سړی چي مسخري کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: افواه جمع د فم ده اصل د فم فوه ؤ مثل د اثواب حذف الهاء پر خلاف د قياس، بيا يې واو حذف کړی چې حرف علت في الآخير ؤ بيا يې په عوض د واو محذوفه ميم راوړی په دې مناسبت چې دواړه حرف شفوي دی فصار فم.

فائده: راغب اصفهاني ؒ وايي چې په هر ځای کې د قرآن چې خدای ؒ معلق کړي حکم د قول په فم سره اشاره وکذب ته ده، يعني د اعتقاد سره نه ده برابره.

وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ ۝٤

او خدای ﷻ هغه خبره کوي چې د واقع سره برابره وي، او خدای ؒ هدايت ولاري ته د حق.

اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ

تاسي د متبنی نسبت کوئ و خپلو پلرو ته يعني له نطفې څخه د هغه پيدا سوي وي يعني دا نسبت کول و خپلو پلرو ته اقسط دی عند الله.

پوه سه: چې اقسط اسم تفضيل مراد ځندي زيادت مطلقًا دی مشتق د قسط چې په معنی د عدل دی و معنی الاقسط البالغ في الصدق.

دروښ وايي: چې بخاري او مسلم چې په اصطلاح د اهل حديث يې شيخان بولي، والترمذي والنسائي وغيرهم عن ابن عمر ؓ ان زيد بن حارثه چې ازاد شده مربی د عليه الصلوة والسلام ؤ، او عليه الصلوة والسلام خپل زوی ګرځولی ؤ، چې په عربو کې دا رواج ؤ او دې فعل ته يې تبنی ويله، مورږ په دې نامه باله زيد بن محمد (ﷺ) حتی نزل القرآن اعوهم لابائهم فقال رسول الله ﷺ انت زيد بن حارثه بن شراحيل.

دروښ وايي: چې اصل قصه د زيد بن حارثه ؓ علی ما اخرج ابن مردوية عن ابن عباس ؓ چې زيد بن حارثه ؓ د خپلو ماماګانو په کور کې ؤ چې بني معن من بني ثعل د طي د قبيلې وه نو دا زيد په يوه جنګ کې د طي له قبيلې څخه ونيول سو او د خرځولو لپاره بازار ته د عکاظ راوستل سو، او حکيم بن حزام بن خويلد عکاظ ته تللی ؤ او ده ته ددې عمه خديجې ويلي وه چې ماته يو بنه هوښيار مربی رانيسه چې عرب وي که چېرې درباندې پېښ سو، نو حکيم زيد رانيوی نو خديجې ته يې راوستی، او خديجې ته يې وويل چې داسي هوښيار عربي مربی مي درلره پيدا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی، نو که دي خوښه وي خو ته يې واخله او که دي خوښه نه وي ماته يې راپرېږده ولي چي زما هم خوښ دی، خديجې چي وليدی د هغې هم خوښ سو، نو خديجې واخستی، نو څه وخت چي خديجه رضي الله عنها عليه الصلوة والسلام په نکاح کړه او زيد ددې سره وُ، نو عليه الصلوة والسلام ته دده هوښياری او پوهي ډېر خوند ورکړی، خديجې رضي الله عنها ته يې وويل چي دا مريی ماته راوبخښه، خديجې رضي الله عنها ورته وويل چي په دې شرط يې دربخښم که تا ازاداوه ميراث به يې زما وي، عليه الصلوة والسلام د ميراث شرط نه ومانه، نو خديجه رضي الله عنها تر هغه تېره سوه او عليه الصلوة والسلام ته يې وويل چي ما دربخښلی دی که يې ازادوي او که يې د ځان سره پرېږدي، نو زيد بن حارثه په کور کي د عليه الصلوة والسلام ځوان سو، وروسته زيد مذکور د ابو طالب د اوښانو په قافله کي شام ته روان وُ، نو زيد خپل د قوم پر وطن تېرېدی د زيد اکا دی وپېژندی، نو ورولاړ سو او ورته وه يې ويل: من انت يا غلام؟ قال غلام من اهل مكة، اکا يې ورته وويل په نسب د اهل مکه يې؟ زيد ورته وويل يا، اکا يې ورته وويل حر يې که مريی؟ زيد ورته وويل چي مريی يم، اکا يې ورته وويل د چا؟ زيد ورته وويل د محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب، اکا يې ورته وويل اعربي انت ام عجمي؟ زيد ورته وويل عربي، اکا يې ورته وويل چي ستا اصل د کومي قبيلې دی؟ زيد وويل من كلب، اکا يې ورته وويل: من ای كلب؟ قال من بني عبدود، اکا يې ورته وويل چي چېري ونيول سوې؟ زيد ورته وويل د ماماګانو په کلي کي، اکا يې ورته وويل من اخوالک؟ زيد ورته وويل د طي قبيله، اکا يې ورته وويل د مور نوم دي څه شی دی؟ زيد ورته وويل سعدی، اکا يې را ولاړ سو په غېږ پوري يې تينګ ونيوی او ده ته يې وويل چي ابن حارثه؟ زيد ورته وويل نعم، نو اکا يې پلار راوغوښتی قال يا حارثة هذا ابنک، حارثه چي راغلی هغه وپېژندی، نو حارثه زيد ته وويل چي ستا بادار يعني محمد بن عبدالله د تاسره څرنګه کړه وړه کوي؟ زيد ورته وويل چي تر خپلو قريبانو او اولادو زه پر ګران يم، نو بيا چي کله زيد مکې ته بيرته راتلی، نو پلار او اکا يې هم ورسره وه حتی چي مکې ته راغله او د رسول الله ﷺ سره يې ملاقات وکړی، نو حارثه ورته وويل يا محمد انتم اهل حرم الله وجيرانه (يعني همسايه ګان د حرم)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعند بيته تعالى يعني كعبة تفكون العاني وتطعمون الاسير، ابني زيد علك، زمونږ سره احسان وكړه او دى مونږ ته په لاس راكړه بيله فديې يعني روپى مه راڅخه غواړه، فانک ابن سيد قومه (ددوى مراد عبد المطلب ؤ، ولي چې د عليه الصلوة والسلام پلار په وخت كې د حمل دده مبارک وفات سوى ؤ) او كه احسان نه راسره كوې هر څومره فديه چې غواړې مونږ ورته تيار يو، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې تر ټولو خير معامله به زه ستاسي سره وكړم، قالوا وماهو؟ عليه الصلوة والسلام وويل چې زه به زيد ته اختيار ورکړم كه يې ستاسي تګ خوښ ؤ نو بيله فديه يې بوزئ، او كه يې زه مختاره كړم نو به كار نه په لرئ، دوى ورته وويل جزاک الله خيرًا فقد احسنت، نو عليه الصلوة والسلام زيد راوغوښتى او ورته وه يې ويل يا زيد اتعرف هؤلاء؟ قال زيد نعم هذا ابى وهذا عمى واخي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې بښكه چې ودي پېژندل، كه دي خوښه وي نو ددوى سره ولاړ سه او كه دي زه خوښ يم زما حال خو درمعلوم دى، قال زيد[۳] ما انا بمختار عليک احدًا ابدًا، ته زما لپاره لكه پلار او اكا يې، پلار او اكا يې ورته وويل يا زيد اتختار العبودية، يعين مريى توب دي تر حريت خوښ دى؟ قال زيد ما انا بمفارق هذا الرجل، نو عليه الصلوة والسلام چې د زيد[۴] حرص وليدى پر عدم مفارقت له ده څخه، قال[۴] اشهدوا تاسي يعني پلار او اكا ته يې وويل چې زيد زما له خوا ازاد دى، نو پلار او اكا يې په ډېره خوشحالى زيد د عليه الصلوة والسلام سره پرېښو، او دى يې زيد بن محمد وباله، نو د جاهليت په زمانه كې تولو خلكو زيد بن محمد باله، حتى چې دا آيت نازل سو ادعوهم آه.

فَإِنْ لَّمْ تَعْلَمُوٓا آبَآءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِى الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ

او كه تاسي ته نه وه معلوم پلرونه ددوى چې نسبت يې وكړئ، نو دوى خو ستاسي ديني وروڼه دي او ستاسي ازاد شده ګان مريان، نو كه چا پوښتنه درڅخه وكړه چې دا سړى ستا څه دى ورته ووايه چې ديني ورور مي دى او مولى مي دى،

وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَآ أَخْطَأْتُمْ بِهٖ

او نسته پر تاسي ګناه په هغه ويناوو كې چې خطا وزئ او نهي مو هيري وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او یا مو سهواً پر خوله درسي یعني چي نسبت د متبنی وه متبنی ته وکړئ لقوله ﷺ رفع عن امتي الخطاء والنسیان.

وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ

لکن ګناه په هغه صورت کي سته چي په قصد د زړه یعني چي درمعلومه وي ته یې نسبت متبنی ته وکړې، عن سعید بن ابی وقاص وابی بکرة رضي الله عنهما قالا قال رسول الله ﷺ من ادعی الی غیر ابیه وهو یعلم (یعني پر دې یې علم درلودی چي زما پلار نه دی) فالجنة علیه حرام (ای بالدخول الاولی) رواه الشیخان في الصحیحین، وابو داؤد وابن ماجه.

فائده: مراد له نسبت څخه وغیر ته د پلار عام دی که پلار بدل کي او که نیکه وهلم جرا، یا قوم بدل کړي، په پښتنو کي دا رواج سته چي یو سړی د یو رزیل قوم څخه وي مثلاً جت وي یا پښ یا پارسیبان وي یا مصلي وي چي دا قومونه د پښتنو په رواج کي رزیل دي که څه هم چي مؤمن صالح وي ودغو اقوامو ته عندالله رزیل نه وایي لکن د رواج له سببه یو سړی چي د دغو تاموړو قومو څخه وي شرمېږي، نو ګاهي وایي چي زه سید یم ګاهي وایي بارګزی یم ګاهي وایي پوپلزی یا محمد زی یم الی غیر من الاقوام المعتبرة في العرف، نو داسي سړی په دې حدیث کي داخل دی، ولي چي ده خو هم په سلسلة النسب چي ددې وُ یو نیکه یې په سید بدل کړی وغیر ذالک... مصرع:

په قیامت نسته داسي پوښتنه..... چي د چا زوی یې له کوم وطنه

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَّحِيمًا

او دی خدای ﷻ بلیغ المغفرة والرحمة یغفر للخاطئ ویرحم.

فائده: امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه د چا څخه واورېدل چي داسي یې ویل اللهم اغفر خطایای، عمر رضي الله عنه ورته وویل یا ابن آدم استغفر لما تعمدت من الذنوب، واما الخطایا فقد تجاوز الله عنها.

مسئله: که یو مجهول النسب سړي ته چا وویل چي دا زما زوی دی، نو که مجهول النسب سړی دومره کشر وُ چي له قائل څخه یې زېږېدل ممکن وه، نو نسب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې له قائل څخه ثابتېږي، او که دده مريى ؤ پر ازادېږي، لقوله عليه الصلوة والسلام من ملک ذا رحم منه عتق عليه، او که داسي ؤ چې دا سړی له قائل څخه يې زېږېدل ممکن نه وه يا پر مشر ؤ يا مساوي العمر ؤ يا لږ کشر ؤ، نو نسب يې نه ثابتېږي لعدم الامکان، او که يې مريى ؤ دا قول د مالک مجاز دی له عتق څخه په نېز د ابو حنيفة رح او په نېز د يارانو دده يعني د شاګردانو دده يعني ابو يوسف و محمد رح، مجاز له عتق څخه هم نسي کېدای لان حمل کلامه على الحقيقة محال و المجاز يستدعى امکان الحقيقة عندهما فيلغوا هذا الکلام عندهما لاعنده، ولي په نېز دده امکان د حقيقت في الواقع د مجاز شرط نه دی بلکې امکان التکلم به من حيث العربية، ولا شک ان عربية قوله للاکبر سنًا صحيح من حيث العربية لانه مبتدأ او خبر دی لکن قرينه د اکبر والي سته چې مانع د حکم سول ای النسب فلذا ينتقل کلامه الى المجاز وهو العتق وهذه المسئلة مبسوطة في الفقه الحنيفي.

بغوي رح وايي چې رسول الله ﷺ خلک رابلل يعني وجهاد في سبيل الله ته، هغو به ورته وويل چې زه به د مور او پلار سره مصلحت وکړم، نو دا ايت نازل سو.

اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ

نبي ۴ احرى او اليق دی، والحاصل چې نبي ﷺ احرى واجدر دی د مؤمنانو لپاره تر خپلو ځانو في کل امر من امور الدين والدنيا (لقوله تعالى حکاية عن يوسف الصديق ﷺ :ان النفس لامارة بالسوء: والنبي ﷺ نه بولي خلک مګر وه هغه کارته چې په هغه کار کې نجات او فوز د مؤمنانو په دارينو کې نغښتې وي فلا يجوز اطاعة الاباء والامهات في مخالفة امر النبي ﷺ في جميع الامور التي منها الجهاد في سبيل الله دی، را ويان د حديث وايي چې دا ايت په غزوة تبوک کې نازل سو چې عليه الصوة والسلام امر عام وکړی ومؤمنانو ته د خروج الى غزوة تبوک، يعني غير المعذورين کالاعمى والاشل، والمريض صاحب الفراش وغير ذالک، په حديث کې د بخاري او مسلم د انس رض څخه لايؤمن احدکم (اى ايمانا کاملاً) حتى اکون احب اليه من والده وولده والناس اجمعين.

پوه سه: چې معنى د حديث دا ده چې في الامور الاختيارية لان الامور الطبعية خارجة عن الامکان ولايکلف الله نفسًا الا وسعها، يعني چې د ده په اختيار کې وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ما من مؤمن الا وانا اولى به في الدنيا والاخرة اقرئوا ان شئتم (يعني الدليل على ذالک) النبي اولى بالمؤمنين من انفسهم عليه الصلوة والسلام زياته کړه هر مؤمن چې مړ سي وترک مالاً فليرثه عصبته من کانوا (يعني ميراث خواره د ده که ذوي الفروض او که عصبه وي وغير ذالک نو د عصباتو څه مراد عصبات مصطلح د علم ميراث نه دي بلکه عام تر هغو مطلق وارث دی) عليه الصلوة والسلام زياته کړه ومن ترک او که پر ميت پور باندې ؤ او ضياعا يعني کشنی اولاد يې پاته ؤ چې پر نفقه قادر نه ؤ نو دي ماته راسي فانا مولاه يعني چې پوريې هم ادا کړم او ضائع عيال ته به يې نفقه برابروم.

وَأَزْوَاجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ ۗ

او د عليه الصلوة والسلام مطهرات زوجات د ټولو مسلمانانو مينډي دي يعني په تعظيم کي د حق ددوی او په حرمت کي د نکاح ددوی لکل واحد من المؤمنين ابدًا لا في النظر اليهن بلا حجاب او يوازي ددوی سره په خلوت کي ناسته فانه حرام في حقهن کما في حق الاجنبيات کما قال واذا سئلتموهن متاعًا فسئلوهن من وراء الحجاب، او ددوی ولونو ته لکه خديجة الکبرٰی لونې اخوات المؤمنين نه ويل کيږي، او نه يې مؤمن ته نکاح حرامه ده لکه د خديجة الکبرٰی رضي الله عنها، دوې لونې يوه وروسته تر بلې د حضرت عثمان رضي الله عنه په نکاح کي وي او فاطمة الزهراء رضي الله عنها د علي رضي الله عنه په نکاح کي وه، او ددوی وروڼه ماماګان د مؤمنانو بلل کيږي، او نه ددوی خويندي خالات د مؤمنانو بلل کيږي، دليل يې دادی چې اسماء د ابی بکر رضي الله عنه لور وه د زبير رضي الله عنه په نکاح کي وه، نو خلګو به ويل چې د ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها خور د زبير بن عوام په نکاح کي ده، داسي يې نه ويل چې خالة المؤمنين يې په نکاح کي ده، بغوي رحمه الله وايي چې يوې ښځې و عائشې رضي الله عنها ته وويل يا امه يا يا امي، نو دې ورته وويل چې زه ستا مور نه يم بلکې ام رجالکم، ولي ته هم ښځه يې زه هم، نو ستا سره خو د نکاح بندوبست نه دی ممکن چې ستا مور سم، او بل دا چې ستا سره خو زه بې حجابه خبرې کوم، کذا اخرجه البيهقي في سننه انتهى مع زيادة، نو ددې روايت څخه دا معلومه سوه چې مراد په آيت کي تحريم النکاح دی، او په قرائت کي د ابی بن کعب رضي الله عنه، داسي راغلي دي امهاتکم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ

پوه سه: چې اولو جمع د ذو ده خلاف القياس، او مراد د اولوية څخه اولويت في التورات دی، والمعنی خاوندان د قراباتو که له ذوی الفروض څخه وي او که د عصباتو څخه وغير ذالک، بعض ددوی اولی په بل سره په تورات تر نورو لکه چې بيان به يې راسي په کتاب کې د خدای ﷻ يا معنی في حکم الله، يا معنی په لوح محفوظ کې يا په قرآن وهو هذه الآية يا آيت المواريث، ولذالک قال رسول الله ﷺ. کمامر عنقريب، فايما مؤمن وترک مالاً فليرثه عصبة من کانوا.

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ

پوه سه: چې صله د لفظ د اولی ده يعنې چې دا اولی الارحام دده د مؤمنانو څخه او که د مهاجرينو څخه وي.

فائده: دا آيت ناسخه دی. ولي چې په ابتداء کې د اسلام التورات بالهجرة والموالات في الدين والمواخات سره وُ هغه ټوله منسوخ سوه.

اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ

مګر نه که تاسي ورکاوه و دوستانو ته يعنې من المؤمنين والمهاجرين معروف في الشرع يعنې وصية.

پوښتنه: که سړی عند الموت وصيت وکړی چې زما ټوله مال د مؤمنانو دی يا د مهاجرينو دی، نو ددې په رښا کې بايد اولی سي دغه موصی لهم تر ټولو ورثه وُ؟

ځواب: دا آيت عام خو دی لکه سائل چې وويل لکن خص منه بعض المال بالحديث المشهور واجماع الامة يعنې دا موصی له اولی دی تر ورثه وُ په ثلث المال کې دون کله.

كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝

"کان ذالک" ای ما ذکر من الاحکام "في الکتاب" ای اللوح المحفوظ او القرآن مثبت او ليکل سوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي چا تفسير د کتاب په تورات سره کړی دی ليس بشيئ لانه يخالف السباق والسياق.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ

بوه سه: چي عامل د اذ اذکر دی والخطاب لنبي ﷺ، ذکر کړه هغه وخت.

بوه سه: چي له ذکر څخه د وخت مراد ذکر دی د ماوقع في الوقت وهو الميثاق ههنا، چي مورِ واخستی له انبياء عليهم السلام څخه يعني له تولو څخه تينګه وعده، دا ميثاق هغه وخت ؤ چي د ملا څخه د آدم دوی راوه ايستل سوه في ضمن جميع ذرية آدم، وعده ددې وه چي تاسي به عبادت د خدای ﷻ کوئ او خلک و عبادت ته د خدای ﷻ رابولئ او خپلو خپلو قوموته به نصيحت کوئ او يو د بله سره به کومک کوئ ولو بالوصية يعني قوم ته به واياست که تر ما وروسته يو نبي راغلی چي تائيد يې په معجزاتو سره کړل سوی ؤ تاسي به يې متابعت کوئ.

وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوحٍ وَّإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ

او له تا څخه يا محمد (ﷺ) او د نوح او د ابراهيم او د موسی او د عيسی زوی د مريم صلوات الله تعالی وسلامه عليهم اجمعين.

سوال: دغه مذکورين انبياء کرام خو په من النبيين کې داخل وه، نو د بيا ذکر کولو څه حکمت دی؟

ځواب: تنبيه ده پر فضيلت ددوی پر نورو انبياؤ[۴] لکونهم اصحاب الشرائع الجديدة والکتب النازلة عليهم وکونهم اولوا العزم من الرسل.

فائده: رسول کريم ﷺ يې په ذکر کې په دې آيت کې دمخه کړی که څه هم په زمانه کې تر تولو وروسته دی، له دې سببه چي په حديث شريف کې چي روايت يې سعد له قتاده[۵] څخه کړی دی حيث قال[۴] کنت اول الناس في الخلق (ای من صلب آدم) وآخرهم في البعث (ای الرسالة الی لناس)

وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ۝

او واخستی مورِ له دوی څخه يعني الانبياء عليهم السلام وعده يعني چي تاسي به وفا کوئ په ما عهدو اسره ډيره سخته وعده عظيم الشانه يا تينګه وعده په قسمو سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: اخذ المیثاق له انبیاء۴ څخه خو دمخه ذکر سو، نو په اعاده کي یې څه فائده ده؟

ځواب: تکرار یې لپاره د دغه وصف چې غلیظًا دی.

لِّيَسْـَٔلَ الصَّٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ

دا جمله علت ده د ماقبل لپاره چې اخذ المیثاق ؤ، والمعنی فعلنا ذالک لیسأل الله تعالی یوم القیامة الانبیاء الذین صدقوا عهودهم یعني دوی پر ځای کړي وي خپلي وعدې چې خپلو اقوامو ته یې تبلیغ کړی ؤ.

پوه سه: چې لیسئال آه بیان د غایة او د غرض اخذ المیثاق.

فائده: په دې سوال کي د انبیاء۴ څخه مع ان اللهﷻ اعلم بحالهم تبکیت او الزام دی پر
الذین کفروا و اثبات الحجة علیهم، قال القرطبي؈ في تفسیره اذا کان الانبیاء یسئلون فکیف بغیرهم.. سعدی شیرازی قدس سره په تائید د قول د قرطبي وایي:

دران روز کزفعل پسند و قول ..... اولو العزم راتن بلرزد زهول
بجای که دهشت خورد انبیاء ..... تو عذر گناه را چه داری بیا

او یا معنی د آیت داده چې سوال به وکړل سي له هغو کسانو څخه چې تصدیق د انبیاء۴ یې کړی د دوی د تصدیق.

سوال: په آیت کي لفظ د صدق راغلی دی او دوی خو تصدیق کړی ؤ وشتان بینهما؟

ځواب: مصدق د صادق هم صادق دی فافهم.

وَأَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ۝

او خدای ﷻ اراسته کړی کفارو لره عذاب درد ورکونکی.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده علی ماذل علیه قوله لیسأل الصادقین کانه قال فاثاب المؤمنین واعد للکافرین آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی درپیاد کړئ نعمت د خدای ﷻ پر تاسي باندي (مراد له ذکر څخه نعمت هر ځای چې په قرآن کریم کې راسي شکر د نعمت دی)

"اذا جآءتکم" ظرف دی د نعمت "جنود" لښکرونه چې کفار د قریش وه او غطفان وه، بني مرة وبني اشجع وبني سلیم وبني اسد ویهود قریضه والنضیر چې مجموع یې صحیح روایت دوولس زره (۱۲۰۰۰) کسه وه.

درویش وایي: چې دا غزا په نامه د غزوة الخندق هم یادیږي او په نامه د غزوة الاحزاب هم وایي، تاریخ وایي: چې دا واقعه د شوال په میاشت په سنه (۴) د هجرت کې واقع سوې ده کذا في المواهب اللدنیة، وروسته تر اتو میاشتو د شړلو اوجلا وطن کولو د بني نضیر.

فائده: قصه د اجلاء د بني النضیر داسي وه، تاریخ وایي چې علیه الصلوة والسلام چې مدینې منورې ته راغلی، نو د بني قریضه د قوم او د بني نضیر د قوم سره چې د یهودانو د مدینې دوه قومه صلح وکړه چې تاسي به نه دښمن ته زما کومک ورکوئ پر ما باندي او نه ماته پر دښمن زما، نو بني النضیر چې یهودان د خیبر وه اصلاً او مدینې ته نژدې په یوه قریه کې چې نوم یې زهره ؤ اوسېدل، قرارداد او صلح یې ماته کړه چې علیه الصلوة والسلام سره خلفاء اربعهٔ ابوبکر، عمر، عثمان، علي رضي الله عنهم ددوی کلي ته ورغلی ؤ دیوه کار لپاره، نو بني النضیر دوی کښېنول د لوی دېوالـه د یو بام سره، نو ددوی طمع داوه چې علیه الصلوة والسلام سره د خلفاؤ رضي الله عنهم مړ کړئ، نو یو سړی یې پر بام دمخه خېژولی ؤ او لویه ډبره یې هم ورسره پورته کړې وه چې پر علیه الصلوة والسلام او خلفاؤ رضي الله عنهم یې راشوه کړې چې تولـه مړه سي، جبرئیل علیه السلام خبر راوړی چې چابک ولاړسئ چې له بامه ډبره راغورځول کېږي، علیه الصلوة والسلام سره د اصحابو چسف ولاړ سول، ډبره چې یې رایله کړه دوی ځندي خلاص سول، نو دا میشاق چې دوی مات کړی نو علیه الصلوة والسلام محمد بن مسلمة رضي الله عنه وراستاوه چې زما له بناره ووزئ یعني د قریب وه مدینې ته کلی چې د زهره یې نوم، نو دوی منع وکړه له جلا وطنی څخه په سبب د عناد د رئیس ددوی چې حیی بن اخطب ؤ چې په عناد کې د رسول الله ﷺ مشابه د ابوجهل سره په قریشو کې،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو علیه الصلوة والسلام فوج کشي پر وکړه، نو دیو محاصره وه شپږ ورځي، او ددوی په زړو کي خدای ﷻ رعب او ېږه پیدا کړه، نو علیه الصلوة والسلام ته یې حال واستاوه چي موږ فرار کېږو زموږ وینه مه تویوه، علیه الصلوة والسلام ومنل نو دوی خالي لاس له خپلي قریې څخه ووتل او ددوی مالونه، کورونو په غنیمت مسلمانانو ته پاته سوه، نو بعض ددوی اذرعات چي شام ته نژدې د یو ځای نوم دی او بعض یې خیبر ته ولاړه، او ددوی رئیس حیی بن اخطب سره د بعض مشرانو مکې ته ولاړه. او قریشو ته یې وویل چي موږ ستاسي ملګري یو پر جنګ د مسلمانانو، قریشو هم په سبب د شدت بغض د علیه الصلوة والسلام ددوی سره موافقت وکړی.

تاریخ وایي: چي د راغلو کسانو څخه مکې ته ناموړي کسان د یهودانو دغه کسان وه سلام بن ابی الحقیق حیی بن اخطب کنانة بن الربیع وهودة بن قیس وابو عامر الوالبي ونضر من بني النضیر ونضر من بني واهل، نو قریشو ته یې وویل موږ ستاسي ملګري یو تر هغو چي د مسلمانانو ریښې مو نه وي کښلي.

دروښ وایي: چي قریشو ورته وویل چي تاسي اهل د کتاب اول یاست یعني تورات، دا راته ووایاست چي زموږ او د محمد چي اختلاف دی موږ پر حق یو او که محمد، او زموږ دین خیر دی او که د محمد؟ دوی ورته وویل بل دینکم خیر من دینه وانتم اولی بالحق منه دا چي دې یهودانو قریشو ته وویل دوی ډېر خوشاله سوه، او د یهودانو دعوت ته یې پر حرب رسول الله ﷺ مرحبا وویل، او ابو سفیان بن حرب مرحبابکم احب الرجال عندنا من عاهدنا علی حرب وعداوة محمد (ﷺ) نو دې یهودانو چي د بني نضیر او بني وائل د قبیلو چي تعداد یې شل کسه وه، ابو سفیان ته یې وویل چي ته پنځوس کسه د مختلفو قبائلو څخه د قریشو مختار کړه او ته به هم پکښې شامل یې چي موږ او دا پنځوس کسه تر پوښ د کعبې لاندي سو، او ځیګرونه په کعبه پوري یعني په دېوالو پوري د کعبې جوت کړو، بیا به یوه خوله ووایو چي والله بالله چي موږ تولې متفق یو پر حرب د محمد، او موږ به دده سره جنګ کوو باقی منا رجل واحد، ففعلوا ذالک، وقد حکی الله ذالک الصنیع من الیهود بقوله في موضع آخر: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ (یعني یهود المدینة چي کتاب تورات دوی ته ورکړل سوی دی) الی قوله وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا، وروسته دا کسان د یهودانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د قریشو سره یې معاهد وکړه د غطفان قبیلې ته ولاړه او هغه یې هم باعثه کړه پر قتال د نبي ﷺ، نو دې یهودانو د غطفان د قبیلې سره وعده وکړه چې موږ به د دیوه کال ټوله خورما د خیبر تاسي ته درکوو، نو ددوی سره یې معاهده وکړه په دغه شرط مذکور، او بیا عیینه و خلفاؤ ته نوشته کړه من بني اسد، قال البغوي ؒ چې قریش د مکې ووتل د مدینې پر خوا چې قائد یې ابو سفیان بن حرب ؤ او د غطفان قبیلې چې قائد یې عیینة بن حصن الفزاري ؤ، راوي وایي چې ابو سفیان څلور زره عسکر جمع کړه او بیرغ یې و عثمان بن ابی طلحة ته ورکړی، او په عسکرو کې د ابو سفیان درې سوه (۳۰۰) آسان وه او زر (۱۰۰۰) اوښان وه چې د مکې څخه ووتل ونزلوا بمر الظهران او هورې د اسلم قبیله او د اشجع قبیله او د بنو مرة قبیله او د بنو کنانة قبیله او د فزارة قبیله او د غطفان قبیله ورسره یو ځای سوې، بعض رواة وایي چې مجموع لښکرونه لس زره (۱۰۰۰۰) کسه وه، او صحیح داده چې دوولس زره (۱۲۰۰۰) کسه وه، نو ټول د مدینې پر خوا روان وه، نو له دې کبله ودې غزا ته غزوة الاحزاب وایي، راویان ددې قصې وایي چې قریشو چې دا آمادګي وکړه فوراً یو جماعت د خزاعة د قبیلې چې حلیفان د رسول الله ﷺ وه په مکه کې، په څلورو ورځو کې یې ځانونه مدینې ته ورسول او ټوله قصه و علیه الصلوة والسلام ته وکړه، راویان د قصې وایي چې علیه الصلوة والسلام دا خبره د اجتماع د اقوام مختلفه وو کمامر لپاره د حرب خپل واورېده، اوله خبره یې دا وکړه حسبنا الله ونعم الوکیل، نو ده مبارک په قرار د پیغام الهي: وشاورهم في الامر فاذا عزمت فتوکل علی الله، اصحاب رائ د مهاجرینو او انصارو ﷺ یې د مشورې لپاره راغونډ کړه، سلمان فارسي ؓ چې دمخه مریی او بیا ازاد کړل سوی ؤ او دا یې اول وار ؤ چې په غزاء کې شامل سوی ؤ، نو سلمان فارسي ؓ دا مشوره ورکړه چې موږ چې به په فارس کې د داسي مشکل سره مخامخ سوو یعني چې د دښمنانو عدد به نهایته ډېر ؤ او مقابله بالمشافهة به مو په وس نه وه پوره، نو پر ځان به مو خندق راوګرځاوه د دیوه کاږه غره په لمن کې او شا د لښکر به د غره وخواته وه او مخ ته به یې خندق ؤ چې دومره به یې عرض ؤ چې آس نه سوای تر غوږ ځپلای اوښ لاځه کوې، او دومره به یې عمق چې نه آس نه سړی ورکښته کېدای، ـوای.

دروښ وایي: چې په هغه زمانه کې جنګ یا د توري ؤ یا د غشي، نو د خندق په سبب نه تورو د دښمن او نه غشي د دوی پر مسلمانانو تاثیر کولای سوای، نو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام د سلمان فارسي رضي الله عنه دا رایه خوښه سوه، نو یو غر چې په نامه سره د جبل سلع یادېدی پر دغه نقشه برابر یې پیدا کړی، نو علیه الصلوة والسلام پر مدینه منوره عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه مقرر کړی، او ښځي یې ټولې و محفوظو قلعو ته د مسلمانانو چې د مدینې منورې دباندې وې واستولې او محافظ دربان به ورسره وۀ، نو علیه الصلوة والسلام د غزاء په نیت له مدینې څخه د جبل سلع پر خوا سره د مهاجرینو او انصارو رضي الله عنهم راهي سول، بیرغ د مهاجرینو یې زید بن حارثه ته ورکړی او بیرغ د انصارو یې سعد بن عبادة رضي الله عنه ته ورکړی، او درې زره (۳۰۰۰) مهاجرین او انصار ورسره وه او (۳۶) آسان ورسره وه، چونکه د وتلو په وخت کې هلکان هم ورسره راوتلي وه چې یا به بلوغ ته رسېدلي وه یا نه، نو هغه کوچنیان چې بلوغ ته به نه وه رسېدلي هغه یې بیرته مدینې ته رد کړه، یعني چې تر پنځلس کاله کم وۀ او چې د پنځلسو کالو به وۀ هغه ته به یې اجازه ورکړه یعني عبدالله بن عمر، زید بن ثابت، ابو سعید الخدري، براء بن عازب.



د خندق نقشه په خپله علیه الصلوة والسلام معلومه کړه، او هرو لسو کسانو څلوېښت ګزه مځکه غاړول او خاورې یې ځنې ایستلې پر طرف د عسکرو تاچې خزه غوندې سي، لکن په سلمان فارسي رضي الله عنه کې چې ډېر قوي سړی وۀ د مهاجرینو او انصارو اختلاف پیدا سو، هرې ډلې به ویل چې سلمان فارسي رضي الله عنه زمونږ د ډلې دی، رسول الله ﷺ وویل چې سلمان منا اهل الله.

درویش وایي: چې دا نسبت د سلمان رضي الله عنه لوی ځای د فخر او خوشالۍ وۀ یعني علیه الصلوة والسلام و ځان ته منسوب کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واقعه: عمر بن عوف ؓ وايي چي زه وم، سلمان فارسي، حذيفه، نعمان بن مقرن المزني او شپږ کسه نور د انصارو وو چي خندق مو غاراوه، نابيره د خندق په منځ کي يوه سخته لويه ډبره چي په پښتو يې ګاره بولي پيدا سوه چي زمونږ د اوسپني آلاتو هيڅ تاثير نه پر کاوه، بلکې بعض کلنګان پکښې مات سوه، نو عمر بن عوف ؓ وايي چي ما سلمان فارسي ته وويل چي ته له خندقه ور ووځه او صورت حال ددې ګاره و عليه الصلوة والسلام ته بيان کړه، که يې وويل چي ګاره پر ځای پرېږدئ خو پرې به يې ږدو، ولي مونږ پر خپل سرد عليه الصلوة والسلام له نقشې څخه نه سو تېرېدای، سلمان فارسي چي ورغلی عليه الصلوة والسلام په يوه ترکۍ خېمه کي تشريف فرما ؤ، سلمان چي صورت حال و عليه الصلوة والسلام ته ووايه، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل انا نازل ان شاء الله تعالى، آنحضرت ﷺ چي راغلی مارتور يې د سلمان د لاسه واخستی په اوله ضربه دريمه حصه د ګاري جلا سوه او يو برق غوندي رڼا تر ډبري راووتل لکه څراغ چي سړی په توره شپه کي ولګوي، عليه الصلوة والسلام الله اکبر ووايه او مسلمانانو هم الله اکبر ووايه، بيا دويم وار عليه الصلوة والسلام په سوتک ووهل دوه ځايه سول اويوه لويه رڼا تر راووتل چي اطراف د مدينې يې تول روښانه کړل، لکان مصباحًا في جوف بيت مظلم فکبر رسول الله ﷺ تکبير فتح وکبر المسلمون، نو عليه الصلوة والسلام سلمان تر لاس ونيوی چي له خندقه وتی، سلمان ؓ و عليه الصلوة والسلام ته وويل بابی انت يا رسول الله لقت رئيت شيئًا ما رئيت مثله قط؟ عليه الصلوة والسلام پر نورو خلګو مخ راواړاوه او ورته وه يې ويل چي تاسي هم لکه سلمان چي وايي کوم شی وليدی؟ قالوا نعم، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل ضربت ضربتی الاولی فبرقت الذی رئيتم اضائت لی قصور الحيرة ومدائن کسرٰی کانها انياب کلاب واخبرنی جبرئيل ؑ ان امتی ظاهرة عليها، يعني حيرة او مدائن ښارونه د کسرٰی به فتح کړې، دوهم وار چي ما ووهل، نو هغه برق چي تاسي وليدی په هغه برق ماته ښکاره سوی کوڅې، الحمرة من الروم لکه غاښونه د سپو فاخبرني جبرئيل ؑ ان امتک ظاهرة عليها، نو مسلمانان ډېر خوشحاله سول او وې ويل الحمد لله الذي موعده صدق وعدنا النصر بعد الحصر، منافقانو به ويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعجب دی وه محمد ته چې تاسي ته تمنّی او وعدې بالباطل در کوي او وايي چې زه د مدينې څخه قصور د حيرة او مدائن د کسری وينم او دا ځايونه تولة تاسي ته فتح سي او دی د بېرې پر ځان خندق را ګرځوي او ميدان ته د جنګ نه سي ورتلای فانزل الله حالهم في القرآن : وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ (ای نفاق) مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا ۝ چې موږ صرف په دې وعدو خطا باسي.

دروښ وايي: چې راويان د قصې وايي چې عليه الصلوة والسلام سره ده مسلمانانو خاوري د خندق پر خپل شا وو مبارکو چلولې او دا کال ډېره لوږه او سختي پر مسلمانانو مسلطه وه رسول الله ﷺ چې حال زار د مسلمانانو ولېدی داسي وويل:

اللهم لا عيش الا عيش الاخرة ..... فارحم الانصار والمهاجرة

مسلمانانو په جواب کې داسي ورته وويل:

نحن الذين بايعوا محمدا ..... على الجهاد ما بقينا ابدًا

راوي وايي چې قريشو او بني قريضه ارادې وکړه چې پر مدينه حمله وکړي، نو عليه الصلوة والسلام درې سوه (۳۰۰) کسه مدينې ته واستول چې مدينه د احتمالي يرغل څخه وساتي په حديث صحيح کې د البراء بن عازب ؓ څخه روايت دی چې ما ولېدی عليه الصلوة والسلام چې خاوري د خندق ئې پر خپله شا مبارکه اچولې حتی چې ګرد او غبار د خندق د ده د نس مبارک وېښتيان پټ کړي وه او دا بيتونه د ابن رواحه ؓ د ځان سره په چهر ويله:

اللهم لو لا انت ما اهتدينا ..... ولا تصدقنا ولا صلينا

فانزلن سكينة علينا ..... وثبت الاقدام ان لاقينا

ان الاولى قد بغوا علينا ..... اذا ارادوا فتنة ابينا

په اخير کې به يې اواز ته ډېر مد ورکړی.

فائده: د سلمان فارسي ؓ په مدح کې يو شاعر وايي:

لقد رقى سلمان بعد رقه ..... منزلة شامخة البنيان

وكيف لا والمصطفى قد عده ..... من اهل بيته عظيم الشان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کما مر بیانه تفصیلاً، حسین الکاشفي ؒ میګوید: بعد از شش روز که مهم خندق سمت اتمام یافت، اقبلت قریش و من معهم، خندق رادیدند ګفتند این کار عرب را نیست ونبوده، نو دوی په یوه شپله کي واړول، راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام ومن معه د خندق په محاصره کي قریب یوه میاشت تیره کړه وهو اثبت الاقوال.

درویش وایي: چې په سبب د حفر الخندق دې غزاء ته غزوة الخندق وایي، په دې دوران کي اکثر حال د کفارو بې فائدې غشي ویشتل او ډبرې ویشتل وه، راوي وایي چې نوفل بن عبدالله راغلی او آس یې په غمچینه وواهه چې تر خندق یې ابلي خواته واړوي، نوفل سره د آسه په خندق کي ولوېدی فنزل الیه علي ؓ فضربه بالسیف دوه ځایه یې کړی، په دې دوران کي یو ډېر مشهور جنګیالی پهلوان چې نوم یې عبدود ؤ (باضافة عبد الی ود چې دیو بت نوم ؤ) چې عمر یې په دغه وخت کي نیوي (۹۰) کاله ؤ، شاوخوا ګرځېدی یو ځای یې پیدا کړی د خندق چې تنګ ؤ پر آس یې ږغ وکړی آس تر خندق واوښتی، نو عبدود نعره وکړه یا محمد یو څوک راواستوه چې زه یې جنت ته واستوم (دا خبره ده د پسخنده وکړه په دین د اسلام) رسول الله ﷺ پر خپلو ملګرو ږغ وکړی چې څوک مقابلې ته د عبدود ورځي چا ږغ ونه کړی علي ؓ وویل چې زه ورځم، نو علیه الصلوة والسلام خپله توره ذوالفقار وده ته ورکړه او دعاء د نصرت یې ورته وکړه، راوي وایي چې د عبدود دا مشهوره خبره وه چې که څوک زما څخه درې غوښتنې وکړي پر یوه ځای زه یې حتمًا یوه منم، نو علي ؓ ورغلی له عبدود څخه یې پوښتنه وکړه چې دا ستا څخه منقوله خبره رشتیا ده؟ عبدود ورته وویل هو! نو علي ؓ ورته وویل چې زما اول خواست له تا څخه دادی چې ایمان راوړه، عبدود وخندل چې دا خو محال ده. علي ؓ ورته وویل چې دویم خواست مي دادی چې ته بیرته ولاړ سه د کومه خوا چې راغلی یې، عبدود وروته وویل چې زه په څه خواری او د ځان د خطره راغلی یم بیرته به خالي لاس ځم؟ دا خو زما د نیوي کالو د شجاعت بدنامي ده، علي ؓ ورته وویل چې درېیم خواست مي دادی چې زما سره جنګ وکړه، عبدود وخندل چې ما په ټوله عمر کي داسي څوک نه دی لیدلی چې ماته دي ووایي چې زما سره جنګ وکړه، د علي ؓ غرض دا ؤ چې دی دا ونه وایي چې محمد ﷺ دي خپله جنګ ته راسي، نو چونکه علي ؓ پیاده ؤ نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدود هم خپل د آس پښې پرې کړې ځان يې پياده کړی، او علي ﷺ ته يې وويل چې واړی کوې که يې زه وکړم علي ﷺ ورته وويل چې وه يې کړه، عبدود په خپل ټول طاقت سره په توره وواهه، علي ﷺ توري ته سپر ونياوه ځان يې خلاص کړی، دوهم وار علي ﷺ چې پر عبدود واړی وکړی عبدود هم توري ته سپر ونيوی، القصه درېيم وار چې د علي رضي الله عنه هاشمي رنګونه په جوش راغله داسي د توري ګذار يې پر عبدود وکړی چې سپر يې پرېکړی او د عبدود نيمه حصه د اوږې ورسره پرې سوه عبدود پر مځکه غځار سو علي رضي الله عنه يې سر ځنډي پرېکړی، په مسلمانانو کې د الله اکبر نارې پورته سوې، د الله اکبر نارې چې عليه الصلوة والسلام په خپله خېمه کې واورېدې په دې پوه سو چې علي ﷺ عبدود قتل کړی، نو يې داسي وويل: لافتى الا علي ولا سيف الا ذوالفقار، په کشف الاسرار کې وايي چې د کفارو درې مشهوره کسان ووژل سول او د اصحابو څخه د عليه الصلوة والسلام يو هم نه دی شهيد سوی.

فائده: له دې شغل څخه د کيندلو د خندق د عليه الصلوة والسلام يو د عصر (مازديګر) لمونځ قضا سو، ولذالک قال رسول الله ﷺ شغلونا عن الصلوة الوسطى صلوة العصر ملأ الله قبورهم وبيوتهم نارًا، جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ په نس پورې دېرې تړلې وې د لوږې له کبله، دی وايي چې درې ورځې کېدې چې موږ د شي خوند نه وُ ځکلی، نو جابر ﷺ وايي ما وويل چې ماته اجازه راکړئ چې زه يو وار کور ته ولاړ سم، عليه الصلوة والسلام اجازه راکړه زه کور ته ولاړم ماينې ته مي وويل چې ما عليه الصلوة والسلام په داسي حال کې وليدی چې د لوږې يې په نس پورې دېرې تړلې وې نو هيڅ صبر مي نه کېدی نو کور ته څه شی سته؟ هغې يوه بنې راوړه ايستل چې په هغې کې يوه کاسه وربشي وې او ما کور ته يو وری درلودی هغه مي ذبح کړی او ماينې مي وربشي وه ميچن ته واچولې اوړه کولې يې، چې زه د دوري د تور تيوک کېدو څخه خلاصېدم ماينه مي د ميچني څخه فارغه سوه، خير غوبنې ما کتو يا دېګ ته واچولې او باندې مي کړې، او وړه هم خمير سوه يعني قابل د پخېدلو سوه، ماينې مي په تناره کې اوربل کړی چې پتيرې پر ووهي، زه د رسول الله ﷺ پر خوا د راهي کېدلو په حال کې وم چې ماينه مي راته وويل چې دېر فهم کوه چې د عليه الصلوة والسلام سره د دېرو صحابه وو په راوستلو مو رسوا نه کړې، ولي وری يو دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پټيري هم لږ دي، جابر رضي الله عنه وايي چې زه خندق ته ورغلم او عليه الصلوة والسلام ته مې پټ وويل، چې طعيمة په صيغه د تصغير يعني يو لږ طعام ما پخ کړی دی، نو يو ته دوه يا درې کسان نور راسره ولاړ سئ، عليه الصلوة والسلام راته وويل وکم هو يعني څومره اندازه طعام دي برابر کړی دی، خو مايې بيان ورته وکړی، عليه الصلوة والسلام وويل کثير طيب، او ماته يې وويل چې ورسه ماينې ته دي ووايه چې دېګ له اوره کښته نه کړي او پر تنارہ دوډی ونه وهي تر څو چې زه نه يم دررسېدلی، وروسته په لوړ اواز عليه الصلوة والسلام نارہ وکړه يا اهل الخندق ان جابرًا قد صنع سورًا (يعني مهماني) فحي هلا، ځان آراسته کړئ او ژر کوئ، جابر رضي الله عنه وايي زه کور ته راغلم او ماينې ته مې وويل ويحک (دا کلمه د ترحم ده) جاء النبي ﷺ بالمهاجرين والانصار، فقالت وبک وبک کنايه ده له ښېرا څخه ای فعلی الله بک کذا وکذا، ماينې مې راته وويل آيا ستا څخه يې د طعام پوښتنه وکړه؟ ما ورته وويل نعم، ماينې مې راته وويل الله ورسوله اعلم، نو عليه الصلوة والسلام اول سړی ؤ چې کور ته راغلی او ورسره کسانو ته يې وويل چې از دحام مه کوئ دا وايي چې ما د خميرو وړو کاسه ورته رواخستل، آنحضرت ﷺ پکښې توه کړه او بيا دېګ ته ورغلی او په هغه کې يې هم توه کړه او دعاء د برکت يې وکړه، بيا جابر رضي الله عنه وايي ماته عليه الصلوة والسلام وويل چې ته يوه بله ښځه د همسايه ګانو پيدا کړه چې ستا د ماينې سره دوډی پر تنارہ ووهي، او ماته يې وويل چې لسو کسو ته اجازه ورکړه چې راسي، جابر رضي الله عنه وايي چې عليه الصلوة والسلام دوډی ميدوله چې د دې لسو کسو ښېدله او په مړېدل به، او لس برخي د غوښې به يې پر ايښوولې، دا برخي او دوډی به يې ځنې را ايستلې او د دېګ او تنارہ سر به يې پټ کړی، جابر رضي الله عنه وايي چې دا موضوع او تقسيم د دوډی او د غوښو د عليه الصلوة والسلام په مبارک لاس شروع ؤ چې لسو کسو به دوډی وخوړل هغه به بيرته خندق ته رهي کېدل ثم وثم حتی چې زرو (۱۰۰۰) کسانو دا دوډی او غوښې وخوړلې او ولاړه خندق ته، جابر رضي الله عنه وايي چې زما دي قسم په الله وي چې هم دوډی او هم غوښې پاته سوې او زمونږ دېګ د غوښو ډک ؤ او تنور د دوډی ډک ؤ، بيا په اخير کې عليه الصلوة والسلام، ما او زما ماينې دوډی او غوښې وخوړلې، بيا عليه الصلوة والسلام زما کور والا ته وويل: کلي واهدی، ته يې وخوره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د همسایه ګانو کورو ته یې واستوه، فان الناس اصابتهم مجاعة.

دروښ وایي: چې دا قصه چې تاسي واورېدل معجزه باهره وه د رسول الله ﷺ او زه د رسول الله ﷺ دغه کارنامې داسي بیانوم:

بر فلک برتر بود اسرار او ..... فقر و جوع سنگ بستن کار او

دروښ وایي: چې یوه میاشت چې پر پوره کېدلو سوه د نصرت الهي نېټه ورسېدل، کما قال الله تعالی:

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا

ای علی جنود احزاب الکفرة من الطوائف المختلفة کمامر تفصیله "ریحًا" یعنی شرقي باد چې باد صبا یې بولي، قال علیه الصلوة والسلام نصرت بالصبا واهلکت عاد بالدبور یعني د کنبې غربي باد، راویان د قصې وایي چې دا باد صبا دېر یخ ؤ په شپه کې ذات شتاء اود کفارو پر عسکرو ؤ فقط خاوري د خندق یې پر پاشلې، مورچې د خېمو یې ورو کښل او تناوونه د خېمو ددوی یې پرې کړه اورونه یې مړه سوه او کتۍ یې چپه سوې او د کفارو په زړو کې خدای ﷻ رعب پیدا کړی.

وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا

او لښکرونه چې تاسي نه لیدل چې ملکي وې چې تعداد یې (۱۰۰۰) ؤ چې هغو ملکو خو جنګ نه کاوه صرف د الله اکبر نارې یې وهلې چې د کفارو خیال دا سو چې مسلمانان راګډ سوه لا یې رعب دېر سو او د هر قوم سردار او رئیس خپل قوم ته ناري وهلې یا بني هلموا الي (ای زامنو زما ماته راسئ) چې هغه به راجمع سوه د قوم رئیس به ورته وویل: النجاء النجاء الاسراع الاسراع (ځانونه ساتئ ځانونه ساتئ چابک کوئ چابک کوئ) فانهزموا من غیر قتال وارتحلوا لیلاً، او درانه شیان یې ټوله پرېښوول، او طلحة بن خویلد الاسدي علیه اللعنة وویل اما محمد فقد بدئکم بالسحر فالنجاء النجاء.

او الشیخ عماد الدین وایي په خپل تفسیر کي چې که علیه الصلوة والسلام رحمة للعالمین نه وای ما ترکت الریح احد من الکفار الا جعله کالرمیم کما جعلت عاد الریح العقیم، وفي روایة من حدیث حذیفة ؓ چې زه چې د کفارو د عسکرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راجع سوم او د دوی وارخطایي او تپښته مي ولیدل الی رسول الله ﷺ په لار کي شل نفره پر آسانو سپاره وه سپیني لنګوټې یې وې ماته یې وویل: قل لصاحبک ان الله سبحانه دفع شر اعدائک حتی چې ابو سفیان چې عمومي سپه سالار وو خلګو ته وویل ارتحلوا فاني مرتحل اوښ ته ورولاړ سو چې د هغه یوه پښه ټولې وه پر سپور سو په غمچنه یې وواهه هغه پر درو پښو ولاړسو حتی په ولاړي بند ژنګون ورخلاص کړی یعني دونه وارخطاؤ.

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۝

او وو خدای په هغه عمل چې تاسي کاوه (ایها المؤمنون من حفر الخندق والتهیئ للقتال لیدونکی دی)

اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ

(اذ جاؤکم) بدل دی د من اذ جائتکم: من فوقکم یعني د اعلی څخه د شپلې من قبل المشرق وهم بنو اسد وغطفان چې د بنو اسد مشر مالک بن عوف ؤ او د غطفان د قبلې مشر عیینة بن حصن الفزاري ؤ (من اسفل منکم) او د کښې د خوا څخه ستاسي یعني من بطن الوادي من المغرب وهم کنانة وقریش چې قوماندان یې ابو سفیان بن حرب ؤ في قریش ومن تبعهم وابو اعور عمرو بن سفیان السلمي من قبل الخندق.

پوه سه: چې (اذ زاغت الابصار) عطف دی پر ما قبل داخل یې حکم کي تذکیر یعني دا هم دروښ وایي: چې پیاد کړئ چې د دې بره خوف او دهشته څخه مو سترګي د خپل حال څخه واوښتی چې مستوي کاته دي په پښتو کي وایي چې د پلانې د ده بري بېري څخه سترګي ړې وې ودرېدلې.

وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ

پوه سه: چې حناجر جمع د حنجرة ده چې منتهی د سړي غاړي دي چې طعام او شراب پکښې ځي.

پوه سه: چې روح المعاني وایي چې دا کلام محمول دی پر مبالغه له دې بره خوفه څخه ای خافت القلوب خوفًا شدیدًا وفزعت فزعًا عظیمًا لا انها تحرکت عن مواضعها وتوجهت الی الحناجر لتخرج، اخرج ابن ابی شیبة عن عکرمة رح انه قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في الآية ان القلوب لو تحركت وزالت عن واضعها خرجت نفسه لكن انما هو الفزع فالكلام محمول على المبالغة.

دروښ وايي: چې ورته خبره پښتانه په وخت کې د شدت غضب هم کوي دوی وايي زړه دي خولې ته راوستی زما په نېز حمل پر مبالغه په شدت خوف کې اولی او انسب دی من حمله على الحقيقة، او روح البيان پر حقيقت حمل کړی دی، وايي چې "رئة" چې په فارسي يې شش بولي او په پښتو يې سږی بولي وپرسږي له ډېره غمه او يا له ډېري بېري، نو دده په پرسېدلو سره زړه راپورته سي وه حنجره ته وهو مشاهد في مرض الخفقان، انتهى او دا احتمال روح المعاني په قيل سره راوړی دی او حقيقت ته يې قتادة رح ته تللی دی، او مظهري رح هم پر حقيقت حمل کړی دی، والله اعلم بمراده في كتابه.

وَتَظُنُّونَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝١٠

او تاسي ګمان کوئ پر خداى ﷻ رقم رقم ګمانونه، چې په دې غزاء کې به د محمد (ﷺ) او د اصحابو بېخ کندن وسي يعني ټوله به قتل سي، او د مؤمنانو يقين وُ د نصر او ظفروُ پر احزابو، ولې چې نبي ﷺ ته وعده د اعلاء د دين ده پر ټولو اديانو ورکړل سوې وه، او ضعيف القلب مؤمنان د تزلزل په درياب کې غرق وه، ګاهي چنين ګاهي چنان.

پوه سه: چې ابوبکر رض او اهل مدينه په اثبات د الف وايي وصلاً ووقفًا، ولې د الف په مصاحفو کې مثبت دی، او نور قراء يې په الف وايي په وقف کې، لموافقة رؤس الآيات واتباع الخط او بغير الف يې وايي په وصل کې.

هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ۝١١

په دغه غزاء کې د احزابو امتحان وکړل سو د مؤمنانو چې مخلص له منافق څخه جلا سي او ثابت على الدين د متزلزل څخه جلا سي.

او دوی وښورول سوه په سخت ښورېدلو سره، هم د مذکوره امتحان لپاره لکه يو درخته چې مړی سخته وښورو ي چې ريښې محکمه دي او که سستي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ يَقُولُ الْمُنٰفِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ

په یاد کړه چې ویل به منافقانو (لکه معتب بن قشیر او عبدالله بن ابی و اصحابه چې تعداد یې درې سوه ته بالغ ؤ) او هغه کسانو چې په زړو کې یې مرض ؤ یعني ضعف اعتقاد ؤ که څه هم منافق خو به نه ؤ لکن ایمان راسخ یې نه درلودی.

مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾

زمونږ سره نه کول خدای او رسول د خدای وعده چې تاسي ته به قصور د شام او فارس فتح سي. او سره ددې چې یو زمونږ له خپله کوره نسي وتلای د بیرې، وهذا والله الغرور یعني غولېده وه زمونږ. دا قول د منافقانو ؤ.

وَإِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ

او په یاد کړه هغه وخت چې وویل یوې ډلې د منافقانو (چې اوس بن قبطي واصحابه وه) ای د یثرب اوسېدونکو (یثرب د مدینې منورې پخوانی نوم ؤ د جاهلیت په وخت کې، او ابو عبیده وایي چې یثرب د نهو (۹) محکو نوم دی چې مدینة رسول الله ﷺ یې په یوه ناحیه کې د هغې محکي واقع ده، بغوي رح وایي چې رسول الله ﷺ نهي کړي دي چې مدینې ته څوک یثرب ووایي لشوم هذا اللفظ لانه مشتق من ثرب به یثربه، ملامت یې کړی او پېغور یې ورکړی په ګناه د هغه. او الثرب قلیل العطاء یعني بخیل ته هم وایي کذا في القاموس.

لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا ۚ

نسته ځای ستاسي لپاره (پر صیغه د ظرف ځای د اوسېدو) او نسته تاسي لره په جنګ کې د احزابو، نو خپلو کورو ته ولاړ سئ د جنګ له ځای څخه او رفاقت د محمد (ﷺ) پرېږدئ، او یا معنی داده لامقام لکم علی دین محمد ۴ فارجعوا الی الشرک، یعني ځانونه و اهل شرک ته تسلیم کړئ. فتسلموا. نو به تاسي سالم پاته سئ، او ابو سفیان او د هغه ډله په تاسي کار نه لري.

وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ۛ

او اجازت غواړي یوه ډله ددوی د نبي ﷺ څخه (چې بنو حارثه او بنو سلمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه) او دوی وایي (یقولون حال ده له فاعل څخه د یستأذنون) زمونږ کورونه محکم نه دي هم دښمن ورتلای سي او هم سارق، خدای ﷻ یې تکذیب وکړی.

وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۛ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾

ددوی کورونه نه دي لکه دوی چې وایي بلکې محکمي کلاوي لري، دوی اراده نه لري په دې قول کاذب کي مګر تښتته له جنګ څخه.

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ

او که داخل کړل سي یعني مدینې ته دغه احزاب، پر دوی یا په مدینه او یا ددوی په کورو کي، له اطرافو څخه د مدینه یا ددوی د کورو، بیا ددوی څخه غوښتنه وسي یعني د احزابو له خوا څخه د فتنة یعني الشرک یا د مسلمانانو سره د جنګ.

لَآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾

دوی به دا فتنه قبوله کړي له احزابو څخه دوی به درنګ ونه کړي په ورکړه کي د فتنې وقبولها، مګر لږ زمانه چې زمانه د سوال او ځواب ده یعني خدای ﷻ به یې هلاک کړي وهذا رأی اکثر المفسرین، وقیل معناه ما اقاموا بالمدینة بعد اعطاء الکفر الا زمانا قلیلاً، ولي چې خدای ﷻ خو علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو غلبه پر احزابو ورکوي کمامر، نو دوی بیرته مدینې ته راسي دغه کسان چې شرک قبول کړي ټوله به قتل کړي.

تنبیه: راویان وایي چې دمخه تر غزوة الاحزاب چې بني النضیر من الیهود بغاوت الیهود وکړی او علیه الصلوة والسلام حمله پرو کړه او ددوی په زړو کي رعب واچاوه، نو علیه الصلوة والسلام ته یې دا پیش نهاد وکړی چې زمونږ ترویښه تپرسه یعني وژنه مو مه، موږ به جلا وطنه سو او کورونه او باغونه او ټولي شتمنی به تاسي ته پریږدو. نو علیه الصلوة والسلام ددوی دا خبره ومنله، او ددوی مشر حیی بن اخطب ؤ، نو څرنګه چې د احزاب د جنګ تیاري کېدل، نو د بني نضیر ستر مشران لکه سلام بن ابی الحقیق وحیی بن اخطب وکنانه بن الربیع وهوذه بن قبیس او ابو عامر الوالبی کمامر، ټوله مکې ته تللي وه او د قریشو سره یې معاهده د جنګ د مسلمانانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي وه، وقد مر لکن بنی قریضه چي هم یهود وه د علیه الصلوة والسلام سره چي یې معاهده کړې وه یعني چي زمونږ د دما او اموال به محفوظ وي، نه مونږ ستاد دښمنانو سره په وخت کي جنګ ستاسي او د دوی ترمنځ شاملیږو چي ستا سره به جنګ وکړو. او نه ستا په فوج کي داخلیږو چي ستاد دښمن سره به جنګ کوو، پر هغه معاهده ولاړ وه یعني د احزابو په لښکر کي نه سوه داخل. لکن حیی ابن اخطب چي د بني النضیر د قوم مشري یې پر غاړه درلوده، دا خنزیر حیی بن اخطب ورغلی و کعب بن الاسد ته چي د قریضه وو مشر او د علیه الصلوة والسلام سره یې معاهده د امن لاس لیک کړې وه. کعب بن الاسد چي واورېده چي بن اخطب ستاسره د ملاقات لپاره راغلی، د قلا دروازه یې پر مخ بنده کړه حیی اجازه د دخول وغوښتله کعب بن الاسد منع وکړه نو حیی له دباندي څخه ورناري کړې یا کعب اتح لي. کعب ورته وویل یا حیی امرًا شوم. یعني تا په مخه راخستی دی یو کار چي شوم دی یعني چي په مخالفت کي د محمد (ﷺ) مو دروې او په احزابو کي مو داخلوې، کعب ورته وویل ما معاهده کړې ده د محمد سره دزه هغه عهد هرګز نه ماتوم، او ما تر اوسه په محمد کي نه دي لیدلي الا الصدق والوفاء چي رشتیا وایي او د عهد وفادار دی، حیی وویل ویحک افتح اکلمک، کعب ورته وویل چي زه ستا سره خبرې نه کوم او نه هم دروازه درخلاصوم. حیی خبیث ورته وویل چي ته چي دروازه نه خلاصوې له دې څخه بهر ېږې چي زه ستا څخه مهماني غواړم، نو کعب ته پر دې پیغور د دوی درد ورغلی دروازه یې ورخلاصه کړه، نو حیی ورته وویل یا کعب زه تاته راغلی یم لپاره د عزت ساتلو ټولې زمانه، جټک بقریش علی قادتها وسادتها یعني قوماندان او سرداران ورسره دي چي په مجتمع الاسیال د اومه نازل دی، او قوم غطفان علی سادتها وقادتها چي وطرف ته د احد نازل دی وهکذا نور احزاب مي راوستلي دي، نو تاسي زما سره معاهده او ترون وکړئ چي تر هغه وخته به جنګېږو چي د محمد و من معه استیصال مو نه وي کړی. کعب بن اسد ورته وویل چي تا ماته راتنګ کړی په ذلت سره ټوله زمانه فدعني ومحمدًا وما انا علیه فانی لم ار من محمد الا صدقًا ووفاء، نو حیی بن اخطب خپلي شیطاني خبرې ورته وکړې او دا وعده حیی ورسره وکړه چي که چېرې قریش ماته وخوري او په محمد هیڅ ونه کړي زه به راځم ستا سره به ستا په قلا کي یم حتی زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به ستا سره ځان ووژنم، یعني که محمد حمله راباندي وکړي، اخیر الامر کعب بن الاسد اعلان د نقض العهد وکړی او بیزاره سو د هغه عهد څخه چې په منځ کې دده او د محمد ﷺ ؤ، نو علیه الصلوة والسلام په موضوع د نقض العهد د قریضه ؤ خبر سو، نو علیه الصلوة والسلام د معلومات لپاره دغه کسان وروالستول، سعد بن معاذ چې د بني الاشهل د قبیلې ؤ او په موجوده وخت کې سید د اوس د قبیلې ؤ، او سعد بن عباده چې د بني ساعده د قبیلې ؤ لکن په موجوده وخت کې سید د خزرج د قبیلې ؤ او ددې دوو کسانو سره عبدالله بن رواحة چې د بني الحارث بن الخزرج د قبیلې، او خوات بن جبیر چې د بني عمرو بن عوف د قبیلې ؤ هم والستول او دوی ته یې وویل چې تاسي ورسئ وګورئ چې نقض د قریضه حق دی که چېرې حق ؤ ماته به کنایي الفاظو خبر راکړئ چې بل څوک نسي په پوه، او که قریضه پر خپل عهد باقي وه بیننا وبینهم، نو په رسوا راته ووایاست چې ټول خلک یې واوري، نو دا لېږلي کسان چې ورغله، نو بنو قریضه پر اخبث د مابلغهم یې ولیدل او قریضه ودوی ته ووېل لاعهد بیننا وبین محمد، نو دوی چې بیرته علیه الصلوة والسلام په کنایه یې علیه الصلوة والسلام ته وویل عضل چې معنی یې منع او شدة ده، خیر خو بېره نوره ډېره سوه، راوي وایي چې کعب چې د نقض العهد اعلان وکړی، بعض د قوم د کعب چې زبیري بن بلطا ؤ او نباء بن قیس ؤ او عقبه بن قیس ؤ او عقبه بن زید ؤ وغیرهم، نو کعب ته یې ډېره په کلکه ملامتیا ورکړه او کعب هم پښېمانه سو پر دغه نقض عهد لکن فائده یې ونه کړه چې واګې د اختیار د کعب د لاسه وتلي وې.

دروښ وایي: چې وکان ذالک ما اراد الله من اهلاک قریضة کما سیاتي مفصلا، راویان د قصې وایي چې ام سلمه ؓ په غزوة د خندق د علیه الصلوة والسلام سره ملګرې وه، دا وایي چې علیه الصلوة والسلام په خپل ذات پاک سره د شپې له خوا د خندق پهیره کوله چې څوک د کفارو یرغل ونه کړي، د شپې یوه شپه علیه الصلوة والسلام په خپل خیمه کې لمونځ کاوه بیا د خیمې څخه ووتی د پهرې لپاره د اسانو او زیې تر غوږ سو، د ځان سره یې وویل چې دا آس سپاره د مشرکانو دي چې تر خندق راتپرسي او نابېره حمله وکړي، نو عباده ته یې ناره وکړه، عباده ورته ووېل لبیک یا رسول الله، علیه الصلوة والسلام ورته ووېل چې نور څوک درسره سته، عباده ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل نعم رجال من قومي چي پرتا پهیره کوي علیه الصلوة والسلام ورته وویل اذهب برجال قومک فان رجالا من المشرکین حول الخندق یریدون ان یبتوا (چي د شپې حمله وکړي) نو عباد بن بشر ؓ خپل قومي ملګري ورسره راهي کړه، که څه ګوري ابوسفیان او نور ملګري پرتنګ ځای د خندق اراده د تېرډو ولري، نور مسلمانان چي هوري وه هغه یې په ډبرو او غشو ولي. عباد ؓ وایي چي زه هم سره د ملګرو وروړسېدم فرمیتهم مع المؤمنین حتی انهزموا ای المشرکین فرجعت الی رسول الله ﷺ وهو یصلی فلما فرغ من الصلوة اخبرته الخبر ام سلمة ؓ وایي چي علیه الصلوة والسلام سملاسه ییده ؤ حتی چي مایې خرکی واوربدی او ترهغو ییده ؤ چي بلال د سهار اذان کاوه، ام سلمه ؓ به ویل اللهم ارحم عباد بن بشیر ؓ، اخیري زېړی خدای ﷻ چي په خپل قدرت احزاب ته شکست ورکړی او وه تبنتبدل، علیه الصلوة والسلام داسي وویل: الآن نغزوهم ولا یغزوننا نحن نسیر الیهم یعنی موږ ددوی یعني د کافرانو په غزا پسي روان یو، دوی ییا وروسته تر دې زموږ په جنګ پسي نسي روانېدلای.

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ؕ

(من قبل، ای قبل غزوة الخندق) کلمه د لام جواب د قسم محذوف دی. او په تحقیق وعده کړې ده خدای سره.

پوه سه: چي عهد متضمن معنی لره د قسم دی، ځکه لایؤتون الادبار پر صیغه غائب راوړي. نظر و معنی ته د قسم کما في قول القائل اقسم فلان لایفعل کذا، ولي که مراد حکایت د قول ددوی وایي، نو ترکیب باید داسي وای، لا نولي الادبار فافهم.

دروېش وایي: چي په مرجع کي د ضمیر د عاهدوا اختلاف دی. بعض مفسرین وایي چي مرجع د ضمیر هغه کسان دي چي د علیه الصلوة والسلام څخه یې اجازه غوښتل چي موږ به خپلو قومونو ته ولاړ سو چي په مدینه کي دي چي هغه بنو حارثه او بنو سلمه وه، او بعض مفسرین وایي چي په ورځ د احد یې شکست کړی ؤ او ییا یې توبه وکښل چي په بله غزاء کي موږ داسي نه کوو. او بعض مفسرین وایي چي دا هغه کسان دي چي په غزاء کي د بدر غائب وه، ییا چي دوی ولیدی ما اعطاه الله من الکرامة لاهل بدر، نو دوی وویل که چېرې بل قتال او غزا پېښه سي فلقاتلن قتالاً شدیداً.

بوه سه: چي تولی الادبار کنایه د انهزام او شکست څخه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ مَسْئُوْلًا ۝

او ده وعده د خدای ﷻ سره چي سوال يې کېږي په ورځ د قيامت ويجازی عليه، حافظ شيرازي ؒ وايي:

وفا وعهد نکو باشد اربيا موزی ..... وگر نه هرکه تو بينی ستمگری دائد

وقال في حق وفاء العشاق:

ازدم صبح ازل تا اخير شام ابد ..... ومهر بريک عهد ويک ميثاق بود

قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ

ته ودوی ته ووايه ای محمد (ﷺ) هرگز فائده نه کوي تاسي ته تښته که تاسي وتښتېدلاست له قتل څخه يا له خدايي مرگ څخه، ولي د چا چي اجل معلوم او مقدر عند الله وي لابد له من ان يموت سواء کان بالقتل او حتف انفه و متی لم يحضرا لاجل لايموت قطعًا که څه اسباب د قتل يا د موت يې تولې مهيا.

وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

که تاسي هم وتښتېدلاست تاسي تمتع د دنيا د ژوند نسي اخستلای مگر لږ وخت، زمانًا قليلاً که ظرف وي او تمتيعًا قليلاً که مفعول مطلق وي، او بعض مفسرين وايي چي که تاسي فرار نفع وه هم کړي فرضًا فمتعتم بالتاخير لايکون ذالک التمتيع الا قليلاً لکون الدنيا بمجموعها فانية لا محالة .... بيت:

الموت کأس و کل الناس شاربه ..... والموت باب و کل الناس داخله

قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

ته ورته ووايه څوک دی هغه سړی چي تاسي دي وساتي له خدای ﷻ څخه يعني من عذابه.

اِنْ اَرَادَ بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ

که خدای اراده وکړي ستاسي د عذاب اذلامرد لقضائه، يا اراده وکړي د احسان او نعمت او صحت د عافيت يعني څوک چي تاسي ته سوء ورسوي چي د خدای ﷻ اراده د رحمت وي، نو په دوهم شق کي يې اختصار في الکلام وکړی، فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِّنْ دُونِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷﴾

او دوی نه سي پیدا کولای د ځان لپاره ولي یعني قریب چي دوی ته نفع ورسوي، او نه کومکي چي له دوی څخه ضرر دفع کړي.

اشاره: له موت څخه چاره نسته، ولي عمر که هر څو دراز وي، چون مرگ روی نمود ازآن درازی چه سود، نوح علیه السلام هزار سال در جهان بسر برد امروز پنج هزار سال سیری شده که زیر خاک است، نو عاقل سړی باید دوه واره ونه ژاړي، یک شاعر گفته:

یاد داری زروز زادن تو ..... خلق خندان بودند وتو گریان
همچنان زی که روز مردن تو خلق گریان باشند وتو خندان.
چي پیدا سوي تا ژړل خلکو خندا کړه
هسي مړ سې چي ته خاندي خلک ژاړي

دبیت ترجمه: ستا په یاد دي چي هغه ورځ چي ته له موره پیدا سوې، خلگو یا قریبانو مور او پلار دي خندل له خوشحالی څخه چي خدای ج زوی راکړی، او تا ژړل چي د مور د رحم څخه دي علاقه قطع سوه، نو باید داسي ژوند وکړې چي په ورځ د مرگ خلک ژاړي چي زوی مي مړ سو یا نور قریبان، او ته خاندې یعني خوشحاله یې، چي د دار الهموم څخه ووتلم څم دار السرور ته..... مثنوي:

بس رجال از نقل عالم شادمان .... از بقائش شادمان این کودکان (یعني جاهلان)

قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ

په تحقیق خدای ج خبر دی او علم لري (کلمه د قد لپاره د تحقیق او تاکید د علم ده) په هغو کسانو چي خلگ منع کوي له ملازمت څخه د نبي علیه السلام.

پوه سه: چي تعویق پر وزن د تصریف دی چي معنی یې منع ده، وهم المنافقون.

وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ

او دوی وایي خپلو ورونو ته، یعني په نسب کي ای اهل المدینة، راسئ ځاونه نژدې کړئ مور ته، یعني محمد علیه السلام پریږدئ، او په جنگو کي ده سره مه وځئ، ولي مور ستاسي پر هلاک بپر پږو، قتاده رح وایي هؤلاء وناس من المنافقین چي انصار د رسول الله علیه السلام او دوی خپل اخوان ته ویل چي محمد واصحابه اکلة رأس،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی به وخوري ابو سفیان و اصحابه، فدعوا لرجل یعنی محمداً فانه هالک.

وَلَا يَأْتُونَ الْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾

او نه ورځي منافقین و جنګ ته ای اتیانا قلیلاً، نو مفعول مطلق دی، او یا زمانا قلیلاً نو ظرف دی، ولي چي اکثرو عذرونه ویل او نور مسلمانان بې هم له جنګه منع کول، او یا معنی د آیت داده چي دوی به د مسلمانانو سره جنګ ته وتل لکن جنګ یې نه کاوه مګر لږ، ریاءً وسمعةً تاچي د مسلمانانو بد ګماني له ځانه دفع کړي او که دغه قلیل جنګ خاصةً لله وای هم به ډېر وای.

أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَإِذَا جَاءَ الْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ

(اشحة) جمیع د شحیح ده، حال دی له ضمیر څخه د یأتون چي په معنی د بخیل دی) "علیکم" پر تاسي مسلمانانو (یعني پر تاسي مسلمانانو یې بخل کاوه بالمعاونة یا په نفقه في سبیل الله یا په ظفر او غنیمت سره) هغه چي دوی یعني منافقینو ته راغلی یو خبر د بېرې یعني د خروج في سبیل الله للغزو دوی به کتل وتاته.

تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَالَّذِي يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ

ستر ګي به یې په خپلو ځایو کي سره ګرځېدې د بېرې له سببه، لکه پر هغه سړي چي بېهوشي راغله د مرګ له سببه، نو ستر ګو به یې حرکت کاوه په خپلو ځایو کي.

فَإِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوكُمْ بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۚ

نو چي د بېرې وخت به تېر سو او غنیمت به پیدا سو، دوی به ستاسي سره خبرې کولې په ژبو چي تېزې به وې یعني په وخت کي د قسمت د غنیمت به ډېرې تېرې خبرې کولې، یقولون اعطونا قد شهدنا معکم القتال، راکړئ موږ ته یعني د غنیمت پوره برخه، ولي چي موږ ستاسي سره په جنګ کي حاضر وؤ، نو تاسي احق بالغنیمة نه یاست تر موږ.

فائده: په قاموس کي وایي سلقه بالکلام آذاه، او په تاج المصادر کي وایي السلق بزبان آزردن ومنه سلقلوکم انتهی، یعنی تاسي ته درشت او سختي خبرې کوي چي تاسي په ازاروي، او ابن عباس رضي الله عنه په معنی کي د سلقوکم وایي یعني نقصوکم وتناولوکم بالنقص والغیبة، او اول قول تفسیر د قتاده رحمه الله وؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي راغب رح وايي چي شح په معنی د حرص هم راځي آه، نو دلته يې معنی داده چي دوی حريص دی پر خير يعنی مال، نو دا اشحة تکرار د اول نه دی، ولي هر يو په جلا قيد سره مقيد دی دمخه اشحة عليكم ؤ چي معنی يې بخل وه، او دلته اشحة على الخير چي معنی يې حرص على المال ده، فافهم هداك الله تعالى.

أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾

دغه کسان چي صفات او احوال يې ذکر سول ايمان يې نه دی راوړی (يعني بقلوبهم بلکې ايمان يې صرف په ژبه سره دی لحفظ دمائهم واموالهم من المؤمنين) نو خدای ﷻ باطل کړه عملونه ددوی که يې لمونځونه د عليه الصلوة والسلام سره کړي وي او که شمول په بعض غزواتو کي (يعني ددوی د اعمالو د خير ثواب نسته عند الله لعدم الاخلاص وقد جاء في الحديث المشهور الذي رواه البخاري وغيره، انما الاعمال بالنيات، الى اخير الحديث) او دغه احباط د عمل ددوی و خدای ﷻ ته اسانه ده لانه لاراد لما اراد.

يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا ۖ

ددوی دا خيال دی له جهته د نهايتي بزدلي ددوی چي احزاب نه دي تللي، نو خکه ددوی داخل ته د مدينې ولاړه.

وَإِنْ يَأْتِ الْأَحْزَابُ يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُمْ بَادُونَ فِي الْأَعْرَابِ

او که چېرې راسي دغه احزاب مرة ثانية "يودوا" ددوی خوښ ده او تمنّی يې ده، چي دوی په باديه او صحراء کي اوسېدلای.

پوه سه: چي في الاعراب خبر بعد الخبر دی د ان ای کائنون په صحراء نشينانو کي.

يَسْأَلُونَ عَنْ أَنْبَائِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا فِيكُمْ مَا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾

چي دوی پوښتنه کولای له هر سړي څخه چي له مدينې څخه به راتلای، ستاسي د خبرو، يعني احزاب او مسلمانانو څه سره وکړه (جمله د يسئلون خبر بعد الخبر ده) او که وای (هؤلاء المنافقون) په تاسي کي، يعني په دوهمه کرة د احزابو نه وای ستاسي څخه تښتېدلي او جنګ جوړ سوی وای، نو جنګونه به نه وای کړي دوی مګر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لږ جنګ، یعنی یاد ریاء لپاره یاد خلکو د پیغور لپاره کذا قال مقاتل رح.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

په تحقیق تاسي لره ایها المؤمنون (لام موطئه د قسم محذوف دی).

پوه سه: چي اسوة معنی قدوة ای ما یقتدی به، والمراد ههنا ان لکم في شان رسول الله ﷺ خصلة حسنة من حقها ان یوسی بها کالثبات في الحرب ومقاسات الشدائد، ابن عباس رض وایي چي حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حجر اسود په مینه مینه مچ کړی، او داسي یې وویل چي زه پوهیږم چي ته یوه ډبره یې، او که ما نه وای لیدلی زما حبیب ﷺ چي ته یې مسح کړې او مچ یې کړې، ما به نه وای مسح کړې او نه به مي هم مچ کړې وای، ثم قرء عمر رض لقد کان لکم في رسول الله اسوة حسنة.

وحاصل الآیة: چي تاسي باید اقتداء وکړئ په رسول الله ﷺ پسي، یعني د خدای ج د دین مرسته وکړئ لکه ده چي کول، او صبر وکړئ علی ما اصیبکم لکه ده چي صبر کړی وو چي د احد په غزاء کي د مخ د غاښنو مبارکو څخه یو مات سو او مخ مبارک یې تپي سو او اکا یې حمزة بن عبد المطلب په ناوړه قتل شهید کړل سو او ډول ډول ازار د کفارو د لاسه په مکه کي ده مبارک ته رسېدی، او ده مبارک ستاسي څخه په غزوا تبوک کي ځان نه دی سپمولی، نو تاسي باید داغسي وکړئ، واستنوا بسنته.

لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

هغه چا لره چي امید لري و ثواب ته د خدای ﷻ ولقائه، او د نعمتو د ورځي د آخرت او د جنت (قال مقاتل رح په تفسیر کي د دې آیت ای یخشی الله ویخشی یوم البعث الذي فیه جزاء الاعمال یعني رجاء په دې آیت کي په معنی د پیري دی) او ذکر کوي د خدای ﷻ ډېر، یعني في السراء والضراء.

پوه سه: چي لمن کان آ د صله د حسنة ده او یا صفت دی د حسنة.

فائده: د رجاء سره یې کثرة الذکر هم راوړی تاچي مفضی و دوام ته د طاعت سي، ولي اقتداء کونکی په رسول سره باید دائم الطاعة وي، والله الموفق.

سعدي شیرازي قدس سره وایي:

درین بحر جز مرد ساعی نرفت ..... گم آن شد که دنبال راعی نرفت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کسانیکه کزین راه پر گشته اند ..... برفتند بسیار و سر گشته اند
خلاف پیمبر کسی راه گزید ..... که هرگز بمنزل نخواهد رسید
مجالست سعدی که راه صفا ..... توان رفت جز در پی مصطفیٰ ﷺ

وَلَمَّا رَأَ الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ

او هغه چې ولیدل مؤمنانو احزاب د کافرانو دوی وویل چې دا هغه احزاب دي چې وعده یې کړې زمونږ سره خدای ﷻ او رسول د خدای، اشارة الی قوله تعالی فی سورة البقرة: أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ الی قوله تعالی: أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ، ولي چې له دې آیت څخه داسي فهمیږي چې مؤمنانو ته به مثل د بلأ د احزابو متوجه کیږي، مظهري وایي چې شاید رسول الله ﷺ دي دوی په واقعه د احزابو خبر کړي وه، او روح البیان صریح حدیث رانقل کړی دی وهو هذا: سیشتد الامر باجتماع الاحزاب علیکم والعاقبة لکم علیهم.

وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾

اورشتیا وایي خدای او رسول د خدای په ما اخبروا به او نه کوي زیات والی د احزابو دوی ته، مګر ایمان ای تصدیقا بما جاء به رسول الله ﷺ. وتسلیما لامره وقدره.

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ

ځینې له مؤمنانو څخه (رجال مبتداء ده متاخر په سبب د تنکیر او من المؤمنین یې خبر دی) هغه رجال دي چې رشتیا کړې یې ده خبره چې دوی وعده کړې وه خدای سره پر هغه خبره، یعني ثبات پر قتال چې دوی یې وعده کړې وه د رسول الله ﷺ سره یعني چې میدان د جنګ د کفارو سره به نه پریږدم.

محاوره: صدقني فلان چې تاته به یې رشتیا وویل، ولي معاهده چې وفاء په عهد سره وکړي فقد صدق في العهد.

فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾

بعض د دوی هغه کسان وه چې خپل نذر یې پر ځای کړی وُ في عهده فلم یبق في زمته شیئ (والنحب في اللغة الموت یعنی مات علی الوفاء یعني مثل حمزة بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبد المطلب واشباهه في غزوة احد حيث قتلوا ولم يفروا) او بعض ددوی منتظر دي چي ځان له نذره فارغه کړي (ويرجوا ان يموت على الوفاء) او عهد يې نه بدل کړي (شيئًا مفعول مطلق د بدلوا دی يعني شيئًا من التبديل) بخاري، مسلم، ترمذي، ابن ابی شيبة، طيالسي، ابن سعد او البغوي ؒ روايت کړی دی چي انس بن النضر چي د انس بن مالک اکاؤ د بدر په غزاء کي غائب ؤ، نو دا پرده ډېره درنه پرېوته او داسي يې وويل چي په اول مشهد کي يعني په غزاء کي د رسول الله ﷺ زه غائب وم، که خدای ؒ زه حاضر کړم په بل قتال کي د مشرکانو خدای ؒ به وويني چي زه به څه وکړم، نو غزوة احد چي منځ ته راغله او مسلمانانو شکست وکړی. انس بن نضر داسي وويل: اللهم اني اعتذر بما صنع هؤلاء (زه عذر درته کوم له فعل څخه چي دې کسانو وکړی يعني مسلمانانو چي د جنګ ميدان يې خالي کړی) وابرء اليک مما صنع هؤلاء يعني المشرکين (يعني چي مسلمانان يې يو په بل پرله پسې په شهادت ورسول له دې فعل څخه زه بېزاره يم) نو انس بن النضر چي پرې له د مهاجرينو او انصارو ورغلی چي سلاح يې پر مخکه اينبې وه او ورته ناست وه داسي يې ورته وويل، ما يجلسکم؟ پر څه سبب دلته ناست ياست، دوی راته وويل قتل رسول الله ﷺ.

دروېش وايي: چي يوه غلطه او ازه چي څه وخت چي عبد الله بن قميه عليه الصلوة والسلام له نژدې څخه وليدی په ډبره يې وويشتی چي سر مبارک يې تپي سو او يو د رباعي غاښو څخه يې مات سو او پر مخ مبارک يې سپلاب د وينو راروان سو. عبد الله بن قميه لويه ناره وکړه الا ان محمد قد قتل. او بعض راويان وايي چي شيطان دا ناره وکړه، او مسلمانان چي په حادثه کي نه وه حاضر او تيک وپرک وه په ډګر کي د جنګ هغو دا ناره واورېدل او اسلحه يې پر مخکه اينبې وه او ورته ناست وه، هغه ؤ چي انس بن نضر پرورغلی او ورته وه يې ويل ما تصنعون بعده چي تاسي نو ژوند څه کوئ وروسته تر دې يعني تر شهادت د عليه الصلوة والسلام درولاړ سئ موتوا على ما مات رسول الله ﷺ، بيا انس بن النضر پر خلګو مخ راواړاوه، نو دده سره سعد بن معاذ يو ځای سو نژدې واحد ته، سعد وده ته وويل چي زه هم ستا ملګری يم، انس بن النضر د کفارو پر يوه سر حمله وکړه سعد بن معاذ وايي چي زما دومره د طاقته نه وه پوره يعني لکه دا انس ؓ، انس بن ؓ پر وکړی ها (دا کلمه اسم فعل ده معنی يې داده راسه) لريح الجنة ورب النضر انی لاجد) زما تر پښه کهرې بوی د جنت نژدې د احد و غره ته)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قفاتل جنګ يې شروع کړی د کفارو په دننه صفو کي حتی قتل، نو مسلمانانو چې دی مقتول پیدا کړی دده پر جسد اتیا (۸۰) څه بالا تپونه وه یا د تورو یا د نېزو وهل یا په غشي ویشتل، لکن مشرکانو نامردانو مثلت وده ته ورکړی یعني سترګي يې ځنی کښلې غوږونه يې ځنی پرې کول مذاکریې هم ځنی پرې کړه، نس يې هم ورځیرلی ؤ زړه يې ځنی کښلی ؤ الی غیر ذالک چې دا مړی هیڅ چا نه پیژندی چې څوک دی، حتّی خو ردده د ګوتو پر سرو وپیژندی، مفسرین وایي چې غالب ګمان دادی چې دغه آیت ومنهم من ینتظروا آه په دغه انس بن النضر رضوان الله تعالی علیه واشباهه کي نازل سوی دی، او ترمذي له جابر بن عبد الله څخه روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ و طلحة بن عبید الله رضی الله عنه ته وکتل نو يې وویل: من احب ان ینظر الی رجل علی وجه الارض وقد قضی نحبه فلینظر الی هذا یعنی طلحة بن عبید الله رضی الله عنه.

بخاري له قیس بن حازم څخه روایت کړی دی چې ما ولیدی لاس د طلحه رضی الله عنه چې شل ؤ چې ده به وارونه د تورو چې پر علیه الصلوة والسلام به کفارو کول طلحه رضی الله عنه د تورو مخ ته خپل لاس سپر کاوه، نو علیه الصلوة والسلام دده په باره کي داسي وویل: اوجب طلحة (یعني طلحه ځان ته جنت واجب کړی) رواه الترمذي وابن حبان والحاکم وغیرهم مرفوعًا.

وسماه علیه الصلوة والسلام یومئذ طلحة الخیر ویوم حنین طلحة الجود ویوم غزوة ذات العشیرة طلحة الفیاض وقتل شهیدًا یوم الجمل ... یو شاعر وایي:

عاقلان از مرگ مهلت خواستند .... عاشقان گفتند نی نی زود باد

لِّيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ

چې خدای ﷻ جزاء او ثواب ورکړي و هغو کسانو ته چې صادق وختل په خپلو وعدو کي یا معنی داده بسبب صدقهم چې وفاء بالعهد يې وکړه یا معنی داده چې جزاء د صدق وکړي.

وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ

او په عذاب کړي منافقان که د خدای ﷻ اراده وي یعني چې پر کفر او نفاق يې مړه کړي نو به عذاب ورکړي، او یا به يې توبه قبوله کړي که دوی له نفاقه توبه وکښل، وخلصوا دینهم لله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: جزاء د صادقانو هم په دنیا کي ورکوي چي کومک دی پر دښمنانو او اعلاء د ییرغ ددوی ده، او هم په آخرت کي بجمیل الثواب والخلود في النعیم المقیم کي چي جنت دی، او تعظیم او تکریم دی پر امثال ددوی کذا في کشف الاسرار.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٤﴾

په تحقیق خدای ﷻ بخښونکی د ګناه او مهربان دی پر من تاب من معصیة کانت حتی من النفاق.

وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ

خدای رد کړه یعني شکست یې ورکړی هغه کسانو ته چي کافران وه من قریش وغطفان وغیرهم، د رد معنی داده چي د کومي خوا چي راغلي وه پر هغه خوا ستانه سوه "بغیظهم" ای کائنین بغیظهم یعنی د غصې او د غمه ډک ولاړه، ولي چي مراد ددوی چي استیصال د رسول الله ﷺ او د اصحابو ؓ نصیب نه سوه.

پوه سه: چي "خیرا" چي نکره دی په سیاق کي د نفي چي لم دی لپاره د استغراق ده، یعني هیڅ خیر په لاس نه ورغلی نه بری پر مؤمنانو او نه اموال د مؤمنانو او نه ښځي او زراري د مؤمنانو. لم ینالوا حال بعد حال دی.

وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾

او کفایت وکړی خدای د مؤمنانو له خوا د جنګ چي باد یې پر مسلط کړی او ملائکه د تکبیر ویلو لپاره په لښکر کي د کافرانو، او دی خدای ﷻ قوي یعني درلوونکی د لوی قدرت په خپل ما یشاء کي یحدث ما شاء واراد، او غالب دی په انتقام کي له دښمنه چي هیڅ مانع یې څوک نسي کېدای.

وَأَنزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن صَيَاصِيهِمْ

او راکښته کړه هغه کسان چي د احزابو سره یې مرسته کړې د اهل کتابو څخه چي بنو قریظة د یهودانو وه کما مر قصتهم باغواء حیی بن اخطب، د خپلو محکمو کلاوو څخه.

پوه سه: چي صیاصي جمع د صیصة ده، هغه شي ته وایي چي سړی یا حیوان ځان په ساتي له دښمن څخه که محکمه کلا وي، او که د غوایي بنکروي او که د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چرګ د پښې خار وي چې لکه تېره مېخ داسې شی دی چې چرګ جنګ په کوي.

وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾

او واچول خدای پاک ددوی په زړو کې بېره، چې یوه ډله یې موږ ووژل چې لوی نر وه، نه بنځې او نه نابالغه هلکان، (ابن اسحاق وایي چې دغه نران شپږ سوه (۶۰۰) کسه وه، بعض مفسرین وایي اووه سوه او بعض وایي څلور سوه کسه وه، ابن اسحاق رح وایي چې بعض رواة وایي چې نهه سوه (۹۰۰) کسه وه، والله اعلم)

او بندیانول مو بله ډله چې بنځې او ذراری وه، بعض مفسرین وایي چې بندیان اووه نیم سوه (۷۵۰) کسه وه او بعض وایي نهه سوه (۹۰۰)، او په سبیل الرشاد کې وایي چې سبایا زر (۱۰۰۰) کسه وه، من النساء والصبیان.

وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا ۚ

او تاسې ته په میراث پاتې سوه کښتونه ددوی او کورونه او کلاوي ددوی، او مالونه یعنې مواشي ددوی لکه پسونه، غوایي، اوښان او نور، او داغه رنګه نقود ددوی من الذهب والفضة، او نوره مځکه چې تاسې تر اوسه تر پښو نه ده لاندې کړې، مقاتل او ابن زید رح وایي چې مراد ځنې خیبر دی وهو المناسب لهذا المقام، او قتاده رح وایي چې مراد ځنې مکه ده، او الحسن رح وایي چې فارس او روم دی، او عکرمه رح وایي چې مراد ټولې مځکې دي چې مفتوحه د اسلام و کړځي الی یوم القیامة.

وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾

او دی خدای ج پر هر شي تام القدرة چې اراده یې وکړي لامانع لحکمه ولاراد لقضائه.

درویش وایي: چې اوس نوبت دی د بیان د بني قریضه وو د غزاء چې نقض العهد یې کړی ؤ او په احزابو کې داخل سوي وه چې حیی بن اخطب دوی غولولې وه کمامر بیانه، راویان د قصې وایي په صحیح اسناد و سره چې مشرکان یعنې ابوسفیان او ملګري دده او غطفان او ملګري دده او نور ناکامه سوه په قدرت د خدای ﷻ کمامر بیانه، تو بنو قریضه ډېرې ډېرې واخستل، ډېرو راویانو داسې روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ او ملګري چې له خندق څخه ډېر ستړي ستومانه راوګرځېدل او سلاح یې کښېښوول، او علیه الصلوة والسلام حجرې ته د عائشې رضی الله عنها ننوتی او غوښتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې چې سر مبارک له ګرد او غبار څخه د خندق پرې منځي، او بغوي ؒ وايي چې په حجره کې د زينب بنت جحش يې سر مبارک پرېښولی، والاول اشهر، نيم سر د عليه الصلوة والسلام عائشې ﷺ پرېښولی ؤ، نو يو سړي سلام ووايه او داسي يې ويل: غديرک (منصوب على الاغراء) يعني ورځه جنګ ته د هغه چا چې ستا سره غدر کړی ؤ يعني نقض العهد يې کړی ؤ چې عبارت له بني قريضه څخه دی، فقام رسول الله ﷺ فزعًا (په ډېر خوف) نو داسي چټک ورولاړ سو، عائشه ؓ وايي چې ما تر چوله د دروازې ورته کتل، زما په خيال هغه سړی دحية الكلبي راغلی، او هغه سړي له سره ګرد وغبار څنډی او لنګوټه يې مول کړې وه، او داسي يې ويل: ما اسرع ما حللتم غديرک من محارب عفا الله عنک؟ تاسي سلاح يې نا کښېښول وما وضعت الملائكة مذ نزل بک العدو (اى الاحزاب) او دې سړي وويل چې مور ملکي تر هغه پورې په احزابو پسې ؤ حتى چې حمراء الاسد ته مو ورسول (چې د يو ځای نوم دی چې له مدينې څخه ډېر لېرې دی) ان الله يأمرک بقتال بنى قريضة، او زه اوس سره د ملګرو ملکو روان يم بنو قريضه ته چې د دوی کلاوي ور وبنووروم، دې سړي وويل چې فاخرج بالناس، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې زما اصحاب د خندق په غزاء ډېر ستړي ستومانه سوي دي چې يو څو ورځې مو دې جنګ ته د بني قريضه مهلت ورکړی وای، هغه سړي ورته وويل درراهي سه سره د اصحابو بني قريضه وو ته فوالله بني قريضه به داسي وتکول سي لکه هګۍ پرې ډبره، عائشه ؓ وايي عليه الصلوة والسلام چې کورته راغلی، ما ورته وويل چې دا سړی څوک ؤ چې ستا سره يې خبرې کولې؟ عليه الصلوة والسلام راته وويل تا وليدی؟ ما ورته وويل نعم، ده راته وويل چې د چا سره مشابه ؤ؟ ما ورته وويل د دحية الكلبي سره، عليه الصلوة والسلام راته وويل چې دا سړی جبرئيل ؑ ؤ او زه يې امر کړم چې د بني قريضه غزاء ته ووځم، راوي وايي چې جبرئيل ومن معه من الملائكة د قريضه پر خوا راهي سوه چې په کوڅو کې د بني غنم د انصارو دوړې پورته کېدلې، نو عليه الصلوة والسلام يو سړی امر کړی چې داسي نعره وکړه يا خيل الله اركبي (اى لښکره د خدای سپاره سئ) او بلال ؓ ته يې وويل چې اعلان وکړه چې من كان سامعًا مطيعًا فلا يصلين العصر الا في بني قريضة، په روايت کې د مسلم صلوة الظهر راغلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي شايد دا به سهوه د کاتب وي، د بخاري په روايت کي او د مسلم په بل روايت کي او د نورو ګڼ شمېر په رواياتو صلوة العصر راغلی دی، بلکې ظاهره داده چي صلوة الظهر عليه الصلوة والسلام په اذان د بلال لمونځ په جماعت کړی دی، لکه روح البيان چي وايي صلى الظهر آه، په هر صورت عليه الصلوة والسلام خو د څو کسانو سره پر طرف د بني قريضه وو راهي سو، پر وروسته کسانو د صلوة العصر وخت داخل، نو ځيني کسانو وويل چي صلوة العصر نه ګذارو چي بني قريضه ته ونه رسېږو، ولي د عليه الصلوة والسلام له خوا پرتاکيدًا او عزمًا دا حکم وُ چي صلوة العصر به په قريضه کي ګزارئ، خير هغه کسان خو راهي سوه، او بعد غروب الشمس يې لمونځ د عصر قضاءً په بنو قريضة کي اداء کړی، او بعض کسانو د مازديګر لمونځ پر خپل وخت پر لاړي وکړی، او د عليه الصلوة والسلام د قول توجيه يې دا وکړه چي دده مقصد دا وُ چي پر لاړي وقفه مه کوئ بلکې په تلوار ځانونه و بني قريضه ته ورسوئ دا يې مقصد نه وُ چي صلوة العصر که څه هم وخت په لار کي درباندي راسي مه يې کوئ.

درويش وايي: چي مظهري يوه وجه د جمعي راوړې ده يعني د حديث د ظهر او د عصر چي سړی په تعجب کي اچوي، والله اعلم.

تفريع: دا موضع چي عليه الصلوة والسلام يعني په بعض کسانو صلوة العصر په خپل وخت کي، او بعض کسانو چي بني قريضه وُ ته د مغرب د لمانځه سره وکړی، ته پيش سوه پريوې ډلې يې منت نه وکړی، دا حديث پر دې دلالت کوي چي مجتهد لا اثم عليه ان اخطاء، ولي عليه الصلوة والسلام لم يصنف احدًا من الفريقين يعني من صلى في الطريق ومن لم يصل، په زاد المعاد کي وايي چي حاصل يې دا دی چي دواړو فريقينو ته خداى ﷻ اجر ورکوي په اعتبار د نيت د هغه هو من صلى في الطريق دوه ثوابه يې حاصل کړه امتثال الامر النبوي في الاسراع في المشي الى بني قريضة، ولي چي دا ظاهره خبره ده چي د عليه الصلوة والسلام مقصود دا نه وو چي لا يصلوا الا في بني قريضة، مبالغه وه په اسراع کي مجازًا، او بل فضيلت دې ډلې دا حاصل کړی چي لمونځ د عصر يې په خپل وخت کي وکړی بخلاف الفريق الاخر چي د مازديګر لمونځ يې په خپل وخت کي نه وکړی بلکې او د مغرب سره يې چي بني قريضه ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسېدل وه يې کړی هغه که څه هم فضيلت د اسراع في المشی حاصل کړی لکن فضيلت د صلوة العصر في الوقت يې د لاسه ورکړی، خير وروسته عليه الصلوة والسلام علي بن ابی طالب ؓ راوغوښتی او بېرغ يې په لاس ورکړی.

فائده: بيرغ اسلامي پر هغه حال باقي وُ چې په خندق کي ؤ خلاص کړی يې نه ؤ، نو خلک ټوله په علي ؓ پسي روان سوه او پر مدينه منوره يې ابن ام مکتوم ؓ مقرر کړی چې په ستر کو هم ړوند ؤ.

دروښ وايي: چې دا موضوع د غزوة بني قريضه ؤ داسي وخت منځ ته راغله چې اووه ورځي د ذو القعدة الحرام پاته وې، بغوي ؒ وايي چې غزوة د قريضه په سنه پينځه (۵) کي د هجرت رونما سوه، نو عليه الصلوة والسلام خپل سلاح واغوستل او زغره يې هم واغوستل او مغفريې پر سر کښېښو يعني جنګي خولی او پر خپل آس چې لحيف يې باله سپور سو، او اصحاب کرام ؓ چار چاپېره پر راوګرځېدل او هغو هم سلاح په غاړه کي واچول، او شپږ د برش (۳۶) آسان وه چې عليه الصلوة والسلام يې په منځ کي روان ؤ، او ابن سعد ؒ وايي چې دده سره ورسره کسان دري زره (۳۰۰۰) کسه وه.

پوښتنه: ذو القعدة خو د اشهر حروم څخه وه او شرعًا په قول د عليه الصلوة والسلام ابتداء د قتال په اشهر حرم کي ناجائز ده؟

ځواب: روح المعاني، مظهري او نورو مفسرينو ددې سوال ځواب داسي ورکړی دی، اول حرمت د ابتداء د قتال په اشهر حرم کي عليه الصلوة والسلام په کال د حجة الوداع اعلان کړی او غزوة د بني قريضه تر حجة الوداع ؑ د مخه وه، دويم لکه چې خدای پاک په فتح د مکې يو ساعت د ورځي اجازه د جنګ ورکړه په کال کي د فتح د مکې او سره ددې قتال د حرم محترم حرام وه او داغه رنګه دې اجازه عليه الصلوة والسلام ته د جنګ په شهر حرام کي ورکړې وي لمنفعة قطع عداوة اليهود بالمرة، درېيم داخو بدايه د قتال د رسول الله ﷺ له خوا نه وه بلکې بدايه د قتال خو بني قريضه وو وکړه چې په احزابو کي داخل سوي وه، او د عليه الصلوة والسلام سره يې جنګ کاوه، له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام چې بني قريضه ته ورسېدی پر خپل سپور ؤ پر لځه شا چې د اخريې يعفور باله، او په صحيح حديث کي راغلي دي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام په لار کي د بني النجار د صوریین په مقام کي چي په هغو نفرو کي حارثه بن النعمان هم موجود ؤ او هغو ته ولو سلاح اغوستي وه علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي دلته څوک نسو تپر؟ دوی ورته وویل چي دحیة بن خلیفة الکلبي تپر سو پر غاطره سپور ؤ او پر ځین استبرق (چي یو ورېښمین توکر دی) دده سامان ؤ، او موږ ته یې وویل چي خپل سلاح راواخلئ موږ هم خپله سلاح راواخستل صف زده ولاړ یو، او دحیة الکلبي رضی الله عنه راته وویل چي اوس به علیه الصلوة والسلام هم راورسېږي، حارثة بن النعمان وایي چي دوه صفه ولاړ ؤ، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي دحیة الکلبي نه ؤ جبرئیل علیه السلام ؤ چي بني قریضه ته راهي ؤ چي ددوی کلاوي پر زلزله راولي او ددوی په زړو کي رعب واچوي، راوي وایي چي علي بن ابی طالب رضی الله عنه سره دڅو نفرو د مهاجرینو او انصارو رضی الله عنهم روان ؤ، بني قریضه وو چي علی او مهاجرین او انصار رضی الله عنهم ولیدل، نو د شریعني د جنګ یقین یې سو، او علي رضی الله عنه د اسلام بیرغ ورپاوه په نېزه د بني قریضه وو د کلا د بېخ، نو بني قریضه د کلا د خوا ناري وهلې او بنکنځل یې و علیه الصلوة والسلام او ازواج مطهرات و ته کول، ابو قتاده رضی الله عنه وایي چي موږ ساکت ؤ یعني بنکنځل مو نه کول او دا قدر مو ویل السیف بیننا وبینکم، یعني توره به زمونږ او ستاسي تر منځ فیصله وکړي، په دې دوران کي رسول الله صلی الله علیه وسلم راورسېدی او قریب ددوی و حصن کلا ته د بني قریضه وو نازل سو په حره کي د بني قریضه (یعني په شګلنه مځکه کي ددوی) علي رضی الله عنه چي علیه الصلوة والسلام ته ورروان سو، ابو قتاده رضی الله عنه وایي چي علي رضی الله عنه ماته وویل چي ته بیرغ سنبال کړه، نو علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چي ددې خبیثانو کلا ته نژدې مه ورځه، د علي رضی الله عنه غرض دا ؤ چي علیه الصلوة والسلام د دغو خبیثانو پوچ فحش وانه وري، علیه الصلوة والسلام ورته وویل ته ما امر کوې په رجوع، ای علي تا لکه چي ددوی څخه بنکنځل و ماته اورېدلي دي؟ علي رضی الله عنه ورته وویل نعم، علیه الصلوة والسلام ووویل دوی چي ما ووینې هیڅ بنکنځل نسي کولای، نو علیه الصلوة والسلام د کلا و خواته راهي سو او د علیه الصلوة والسلام د مخه اسید بن حضیر ؤ هغه ناره پرو کړه یا اعداء الله موږ ستاسي د حصونو څخه نه ځو تر څو چي تاسي له لوږې څخه مړه نسئ تاسي اوس لکه ګیدړ چي غاربندی سي، دوی ورته وویل یا ابن الحفیر موږ خو ستاسي معاهدین یو دون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الخزرج، اسيد بن حفير ورته وويل لاعهد بيننا وبينكم او نه قرابت او عليه الصلوة والسلام بنه ورقريب سو، ابن الحفير وايي چي موږ د عليه الصلوة والسلام پر سر سپرونه نيولي وه، نو عليه الصلوة والسلام په بلند اواز ورنارې کړې ددوی و اشرافو ته حتی چې ناره يې په دوی واورېدل، هغو ږغ نه کاوه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل ځواب راکړئ يا اخوة القردة والخنازير وعبدة الطاغوت هل اخزاکم الله (کلمه د هل په معنی د قد ده نحو هل اتی علی الانسان آه) يعني په تحقيق خدای ﷻ تاسي رسوا کړلاست، او نازل کړی خدای ﷻ عذاب پر تاسي. تاسي زما په غياب کي ماته بنکنځل کول، دوی په قسم ورته وويل چي موږ بنکنځل نه دي کړي او دا يې ورته وويل ما کنت فاحشًا؟ يعني تا ولي موږ ته وويل: يا اخوة القردة والخنازير، دا خو فحش وه او تا خو فحش نه ويل؟ چي ماخستن سو مسلمانان راجمع سوه و رسول الله ﷺ ته او سعد بن عباده ؓ خو باره د ځورما راوړه و رسول الله ﷺ ته نو دغه يې خوراکه سوه. او عليه الصلوة والسلام وويل نعم الطعام التمر، نو چي سهار سو رسول الله ﷺ او غشي ويشتونکي مسلمانان سره راغونډ سوه، د بني قريضه پر کلا شاوخوا يې احاطه وکړه، نو مسلمانانو په غشو او ډبرو دوی ويشتل او يهودانو له حصون څخه ډبري او غشي راغورځول حتی تر مابنامه پوري او مسلمانان په نوبت سره راتله تير اندازي يې کول، نو عليه الصلوة والسلام وتير اندازی. ته دوام ورکړی حتی چي يهودان پر هلاک وبپرېدل، نو يهودانو خپله تير اندازي بنده کړه او عليه الصلوة والسلام ته يې د خبرو کولو پيشنهاد وکړی، عليه الصلوة والسلام ددوی دې پيشنهاد ته نعم ووايه، نو دوی نباش بن قيس راواستاوه، نو هغه عليه الصلوة والسلام ته وويل چي زموږ سره هغه معامله وکړه چي تا د بني نضير سره کړې وه يعني موږ خپل ټولي کلاوي او اموال درپرېږدو او موږ له خپل وطن څخه وځو. بنځي او اولادونه چي ذريه يې ښولي او يو اوښ بار چي زموږ زړه غواړي راسره وړو يې الا الحلقة، فابی رسول الله ﷺ ذالک، يا نباش ورته وويل چي زموږ وينه دي محفوظه وي او زموږ بنځي او ذريه او د اوښ تر بار درتېريږي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل: لاحرف قلابندي به خلاصوي او حکم ته به غاړه ايږدئ. نباش چي قوم ته ورغلی او د عليه الصلوة والسلام اخيري خبره يې ورته وکړه، نو کعب بن اسد چي د قريضه رئيس ؤ کمامرووويل يا معشر بني قريضه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والله قد نزل بكم ما ترون، او كعب بن اسد وويل چي زه تاسي ته دري پېښنهاده كوم هر يو چي ستاسي خوښ وي زه به هغسي وكړم قالوا وماهي؟ كعب وويل اول پېښنهاد دادی چي راځي تولـه دد غسي سړي بيعت وكړو او تصديق يې وكړو او ايمان پر راوړو، ده ووېل والله قد تبين لكم (تاسي ته دا ښكاره سوې ده چي دا رجل نبي مرسل دی او دا هغه سړی دی چي ستاسي په كتاب تورات كي يې نعت موجود دی) نو كه داسي مو وكړو هم زمونږ وينه او ښځي او ذريه او مالونه او قلاوي تولـه محفوظ مونږ ته پاته سي، كعب ورته زياته كړه والله انكم تعلمون ان محمداً نبي وما منعنا من الايمان به الا الحسد للعرب، ولي چي دی نبي د بني اسرائيلو د قوم نه دی، او كعب ورته زياته كړه چي ما خو عهد د امن د عليه الصلوة والسلام نه ماتاوه پر مونږ بلا او شوم دد غسي سړي د لاسه نازل سو اشاره يې وحيى بن اخطب ته وكړه چي هغه په مجلس كي موجود ؤ، ولي حيى چي بني قريضه وغولول داسي يې ورته ويلي وه چي كه څه هم قريش او غطفان ولاړ سي زه به ستاسي سره يم، نو د كعب بن اسد سره يې هغه وينا وفا كړه، نو يهود انو د بني قريضه و كعب بن اسد ته وويل لانفارق حكم التورات ابداً ولانستبدل به غيره، كعب بن اسد ورته ووېل (۲) زما پېښنهاد دادی راسئ چي خپلي ښځي او عيالونه تولـه قتلی كړو ثم نخرج الى محمد بالسيوف، نو مونږ كه هلاك او قتل سو د اسي به ارمان نه وي چي ښځي او كوچنيان به موځرنگه سوي وي، او كه مونږ غالب سوو پر محمد باندي فلعمري نوري ښځي او زامن به پيدا كړو، دوی په خواب كي كعب بن اسد ته ووېل لانقتل هؤلاء المساكين، نو څه خير په ژوند كي سته، وروسته تر قتل د دوی، (۳) پېښنهاد كه دا هم نه كوئ، نو نـه شپه د سبت ده يعني د شنبې شپه شايد محمد (ﷺ) او اصحاب د ده به غافل[1] وي په دې سبب چي د يهود انو د سبت د ورځي احترام كوي، حمله به پرو كړو، نو په دې غفلت كي د دوی چي مونږ حمله پرو كړو نو مونږ به ئې ميا به سو، دوی ورته ووېل چي مونږ د سبت احترام د لاسه نه وركوو، ولي كه مونږ داغسي و كړو مونږ ته به هغه عذاب راسي لكه تاته چي معلوم دی مسخ به سو يعني سركوزان او بيزو گان به راځخه جوړ سي.

دروښ وايي: چي په دې كي د دوی اشاره و هغه مسخ ته وه چي په زمانه كي د داؤد عليه السلام په ايله كي پېښنه سوه چي د دريابه پر غاړه پراته وه او د شنبې په ورځ يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د ماهیانو بنکار کاوه، کما بیناه في موضع آخر من القرآن مفصلاً)

او کعب بن اسد ورته وویل چي آیا ستاسي پیاد ده هغه خبره چي جواس چي ستاسي امیر ؤ کړې وه، دوی ورته وویل چي هغه کومه خبره وه؟ کعب بن اسد ورته وویل چي هغه دا خبره کړې وه چي په دې قریه یعني مدینه کي به یو نبي راسي، نو جواس وویل که دا نبي پیدا سو او زه ژوندی وم زه ایمان پر راوړم او کومک ورسره کوم، او که زما تر مرګ وروسته پیدا سو تاسي به یې متابعت کوئ او انصار او اولیاء دده به ګرځئ او ستاسي به نصیب سي ایمان پر دواړو کتابو الاول یعني تورات والآخر یعني القرآن النازل علی ذالک النبي، او هغه نبي ته زما د خوا خبر ورکړئ چي زه مصدق یم.

دروښ وایي: چي کعب بن اسد هغه اول پیشنهاد ورته تکرار کړی، خو دوی بیا ورته وویل لانفارق حکم التورات ولانستبدل به غیره، وروسته ثعلبه او اسید ابنا سعیة او اسد بن عبید چي هغه د هذیل د قبیلې وه چي نه بني قریضه وه او نه بني نضیر وه بلکي ددوی نسب تر دوی لوړ ؤ په دوی ګډ پدی، ګویا د قریضه او د نضیر اکاګان وه، هغو ورته وویل یا معشر بنو قریضه! والله انکم لتعلمون انه رسول الله وان صفته عندنا حدثنا بها علمائنا وعلماء بني النضیر او موږ ته خیر بن الهیبان چي اصدق الناس ؤ عندنا هو اخبر بصفته عند موته، قالوا لانفاق حکم التوراة نو نامور کسانو چي اباء د قریضه د ایمان څخه ورته معلوم سوه، نو ددغې شپې په سهار کي ورغله علیه الصلوة والسلام ته، نو بیعت یې ورسره وکړی او ایمان یې راوړی، نو علیه الصلوة والسلام ددوی ځانونه او ددوی اهل او اموالو ته امان ورکړی، او یو بل ناصح عمرو بن سعد وویل چي تاسي ای بنو قریضه وو هغه عهد چي ستاسي او محمد تر منځ ؤ مات کړی، او ما ستاسي سره شراکت نه دی کړی په غدر کي ستاسي، نو پر یهودیت ثابت وسئ و محمد (ﷺ) ته د جزیه پیشنهاد وکړی زه پوهیږم چي دی به یې ستاسي څخه قبول کړي او که نه، قریضه ورته وویل چي موږ خبر یو چي خراج یې بولي، دا و عربو ته نسو ورکولای هذا عار لنا ابدًا والقتل خیر من ذالک.

اهل تاریخ المغازي وایي: چي بني قریضه څوک ورواستول و علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام ته چي ابو لبابه چي د عمر بن عوف د قبيلې ؤ چي حلفاء د اوس بن الخزرج وه موږ ته راواستوه چي موږ د هغه سره مشوره وکړو خپل په کار کي، عليه الصلوة والسلام ابو لبابه بن عبد المنذر ته وويل ورسه، ابو لبابه چي راغلی قريضه ټوله ورته ولاړسوه، او ښځو او کوچنيانو يې دده په مخ کي بغاري کړې، د ابو لبابه زړه پروسو، نو دوی يعني بني قريضه ورته وويل چي ستا دا خوښه ده چي موږ پر حکم د محمد ﷺ خانونه تسليم کړو؟ هغه په خوله ورته وويل نعم او په لاس يې اشاره و حلق ته وکړه يعني محمد ﷺ مو ذبح کوي، ابو لبابه وايې چي زه د ځايه نه وم ولاړ سوی چي په ځان پوه سوم چي دا خو دي خيانت وکړی راوي وايې چي ابو لبابه پر خپل مخ ولاړی عليه الصلوة والسلام ته نه ورغلی حتی چي ځان يې په تنبه پوري د مسجد نبوي ﷺ وتاړه.

دروښ وايي: چي د تنبه پر لوړه غاړه تر اوسه پوري نوشته دي عمود التوبة، او ابو لبابه زايي چي زه به دغه تنبه پوري ترلی يم چي يا مرم او يا يتوب الله علی يعني علی خيانتي مع رسول الله ﷺ او دا مي د خدای سره وعده وکړه چي زه به په پر مځکه ده بني قريضه وو پل کښي نږدم ابدًا او زه به نه ولېدل سم په هغه ځای کي چي ما خيانت د خدای او رسول سره وکړی يعني بلد بني قريضه، ابو لبابه وايې زما ټوله احوال و عليه السلام ته چا بيان کړي وه نو عليه الصلوة والسلام دعوه حتی يحدث الله فيه ما شاء، او که دی اولاً ماته راغلی وای او حال د خپل خيانت يې بيان کړی وای ما بخښنه ورته کول و انزل الله تعالی هذه الاية في ابي لبابه وان کان حکمه عامًا :يا ايها الذين آمنوا لا تخونوا الله والرسول: الی آخير الآية، ابو لبابه وايې چي توبه زما پر رسول الله ﷺ نازل سوه چي دی په کور کي وو ام سلمة ﷺ دا وايې چي ما عليه الصلوة والسلام وليدی چي وې خندل ما پوښتنه وکړه چي پر څه شي دي وخندل اضحک الله سنک.

دروښ وايي: چي دا د عربو يو رواجي دعاء ده، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي د ابو لبابه توبه قبوله سوه ام سلمة ﷺ وايې چي ما عليه الصلوة والسلام ته وويل چي زړی پر ونه کړم عليه الصلوة والسلام وويل بلی يعني پر وې کړه ان شئت نو زه د حجرې په دروازه کي ودرېدم (دا د مخه تر حجاب وه) فقلت يا ابا لبابة ابشر (زړی مي دربانده) فقد تاب الله عليک د مسجد حاضر خلک را

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغورځېده چې ما خلاص کړی ابو لبابه ما ورته وویل لا حتی یکون رسول الله ﷺ هو الذي یطلقني بیده نو علیه الصلوة والسلام چې د سهار ولمانځه ته را ووتی ابو لبابه یې له قید څخه خلاص کړی ابو لبابه ؓ وایې چې زما یو خوب په یاد سو چې مور مسلمانان بنې قریضه محاصره کړی وي او زه په یو تورو ختو کې چې د هرې بد بویه هم دي پښې مي بندي دي چې په خوب کې زما دا خیال سو چې له بدبویي څخه د ختو به زه مړ سم، بیا مي یوه جاري ویاله ولیدل چې په هغې ویالې کې مي ځان پاک پرېولی او تنده مي هم ماته سوه او ډېره خوشبویي تر پزې پورې راغله، نو ما دا خوب ابوبکر ؓ ته ووایه. نو هغه یې تعبیر داسي راته وکړی چې ته به په لوی غم اخته سې او بیرته به فرج ځندي پیدا کړې (یعني له هغه غمه به خلاص سې) حتی ما ځان ترلی وُ هغه خوب به مي را پیاد سو امید به مي پیدا سو چې خدای ﷻ به زما توبه نازله کړي، ابن هشام وایي چې ابو لبابه شپږ ورځې ځان ترلی وُ، او ابن عقبه وایي چې راویان وایي چې قریب شل ورځې یې ځان ترلی وُ، په بدایه کې وایي چې دا قول اشبه د قولو دی، راوي وایي چې د لمانځه، یا د قضا حاجت یا د اوداسه وخت به سو په یوه روایت کې ماینه به یې راغله خلاص به یې کړه او په بل روایت لور به یې راغله خلاص به یې کړی، ددې دوو روایتو منافات نسته، ولې ګاهي به یې ماینه راغله او ګاهي به یې لور راغله، او چې ابو لبابه به د خپلو کارو څخه فارغه سو بیرته به ماینې یا لور وتاړه، وانزل الله تعالی فې توبة ابو لبابة ؓ هذه الآیة: وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (۱۰۲) (التوبة) بیا علیه الصلوة والسلام وښې قریضه ته وویل چې زما پر حکم راکښته کیږئ؟ دوی ورته وویل یا، ولې چې ابو لبابه ابن المنذر دوی ته په اشاره ویلي وه چې علیه الصلوة والسلام مو قتل کوي کمامر، فقال علیه الصلوة والسلام چې پر حکم د سعد بن معاذ سید الاوس تسلمیږئ، دوی ورته وویل نعم، او دا یې تینګه معاهده وکړه چې د سعد بن معاذ له حکمه سر غړونه نه کوو، نو علیه الصلوة والسلام په سعد بن معاذ پسې یو نفر راهي کړی چې هغه په مدینه کې وُ او د خندق په غړا کې پر لاس سخت ټپي سوی وُ یعني د لاس پر لوی رګ ویشتل سوی وُ، او ده خدای ﷻ ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواست کړی ؤ چې تر هغو ما مه وژنې چې په بني قريضه وو مي زړه سوړ سوی نه وي، نو سعد بن معاذ پر خره سپور راغلی و کان رجلاً جسيمًا، فقال عليه الصلوة والسلام قوموا الى سيدكم، فقام الانصار فانزلوه.

ويو محترم سړي ته د احترام په توګه ولاړېدل روا دي په حکم د دغه حديث، ددې حکم څخه مخالف يعني غير مقلدين وايي چې دا حکم نبوي دده د احترام لپاره نه ؤ بلکې ددې لپاره ؤ چې دی جسيم سړی ؤ چې له خره څخه يې راکښته کړی. نو مونږ اهل سنت وايو چې لفظ د سيدکم دلالت پر دې کوي چې ولاړه ددوی د احترام د سعد بن معاذ لپاره وه، او بل داده چې ددې د راکښته کولو لپاره يو نفر کافي ؤ نو عمومي حکم ته د قوموا څه ضرورت ؤ.

فائده: رسول الله ﷺ چې سعد بن معاذ په خېمه کې د يوې ښځې چې رفيده خلګو بلل او د اسلم د قبيلې وه چې په مسجد نبوي کې وه او ددې ښځې وظيفه دا وه چې د تېبانو تداوي به يې کوله، او دې د ثواب لپاره د يو ضائع کښني او مريض خدمت هم کاوه ساتلی ؤ او د هغې څخه يې راوستی سعد بن معاذ وويل چې زما حکم دا دی چې د جنګ نران يعني چې بالغ وي ټوله دي ووژل سي او اموال دې تقسيم سي او ښځې او ذراري دې سبي سي يعني مريان منځياني عليه الصلوة والسلام الله اکبر ووايه وقال لقد حكمت فيهم بحكم الله فوق ارقعة يعني السموات، نو عليه الصلوة والسلام دوی نران ټوله بنديان کړه په سرای کې د اسامة بن زيد ؓ چې تعداد يې (۶۰۰) مقاتل وو. او ذرية او ښځې چې تعداد يې (۷۰۰) وو په سرای کې د ابنة الحارث النجار لان تلك الدار كانت سروة لنزول الوفود من العرب د بني قريضه اموال د غنيمت د کورو څخه د دوی (۱۵۰۰) توري (۳۰۰) زغري او (۲۰۰۰) نېزې او (۵۰۰) سپرونه او ډېر لوبنې او اوښان او نور بې حسابه مواشي او د دوی مځکې او کورونه يې مهاجرينو ته ورکړه انصارو ته يې نه کړه ور، ولي هغو باغونه او سرايونه درلوده په دې تقسيم انصار ټوله وه قال الله تعالى في حق الانصار ؓ ويؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة يا عليه الصلوة والسلام بازار ته د مدينې راغلی او امر يې وکړی چې خندقان په مځکه کې جوړ کړي نو بنديان يې را واېستل د خندق پر غاړه بې دراوه سر بې په توره څندي چې کاوه خندق ته بې ټېله کوی چې ګرده يې مړه کړه خندقانو ته يې وغور ځول نو يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خاوري پر را واړولې فاعل د قتل د دوی علي ؓ او الزبير ؓ ؤ، او د بنځو څخه يې څوک نه دی وژلی مګر بنانة قصاصًا چې دغې بنځې پر خلاد بن سويد ؓ باندې چې تحت الحصن ناست ؤ د ميچنې چې رجی يې بولي پر را وغورځاوه د کلا څخه هغه شهيد سو، او بيله خلاده بل څوک نه دی شهيد سوی عليه الصلوة والسلام په حق کې دده ويل (له اجر شهيدين) راويان د غزة القريضة وايي چې رسول الله ﷺ سعد بن زيد الانصاري امر کړی چې سبايا د قريضه بوزه نجد ته نو هغه هوړې خرڅ کړه، نو د مسلمانانو لپاره آسان او سلاح په رانيسه.

فائده: رسول الله ﷺ امر وکړی چې مور او ولد به نه سره جلا کوي يعنې چې موريې يو ځای خرڅه کړي او ولد يې بل ځای ترڅو چې غلام بلوغ ته نه وي رسېدلی يا مينځه حيض ته نه وي رسېدلې، او عليه الصلوة والسلام د ځان لپاره ريحانه بنت نويد بن عمر بن حذافة د بني نضير له قومه څخه وه او په قريضه وو کې واده وه مختاره کړه او هغې اسلام قبول کړی او عليه الصلوة والسلام ازاده کړه او په نکاح يې کړه، او دده مبارک سره وه چې عليه الصلوة والسلام د حجة الوداع څخه راغلی په (۱۰) کې ريحانه وفات سوه فدفنها بالبقيع.

دروېش وايي: چې دمخه مور وويل چې سعد بن معاذ چې لاس يې د پر سخت تپي ؤ دا دعاء کړې وه چې خدای ﷻ دې تر هغو ما نه وژنې چې زړه مې په بنې قريضه وو سوړ نه سي، نو چون دده په حکم د قريضه خاتمه وسوه کمامر، هغه زخم د لاس د سعد بن معاذ ؓ وينه ايله کړه حتى مات شهيدًا وقد استبشرت الملائكة بروحه واهتز (حرکت وکړی) عرش د خدای ﷻ په موت د سعد بن معاذ ؓ، يو سړي د انصارو دده په باره کې دا شعر ويلی دی:

وما اهتز عرش الله من موت هالک ..... سمعنا به الا لسعد ابی عمرو

دروېش وايي: چې دا قصه چې فقير وکړه د دغو تفاسيرو څخه مأخوذ ده: (۱) التفسير الکبير (۲) التفسير الخازن (۳) تفسير روح المعاني (۴) تفسير روح البيان (۵) تفسير المظهري، يعنې بعض ځايونه له يوه تفسير څخه بعض له بل تفسير څخه وهکذا، لکن روح المعاني نورې زائدې خبرې کړې دي، او مظهري پر مسائلو د فقهه زور اچولی، نو که زه فقير د دې دوو تفسيرو تولې بيانات راوړم د هرې صفحې به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوري په بر کي ونسي او مطالعه کونکي به د هر خوابدي سي..... بيت:
تا طبع نازکت نه پزيرد ملالتی ..... آن به که تفسير را دوام دهم

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا

ای نبي ووايه و زوجاتو ته خپل که تاسي ياست چي اراده لرئ د ژوند ناقص او د زينت د دې ژوند، او فراخي د رزق.

فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿۲۸﴾

پوه سه: چي اصل معنی د تعالين داده چي يو سړی په لوړ مکان کي وي او کښته مکان والا ته ووايي چي تعالي يعني لوړ ځای ته راسه، وروسته يې استعمال د هر سو حتی استوت في استعماله الامکنة کلها. فالمعنی اقبل الي.

ترجمه: راسئ په خپل اختيار سره لپاره د طلب د طلاق، زه به متعه د طلاق درکړم يعني يو جوت کالي، زه به تاسي طلاقي کړم په ښه طلاق سره يعني چي بيرته قصد د رجوع نه لرم چي پر تاسي عده اوږده کړم کما کان يفعله اهل الجاهلية ولي چي ددوی به د ماينې څخه بد راتله طلاق رجعي به يې ورکړی چي د هغې عده به تېرېدو ته نژدې سوه په قول به يې رجوع ورته وکړه او دستي به يې بيرته طلاقه کړه ثم وثم حتی تطول عليها العدة.

وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ

او که چېرې ياست تاسي اراده لرئ يعني مراتب د قرب و خدای ﷻ ته او رضی د خدای ﷻ او قرب او رضی د رسول د خدای ﷻ او نعمتونه د آخرت د ورځې يعني الجنة.

فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿۲۹﴾

نو په تحقيق خدای اراسته کړي د محسناتو لپاره ستاسي يعني چي طالبات د رضوان الله او د رسول د خدای او د دار الآخرة يعني دوی مخلصات وي لان الاحسان ان تعبدوا الله کانک تراه الی اخير الحديث الطويل الذي رواه الشيخان "اجرا عظيما" ثواب نه ډېر تر نورو ښځو مؤمناتو په سبب د ازدواج د رسول الله ﷺ.

پوه سه: چي احمد، مسلم، نسائي او ابن مردويه من طريق له جابر ﷺ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ په کور کې ؤ او خلګ یعني صحابه کرام ؓ به په مسجد کې وه فلم یؤذن لاحد ثم اذن لابی بکر و عمر ؓ او رسول الله ﷺ ناست ؤ ساکت ؤ او زوجات مطهرات پر راتولي وې، چونکه علیه الصلوة والسلام دېر مهموم ؤ نو عمر ؓ فکر وکړی چې یو داسي خبره دي کړې وای شاید رسول الله ﷺ به خندلي وای، نو عمر ؓ وویل یا رسول الله لو رئیت ابنت زید یعني خپله ماینه یې یادول ﷺ زما څخه یې د بنې نفقې غوښتنه وکړه زه ور وغوړ ځبدم تر غاړه مي ونیول یعني خپه مي کړه فضحک النبي ﷺ قال هن حولي سألتني النفقة، فقام ابوبکر ؓ الی عائشة ؓ لیضربها وقام عمر الی حفصة ؓ چې د عمر ؓ لور وه، دواړو وویل تسئلان رسول الله ﷺ مالیس عنده، نو علیه الصلوة والسلام دوی منع کړه، نو ازواجو مطهراتو وویل والله لانسئل رسول الله ﷺ بعد هذا المجلس مالیس عنده، روح المعاني وایي: وانزل الله الخیار.

دروښ وایي: چې دا موضوع د مخه نه وه آیت په دې کې نه دی نازل هغه بله موضوع ده، بلکې موضوع د نزول د آیت هغه ده چې بغوي ؒ بیان کړې ده: ان ازواج النبي ﷺ سئالته من عرض الدنیا وزیادة في النفقة او علیه الصلوة والسلام به دوی زهیر اوه چې فلانی دربانې ګرانه ده او زه نه یم دربانده ګرانه الی غیر ذالک، نو علیه الصلوة والسلام د دوی څخه هجرت وکړی او په یوه بالا خانه کې چې مشربه یې بلل چې د لرګي پر زینه به ورختی، او یوه میاشت یې قسم اخستی ؤ چې زه به زوجاتو ته نه ورځم، او صرف لمانځه ته به راکښته کېدی د چا سره یې خبري نه کولې، نو خلګو دا شائع کړه چې علیه الصلوة والسلام خپل زوجاتي طلاقي کړي دي، نو عمر ؓ وویل چې زه به د دې خبرې تحقیق وکړم، نو زه مشربې ته ورغلم او علیه الصلوة والسلام ته مي وویل اطلقت نسائک؟ قال لا لکن آلیت منهن شهرًا لا ادخل علیهن، عمر ؓ وایي ما ورته وویل یا رسول الله ﷺ زه چې مسجد ته ورغلم مسلمانانو ټولو دا ویل چې علیه الصلوة والسلام طلق نسائه، نو زه به دوی ته خبر ورکړم چې رسول الله ﷺ خپلې ښځې نه دي طلاقي کړي، قال ؐ نعم ان شئت فقمت علی باب المسجد، نو مي لویه ناره وکړه لم یطلق رسول الله ﷺ نسائه، ونزلت هذه الآیة: وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ ، عمر ؓ وايي فكنت استنبط ذالک الامر، وروسته چي يوه مياشت ايلاء د قسم د عليه الصلوة والسلام پوره سوه دا آيت مذكوره نازل سو چي د آيت التخيير په نامه مشهور دی.

دروښ وايي: چي شان نزول د آيت التخيير په بخاري کي ډير طويل راغلی دی ان شئت فارجع اليه، بغوي ؒ وايي چي په دغه وخت کي د نزول د آية التخيير د عليه الصلوة والسلام نهه زوجاتي وې، پنځه د قريشو څخه (۱) عائشه بنت ابی بکر ؓ (۲) حفصة بنت عمر ؓ (۳) ام حبيبة بن ابی سفيان ؓ (۴) ام سلمة بنت اميه ؓ (۵) سودة بنت زمعة ؓ، او څلور د غير قريشو څخه وي (۱) زينب بنت جحش الاسدية ؓ (۲) ميمونة بن الحارث الهلالية ؓ (۳) صفية بنت حيی بن اخطب الخيبرية (۴) جويرية بنت الحارث المصطلقيه، ولما نزلت آية التخيير، نو عليه الصلوة والسلام ابتداء له عائشې ؓ څخه وکړه، او داسي ورته وويل: چي يو شی وتاته وايم او دا مي خوښه ده چي ته په تلوار جواب رانه کړې تر هغو چي مشوره دي د مور او پلار سره نه وي کړې (د عليه الصلوة والسلام غرض دا ؤ چي دا خو ښځه ده يو وار ونه وايي چي زه طلاق غواړم او مور او پلار خو دا نه امر کوي په فراق د رسول الله ﷺ)، نو عائشه ؓ وايي چي عليه الصلوة والسلام آية التخيير راته ووايه، نو عائشې ؓ ورته وويل: افيک استشير ابوی بل اختار الله ورسوله والدار الآخرة، عائشې ؓ ورته وويل چي زه ستا څخه سوال کوم چي زما حال به نورو ازواجو ته نه وايه، تعني که نورو زوجاتو درته وويل چي عائشې څخه څواب درکړی، زما حال مه ورته وايه (ددې غرض دا ؤ چي ګوندي بعضي ضرات (بني) ځان مختاره کړي نو زوجات به لږ سي) عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي هري ښځي چي زما څخه سوال وکړی ستا د حال، زه حتمًا ورته وايم چي عائشې ؓ زه مختاره کړم طلب د طلاق يې نه وکړی، لم يبعثنی الله جحودًا (چي حق به نه وايم) ولا مفتنًا (او يا څوک په فتنه کي اچونکی) بل بعثنی الله مبشرًا معلمًا. خير اخيرًا تولو زوجاتو ﷺ عليه الصلوة والسلام مختاره کړی، او يوې هم طلب د طلاق نه وکړی، راوي وايي دوی تولو چي خدای ﷻ او رسول د خدای او دار الآخرة مختاره کړی، د عليه الصلوة والسلام په مبارکه چهره کي اثار د خوشحالی وبرېښېدل، قتاده ؓ وايي دوی چي خدای او رسول او دار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآخرة مختاره کړی، نو خدای ﷻ ددوی د خوشحالی لپاره نوري نکاح پر علیه الصلوة والسلام بندي کړي، فقال عزوجل: لایحل لک النساء من بعد، ولا ان تبدل بن من ازواج یعني چي یوه طلاقه کړي په عوض کي بله وکړي.

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

ای زوجاتو د نبي که څوک له تاسي څخه راتګ وکړي په فاحشه سره.

یوه سه: چي له فاحشه مراد زنا ده، بلکې ابن عباس ؓ وایي چي مراد څنې نشوز نافرماني ده چي بنکاره وي د علیه الصلوة والسلام سره او سوء الخلق دی.

يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ؕ

خدای ﷻ به مضاعف یعني دوه چنده عذاب ورکړي یعني لکه د بل چا مانه چي نشوز او سوء الخلق د مېړه سره وکړي لان النقمة بقدر النعمة، یعني زوجیت د علیه الصلوة والسلام یو لوی نعمت نو پر نشوز او سوء الخلق لوی عذاب هم مرتب کېږي "ضعفین" دوه مثله د عذاب د نورو پنځو چي فاحشه وکړي.

سوال: له یضاعف څخه خو دوچندي وفهمېده، نو ضعفین ته څه ضرورت ؤ؟

ځواب: مضاعفه حد معین نه لري، نو په ضعف سره یې عدد معلوم سو، یعني دوه مثله.

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝

او دی دا مضاعفت د عذاب و خدای ﷻ ته اسانه.

سوال: تا د مخه وویل چي په سبایاوو کي د بني قریضه علیه الصلوة والسلام د څان لپاره ریحانه بنت زید بن عمرو بن حذافه مختاره کړه او هغې اسلام قبول کړی، او علیه الصلوة والسلام ازاده کړه او په نکاح یې کړه، او په تعداد کي د زوجاتو د علیه الصلوة والسلام نه راوړل سوه، نو ددې سره خو لس کېدلې؟

ځواب: هغه روایت د تزوج د علیه الصلوة والسلام د ریحانه، سره روایت ؤ د روح البیان په صفحه (۱۶۳) کي لکن مظهري هغه روایت رد کړی دی، او مظهري وایي چي علیه الصلوة والسلام د پر حریص ؤ چي په نکاح یې کړي او لکه پر نورو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ازواجو چي حجاب لازم دی دا به هم په حجاب کي ګرځي، فقالت یا رسول الله هل تترکني في ملکک، یعني زه به دي مینځه یم فهو اخف علي یعني له دې سببه چي حجاب به پر ما لازم نه وي، و علیک او پر تا به هم سپک وي، ولي چي د زوجیت په صورت کي پر تا قسم او نوبت لازم ګرځي او په صورت کي د ملک هر وخت چي دي زړه وغواړي زما سره ملاقات کولای سي، او زما څخه نفع اخستلای سي، فترکها علی ملک الیمین، مظهري جزء اتل ما اوحي الیک سورة الاحزاب ص۳۲۹.

دروښ وایي: چي لله الحمد والمنة والصلوة والسلام علی سید البریة، وعلی آله وصحبه البررة، تفسیر د جزء ۲۱ پر څلور بجي د ماپښین په وخ د یک شنبې پنځلس د رجب الخیر سنه (۱۴۳۱) هـ ق فارغ سوم، ورپسي ان شاء الله تعالی تفسیر د ۲۲ جزء شروع کېږي، او په خیر او عافیت او صحت تامه خدای ﷻ دي توفیق راکړي چي دوه ویشتمه پاره هم پایه تکمیل ته ورسېږي، وما ذالک علی الله المتعال بعزیز .....ع:

باکریمان کارها دشوار نیست.

تفسیر ایوبی حنفی د نصیراحمد احمدی لخوا

سکین سو.



مکتبة القراءت والتجوید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الثاني والعشرون

وَمَنْ يَّقْنُتْ ٢٢



الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد
كاسي روڈ كوئٹہ بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

رَبِّ سَهِّلْ وَلَا تُعَسِّرْ وَمِنْكَ التَّوْفِيْق

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا

پوه سه: چي قنوت طاعت ته وايي والمراد من يدم على الطاعة بقرينة ان الخطاب مع الازواج المطهرات رضي الله عنهن.

ترجمه: او هغه څوک چي طاعت کوي له تاسي څخه ايها الازواج (للنبي الكريم ﷺ) يعني دوام وکړي پر طاعت د خداى ﷻ او پر فرمانبرداري د رسول د خداى او عمل وکړي صالح من الفرائض والواجبات وغيرها.

فائده: صالحًا يا منصوب دى چي مفعول مطلق د تعمل دى اى عملاً صالحًا يا مفعول به دى.

نُؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ

موږ به ورکړو ثواب دوى ته دوه مثله د ثواب د نورو ښځو چي هغه هم ورته کارونه وکړي مرة على نفس الطاعة چي هغه د دوى او نورو ښځو سره شريک دى ومرة على طلبهن رضى الله تعالى والنبي ﷺ وحسن المعاشرة معه[۴] چي په دې کي نوري ښځي د دوى سره نه دي شريکي.

وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ۝

او اراسته کړى دى موږ د دوى لپاره ښه رزق وهو مراتب الضرب الى الله تعالى والدرجات العلى في الجنة لان المرء مع من احب حديث صحيح.

دروښ وايي: چي ابن ابى حاتم د ربيع بن انس څخه روايت کړى دى په حاصل د معنى د دغو دوو آيتو چي څوک چي عصيان وکړي له تاسي څخه، نو پر هغې باندې ضعف دى د عذاب د نورو ښځو د منافقانو نساء، او که څوک عمل صالح له تاسي څخه وکړي هغې ته ضعف د ثواب د نساء المؤمنين ورکول کېږي، مثلاً که د مسلمانانو د نساء حسنه په لس مثله سره وه، د ازواج مطهراتو حسنه به په شل مثله سره وي، او که د نورو ښځو حسنه په شل مثله وه، د ازواج مطهراتو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حسنه به په څلوېښت مثله سره وي وعلى هذا فقس.

نکته: خداى ﷻ داسي وويل "نؤتها اجرها مرتين" داسي يې نه وويل "يضاعف لها الاجر" لکه په مقابل کي د يضاعف لها العذاب ضعفين. له دې سببه چې اصل تضعيف الاجر له خواصو څخه د زوجاتو مبارکاتو نه دى. بلکې هر څوک چې عمل صالح وکړي من الرجال والنساء لهذه الامة المرحومة يضاعف له اجره کما ورد الحسنة بعشر امثالها، نو خداى ﷻ عبارت د اجر ددوى په نؤتها اجرها مرتين سره وکړى چې تفسير يې دمخه آنفًا تېر سو، يعني مرةً على نفس الطاعة ومرةً طلب آه، او دا په نورو ښځو کي د مسلمانانو نسته کما لا يخفى بخلاف يضاعف لها العذاب آه، ولي په هغه کي نوري ښځي د مسلمانانو نه دي ورسره شريکي کما هو الظاهر لمن تأمل.

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ

اى ازواجو (مطهراتو) د نبي ﷺ نه ده له تاسي څخه هره يوه، لکه د نورو عامو مؤمنانو د ښځو، قال ابن عباس ؓ معنى الآية ليس قدركن عندي مثل قدر غيركم من النساء الصالحات انتن اكرم علي وثوابكن اعظم لدي.

دروښ وايي: وذالک ببرکة صحبتهن مع الرسول الله ﷺ ليلاً ونهارًا.

فائده: اصل د احد وحد ؤ په معنى د واحد دى، بيا لفظ د احد په نفي عام کي مستعمليږي چې مذکر او مؤنث او واحد او کثير پکښې برابر دي.

دروښ وايي: چې په تفضيل کي د ديوې ښځي پر نورو ټولو ښځو مختلف آيتونه او حديثونه راغلي دي، کهذه الآية تدل على تفضيل نساء النبي ﷺ على سائر النساء المؤمنات، وقوله تعالى في حق ابنة عمران ان الله اصطفاک وطهرک واصطفاک على نساء العالمين، تدل على افضليتها من جميع النساء، وروى الترمذي عن انس ؓ ان النبي ﷺ قال حسبک من النساء العالمين مريم بنت عمران وخديجة بنت خويلد وفاطمة بنت محمد ﷺ، وآسية امرئة فرعون، او په بخاري او مسلم کي په روايت د عائشة ؓ له فاطمه ؓ څخه قالت قال رسول الله ﷺ يا فاطمة الا ترضين ان تكوني سيدة نساء اهل الجنة او نساء المؤمنين، وفي رواية اخرى چې ماته ملکه راغله او زېرى يې راباندي وکړى بان فاطمة سيدة نساء اهل الجنة وان الحسن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والحسين سيدا شباب اهل الجنة، و ورد في حديث صحيح فضل عائشة على النساء كفضل الثريد على سائر الاطعمة، والجمع بينها باعتبار الاعتبارات، مثلاً اعتبار الجزئية لرسول اللهﷺ في فاطمة واعتبار الزوجية لرسول اللهﷺ في مجموع نساء النبيﷺ واعتبار غاية حب رسول اللهﷺ اياها في عائشةؓ واعتبار كونها امًا للبني بنفخ جبرئيل في جيبها لكه مريم بنت عمران ام عيسىؑ وغيرها من الاعتبارات رضى الله تعالى عنهن جميعًا، هذا ماعندي في الجمع فتامل هداك الله تعالى.

إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ

هذا شرط لنفي المثلية وفضلهن.

پوه سه: چي ځواب د شرط محذوف دی دل عليه المذكور يعني لستن كاحد من النساء، او مفعول د اتقيتن محذوف دی ای ان تقيتن مخالفة حكم الله تعالى ورضاء رسول اللهﷺ، والمراد ان دمتن على اتقاء ذالک، مثال يې دادی لكه يو سړی چي بل متقي سړي ته ووايي اتق الله ای دم على التقوىٰ، والحاصل چي تاسي نساء الرسولﷺ ميل و زينت ته د دنيا مه كوئ لكه نوري ښځي چي يې كوي لبعده من مقامكن.

پوه سه: چي كلمه د فا لپاره د سببيت ده يعني اذا ثبت فضلكن على سائر النساء مع شرط التقوىٰ، نو بايد ستاسي څخه خو داسي كار صادر نسي چي منافي د تقوىٰ سره وي چي په نرمي او په پسته خوله د نرو سره خبري كوي، دليل د نهي دادی چي يوه ښځه د بيګانه نر سره ليني خبري كوي د نر په زړه كي طمعه د زنا پيدا كېږي.

پوه سه: چي الجزري ؒ په نهايه كي وايي چي عليه الصلوة والسلام نهي كړي دي چي نر دي د غير سره د ماينې نرمي خبري نه كوي چي بيا د هغې په زړه كي طمع پيدا كېږي، او په نهايه كي داسي راغلي دي چي يو سړی وُ په زمانه كي د عمرؓ تېرېدی چي يوه نر او يوې ښځي نرمي نرمي خبري سره كولې، نو دې سړي د هغه نر سره چي نرمي نرمي خبري يې د ښځي سره كولې په يو شي يې پر سر وواهه چي سر يې مات سو، نو هغه سرماتي سړي عمرؓ ته شكايت وكړی، عمرؓ يې د سر ماتېدو شكايت نه واورېدی په سبب د هغه سرګوشي خبرو دده د بيګانه ښځي سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۚ﴿٣٢﴾

پوه سه: چې "فيطمع" منصوب دی په ځواب کې د نهي په ان مقدره بعد الفاء، والتقدير فان يطمع، ترجمه: نو طمع د حرام پيدا کېږي و هغه چاته چې په زړه کې يې مرض وي يعني النفاق يا حب الفجور وان كان مؤمنًا.

فائده: طمع يې مقيد کړه په الذي آه سره، ولي چې مؤمن کامل چې زړه يې مطمئن بالايمان وي لا يطمع فيما حرم الله تعالى يعني زنۍ، والذي في قلبه شائبة النفاق يطمع فيما حرمه الله، په فقهه شريفه کې وايي چې ښځې ته مستحب ده چې د پېګانه سړي سره چې خبرې کوي په دلاوري او په غلظت دي خبرې ورسره کوي لقطع الاطماع.

"وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا" او دوی دي د نرو سره داسي خبرې کوي چې حسن وي او د ريب او شک او طمع څخه خلاصي وي، يو نابغه شاعر په مدح کې د ديوې پاکې ښځې وايي:

سقط الضيف ولم ترد اسقاطه ..... فتناولته واتقتنا باليد

ترجمه: ولوېدی پورنۍ يعني د ديوې ښځې له سر څخه، او د دې اراده د اسقاط نه وه چې په قصد يې مخ ښکاره کاوه، بلکې باد ځني ايله کړی، نو دې پورنۍ ته ورحمله کړه او زموږ څخه يې مخ په لاس پټ کړی يعني له هېبت حياء څخه يې مخ په لاس پټ کړی.

وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ

پوه سه: چې اصل د قرن اقررن وُ، حرکت د اولي راء يې قاف ته نقل کړی بيا التقاء د دوو ساکنينو راغله يعني الرائين، نو راء اولی يې حذف کړه او همزه د وصل يې هم حذف کړی للاستغناء بفتح القاف فصار قرن، فونه الموجود فلن بالفارسية آرام گيريد در خانهای خود، په يو صحيح روايت کې راغلي دي چې سودة بنت زمعة رضي الله عنها من الازواج المطهرة دې ګام نه دی اړولی له دروازې څخه د خپلې حجرې لا لصلوة ولا لحج ولا عمرة، نو چا چې به له دې څخه پوښتنه وکړه چې ته ولي حج يا عمرې ته نه خې يا لمانځه ته ولي نه ورخې؟ دې به ورته وويل چې موږ ته دا سي خطاب سوی دی "وقرن في بيوتكن" حتی چې جنازه د دې يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوه ايستل له حجري څخه په زمانه کي د خلافت د عمر بن الخطاب رضي الله عنه، ولذا ورد في الحديث النبوي ﷺ خير مساجد النساء قعر بيوتهن.... شاعر وايي:

زپېګانه ګان چشم زن کورباد ..... چو بيرون شد از خانه در گورباد

درويش وايي: چي مراد له قرار څخه في البيوت عدم الخروج لقصد المعصية اويا اظهار زينتها الخفية للرجال، كما يدل عليه قوله تعالى، يعني مطلق خروج د يو کار لپاره ورته روا دی.

وَلَا تَبَرَّجْنَ

دا عطف تفسيري دی د قرن او تاکيد معنوي دی.

فائده: په دې آيت کي نهي له خروج څخه مطلقًا مراد نه دی وان کان للصلوة والحج والعمرة او للحاجة الانسانية او للتعليم في الحجاب لکه چي د دې ګمان کړی دی الذين في قلوبهم مرض ای الروافض، چي د دوی د دغه په سبب طعن وايي پر صديقة الكبرىٰ ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها بنت الصديق الاكبر ابی بکر رضي الله عنه حبيبة رسول الله ﷺ من حيث انها خرجت من المدينة المنورة الى مكة وكان خروجها الى مكة للحج وغير هذا من القبائح التي نسبوها ای هذه الفرقة الملعونة الى عائشة رضي الله عنها، وروى عن انس رضي الله عنه دی وايي چي مؤمنات ښځي و عليه الصلوة والسلام ته راغلې او داسي يې وويل: يا رسول الله ذهب الرجال بالفضل والجهاد في سبيل الله فهل لنا عمل ندرک به فضل المجاهدين في سبيل الله؟ فقال عليه الصلوة والسلام من قعدت في بيتها (يعني له کوره نه ووتل، پرته له تېروو کارو څخه) فانها تدرک عمل المجاهدين في سبيل الله، بلکې په روح المعاني کي وايي چي ګاهي حرام ګرځي خروج د دې بل قد يكون كبيرة ګخروجهن لزيارة القبور اذا عظمت مفسدته وخروجهن ولو الى المسجد، په داسي حال کي چي عطر يې لګولی وي او سرخې او سفېدې يې کي وي، که فتنه ځني پېښه سوه واما اذا ظنت ولم يقع الفتنة فهو حرام غير كبيرة، روح المعاني وايي: ومايجوز لهن من الخروج للحج وزيارة الوالدين وعيادة المرضى من اقاربهن وتعزية الاموات من الاقارب ونحوها فانها مشروطة بشرط مذكورة في محلها.

فائده: اضافت د بيوت چي يې و ضمير ته د ازواجو مطهراتو وکړی في قوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى في بيوتكن، دلالت پر دې کوي چې دغه بيوت ملک ددوی دی، وقد صرح بذالک الحافظ غلام محمد الاسلمي نور الله مرقده في التحفة الاثنى عشرية، او ده ذکر کړي دي په دغه کتاب کي انه عليه الصلوة والسلام نبي کل حجرة لمن اسکن فيها من ازواج ﷺ، او دی وايي چې هري يوې به د ازواجو ﷺ تصرف کاوه په خپله حجره کي لکه تصرف د مالک په خپل ملک کي په حضور کي د عليه الصلوة والسلام او فقهاء ﷺ وايي ان من نبي لزوجته بيتًا واقبضه اياها کان کمن وهب زوجته بيتًا وسلمه اليها، والدليل على ذالک چې هغه حجره د سيدتنا عائشة ﷺ وه چې په هغه کي د آنحضرت ﷺ جسد مبارک مدفون دی، او ددې د پلار ابوبکر الصديق ﷺ جسد هم مدفون دی، څه وخت چې ابو لؤلؤ المجوسي د سهار په لمانځه کي عمر ﷺ په خنجر وواهه چې قصه يې په طول سره په کتابو کي د احاديث صحاح او په کتابو کي د تواريخو اسلاميه هم مذکوره ده، نو عمر ﷺ چې له ژوند نه نا اميده سو، نو خپل زوی عبدالله ﷺ يې و عائشې ﷺ ته ورواستاوه چې که ته ما ته اجازه کوې چې د خپلو خليلينو سره بنخ سم د پر به ستا احسان وي، نو که دا حجرات د نساء النبي ﷺ د بيت المال حق واى، نو عمر ﷺ ولي د سيدتنا عائشة ﷺ څخه اجازه غوښتل، او دا اجازه د عمر ﷺ په داسي وخت کي وه چې صحابه کرام ﷺ ټول له حاضر وه او چا انکار هم نه پرو کړی حتى چې علي ﷺ هم موجود ؤ، خير عائشې ﷺ اجازه ورکړه او عمر ﷺ و خپل زوی ته وويل چې زه وفات سم ما پر سرير ورواخلئ، بيا عائشه ﷺ ته ووايه چې عمر چې ستا په حجره کي د دفن اجازه غواړي که بيا هم دې منع وکړه نو زما مړی په بقيع کي دفن کړئ، عبدالله بن عمر ﷺ هم همداسي وکړه او عائشې ﷺ بيا هم په خلوص قلب سره اجازه ورکړه حتى دفن مع خليله.

دروښ وايي: چې دا ټوله عبارت د روح المعاني د هغه عربي عبارت ژباړه ده چې ده ذکر کړی دی او نور تفصيل يې هم کړی دی والله اعلم.

تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ

دا عبارت مفعول مطلق دی، اى تبرجًا مثل تبرج الجاهلية الاولى (موږ تقدير د لفظ د مثل وکړی له دې سببه چې عين تفرج د جاهلية الاولى وروسته تر اسلام ممکن نه دی لمرور زمان الجاهلية الاولى فافهم)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې جاهليت اولى كفر او شرک دى قبل الاسلام، والجاهلية الثانية نسق دى بعد الاسلام، او شعبي ؒ وايي چې جاهليت ثانيه مابين عيسى ومحمد عليهما السلام چې هغه دا ؤ چې ښځو به فقط د ملغلرو قميص جوړ كړى ؤ او دوه جانبه به يې هم نه كنډى چې هر شى به يې تر ښكاره كېدى.

دروښ وايي: چې د تبرج الجاهلية الاولى قسم قسم تفسيرونه علماء كرامو د تفسير القرآن نقل كړي دي منها مامر ومنها ما روى عن مجاهد وقتادة وابن ابى نجيح ؒ چې د جاهلية اولى تګ د ښځې په خيال سره، او سترګې مړې مړې اړول او نرو ته په اشاره د سترګو كتل، او مقاتل ؒ وايي چې جاهلية الاولى دا ؤ چې ښځې به پورنى پر سر واچاوه او پرځان به يې نه راپېچى، نو د غاړې غاړګى، غوږوالي او غاړه به يې تولې ښكاره وه، او مبرد ؒ وايي چې ښځو به هغه ځايونه چې ستر به يې پر دې لازم ؤ لځ يې ساتى من وجهها وجسدها او سره د هغه تر سترګو به يې په نرو پسې كتل، او ابو عبيده ؒ وايي چې هغه ځايونه به يې لځول چې د نرو شهوت را جلبوي، او بعض وايي چې د بروج معنى قصر ده يعني د خپل قصر څخه نرو ته ګورې.

تنبيه: د جاهلية اولى زمانه كوم وخت وه؟ ابن جرير، ابن ابى حاتم، الحاكم او بيهقي رحمهم الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى چې په منځ كې د نوح او ادريس عليهما السلام وه، وكان ذالک الزمان الف سنة، او ابن جرير له حكم بن عيينة ؒ څخه روايت كړى دى چې په منځ كې د آدم او نوح عليهما السلام اته سوه (۸۰۰) كاله وه، او ښځې د دغې زمانې دېرې بدرنګې وې او نريې دېر ښائسته وه، او دې ښځو به نرو ته دعوت ورکاوه چې زما سره جماع وكړه، او مبرد وايي چې د هغې زمانې ښځو به مېړه هم درلودى او معشوق هم، نو نصف اسفل يعني فرج يې د مېړه ؤ او نصف اعلى يې د معشوق ؤ يعني مچې به يې ځني اخستلې او پر ځيګر او تيو به يې لاس ورتېراوه.

دروښ وايي: چې عجب عجب تفاسير روح المعاني او مظهري او روح البيان رانقل كړي دي، زما په نېز جاهليت اولى بېحايي، سپين سترګي، بې سترې، په سترګو اشارې او دعوت ؤ و زنى ته والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

او تاسي په بنه تعديل الاركان (كما هو معنى اقامة الصلوة) لمونځونه كوئ او زكوة وركوي، يعني كه مو د زكوة مال درلودى او فرمانبرداري كوئ د خداى ﷻ يعني فيما امر به ونهى عنه او د رسول د خداى په حسن معاشرت كي او په امرو رلو كي، وذالك هو التقوى الذي هو سبب وشرط لافضليتهن على نساء العالمين.

اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ

پوه سه: چي دا كلام مستأنف عام دى لنساء النبي ﷺ وغيرهن من اولاده كفاطمة و اولادها الحسن والحسين ﷺ، ولذالك اورد الضمير المذكر تغليبًا.

پوه سه: چي دا جمله تعليل ده د ماسبق يعني انما يريد الله سبحانه فيما امركن به ونهاكن عنه چي ستاسي څخه لپري كړي رجس يعني عمل د شيطان من الاثم والقبائح الشرعية والطبعية التي ليس فيها مرضات الله تعالى.

"اهل البيت" منصوب على النداء يعني يا اهل البيت.

دروښ وايي: چي روح البيان وايي چي مراد له اهل البيت څخه هغه كسان دي چي جمع كړي يې وي بيت النبوة رجالاً ونساءً، وروسته يې ويلي دي چي اهل البيت متعارف في آل النبي ﷺ من بني هاشم. نو دده پر تفسير په اهل البيت كي علي والحسن والحسين وامهما فاطمة ﷺ ونساء النبي ﷺ تو له داخل دي.

او اهل تشيع وايي چي اهل البيت خاص دى په فاطمة، وعلي وابنيه الحسن والحسين ﷺ پوري، او روح المعاني وايي چي الف ولام په البيت كي لپاره د عهد دى يا عوض د مضاف اليه څخه دى اى بيت النبي ﷺ، دى وايي چي مراد له بيت څخه بيت الطين والخشب لا بيت القرابة والنسب وهو بيت السكنى لا المسجد النبوي كما قيل، دى وايي: والظاهر ان المراد به نسائه ﷺ المطهرات ﷺ، دى وايي للقرائن الدالة عليه من الآيات السابقة واللاحقة، دى وايي چي عليه الصلوة والسلام لره ليس بيت يسكنه فيه سوى سكناهن، دى وايي وروى ذالك غير واحد اخرج ابن ابى حاتم وابن عساكر من طريق عكرمة عن ابن عباس ﷺ نزلت انما يريد الله الخ في نساء النبي ﷺ خاصة، او عكرمه ﷺ وايي كه څوك غواړي زه مباهله ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوم چي دا آیت په ازواجو کي د علیه الصلوة والسلام نازل سوی دی.

او ابن جریر او ابن مردویة له عکرمة ؒ چي ده وویل ددې آیت په متعلق کي لیس بالذي تذهبون الیه (چي اذهان و هغه تک کوي کما مر من روح البیان) انما المراد بها نساء النبي ﷺ، وروی ابن جریر ایضًا ان عکرمة ؒ کان ینادی في السوق ان قوله تعالی انما یرید الله الآیة نزل في نساء النبي ﷺ.

سوال: د ازواجو مطهراتو بیوت خو ډېر وه، نو بیت یې په آیت کي ولي مفرد راوړی؟

ځواب: بیوت د ازواجو مطهراتو په اعتبار د اضافت د علیه الصلوة والسلام بیت واحد.

سوال: په دمخه آیت کي یعني وقرن في بیوتکن خو بیوت جمع راغلی ؤ، نو د هغه سبب څه دی؟

ځواب: جمع په اعتبار د ازواجو مطهراتو ده یعني دوی پکښې اوسېدې او دوی خو نهه وې.

سوال: ضمیر د جمع مذکر یعني عنکم ویطهرکم د اراده سره د ازواج مطهراتو ؓ سره فقط څرنګه سمون خوري؟

ځواب: روح المعاني وایي چي تذکیر یې په اعتبار د لفظ د اهل دی، والعرب کثیرًا ما یستعملون صیغ المذکر في مثل ذالک نظرًا الی اللفظ کما في قوله تعالی خطابًا للسارة امرأة الخلیل ﷺ اتعجبین من امر الله (یعني قضاء الله چي جبرئیل او دده سره چي نورې ملکي وې ودې ته یې زېرې د زوی و کړی، او دې ورته وویل چي زه خو د ځوانۍ راهسي وچه یم چي اوس مي عمر نیوي (۹۰) کاله دی، وهذا بعلي شیخًا، او دا مي مېړه دی یعني ابراهیم ؑ چي سل کاله خورده سپین زېرې دی چي عمر یې یو سل ؤشل (۱۲۰) کاله دی) رحمة الله وبرکاته علیکم اهل البیت انه حمید مجید، او بعض مفسران وایي چي مراد په آیت کي له اهل البیت څخه علیه الصلوة والسلام او ازواج مطهرات ﷺ دواړه دي، او تذکیر د ضمیر یې اعتبار د تغلیب د علیه الصلوة والسلام دی پر ازواجو مطهراتو ؓ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې روح المعاني حسب عادته طويل کلام نور هم کړی دی، او مظهري ډېرې اوږدې خبرې کړې دي.

وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾

او تاسي يې پاکي کړلاست له نجاساتو څخه د ګنهو بالحفظ في الدنيا والمغفرة في الآخرة.

پوه سه: چې خدای ﷻ اشاره په دې آيت کې ودې ته وکړه چې دوی چې يې امر کړې يعني په اوامرو سابقه وو سره يعني وقرن في بيوتکن واقمن الصلوة الى اخيرها، او دوی يې نهي کړې يعني ولاتبرجن وغير ذالک او دوی ته يې وعده وکړه ددې لپاره چې اهل بيت د رسول د خدای نژدې نه سي و ګناه ته وليتصفوا بالتقوى، او د ذنوب لپاره يې لفظ رجس چې اصل معنى يې نجاست ده استعاره کړی او د تقوى لپاره يې لفظ د طهارت، ولي آبروی د ګناه کونکي داسي ګرځي لکه بدن چې په نجاست ککړ سي، او تقوى داره سړی له ګنهو څخه پاک لکه ثوب طاهر له اثر څخه د نجاست ظاهري، او هم دا سبب دی چې اثام او ارجاس مناسبت سره لري، امام اعظم ؒ وايي چې اوبه چې مستعملي سي لپاره د رفع د حدث او يا لپاره د ثواب لکه نفلي اودس چې ګنهونه په رژېږي، دی وايي چې دا مستعملي اوبه نجسي دي يعني شی په مردارېږي، که څه هم ياران وايي چې طاهري دي مطهري نه دي يعني بل شی که بدن وي او که ثوب نه په پاکېږي.

فائده: چونکه روافض اهل البيت حصر بولي په علي، فاطمة والحسن والحسين ﷺ کي، نو دوی په دغه آيت سره دليل وايي چې دا څلور نفره معصوم له ګناه څخه دي، نه ابوبکر او نه عمر او نه عثمان ﷺ، او دوی دا هم وايي چې خليفه بالحق بعد رسول الله ﷺ علي ﷺ وُ او بيا حسن ﷺ وُ او بيا حسين ﷺ ثم وثم، او دوی وايي چې ابوبکر او عمر او عثمان ﷺ غصبًا خلافت د علي ﷺ څخه وګرځاوه، او دوی دا هم وايي چې اجماع ددې څلورو ثم الى اثنى عشر پوري حجت دون اجماع غيرهم من الصحابة ﷺ والتابعين ؒ الى غير ذالک من خرافاتهم المذكورة في كتبهم، او دوی دا هم وايي چې د امامت يعني خلافت لپاره عصمت شرط دی، نو چونکه ابوبکر، عمر او عثمان ﷺ معصوم له ګناه څخه نه وه بالاجماع، نو دوی خلفاء نه وه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجواب: عن هذه الخرافات اولاً دادی چي دا آيت خو مختص په علي او فاطمة و ابينهما پوري نه دي بلکې دا آيت په حق کي د امهات المؤمنين كما يدل عليه سياق الآية لكن علي و فاطمة و ابينهما ﷺ داخل دي په حکم کي د امهات المؤمنين، وثانيًا ان الطهارة لاتدل علي العصمة لا مطابقة ولا تضمنًا ولا التزامًا، ولي چي په آية الوضوء کي خداى پاک وايي: مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ او دا ظاهره خبره ده او روافض هم په قائل دي چي د طهارت په اوداسه عصمت نه ثابتيږي.

وثالثًا: عصمت شرط د امامت او خلافت نه بلکې دا روا ده بلکې واقع ده چي خداى پاک دي امامت غير معصوم ته ورکړي مع وجود المعصوم لکه چي خداى پاک ملک او امامت و طالوت ته ورکړى سره ددې چي نبي معصوم موجود وُ چي اشموئيل او داؤد عليهما السلام وه، قال الله تعالى: وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ والله اعلم بالصواب.

دروښ وايي: چي روح المعاني په رد کي د قول د روافضو مفصل دلائل راوړي دي وفيما ذكرنا كفاية وان شئت مزيد التفصيل فارجع الى تفسير روح المعاني ... ع: .... آن به كه نامه را بدعاء مختصر كنم.

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ

او تاسي درپياد کړئ (دا جمله عطف ده پر اطعن الله ورسوله، او د منځ جملي تولي معترضي دي لپاره د علت بيانولو) هغه شى چي ستاسي په حجرو کي تلاوت کيږي، من آيات القرآن چي دا يو نعمت عظمى دى شكريې لازم دى "والحكمة" چي احاديث نبويه ځني مراد دي چي وحي غير متلو يې بولي، او مقاتل رح يې داسي تفسير کړى دى چي مراد له حكمت څخه احكام القرآن و مواعظه دي، او بيضاوي وايي يعني اذكرن الكتاب الجامع بين الامرين وهو تذكير النعمة عليهن، حيث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جعلهن من اهل بيت النبوة ومهبط الوحي، او تاسي په ستركو ليدل چي ګاهي چي به عليه الصلوة والسلام ته وحي راتلې د سلسلة الجرس په ډول على ما في البخاري، د عليه الصلوة والسلام صورت به په ريږدېدو سو او پر مخ به يې لکه ملغلري داسي خولې جاري سوې، چي د دې په ليدلو سره قوة د ايمان او حرص پر طاعت او باعثه کول ستاسي پر عمل کولو په امر د خداى ﷻ او رسول د خداى او انتهاء ماتهى الله ورسوله عنه وتاسي فائده او متيقن ګرځې دى.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾

په تحقيق خداى پاک پر تاسي مهربان دى چي تاسي ته وعظ کوي او تعليم د ماينفعکن درته کوي، او خبر دى په هر هغه شي چي مناسب وي د نبوت سره ددې او په دې هم خبر دى چي کومي ښځي صالح او مناسبي دي چي دده مبارک اهل بيت وګرځي، کريمه: اَلطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ.

بغوي ؒ وايي چي ازواجو د نبي ﷺ ده ته وويل يا رسول الله ذكر الله الرجال في القرآن ولم النساء بخير، نو په موږ کي يو د خير کار نسته چي موږ په هغه سره ذکر سو، او موږ پر دې بهر ږدو چي زموږ طاعت لکه چي خداى ﷻ نه دي قبول کړي، فانزل الله تعالى هذه الآية.

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ

بې شکه هغه نران او ښځي چي د خداى ﷻ او د رسول د حکم فرمانبردار دي او خپل د کار تفويض يې و خداى ﷻ ته کړى وي او توکل يې پر خداى ﷻ وي، او هغه مؤمن نران وي او که مؤمنې ښځي چي تصديق يې پر ماجاء به رسول الله ﷺ کړى وي او خلق ددى له شره څخه په امن کي وي که نر وي او که ښځي.

وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ

، او چي دوام پر طاعت د خداى ﷻ کوي که نر وي او که ښځي، او هغه څوک چي په قول او عمل کي صادق وي يعني په قول کي درواغ نه وايي او په عمل کي نفاق نه لري که نر وي او که ښځي، چي صبر يې کړى وي خداى ﷻ ته په مصائبو او امراضو کي يعني جزع او فزع نه کوي (چي دې ته صبر په شي کي وايي يعني لفظ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صبر متعدي په فاء سره سي يعني الصبر في الشئ) او عمل په طاعت د خداى ج کوي که څه هم طاعات شاقه وي (دې ته په عربي صبر على الشئ يعني چي لفظ متعدي په کلمه د علٰى سي يعني الصبر على الشئ) او د معاصيو او اتباع الشهوات څخه يې صبر کړى وي (چې دې ته صبر عن الشئ وايي يعني کلمه د صبر متعدي په عن سره سي چې صبر عن الشئ يې بولي) که نر وي او که ښځي.

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ

او چې تواضع او کمينې لري تکبر او خودبيني نه لري که نر وي او که ښځي، او صدقه کونکي وي يعني که يې مال درلودى د هغه مال څخه تصدق فرضًا ونفلاً ابتغاء مرضات الله که نر وي او که ښځي.

وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ

او چې روژې نسي که فرضي وي او که نفلي، که نر وي او که ښځي، او هغه څوک چې ساتي خپل اعضاء مخصوصه يعني مابين الفخذين له زنۍ څخه، نو که نر وي او که ښځي.

وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا

يعني چې ذکر د خداى ﷻ کوي په زړو او په ژبو سره ډېر، که نر وي او که ښځي، قال البغوي ح قال مجاهد ح لايكون من الذاكرين الله كثيرًا حتى يذكر الله قائمًا وقاعدًا ومضطجعًا يعني خداى ﷻ يې قلبًا يا لسانًا په يادوي.

دروښ وايي: چې مظهري ح چې ځان لوى صوفي بولي وايي دا آيت په مرتبه د فناء القلب واستغراق القلب في الذكر وحصول الحضور الدائم پيدا کېږي انتهى، پر دې تفسير ډېر مسلمانان او مسلمات ښځي د ذاکرين كثيرًا والذاكرات كثيرًا خارج کړځي، والحق ما قال البغوي ح من صلى الصلوات الخمس فهو داخل في الذاكرين الله كثيرًا والذاكرات.

وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝

خداى ج اراسته کړې ده دوى لره بخښنه د بعض صدر منهم من الذنوب، او لوى ثواب پر طاعت د دوى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای ﷻ په دې آیت کې نران او ښځې دواړه په اوصاف مذکورهوو کې ذکر کړي دي او په اعد الله لهم ضمیر د مذکر راوړی فقط، یعنې داسې یې نه وویل ادعد الله لهم ولهن مغفرة آه، حکمت یې څه دی؟

ځواب: دا آیت مبني پر تغلیب د ذکور دی پر اناثو، والتغلیب باب واسع في لسان العرب کما یقال للوالد ولوالدة، والدین بالتذکیر، وللشمس والقمر، قمرین، وللاب والام الابوین، ولایخفی السر في التغلیب في الامثلة المذکورة، اما الاول فلتضیل المذکر علی الانثی، واما الثاني فلان القمر مذکر والشمس مؤنث سماعي وکذا الثالث.

دروښ وایي: چې علیه الصلوة والسلام د جاهلیت په وخت کې یعنې چې دی نبي نه ؤ زید بن حارثه یې د عکاز په بازار کې رانیولی ؤ او بیا یې ازاد کړی ؤ او خپل زوی یې ګرځولی ؤ کمامر، دا زید په رنګ تور ؤ او پزه یې هم پیته وه، نو علیه الصلوة والسلام چې زینب بنت جحش بن رباب الاسدي چې د علیه الصلوة والسلام د عمه لور وه یعنې امیمة بنت عبد المطلب، مرکه وکړه یعنې لپاره د زید بن حارثه اول ددې یعنې د زینب خیال دا سو چې علیه الصلوة والسلام مې د ځان لپاره غواړي، نو راضي سوه، وروسته چې ور معلومه سوه چې د زید بن حارثه لپاره یې مرکه راته کړې ده، او زینب ډېره ښائسته ښځه وه اباء یې وکړه او ددې ورور عبد الله بن جحش هم منع وکړه، او دې وعلیه الصلوة والسلام ته وویل چې زه ستا د عمه لور یم او د لوړ خاندانه څخه د قریش یم، زه په نکاح د زید بن حارثه چې ستا ازاده شده مریی دی او په رنګ هم تور دی څرنګه راضي سم، نو دا آیت نازل سو.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ أَمْرًا

نه ښایي مؤمن لره چې مراد ځني عبد الله بن جحش دی، او نه مؤمنې لره چې مراد ځني زینب بنت جحش ده، چې فیصله او حکم وکړي خدای او رسول د خدای دیو کار چې مراد ځني نکاح د زینب مع زید بن حارثه.

پوه سه: چې قضٰی خو علیه الصلوة والسلام کړې وه او ذکر د نوم د الله د تعظیم ده حکم د علیه الصلوة والسلام ده للتنبیه علی ان قضائه ﷺ قضاء الله ﷻ کما ان طاعة رسول الله ﷺ طاعة الله ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ

چي دوی لره دي اختيار وي په خپلو کارو کي يعني چي څرنګه چي ددوی زړه وغواړي هغسي به کوي بل يجب عليهم ما امر الله ورسوله به، بلکې پر دوی واجب ده چي خپل اختيار دي تابع د اختيار د خدای او د رسول وګرځوي.

فائده: جمع د ضمير د لهم اول، لوقوع المؤمن والمؤمنة چي دواړه لفظه نکره په سياق کي د نفي واقع سوی کما هو القانون من ان النكرة اذا وقعت في سياق النفي تعم، او جمع د ضمير د لهم ثاني که څه مراد ځني خدای او رسول دي بلکې يوازي رسول کما مر لپاره د تعظيم ده.

فائده: قراءد کوفي يکون په ياء وايي که څه هم فاعل يعني الخيرة چي مؤنث دی د جهته د فصل په لهم سره بينهما او نور قراء تکون په تاء وايي الفوقانية لاجل تانيث الخيرة.

فائده: خيرة او اختيار په يوه معنی دي.

مسئله: ددې څخه دا معلومه سوه چي امر مطلق لپاره د وجوب دي.

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۝

که څوک عصيان وکړي له امر څخه د خدای او د رسول دده ويعمل برايه، او په کشف الاسرار کي وايي ومن يعص الله يعني خالف القرآن ورسوله فخالف السنة آه.

دروښ وايي: چي دا تفسير که څه هم صحيح في نفسه دی لکن ددې مقام سره مناسب نه دی فافهم.

"فقد ضل ضلالاً مبيناً" نو هغه ګمراه سو په ضلال بنکاره سره، نو که عصيان پر طريقه د رد او انکار وُ نو ضلال يې ضلال د کفر دی او که عصيان يې د فعل څخه وُ مع قبول الامر واعتقاد الوجوب نو ضلال يې د فسق دی، بغوي رح وايي چي دا آيت چي نازل سو او زينب بنت جحش او ددې ورور عبدالله بن جحش او ورېدی رضيا بذالک، نو زينب او ددې ورور اختيار و عليه الصلوة والسلام ته وسپارله، نو عليه الصلوة والسلام يې د زينب نکاح د زيد رض سره وترل فدخل بها او عليه الصلوة والسلام مهر او نفقة (۱۰) ديناره او شپېته (۶۰) درهمه او يو لوی پورنی او يو قميص او پای جامه او يو د کور پورنی، او پنځوس مده غنم او دپرش کاسې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خورما ورواستول، ډېره زمانه زينب په نکاح کي د زيد بن حارثه پاته وه لکن عيال نه سو ځني پيدا، او صحيح داده چي يو زوی اسامة بن زيد ځني پيدا سو، يوه ورځ رسول الله ﷺ د يو کار لپاره د زيد بن حارثه کورته ورغلی ؤ، نو ستر ګي يې پر زينب ولګېدلې چي پورتنی يې پر سر او قميص يې اغوستی ؤ، وكانت بيضاء جميلة من اتم نساء قريش، فوقعت في نفسه واعجب حسنها نو على الفور عليه الصلوة والسلام داسي وويل سبحان الله مقلب القلوب، او بيرته ووتی زيد چي کورته راغلی ماينې يې د عليه الصلوة والسلام د راتګ او د عليه الصلوة والسلام د قول قصه ورته وکړه، نو زيد ؓ پوه سو چي د عليه الصلوة والسلام زينب خوښه سوې ده، نو خداى ﷻ على الفور د زيد په زړه کي نفرت د زينب پيدا کړی، او زيد عليه الصلوة والسلام ته دستي راغلی چي زه زينب طلاقوم، رسول الله ﷺ ورته وويل چي ولي يې طلاقوې څه عيب دي پکښې وليدی، زيد ورته وويل لا والله مارئيت منها شيئًا الا خيرًا لکن پر ما ځان کنجوي او ترفع کوي چي زه قريشه يم او ته مريی وې، او په ژبه مي هم زهيروې او په خوله مي هم ډېر نه کوي، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل امسک عليک زوجک واتق الله في امرها (خپله ماينه دي وساته او طلاق مه ورکوه او د خداى ځخه وبېرېږه په کار د طلاق ددې) رواه ابن جرير عن ابي زيد، فانزل الله في ذالک.

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ

يعني واذكر هغه چي تا وويل و هغه چا ته چي خداى ﷻ احسان کړی دی د هغه سره چي هدايت يې د اسلام ورته کړی دی او ستا مصاحبت يې ورنصيب کړی دی او ستا په زړه کي محبت او رحمت ددې سره پيدا کړي حتى په تبنى ستا سرشال سو "وانعمت عليه" او تاهم احسان ورسره وکړی بالانفاق والاعتاق واداء مهر زوجته ونفقتها كما مر عنقريب.

دروښ وايي: چي حاكم رح د انس ؓ ځخه روايت کړی دی چي زيد بن حارثه ؓ شکايت وکړی من زينب بنت جحش، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل امسک عليک اهلک. فقير وايي چي دا روايت ډېر زيادی تر روايت د ابن جرير د ابی زيد ځخه چي عنقريب تېر سو كما لايخفى على من تأمل في شانه ﷺ فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ

او تاهم احسان ورسره کړی دی بالانفاق والاعتاق، واداء مهر زوجته ونفقتها کعامر عنقریب "امسک علیک زوجک" یعني زینب بنت جحش، او د خدای ﷻ څخه وبېرېږ في امرها یعني مه یې طلاقوه فان الطلاق من ابغض المباحات.

وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ

پوه سه: چې امسک علیک آه مقولة ده تقول وجملة تخفی في نفسک آه معطوف دی پر تقول باندې، والمعنی تا پټ ساتلی دی په زړه کې هغه شی چې خدای ﷻ به یې بنکاره کړي یعني که زینب زید بن حارثه ؓ طلاقه کړي زه به یې نکاح کړم.

او ته بېرېږې له خلکو څخه چې دوی به پر ما ملامتیا وایي (او یا په دا وایي چې محمد د زوی ماینه په نکاح کړه، او یا به دا وایي چې ده زید بن حارثه امر کړی چې ماینه دي طلاقه کړه "وتخش الناس" عطف دی علی تخفی)

دروښ وایي: چې هغه تفسیر چې قتاده ؒ کړی دی چې د علیه الصلوة والسلام دا خوښه وه چې زید یې طلاقه کړي انتهی د شان عالي سره د علیه الصلوة والسلام مناسب نه دی یعني چې په خوله دي ورته وایي مه یې طلاقوه او په زړه کې یې دا خوښه وي چې طلاقه یې کړي کما لایخفی علی المتأمل.

بغوي ؒ وایي چې سفیان بن عیینة د علي بن زید بن جدعان څخه روایت کړی دی چې زما څخه سوال وکړي علي بن الحسین زین العابدین ؒ چې الحسن څرنګه بیان کوي په تفسیر کې ددې آیت وتخفی في نفسک الخ، ده راته وویل چې الحسن وایي چې زین بن الحارثة ؓ و علیه الصلوة والسلام ته راغلی، فقال یا نبي الله اني اريد ان افارق زینب، نو علیه الصلوة والسلام ته دې خبري خوند ورکړی او داسي یې ورته وویل امسک علیک زوجک واتق الله، علي بن الحسین ؒ ورته وویل چې داغسي نه ده لکه الحسن چې وایي بلکې خدای پاک علیه الصلوة والسلام دمخه خبر کړی ؤ چې زینب بنت جحش ستا د ازواجو څخه ګرځي او دا هم خدای پاک ورته وایي چې زید به یې ژر طلاقه کړي، نو علیه الصلوة والسلام چې زید ته وویل امسک آه، خدای پاک وده ته عتاب ورکړی، او دا یې ورته وویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تا ولي ورته وويل امسک عليک آه، او سره ددې چې ما خوته خبر کړې چې زينب به ستاد ازواجو ګرځي، وهذا هو الاليق والاولى بحال الانبياء ﷺ او هم دا توجيه برابره د قرآن د آيت سره لان الله تعالى اعلم ان يبدي ويظهر ما اخفاه ولم يظهر الله غير تزويجها، فقال زوجناكها، نو که ما اخفى رسول الله ﷺ محبتها او نکاحها لو طلقها زيد لکان يظهر الله ذالک.

سوال: رسول الله ﷺ چې خداى ﷻ خبر کړى ؤ چې زينب به ستا له ازواجو څخه ګرځي، نو ده دا خبره ولې پټول؟

ځواب: استحياءً ان يقول يعني لزيد التي تحتک وفي نکاحک ستکون امرئتي، قال البغوي ؒ ذالک توجيه حسن.

دروښ وايي: چې والیق بحال سید البشر ﷺ، نو هغه خبره چې مظهري کړې ده وان کان القول الاخر وهو انه اخفى محبتها او نکاحها لو طلقها زيد لايقدح في حال الانبياء لان العبد غير ملوم على مايقع في قلبه فان مثل هذه الاشياء مالم يقصد لا اثم فيه لان الود وميل النفس الى شيئ من طبع البشر انتهى ليس بشئ، ولې دا دوه شيان که څه هم زما ؤستا لپاره اثم نه دي لکن داسي وينا په شان کې د سید نوع البشر ﷺ بې حيايي ده، قال الله تعالى: مازاغ البصر وما طغى ولقد رئى من آيات ربه الكبرى، او سره ددې چې مظهري په تفسر کې د والذاكرين كثيرًا الخ داسي عبارت راوړى دى: قلت وذالک لايتصور الا بعد فناء القلب واستغراق القلب وحصول الحضور الدائم انتهى.

دروښ وايي: چې دا به نو څوک وي خير البشر ﷺ په درجه اعلى کې دى او سره ددې احوالو يعني فناء القلب به څرنګه محبت او وداد د زوجة الغير يا حب د طلاق د معې به په مبارک زړه کې چې له انوارو څخه د توحيد ډک وي وروګرځي؟.

دروښ وايي: چې روح المعاني دغه قصه چې عليه الصلوة والسلام د زيد بن حارثه ؓ کورته ورغلى زينب ؓ يې وليدل داسي ويلې: سبحان خالق النور تبارک الله احسن الخالقين، نو عليه الصلوة والسلام بيرته ولاړى او زيد بن حارثه چې راغلى ماينې يې دا قصه ورته وکړه، زيد ورته وويل لعلک وقعت في قلب رسول الله ﷺ الى اخيره كما مر. فقال صاحب روح المعاني مما لايخفى على المتتبع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني بطلانه، وفي شرح المواقف ان هذه القصة ممایجب صیانة النبي ﷺ علیه من مثله انتهی، وقال القاضي عیاض ؒ في کتابه الشفاء لاتسترب (ته شک مه کوه) في تنزیه النبي ﷺ عن هذا الظاهر انه بأمر زید بامساکها وهو یجب تطلیقه ایاها کما ذکره جماعة من المفسرین الی اخیر ما قاله القاضي، په پای کي روح المعاني وایي ما ذکرناه عن زین العابدین ؒ، چي دمخه فقیر ذکر کړه.

دروښ وایي: چي تاریخ اسلامي خبري کوي چي زید بن حارثه ازاد شده مریی د علیه الصلوة والسلام ؤ او دی اول سړی دی له موالي څخه چي ایمان یې راوړی دی، وکان رسول الله ﷺ یحبه ویحب ابنه اسامة بن زید، زید بن حارثه ؓ په غزاء کي د بدر شامل ؤ او په غزاء کي د خندق هم موجود ؤ، او په غزاء کي د حدیبیه هم حاضر ؤ، او علیه الصلوة والسلام زید بن حارثه ؓ خلیفه وګرځاوه پر مدینه باندي چي علیه الصلوة والسلام غزاء ته د بني المصطلق روان سو، او زید بن حارثه ؓ یې په اوو (۷) سرایاوو کي امیر ټاکلی دی.

ځپل ځان ته نصیحت: عبیده دې پر احتیاط کوه چي په دې دریاب کي د قصې د زید بن حارثه ﷺ او د زینب ﷺ او بیا په نکاح کي د علیه الصلوة والسلام ددې راتګ دې پري کښتی د آب بازانو غرقي سوي دي، او په جناب کي د خیر البشر ﷺ دې له ادبه او احترام څخه کار اخله..... بیت:

از خدا خواهم توفیق ادب ..... بی ادب محروم گشت از فضل رب

دا تفسیر دی چي پاتې وه دنیا ته..... د ادب لاریه معلومه سي هر چاته

وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ

دا جمله حال ده له فاعل څخه د تخشی یعني والحال چي خدای دې پر حق دا وړ دی ددې چي ته ځني وبېرېږې.

پوه سه: چي عمر، او ابن مسعود او عائشه ﷺ وایي ما نزلت علی رسول الله ﷺ آیة هي اشد من هذه الآیة، او مسروق وایي چي عائشه ؓ وویل که یو شی د وحي څخه علیه الصلوة والسلام پټولای دا آیت به یې پټ کړی وای، وتخفی في نفسک الی اخیرها، بغوي ؒ وایي چي ددې آیت مراد دا نه دی چي علیه الصلوة والسلام نه د خدای ﷻ څخه نه ویرېدی، ولي چي په صحیح حدیث کي راغلي دي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام وویل "اني اخشاکم واتقاکم" بلکې ټوله انبیاء کرام علیهم السلام په شان کې ددوی خدای ﷻ یخشونه ولایخشون احدًا الا الله، لکن لما ذکر الخشیة من الناس ذکر ان الله احق بالخشیة في عموم الاحوال وفي جمیع الاشیاء وفي جمیع الازمان، بعض مفسرین وایي چې ظاهره داده چې اهل جاهلیت تزویج د مایني د متبنّٰی حرام ګانه، نو خدای ﷻ وحي وکړې و علیه الصلوة والسلام ته چې زید چې ستا متبنّٰی دی ماینه زینب په نکاح کړه، چې زید طلاقه کړه، لکن علیه الصلوة والسلام ودې کار ته تلوار ونه کړی، یعني چې زید ورته وویل چې زینب پر ما ترفع کوي په سبب ددې چې دا قریشه ده او زه ازاد شده مریی یم، نو زه یې طلاقوم که یې مبادرة کولای ورته ویلي به یې وای چې ستا خوښه ده لکن دې کار ته ځنډ ورکړه، امسک علیک زوجک واتق الله مخافة طعن الاعداء، نو خدای ﷻ عتاب په دغه ورته وکړی، وتخشی الناس، وهذا توجیه وجیه فافهم.

فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا

قال قتاده ؓ ای طلقها.

پوه سه: چې اصل د وطر حاجت د وقضی الحاجة کنایة عن الطلاق کما قال الفقهاء، اذا قال الرجل لزوجته لاحاجة لي فیک فهو طلاق کنایة، او مبرد وایي چې وطر محبت او شهوت ته وایي، او ابن عباس ؓ وایي چې تفسیر د حاجت په دې جماع ده فالمعنی انه (یعني زید) لم یبق له بها (ای زینب) حاجة الجماع فطلقها، او په بحر کې وایي نقلاً عن البعض انه ؓ لم یمکن من الاستمتاع بها، وروی ابو عصمة نوح بن ابی مریم رفعه الیها (ای الی زینب ؓ) دا وایي چې ما زید له ځانه نه منع کاوه یعني عن الجماع غیر ان الله ﷻ منعني منه (یعني خدای ﷻ زه منع کړم دده څخه یعني دده له وطي څخه) نو پر دې تقدیر ده پر زېبا تفسیر د قضاء الوطر په طلاق سره یعني بالکنایة، لکن په آیت کې تقدیر ستة، فلما قضٰی زید منها وطرًا ای طلقها کما مر وانقضت عدتها وهذا هو المقدر، زید ؓ وایي چې د زینب عده چې تېره سوه، قال رسول الله ﷺ لزید ؓ اذهب فاذکرها علي (یعني وروسته په طورد مرکې زما د خوا) زید ؓ راهي سو حتّٰی چې زینب ؓ ته ورغلی په داسي حال کې چې دې اوړه خمیرول، زید ؓ وایي چې ما چې زینب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولیدل حین علمت ان رسول الله ﷺ ذکرها عظمت ای زینب في صدري زما په زړه کي نو ما شاور وه کرځول او شا ته روان سوم او دې ته مي وویل یا زینب ارسلني رسول الله ﷺ تا غواړي، زینب راته وویل چې زه نه ورځم تر څو چې د خدای امر نه وي سوی، نو دا پر لمانځه ودریدل نو دا آیت نازل سو: فلما قضٰی زید منها وطرًا الی اخیر الآیة، هذا ماذکره البغوي ؒ، نو زینب د علیه الصلوة والسلام کورته ورغله.

وفي التفسیر الحسیني: سید عالم بعد از نزول آیت بخانه زینب آمد بی دستوری یعنی عادت مردم که خطبهٔ باشد وعقد نکاح زینب گفت بی خطبه بی گواه، آنحضرت فرمود الله المزوج و جبرئیل الشاهد کما یدل علیه قوله.

زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ

موږ په نکاح درکړه تاته دا یعني زینب ؓ، یعني ددې لپاره ماتاته تزویج د زینب درو کړی چې دا په دمخه کي ماینه د زید بن حارثه ؓ وه چې ستا متبنّٰی وُ، چې پر مؤمنانو تنګي رانسي.

تاریخ د نکاح د زینب ؓ د ذوالقعدة میاشت وه، څلورم کال د هجرت وُ پر صحیح روایت او د زینب عمر پنځه دېرش (۳۵) کاله وُ، له دې کبله له حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې زینب به فخر کاوه پر نورو ازواجو مطهراتو د علیه الصلوة والسلام او دې به ویل چې ستاسي تزویج کونکي ستاسي اقارب وه وزوجني الله من فوق سبع سمٰوات، انس ؓ وایي چې رسول کریم ﷺ دومره مهماني د خلکو جوړه کړه چې خپل په مخنیو نکاحو کي یې هیڅ کله دومره مهماني نه وه جوړه کړې په طول کي د ورځي، خلک یې په ډوډۍ او غوښو ماړه کړه او خلکو چې به ډوډۍ وخوړل وتل به له حجرې څخه چې زینب هم په داغه حجره کي وه وذالک قبل نزول الحجاب، دوه کسه ناست وه وروسته تر ډوډۍ مجلس یې سره کاوه، نو علیه الصلوة والسلام د خوني څخه ووتی تاچې دا دوه خلک به هم پوه سي او ولاړ به سي، نو پر حجراتو د نورو ازواجو مطهراتو ﷺ به ګرځېدی علیه الصلوة والسلام به دوی ته سلام وایه دوی به هم سلام وایه، ازواجو به ورته ویل کیف وجدت اهلک، انس ؓ وایي چې زما نه دي په یاد چې ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام ته وویل چي هغه دوه کسه ووتل که بل چا علیه الصلوة والسلام خبر کړی، نو علیه الصلوة والسلام راهي سود حجرې پر خواء انس رضی الله عنه چي د علیه الصلوة والسلام دلسو کالو خادم ؤ وایي چي زه هم په پسې وم چي حجرې ته ورسم لکن علیه الصلوة والسلام پرده واچول بیني وبینه ونزل آیة الحجاب، راوي وایي چي زینب به علیه الصلوة والسلام ته وویل چي په ما کي دري خاصیته موجوددي چي ستا په هیڅ زوجه کي نه دي موجود (۱) جدي وجدک واحد یعني عبد المطلب (۲) انکحینک الله (۳) وان السفیر والشاهد جبرئیل[۴].

پوه سه: چي مراد له سفارت څخه د جبرئیل[۴] سفارت دده دی بین الله وبین رسوله ﷺ والا فالسفیر بین زینب رضی الله عنها وبین رسوله ﷺ هو زید زوجها السابق کما مر في القصة فافهم.

فِيْ أَزْوَاجِ أَدْعِيَآئِهِمْ

، په ماینو کي د متبنّی (اعیاء جمع د دعی ده ای المتبنّی) یعني چي د متبنّی ماینه روا ده نکاح یې و مالک ته د متبنّی که څه هم متبنّی دخول په کړی وي، یعني وطي یې ورسره کړي وي، لکن ماینه د زوی و پلار ته نه ده روا. له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي حکم د رسول او د امت دده سره یو دی مالم یقم دلیل علی تخصیص الحکم بالنبي لکه تزویج د فوق الاربعة ماینو فانه مختص برسول الله ﷺ بدلیل خارجي ولایکون ولایجوز للامة ذالک.

إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ۝

"اذا قضوا" ای الادعیاء "منهن" د دې زوجاتو څخه حاجت یعني طلاقي یې کړي، او دی امر د خدای ﷻ او قضاء دده کېدونکي لامحالة لکه تزویج د زینب رضی الله عنها زوجة متبنّی النبي ﷺ مع رسول الله ﷺ.

مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ ۚ

نسته پر نبي باندي تنګي په هغه شي کي چي خدای ﷻ تقسیم کړي وي او اندازه کړي یې وي من عدد النساء، وقیل معناه فیما احل الله له.

پوه سه: چي حرج اسم د کان او کلمة د من زائده ده لاستغراق النفي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ

طریقه د خدای ﷻ ده (دا لفظ مصدر یعني مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای سن الله سنة او یا منصوب په نزع د خافض یعني حرف کاف دی ای کسنة الله) په هغو کسانو کي چي دمخه تیر سوي دي یعني من الانبیاء الماضیین، او کلبي ؒ وایي چي مراد ځني داؤد ؑ دی حیث جمع بین زوجاته وبین المرئة التي هواها وقصة مشهورة فکذالک جمع بین محمد ﷺ وزینب ؓ انتهی.

دروښ وایي: چي له دي توجیه څخه اباء کوي لفظ د الذین خلوا بصیغة الجمع، ولي چي داؤد ؑ خو یو نبي ؤ چي جمع یې وکړه، او بعض مفسرین وایي چي مراد کثرت د ازواجو دی لکه د داؤد او سلیمان ؑ.

وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقْدُوْرًا ۝

او ده قضاء الهي کېدونکي لامحالة.

فائده: مقدورًا صفت دی د قدرًا للتاکید والمبالغة ولهذا قلت في الترجمة لامحالة او دا توصیف لپاره د مبالغي دی په عربي ژبه کي مشهور دی نحو ظل ظلیل وداهیة دهیًا ولیل اللئیل، قانون هذه المبالغة، له یو لفظ څخه چي مشتق جوړ سي او بیرته هغه لفظ په موصوف سي فائده یې مبالغه ده، ومن هذا القبیل قولهم في شدة المعرکة حجرًا محجورًا فلیکتب هذه الفائدة بمداد الذهب علی قرطاس الاذهان.

الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ

هغه کسان چي رسوي یعني تر خلکو پوري رسالات د خدای ﷻ (یعني لکه ته یا رسول الله ﷺ چي له خدایه ببرېږي فیما امرک الله به ونهاک عنه)

پوه سه: چي دا موصول صفت دی د "للذین خلوا من قبل" یا مدح منصوب ده په حذف د اعني، یا مرفوع دی یعني هم الذین.

وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝

با زائده ده لان کفٰی متعدي بنفسه او فائده یې تاکید دی او حسیبًا فعیل دی په معنی د فاعل ای محاسبًا فینبغي ان لایخشی الا منه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په اسئله مقحمة کې (چې نوم د يو تفسير دی) دا سوال کړه سوی دی ولايخشون احدًا الا الله چې ددې صحت به څرنګه توجيه سي؟ سره ددې چې د موسیٰ عليه السلام لکړه چې په کوه طور کې مارسوه يعني په ابتداء کې د رسالت دده، دی ځنې وبېرېدی حتی چې خدای ﷻ ورته وويل لاتخف آه، وقال يعقوب عليه السلام اني اخاف ان يأكله الذئب، كذالک خاف نبينا ﷺ حتی قيل له (والله يعصمک من الناس) والجواب عنه چې د آيت معنی داده چې دوی عقيده نه لري چې يو شی د مخلوقاتو څخه به استقلالاً يعني له مشيت او ارادې د خدای ﷻ استقلالاً ضرر ورسوي چې دوی پر دې علم لري چې کارونه يوله په قضاء د خدای ﷻ دي. نو مراد په آيت کې له خوف څخه خوف د عقيدې دی او د علم او يقين دلاخوف البشرية الذي من خواص البشرية ونتائج الحيوانية فافهم.

فائده: دروښ وايي چې مسواک وهل، عطر لګول، نکاح کول وغيرها من السنن الانبياء عليهم السلام دی، او مور داسي عبادت نه لرو چې له زمانې څخه د آدم ؑ دې مشروع نه وي تر اخيره پورې د زمانې ثم تستمر في الجنة الا الايمان والنكاح.

مسئله: مؤمن بايد سعي وکړي چې ډېره ښائسته ماينه په نکاح کړي تا چې د نورو بنځو کتل بالشهوة والفرج بالزنی محفوظ وي... شيخ سعدي ؒ وايي:

زن خوب فرمان بر فارسا ..... کند مرد درويش را بادشاه
کراخانه آباد وهمخوا به دوست ..... خدا را برحمت نظر سوی اوست
چو مستور باشد زن خوب روی ..... بديدار او دربهشت است شوی

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ

يعنی ليس محمد ﷺ ابا لزيد بن حارثة ؓ حتی يحرم عليه نكاح زوجته زينب ؓ.

سوال: د رسول الله ﷺ دې يوه زوی نوم قاسم د بل د اطيب او د بل د اطاهر ؤ چې دا دې سره له بطن مبارک څخه د خديجة الكبرى ؓ وه، او بل ابراهيم ؤ چې له بطن څخه د مارية قبطيه ؤ؟

ځواب: رجل هغه چا ته وايي چې د بلوغ و سرحد ته رسېدلی وي او دا معدوده زامن خو د عليه الصلوة والسلام په زمانه کې د طفوليت وفات سوي دي، رجوليت وخت ته نه دي رسېدلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: امام حسن او امام حسین ؓ خو هم علیه الصلوة والسلام خپل زامن یللي دي، ولي علیه الصلوة والسلام د حسن ؓ په باره کي وویل ابني هذا سید آه او دا دوه خو زماني ته د رجولیت رسېدلي دي؟

ځواب: اطلاق د زوی پر لمسي خو مجاز دی، والمراد في الآیة الابن حقیقیة.

وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ

او هر رسول که څه هم اب د امت دی لکن لا من حیث النسب حتی یحرم علیه مایحرم بالنسب بل هو اب من حیث الشفقة والرحمة والشفاعة.

فائده: په اسلام کي د مؤمن دا شرط نه دی چي سړي ته به د علیه الصلوة والسلام اب وُ جد معلوم وي مثلاً محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم الخ، بل یشرط معرفة اسمه الشریف المشهور وهو محمد مصطفیٰ ﷺ لایشترط اسمائه الاخر، لکه حامد، احمد، محمود، بشیر، نذیر وغیرها حتی قیل ان لرسول الله ﷺ الف اسم کما ان له تعالی مجده الف اسم.

فائده: لفظ محمد څلور حرف دي لکه د لفظ الله چي څلور حرفه دي یعني چي په دواړو کي مدغم و مدغم فیه پریوه حرف حساب سي.

فائده: مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ دوولس (۱۲) حروف دي لکه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چي دوولس حروف دي، او داغه رنګه ابوبکر الصدیق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان او علي بن ابی طالب، ټوله دوولس حرفه دي، رضی الله تعالی عن مسما تلک الاسماء الشریفة، وقد جاء في الحدیث من ولد له ولدًا فسماه محمدًا حبًا لي وتبرگا باسمی کان هو و مولوده في الجنة، ومن کان امرئته حاملاً مېره یې قصد وکړي که ماته خدای ﷻ زوی راکړی نوم به یې محمد ایږدم رزقه الله غلامًا، او داغه رنګه که د چا عیال نه پائیدی او قصد یې وکړی که ماته خدای زوی راکړی نوم به یې محمد ایږدم ورروه به پائیږي.

دروښ وایي: چي په دې ټولو فوائدو کي حسن العقیدة او تبرک باسمه الشریف شرط دی .... ع:... تا صدف قانع نشد پر در نشد ... مصرع:...

دا باران چي پر همه وُ مځکو اوري... مشرف یې کړی ذات د کهمیا ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي (و خاتم النبيين) عاصم رح يې په زور د تا وايي وهو آلة الختم چي په پښتو يې مهر بولي، والمعنى كان ﷺ آخرهم الذي ختموا به، او په فارسي يې ترجمه مهر پيغمبران يعني بدو مهر كرده شد در نبوت، وپيغمبران را بدو ختم كرده اند. او نور قاريان يې په كسره د تاء وايي على صيغة اسم الفاعل اى فاعل الختم وبالفارسية مهر كننده پيغمبران است، والمآل واحد.

دروېش وايي: چي دا حكمت د خداى ﷻ چي عليه الصلوة والسلام ته خداى ﷻ ابن بالغ وروسته تر ده نه پرېښو، ولي كه داسي خداى ﷻ كړي واى، نو زوى دده به هم نبي واى لان اولاد الرسل يرثون النبوة قبله (يعني دمخه تر عليه الصلوة والسلام) من آبائهم فلم يكن رسول الله ﷺ خاتم النبيين.

سوال: په اخيره زمانه كي عيسىٰ عليه السلام له اسمانه راكښته كېږي، او هغه نبي دى نو د عليه الصلوة والسلام وه خاتميت ته تاوان نه دى؟

ځواب: يا! ولي چي معنى د آيت داده چي تر عليه الصلوة والسلام وروسته څوک نه نبي كېږي، او عيسىٰ عليه السلام خو تر ده مبارک دمخه نبي وُ، او بل ځواب دادى چي عيسىٰ عليه السلام چي نازل سي حكم ټوله په شريعت د عليه الصلوة والسلام كوي او لمونځ وكعبه ته كوي، فكانه بعض من امته فلا يكون اليه وحي ولا نصب احكام بل يكون خليفة رسول الله ﷺ.

وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ۝

او دى خداى ﷻ په هر شي بنه خبر، يعني خداى ﷻ علم لري چي په كوم نبي سره لائق دى ختم النبوة، په حديث كي د بخاري او مسلم راغلي دي چي په اصطلاح د محدثينو يې متفق عليه حديث بولي، قال ابو هريرة رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ مثلي ومثل الانبياء (زما حال او د نورو انبياؤ حال) كمثل قصر احسن بنيانه الا موضع لبنة (لكه حال د هغې بنگلې چي پره پر بنه ډول جوړه سوې وي مگر نه ديوې خښتي ځاى خالي پاته وي) فانا سددت موضع اللبنة (او هغه ديوې خښتي ځاى بند كړي يعني د نبوت كوټى تكميله سوه په ما سره) ختم بي البنيان وختم بي الرسل (رسولان پر ما ختم سوه) ابن كثير په تفسير كي د دې آيت وايي هي نص في ان لا نبي بعده واذا كان لا نبي بعده فلا رسول بعده بالطريق الاولى لان مقام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرسالة اخص من مقام النبوة، ولي چي هر رسول نبي دی ولاينعكس كلية وبذالک وردت الآحاديث المتواترة المعنى، نو هر څوک چي دعوه د نبوت وکړي سواء كان في زمانه ﷺ كالاسود العنسي باليمن الذي قتله فيروز الديلمي ؓ في اخير حياته ﷺ، ومسيلمة الكذاب باليمامة الذي قتله الوحشي قاتل حمزة ؓ (بعد ما اسلم الوحشي في زمن النبي ﷺ) او بعد زمانه لكه غلام محمد قادياني منحوس في ديار هند ثم وثم فكلهم ضال افاک كذاب ضال مضل كه څه هم بعض خوارق د هغه پر لاس بنكاره سوي وي بالسحر، لكه سحره د فرعون.

دروښ وايي: چي په بحر الكلام كي وايي، چي يو صنف د روافضو وايي چي محكه هيڅ د نبي څخه نه ده خلاصه، دی وايي چي نبوت د عليه الصلوة والسلام ميراث سو و علي ؓ و اولاده ته الى يوم القيامة، دوی وايي چي څوک چي د علي ؓ او دده اولاد اطاعت نه كوي هغه كافر دی، او اهل السنة والجماعة وايي لانبي بعد نبينا ﷺ لقوله تعالى ولكن رسول الله وخاتم النبيين، وفي الحديث المتواتر معنى لانبي بعدي كه څوک وروسته تر عليه الصلوة والسلام نبوت باقي دی او يا پكښي شک وي فقد كفر لانه انكر نص القرآن والآحاديث المتواترة معنًى.

فائده: په زمانه كي د امام اعظم سراج الامة ابو حنيفة ؒ يو چا دعوه د نبوت كړې وه، او دې مدعي النبوة وويل چي تاسي ماته مهلت راكړئ چي دلائل او علامات د خپل نبوت دروښيم، نو امام اعظم ؒ وويل كه چا د دغه مدعي النبوة څخه طلب د علامې وكړی هغه سړی هم كافر دی، په دليل ددې چي دده شک دی په قرآن كي او په احاديث متواتره كي، كذا في مناقب امام الاعظم ؒ وفي فتاوى الاشباه والنظائر في كتاب السير كه څوک په دې نه وُ خبر چي محمد عليه الصلوة والسلام اخير الانبياء دی فليس بمسلم لانه من ضروريات الدين المبين والجهل له في دار الاسلام ليس له عذره.

دروښ وايي: چي روح المعاني او روح البيان په اثبات كي د ختم النبوة پر عليه الصلوة والسلام الى يوم القيامة دپري اوږدې خبري كړي دي فقير خپل حال داسي بيانه وي كه څوک د ختم النبوة پر خلاف خبري كوي زه ځنډي ولاړ يم او خبري ته يې غوږ هم نه نيسم او دلائل هم نه ورسره وايم لانه من ضروريات الدين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مثلا كه څوک د دې څخه منكر سي چې واحد نصف الاثنين نه دی، يا ثلثة تاک يا اربعة زوج نه دی و امثالها من الضروريات لاينبغي الاصغاء الى كلامه والجلوس معه فافهم هداک الله الى خيرات الامور وايای ايضا.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ۝

ای هغه كسانو چې ايمان يې راوړی دی ذكر كوي د خدای جل شانه ذكر ډېر، ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې نه دی فرض كړی خدای پر بنده ګانو يو فرض د فرائضو څخه مګر هغه ته يې حد معلوم اېښتی دی ينتهی اليه ولم يعذر احدا في تركه كا الصلوة والصيام وغيرها، الا مغلوبا على عقله الا الذكر فامر به في الاحوال كلها يعني قياما وقعودا وعلى جنوبهم وقال اذكروا الله ذكرا كثيرا يعني بالليل والنهار في البحر والبر والصحة والمرض والسر والعلانية وقال مجاهد رح الذكر الكثير ان لاينساه ابدا.

پوه سه: چې ذكر د خدای عام كه په تهليل سره وي يعني لا اله الا الله كه په تحميد سره وي نحو الحمد لله على كل حال او كه په تكبير سره وي نحو الله اكبر په حديث صحيح كي راغلي دي چې زړونه يعني د مؤمنانو زنګ كوي لكه اوسپنه قيل يا رسول الله فما جلائها صاف ده زنګه څخه بې څه وي قال ﷺ تلاوة كتاب الله يعني القرآن وكثرة ذكره تا باين مرتبه برسد..... بيت:

درهيچ مكان نيم از فكرت خالی ..... درهيچ زمان نيم ز ذكرت خالی

وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝

پوه سه: چې مراد له تسبيح څخه لمونځ دی سماها تسبيحا لاشمالها على التسبيح "بكرة" په اول كي د ورځي چې صلوة الصبح دی "واصيلا" يعني وروسته تر زوال الشمس چې صلوة الظهر، عصر، مابنام او ماخستن دی، دا تفسير د كلبي رح دی، او مجاهد رح وايي چې قولوا سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم، يعني دغه ذكر په اول كي د ورځي او مازديګر كوي، نو د تسبيح په ذكر سره يې و نورو اخواتو ته اشاره وكړه.

فائده: د دې كلماتو په ويلو كي طاهر او محدث او جنب برابر دي يعني په نفس جواز كي كه څه هم اول افضل دی، او بعض مفسرين وايي چې د بكرة څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سهار لمونځ او د اصيلاً څخه د مازديگر لمونځ مراد دی په دليل د هغه حديث چې روايت يې ابو هريره رضي الله عنه کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل: يتعاقبون فيكم ملائكة بالليل وملائكة بالنهار (په نوبت راځي ملکي يعني كراماً كاتبين يوه په شپه او يوه په ورځ کي) ويجتمعون في صلوة الفجر وصلوة العصر (بيا پورته کيږي هغه ملکي چې ستاسي سره يې شپه تېره کړې وه، نو خداى ﷻ پوښتنه څني کوي (وهو اعلم بهم) كيف تركتم عبادي فيقولون يعني ملکي د شپې او د ورځې دواړې ډلې ورته وايي، تركناهم وهم يصلون وآتيناهم وهم يصلون.

دروېش وايي: چې په مجمع البيان د الواحدی څخه بنده الى الضحاک بن مزاحم عن ابن عباس رضي الله عنهما، دی وايي چې جبرئيل عليه الصلوة والسلام ته راغلی ونقال يا محمد قل سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ولاحول ولاقوة الا بالله عدد ماعلم وزنة ما علم وملئ ماعلم، جبرئيل عليه السلام ورته وويل چې څوک چې دا كلمات ووايي شپږ كرامته وهغه ته ورکول کيږي (۱) كتب من الذاكرين الله كثيراً (۲) وكان افضل من ذكره بالليل والنهار (۳) دا كلمات گرځي د رختي د هغه په جنت کي (۴) گنهونه د هغه داسي څني تويږي لكه د وچي د رختي بلگونه (۵) وينظر الله تعالى يعني بنظر الرحمة (۶) ومن نظر الله اليه لم يعذبه.

هُوَ الَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ

بوه سه: چې اكثره مفسرين وايي چې الصلوة من الله الرحمة على المؤمنين ومن الملائكة الاستغفار لهم اى طلب المغفرة لهم من الله، وقيل الصلوة من الله على العبد شائع كولې دی د ذكر جميل دده په بنده گانو کي، وقيل الثناء عليه يعني في محضر الملائكة.

سوال: د صلوة لفظ چې مشترک دی په منځ کي د مغفرت او رحمت د خداى ﷻ، او په منځ کي د دعاء او استغفار د ملکو د خوا او په كتابو کي د اصول الفقه وايي چې استعمال د لفظ مشترک دی په اكثر کي تر معنى واحدې نه دی روا فكيف يصح اسناد يصلى المشترک في هذه الآية الى الله والى الملائكة؟

ځواب: بعض اهل اللغة عموم د مشترک روا بولي، فعلى هذا لا عائبة ولا اشكال في استعمال لفظ الصلوة في المعنيين يعني صلوة الله وصلوة الملائكة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واما عند من لم يجوز عموم المشترک واستعمال لفظ الصلوة في المعنيين ههنا مبني على عموم المجاز يعني ارادة المعنى المجازي العام للمعنيين المذكورين وهو الاعتناء بما فيه خيرهم وصلاح امرهم فاعتناء الله المغفرة والرحمة، واعتناء الملائكة طلب المغفرة وطلب مافيه خيرهم فافهم.

وعبارة القاموس هكذا، (١) الصلوة الدعاء (٢) والرحمة (٣) والاستغفار (٤) وحسن الثناء من الله تعالى على رسوله (٥) وعبادة فيها ركوع وسجود انتهى.

لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾

چې تاسي وباسي په رحمت د خداى ﷻ او په دعاء د ملكو، له تاريكيو څخه د كفر او كنهو، واطلاق الظلمات على الكفر والمعاصي اطلاق مجازي.

پوښتنه: مؤمنان خو له ظلمات څخه د كفر و نور ته د ايمان وتلي دي فما معنى قوله ليخرجكم؟

ځواب: معنا د مضارع ههنا يديم اخراجكم.

"الى النور" اى نور الايمان والطاعة وهذا الاطلاق ايضًا مجازي.

پوښتنه: څه حكمت الهي دى چې ظلمات يې په صيغه د جمع راوړى او نور يې په صيغه د مفرد راوړى؟

ځواب: انواع د كفر دهرى دي من الدهرية والمجوسية والشرک واليهودية والنصرانية وغيرها او ايمان يو دى.

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ

او دى خداى ﷻ پر مؤمنانو مهربان، ولي چې خداى اعلاء د قدر ددوى كړې ده، او صلاح د امر ددوى يې كړې ده، او په دعاء كې يې ودوى ته ملائكة المقربين شامل كړي دي.

بره سه: چې دا جمله معطوفه ده پر صله د الذي سابق چې يصلى ؤ، والتقدير الذي يصلى عليكم والذي كان بالمؤمنين رحيمًا.

"تحيتهم" من اضافة المصدر الى المفعول يعني تحيت منه تعالى "يوم يلقونه" چې دوى ملاقي كيږي د خداى ﷻ سره يعني عند الموت، او الخروج من القبور او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عند دخول الجنة (وهذا هو الاولى، كريمه: سلام قولاً من رب رحيم او عند رؤيتهم الله تعالى) "سلام" اى يسلمهم الله عليهم تحية ويسلمهم الله من جمع المكاره، او المراد تسليم الملائكة بشارة لهم بالجنة وتكرمة لهم، كريمه: والملائكة يدخلون عليهم من كل باب سلام عليكم، روى چي خداى پاک وايي سلام ياعبادي انا عنكم راض فهل انتم راضون، نو دوى ټوله په يوه ازاز ورته ووايي يا ربنا انا راضون كل الرضا او داسي هم روايت راغلى دى ان الله تعالى يقول السلام عليكم مرحبًا بعبادي الذين ارضوني في دار الدنيا باتباع امري، واما عند الموت كما روى عن ابن مسعود رضي الله عنه قال اذا جاء ملك الموت بقبض روح المؤمن قال ربك يقرئك السلام، واما عند الخروج عن القبور فالملائكة يبشرونهم بالجنة ويسلمونهم.

وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾

او اراسته كړى دى خداى ﷻ دوى لره ثواب عظيم چي جنت دى، او رضوان د خداى ﷻ او رؤية د خداى ﷻ دى عند اهل السنة والجماعة، دون المعتزلة لانهم كانوا في الدنيا منكرون عن هذه النعمة العظمى يعني رؤية الله فيكونون محرومون عنها في العقبى.

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾

اى نبي (ﷺ) په تحقيق موږ ته استولى يې شاهد لپاره د امت مصدقا لهم په هغه وخت كي چي ستا امت شاهدي اداء كړي د رسولانو لپاره ددوى پر امتو چي هغه د تبليغ څخه منكر سي د خپلو رسولانو او زه ستاسي د تزكيه شاهد گرځم، بخاري، ترمذي، نسائي او ابن ماجه له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت كړى دى قال رسول الله ﷺ يدعى نوح (راوه به بلل سي نوح ؑ) يوم القيامة فيقال هل بلغت تا تبليغ خپل امت ته كړى ؤ؟ فيقول نعم، بيا راوبلل سي امت دده، ورته وويل سي چي تاسي ته نوح ؑ تبليغ كړى ؤ، دوى ووايي ما آتانا من نذير ما آتانا احد، فيقال يعني نوح ؑ ته من يشهد لك بالتبليغ فيقول محمد (ﷺ) وامته الى اخير الحديث، او په باره كي د احاديث كثيره شهيره مذكوره في كتب صحاح.

سوال: دا شاهدي خو په ورځ د قيامت ده، نو اوس څرنگه خطاب و عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام ته په شاهداً صحیح دی؟

ځواب: ودې ته حال مقدره وایي، یعني دا ستا شاهدي مقدر په دربار کې د خدای ﷻ نحو قوله تعالی لاهل الجنة فادخلوها خالدین فیها ابداً الان الخلود لایکون وقت الدخول بل بعده فالمعنی مقدرین خلودکم فیها.

"ومبشراً" زېری کونکی و مؤمنانو ته بالجنة "ونذیراً" بیرونکی لمن کذب الرسل بالنار.

سوال: انذار خو تر تبشیر دمخه دی. نو له څه جهت او حکمت لپاره یې مبشراً دمخه کړی؟

ځواب: لتقدم شرف اهل البشارة.

پوښتنه: نذیراً چې صیغه د مبالغې ده د څه حکمت لپاره راوړل سوه مع ان المناسب لعطفه علی مبشراً ان یقال ههنا منذراً؟

ځواب: انذار عام دی ټولو کافرانو ته چې تعداد یې ډېر دی بلکې بعض عصاتو ته د مؤمنانو هم متوجه دی، نو ځکه یې په انذار کې صیغه د مبالغې راوړه، او بل ځواب د تقدیم د بشارت پر انذار دا دی چې مقصود اصلي خو بشارت دی لانه ﷺ رحمة للعالمین دی.

وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا ﴿٤٦﴾

او بلونکی و خدای ﷻ ته ای الی توحیده وطاعته والی جنته ولقائه، په اجازه او توفیق د خدای ﷻ، او څراغ دی روښانه کونکی.

فائده: د بأذنه د قید فائده داده چې د کفار اباً عن جد و اسلام ته امر صعب دی غایة العصوبة چې نسي کېدای بې توفیقه او کومکه د خدای ﷻ، وجه العصوبة چې دعوت و خدای ﷻ ته بالمعنی المذکور صرف الوجوه ای وجوه الکفار عن سمت الخلق الی الخلاق وادخال قلادة غیر معهودة في الاعناق، او دې عصوبت له جهته خدای پاک خپل حبیب ته داسي وایي: انک لاتهدی من احببت ولکن الله یهدي من یشاء آه.

سوال: د اذن معنی خو فقط اجازه ده تا ولي توثیق ورسره ذکر کړی، او بعض مفسرین د اذن معنی په تسهیل ولي کوي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د اذن معنی خو فقط اجازه ده تا ولي توفیق ورسره ذکر کړی، او بعض مفسرین د اذن معنی په تسهیل ولي کوي؟

ځواب: له دې سببه چې حقیقت د اذن چې فقط اجازه ده، هغه خو د انا ارسلناک او د داعیًا الی الله څخه وفهمیده، نو بأذنه ته څه ضرورت وُ، نو له دې سببه فقیر د اجازه سره توفیق ورزیات کړی، او له هم دې سببه بعضي مفسرینو یې په تسهیل ترجمه کړې ده فافهم.

بوه سه: چې اطلاق د څراغ پر ذات انور د علیه الصلوة والسلام له دې سببه وکړل سو چې لکه په څراغ سره چې هغه د ستر کو څخه پټ شیان په ظلمة اللیل کې پیدا کیږي او د نفع او د ضرر شی پیژندل کیږي، د غه رنګه په ذات انور سره د علیه الصلوة والسلام په ظلمة الکفر مفید شی چې توحید دی او ضرر مند شی چې شرک دی سره جلا کیږي. نو دا اطلاق تشبیه بلیغ ده غایة البلاغة، والحاصل چې علیه الصلوة والسلام په ژبه سره داعي الی الله وُ او په زړه او په قالب لکه څراغ وُ چې مؤمنان په انوارو سره د ده منور کړ ځېدل کالعالم یتنور بالنور الشمس والبیت یتنور بنور السراج، هم دا سبب دی چې احتصت الصحابة ﷺ بمزید الفضل والعلم علی الناس، ولي هغه علوم چې له مشکوة څخه د ژبې مبارکې دده که څه هم صحابه وغیر هم سره برابر دي، بلکې ورد في الحدیث الصحیح بلغوا عني ولو کلمة فان رب مبلغ (علی صیغة اسم المفعول) اوعی من سامع، واما التنور بانواره فانه وان کان حاصلاً للناس بتوسط اصحابه واصحاب اصحابه وهلم الی یوم القیامة لکن لیس الشاهد فیه کالغائب، والله اعلم.... بیت:

چراغ روشن از نور خدایی ..... جهان را داده از ظلمت رهائی
ازو جانرا بدانش آشنائیست ..... وزو چشم جهانرا روشنائیست
درگنج معافی بر کشاده ..... وزان صاحب دلان را مایه داده
تو مهر منیری همه اخترانند ..... تو سلطان ملکی همه لشکرانند

وفي القصیدة البردة المعروف في مدح سید البریة:

فانه شمس فضل وهم کواکبها ..... یظهرون انوارها للناس في الظلم

له عطاء بن یسار رضی الله عنه څخه روایت دی چې زه د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملاقي سوم (چې يو مؤمن عالم بالتورات وۤ) ما ورته وويل: اخبرني عن صفت رسول الله ﷺ في التورات؟ قال: اجل! والله انه لموصوف ببعض صفته في القرآن يعني يا ايها النبی انا ارسلناک شاهدًا ومبشرًا ونذيرًا، تر دې ځايه پورې په تورات کې هم ستة چې بعض د ما في القرآن دي، او دا وروسته صفات په تورات کې زائد راغلي دي: وحرزًا للاميين (ساتونکی د اميانو چې عرب دي له شرک او ضلال څخه) انت عبدي سميتک المتوکل (ته زما مخصوص بنده يې، ماته مسمّٰی کړی يې المتوکل يعني متوکل على الله خاصةً) ليس بفظ ولا غليظ ولا سخاب (نه يې بد اخلاقه سخت دل، نه په زوره ناري وهې په بازارو کې لکه بدوي خلګ) ولا يدفع بالسيئة السيئة (او دا بنده نه دفع کوي بد د چا په بد سره دده له خوا) ولكن يغفر ويعفو (وبدي کونکي ته بخښنه کوي او عفوه ورته کوي) لن يقبضه الله (خداى ﷻ دى نه وفات کوي) حتى يقيم الملة العوجا (تر هغو پورې چې پرلار برابر نه کړي هغه ټول ملت يعني شرک العرب) بان يقولوا لا اله الا الله ويفتح اعينًا عميًا (چې په لا اله الا الله سره بناء نه کړي رندې ستر ګې) واذنًا صما (او هغه غوږونه چې کاڼه وه) وقلوبًا غلفًا (او هغه زړونه چې په پوښ کې د شرک وه) رواه البخاري وكذا الدارمي عن عطاء بن سلام نحوه.

البيهقي ﷺ په دلائل النبوة کې د ربيع بن انس ؓ څخه روايت کړی دی چې دا آيت نازل سو: ما ادرى ما يفعل بى ولا بكم، وروسته دا آيت نازل سو: ليغفر لک الله ما تقدم من ذنبک وما تأخر، قال رجال من المؤمنين، هنيئًا يا رسول الله (ستا خو دي دا آيت مبارک وي) قد علمنا ما يفعل بک فما يفعل بنا فنزلت هذه الآية.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴿۴۷﴾

زېرى وکړه و مؤمنانو ته چې په تحقيق تاسي لره ستاد خداى ﷻ له خوا لوى فضل، قال انس ؓ الفضل الكبير الجنة، وهذه الجملة معطوفة على قوله انا ارسلناک من قبيل عطف القصة على القصة فلا يرد ان المعطوف عليه جملة خبرية وهذه الآية انشائية، والنحاة يمنعون هذا العطف فافهم، روح البيان وايي چې د فضل کبير نسبت و مؤمنانو ته د نورو امتو دى په رتبه او شرف کې، كريمه: كنتم خير امة اخرجت للناس الى اخير الآية، يا ستاسي د اعمال حسنةؤ اجر او ثواب بالا دى تر اجرت د اعمال حسنه د نورو امتو كما روى ان الحسنة الواحدة في الامم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السابقة كانت اجرها بواحدة وفي هذه الامة بعشر امثالها الى سبعمائة الى ما شاء الله، وهذا فضل من الله يؤتيه من يشاء.

دروښ وايي: چې دا فضل د اجور ددې امت پر نورو امتو تابع دی د فضل د رسول الله ﷺ پر ټولو انبياء کرامو عليهم السلام، والله اعلم.

وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ

ته په خلوه مه کوه د کافرانو يعني من اهل مكة (يعني دوی تاته وايي چې رجوع و دين ته د اباء وکړه) او نه په خولو د منافقانو يعني من اهل المدينة، والمعنى دم يعني همېشه توب وکړه على ذالک او په تفسير ارشاد کې وايي چې دا آيت نهي دی عليه الصلوة والسلام لره له غوړه مالي څخه د کافرانو في امر الدعوة ولين الجانب في التبليغ والمسامحة في الانذار، نو پر دې تفسير کنايه ده عن ما ذكر بالنهي عن طاعتهم مبالغة في الزجر فافهم.

پوه سه: چې اضافت د اذا ودوی ته اضافت د مصدر دی و فاعل ته، كما يدل عليه تفسير ابن عباس رضي الله عنه وقتادة رضي الله عنه حيث قال يعني اصبر على ايذاهم اياك (ولي چې په دې صبر کې خداى ﷻ اجر عظيم او درجات عاليات درکوي) فلا تبال بايذائهم اياك، او زجاج رحمه الله وايي: لاتجادلهم ولاتقصد الى ايذائهم، يعني لاتؤذهم فحء الاضافة اضافة المصدر الى المفعول.

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝

او تكيه او اعتماد پر خداى ﷻ وکړه، ولي چې خداى ستا کافي دی، او کافي دی خداى ﷻ اذا جعلت الله موكولاً اليه، نو خداى ﷻ ستا كفايت کوي او ستا حاجت وغيرته خپل نه پرېږدي، له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام يو مال د غنيمت پر خلګو ووېشه، يو سړي له انصارو څخه وويل ان هذه لقسمة ما اريد بها وجه الله (دا سړی صرف په قوم انصارؤ لكن منافق وُ، واظنه عبدالله بن ابي) يو چا دا خبره و عليه الصلوة والسلام ته ورسول، فاحمر وجهه يعني مخ مبارک يې له درده سور سو، بيا يې داسې وويل: رحمه الله اخي موسىٰ لقد اوذي باكثر من هذا فصبر ..... بيت:

صد هزاران كيميا حق آفريد ..... كيمياى همچو صبر آدم نديد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې توکل علی الله بخلوص القلب ینجو المؤمن من البلاء العظیم.

حکایت: راوي وايي چې حجاج بن یوسف (چې په ظلم کې په ټوله اسلامي نړۍ کې ضرب المثل دی) یوه ورځ چې دی هم د کعبة الله په طواف بخت ؤ دیو سړي څخه چې حول البیت یې تلبیه ډېر په بلند اواز ویل، حجاج بن یوسف وخپلو حاضرینو ته وویل: عَلَيَّ بِالرَّجل هغه سړی چې تلبیه یې په زوره ویل ماته یې راولئ، سړی چې راوستل سو حجاج ورته وویل: من انت؟ ته څوک یې؟ قال من المسلمین، حجاج ورته وویل ما د اسلام پوښتنه نه ده درڅخه کړې، هغه سړي ورته وویل چې نو د څه شي پوښتنه دي کوله، حجاج ورته وویل عن بلدک، سړي ورته وویل من اهل الیمن، حجاج ورته وویل چې محمد بن یوسف (د حجاج ورور ؤ او د یمن والي ؤ) څرنګه ؤ په یمن کې، هغه سړي ورته وویل عظیمًا جسیمًا (ډېر لوی جسم یې ؤ) لباسًا (ښه فاخره کالي یې اغوستي وه) رکابًا (پر ښو وښور آسانو به سپرېدی) خراجًا ولاجًا (په فخر به راوتی او په کبر به کورته داخلیدی) حجاج بن یوسف ورته وویل چې د دې پوښتنه مي هم نه ده درڅخه کړې، بلکې د رعایتو سره په ګذاره څرنګه ؤ؟ هغه سړي ورته وویل ظلومًا (ډېر لوی ظالم ؤ) مطیعًا للمخلوق عاصیًا للخالق (د مخلوق فرمانبردار ؤ او د خالق عاصي ؤ) نو حجاج بن یوسف ورته وویل: ته دې خبرو څه شي دلاوره کړی یې او ته خبر نه یې چې محمد بن یوسف زما ورور دی، هغه سړي ورته وویل چې ستا څه خیال دی چې قرابت د محمد بن یوسف به وتاته اعز وي زما تر محبت د خدای ﷻ سره، وانا وافد بیته ومصدق نبیه، فسکت الحجاج وانصرف الرجل، سړی ځني راهي سو بهله اجازې د حجاج، کریمه: ومن یتوکل علی الله فهو حسبه.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی، تاسي په نکاح کړئ مؤمنات بنځې.

پوښتنه: په آیت کې تخصیص د مؤمناتو ولي وکړل سو، او سره ددې چې نکاح د کتابیاتو خو هم روا ده ای الیهودیات والنصرانیات، او حکم د هغو په طلاق قبل الدخول مثل حکم المؤمنات دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: تخصیص د مؤمناتو چې یې وکړی له دې سببه چې لائق د حال سره د مؤمن ان ینکح المؤمنة ویحترز عن نکاح الکتابیة.

"ثم طلقتموهن" بغوي ؒ وایي چې په دې آیت دلیل دی چې طلاق قبل النکاح نه واقع کیږي لان رتب في هذه الآیة الطلاق علی النکاح حتی اذا قال لاجنبیة، یعني یو بیګانه ښځي ته یې وویل چې في الحاله دده په نکاح کي نه وه، اذا نکحتک فانت طالق، وروسته یې په نکاح کړه لایقع الطلاق، وهو قول علي و ابن عباس و معاذ بن جبل و جابر بن عبد الله و عائشة ﷺ، وبه قال سعید بن المسیب وعکرمة و عطاء وسلیمان بن یسار ومجاهد والشعبي وقتادة ﷺ واکثر اهل العلم، وبه قال الشافعي ؒ، وروی عن ابن مسعود ؓ انه یقع الطلاق وهو قول ابراهیم النخعي واصحاب الرای اعني ابا حنیفة واصحابه ﷺ، انتهی قول البغوي ؒ.

دروښ وایي: چې بغوي ؒ خو شافعي المذهب دی، نو دی که امام اعظم واصحابه اصحاب الرائ بولي خو عجب نه ده لکن مظهري ؒ، ته خو ځان حنفي المذهب بولې، دا څرنګه دا لفظ یعني اصحاب الرائ ووایه؟! له بغوي ؒ څخه دا لفظ خو د توهین دی خود دی په ځای کي فقط ویلي وای، وهو مذهب ابو حنیفة واصحابه بحذف لفظ التوهین من عبارت البغوي ؒ.

پوښتنه: دا لفظ ولي د توهین دی؟

ځواب: اصحاب ظواهر الحدیث او وهابیان او سلفیان وایي چې ابو حنیفة ؒ فقط په قیاس او رای سره عمل کوي، احادیثو ته نه ګوري، زه دروښ وایم: وقد کذبوا دوی درواغ وایي، ولي د امام اعظم ؒ خبره په صحیح ثبوت رسېدلې ده: که تاسي ته صحیح حدیث ورسېدی چې زما قول ځني مخالف ؤ هغه حدیث زما مذهب دی، زما قول په حش (یعني په کچره) کي وغورځوئ.

دروښ وایي: چې ولله الحمد والمنة په حنیفي المذهب علماؤ کي داسي کسان ستە چې مذهب د امام اعظم ؒ یې په صحیح احادیثو سره ثابت کړی دی او مخالفینو ته یې ځواب ددوی د احادیثو په نورو احادیثو سره ورکړی دی، لکه فقیه ابو جعفر الطحاوي ؒ په شرح د معاني الآثار چې دا مشهور خبره ده چې فقیه ابو جعفر الطحاوي ؒ اعلم الناس دی بمذهب ابی حنیفة واصحابه ؒ، یا لکه کمال الدین ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الهمام شارح الهداية په فتح القدير کي چې دی په احاديثو صحيحه وو سره استاد د خپل مذهب ثابتوي. يا ملا علي القاري ؒ په شرح کي د مشکوة وغيرهم عليهم الرحمة.

دروښ وايي: چې مورږد هيڅ امام صاحب المذهب من الائمة الاربعة توهين نه کوو، حاش لله، وروسته مظهري هغه احاديث راوړي دي چې دال پر مذهب د امام شافعي ؒ دي بقوله احدها آه، وثانيها آه، وثالثها آه، ورابعها آه، وخامسها آه، وسادسها آه، په اخير کي يې په ډير و مختصرو الفاظو توجيه د مذهب د ابو حنيفه ؒ کړې ده، بقوله وجه قول ابی حنيفة ؒ الی اخيره.

مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ

پوه سه: چې مساس دلته کنايه ده له جماع څخه.

فائده: حکم د خلوة صحيحه حکم د جماع دی، په نېز د ابی حنيفة ؒ خلوة صحيحه دا دی چې مېړه او ماينه دروازې په ځان پسې وتړي او دوه په دوه سې، او مانع د وطي نه په مېړه کي او نه په ماينه کي، موانع د وطي درې دي:

(۱) حسي دي لکه ناجوړي، داسي ناجوړي چې مانع د وطي وي که په نر کي وي او که په ښځه کي، او يا رتق وي په ښځه کي يعني ځای د وطي د ښځي بند وي چې ذکر نسي ورداخلېدای.

(۲) موانع شرعي: کصوم رمضان دون الصوم التطوع والقضاء والنذر والکفارة في الصحيح لعدم وجوب الکفارة بالافساد کاحرام فرض او نفل لان الجماع مع الافساد يبطل النسک ويوجب دمًا مع القضاء.

(۳) مانع طبعي: کالحيض والنفاس، ولي طبع سليم نفرت کوي له وطي څخه په ځای کي د وينو چې فرج دی، نو په داسي ځای کي مېړه او ماينه سره داخل سي چې د غيرهما څخه خالي وي حتی که په ستر کو روند وي هغه د دوی په وطي پوهيږي، وحتی النائم. ولي نائم خو ممکنه ده چې د دوی د وطي په حال کي دي راويښ سي، نو دا احتمال هم مانع د وطي دی بحيث امنًا من اطلاع غيرهما عليها بدون اذنهما لزم علی الزوج تمام المهر لان هذه الخلوة وطي حکمًا، والعدة تجب مع المانع احتياطًا لتوهم شغل الرحم بماء الرجل ولانها ای العدة حق الشرع والولد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: فرضي لمونځ مانع دی لکه فرضي روژه، وفیه تطر لان الصوم الفرض ممتد الی اللیل بخلاف الفرض من الصلوة لانه یمکن اداء الصلوة المفروض ثم الوطي کما لایخفٰی.

فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۚ

نو حق نه لرئ تاسي نر یعني مړونه پر دغو ماینو چي تاسي جماع یا خلوة صحیحة نه وي ورسره کړی د عدت معنی داده چي دا به بل مېړه نه کوي "تعتدونها" چي تاسي یې عدد پوره کوئ یا په حیضو سره چي درې حیضه دي او یا په میاشتو کي که آیسه وه.

فائده: وهذا حکم مجمع علیه للامة المرحومة.

فائده: لکم یې وایه ددې لپاره چي دلالت وکړي چي عدة حق د نر ده لانها لصیانة الماء و وجود الشک في النسب والنسب للرجال، له دې سببه امام اعظم ابو حنیفه رح وایي چي که د اهل ذمة دا مذهب وٌ چي عده نسته فلا عدة علیها، واما اذا کان مذهبهم وجوب العدة فیجب علیها العدة.

مسئله: که حربي ښځه دار الاسلام ته مسلمانه راغله فلا عدة علیها، وانقطع نکاح الحربیة المسلمة مع الحربي في دار الحرب، نو دې ښځي ته روا دی چي علی الفور بل مېړه وکړي، لان الحربي کالجماد حتی کان محلاً للتملک لکه چي په غزاء کي ونیول سي، مګر دې حربیه مسلمه ته نکاح نه ده روا که حامله وه یعني په رحم کي یې ولد وٌ، ولي چي دا ولد ثابت النسب دی له حربي ځخه، والنکاح یفضي الی الجماع فیکون کافاضة الماء علی زرع الغیر وهو لایجوز کما في کتب الفقه الشریف.

فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾

نو متعه ورکړي یعني یو جوت کالي (ابن عباس رض وایي چي وجوب د متعه هلته دی چي په نکاح کي یې دې ته ولور نه وي تاکلی، او که یې ولور تاکلی وٌ، نو نیم د ولور به ورکوي متعه وجوبًا نسته او نه استحبابًا ویرجع الی مذهب ابن عباس رض قول قتادة رض او بعض اهل علم وایي چي په صورت کي د ولور مسمٰی کولو نصف المهر ورکول وجوبًا دی او متعه هم مستحب ده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وسرحوهن سراحًا جميلاً" له کوره يې وباسئ هر چېرې چې ځي او هر څه چې کوي، يعنې که مېړه کوي مېړه دي وکړي او که دمور او پلار کره ځي هلته دي ولاړه سي، ولي چې ستا د عدت حق په دې پورې نه دی مربوط.

پوه سه: چې د سراح جميل معنی داده چې ضرر مه وروسوه لکه چې مېړه ورته وايي چې بل مېړه به نه کوې.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ

ای نبي موږ تاته حلالي کړځولي دي هغه مائنې ستا چې تا ورکړي وي مهرونه ددوی، سمی المهر اجرًا لان المهر اجر علی البضع.

فائده: قيد د آتيت آه مبني پر عادت د عليه الصلوة والسلام دی، ولي دده عادت مبارک دا ؤ چې مهر هرڅه چې به ؤ معجله يې ورکاوه، او يا دا بيان د افضل دی يعني افضله داده چې ولور دمخه ورکړي چې د ښځي زړه مطمئن سي، نو مفهوم مخالف نه لري اجماعًا يعني که مهر دمخه ورنه کړي نو نه دي حلالي.

وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ

او داغه رنګه درته روا دي چې ملک يمين کي ستا وي يعني مينځه "مما افأالله عليک" يعني رد الله عليک من الكفار، چې ته يې په سبي راولې او ته يې مالک وګرځې مثل صفيه وجويرية.

فائده: دا قيد هم مفهوم مخالف نه لري يعني دی په سبي سره مالک ګرځي، ولي چې ماريه ام ابراهيم ؓ په سبي د عليه الصلوة والسلام مينځه نه وه ګرځېدلې بلکې مقوقس امير القبط بمصر هديه ورته را استولې وه.

وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ

او لونې د اکا ستا او د عمه ګانو ستا.

پوه سه: چې مراد له اکا او عمه څخه متعارف اکا او عمه نه دي بلکې مراد ښځي د قريشو دي چې له لږي نسب څخه د عليه الصلوة والسلام يا اکاګان يا عمه ګاني ګرځي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وبنات خالک آه" دلته هم مراد ځني مطلق بنځي دي د بني زهرهؤ، چي د علیه الصلوة والسلام ماماګان او خالي ګاني وي.

اَللّٰتِیْ هَاجَرْنَ مَعَكَ

هغه چي ستا سره يې هجرت کړی وي.

پوه سه: چي مراد له معیت ځخه موافقت دی په نفس هجرت کي لا المعیة بحسب الزمان، کما قال الله تعالی حکایةً عن قول بلقیس ؓ: اسلمت مع سلیمان ای وافقت مع سلیمان في الاسلام، بغوي ؒ وایي چي د هغه چا د بنځو ځخه چي هجرت يې نه وي کړی د هغو نکاح نه ده روا، دلیل يې هغه حدیث دی چي ترمذي روایت کړی دی او حسن يې هم بللی دی او حاکم يې هم روایت کړی دی او صحیح يې هم بللی دی په روایت د سدي له ابی صالح هغه له ابن عباس ؓ ځخه عن ام هاني بنت ابی طالب چي مرکه وکړه ماته رسول الله ﷺ، دې ورته وویل چي ماته کوچني یتیمان پاته دي، او علیه الصلوة والسلام زما دا عذر ومانه، ځو زمانه وروسته چي زما زامن لویان سوه یعني وروسته تر فتح د مکې ام هاني وایي چي ما ځان و علیه الصلوة والسلام ته پیش کړی فقال اما الآن فلا، ان الله انزل علي یا ایها النبي الی قوله التي هاجرن معک، او ام هاني له مهاجراتو ځخه نه وه بلکې د طلقاؤ ځخه یعني رسول الله ﷺ چي فتح مکه وکړه خلګو ته يې وویل انتم الطلقاء، بغوي ؒ وایي چي ثم نسخ شرط الهجرة في تحلیل النکاح والله اعلم.

او بعض مفسران وایي چي مراد له هجرت ځخه هجرت متعارفه نه دی بلکې مراد ځني نفس اسلام دی، اسلمن معک.

دروبش وایي: چي اول دا تفسیر مخالف دی له قصې سره د ام هاني کما مر عنقریب او پر تقدیر د صحت فائده يې داده چي علیه الصلوة والسلام ته نکاح د غیر المسلمة من الیهودیة والنصرانیة نه وه روا، والله اعلم.

وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِیِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِیُّ اَنْ یَّسْتَنْكِحَهَا

دا منصوب دی عطف دی پر مفعول د احللنالک، والمعنی واحللنا لک ایضًا امرئة مؤمنة یعني هره بنځه چي وي من النساء المؤمنات، له قید ځخه د مؤمنات مشرکات، یهودیات، نصرانیات تولي ووتلې که ځه هم ځان هبه کړي و رسول الله ﷺ ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دمخه تر لهخطابات خو وه علیه الصلوة والسلام ته وه، نو په اظهار کې د لفظ د نبي څه حکمت دی، یعني داسي به کافي نه وای ان وهبت نفسها لک؟

ځواب: په دې اظهار کې فائده او حکمت دادی چې دا حکم مخصوص دی په نبي ﷺ پورې یعني بل چا ته نکاح بېله ولوره نه ده روا لشرف نبوته[۴].

پوه سه: چې هبه دې ته وایي چې یو سړی خپل ملک وبل ته ورکړي بغیر عوض مالي.

سوال: ځره ښځه خو نه هبه قبلوي او نه بیع او نه شراء، اذ لیست بمملوکة لاحد فما معنی وهبت نفسها؟

ځواب: هو! لکن دلته معنا داده چې خپل بضع یعني عضو مخصوص بل چا ته ورکړي بلا مهر په هر عبارت چې وي من الهبة والصدقة والتملیک والبیع والنکاح والتزویج، او معنی د ان داده چې که داسي پېښه سي نو حکم یې دادی.

"ان اراد النبي ان یستنکحها" که اراده وه د نبي چې په نکاح یې کړي.

دروېش وایي: چې دا شرط دی یعني ان اراد النبي آه د شرط اول یعني ان وهبت آه، ولي په نفس هبه سره خو ښځه نه حلالېږي بلکې اراده د نکاح د علیه الصلوة والسلام یې شرط دی، ولي چې د ښځې هبه لکه ایجاب دی په بیع کې او طلب د نکاح د علیه الصلوة والسلام لکه قبول دی په بیع کې والاستنکاح طلب النکاح والرغبة فیه.

خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ

یعني دا هبه د ښځې خپل د بضع بلا مهر خالص تا لره دی ماسوی د مؤمنانو چې هغو ته نکاح بې ولوره نه ده روا بلکې پر هغو مهر لازم دی بالوطي والموت نو که مهر مسمّٰی ؤ هغه ټوله واجب دی په وطي سره یا په موت د میړه او که مهر مسمّٰی نه ؤ نو مهر مثل لازم دی.

دروېش وایي: چې ابن سعد رح له عکرمه رض څخه روایت کړی دی في تفسیر قوله تعالی وان امرئة مؤمنة آه، نازل سوی دی په ام الدوسیة (یعني چې د دوس د قبیلې وه) چې نوم یې عزیه بنت جابر بن حکیم الدوسي ؤ، دې خپل ځان یعني په نکاح د علیه الصلوة والسلام ته هبه کړی، یعني بلا مهر وکانت جمیلة او دا په رنګه ښائسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه عليه الصلوة و السلام قبوله كړه، فقالت عائشة رضي الله عنها ما في امرئة حين هب نفسها لرجل خير قالت ام شريک فانا تلک (داخوزه يم) فسماها مؤمنة فقال وان امرئة مؤمنة وهبت آه، فلما نزلت هذه الآية قالت عائشة رضي الله عنها ان الله يسرع لک في هواک، وقوله تعالى خالصة لک من دون المؤمنين يدل على ان النكاح بدون المهر من خصائصه ﷺ، وهو المراد بقوله تعالى ان وهبت نفسها للنبي، يعني ان زوجت نفسها بغير مهر كما ان الزيادة على الاربع من النساء من خواصه ﷺ او بعض مفسرين وايي چې نكاح په لفظ د هبه د خصائصو څخه د عليه الصلوة و السلام ؤ ولا يجوز لغيره، وهو قول سعيد بن المسيب و الزهري و مجاهد و عطاء وبه قال ربيعة و مالک و الشافعي رحمهم الله، وقال امام الائمة ابو حنيفة رحمه الله انعقاد د نكاح په لفظ د هبة له خواصو څخه د عليه الصلوة و السلام نه دی، بل يجوز نكاح كل احد بلفظ الهبة و البيع و الصدقة و التمليک و كل لفظ يدل على تمليک العين مؤبداً، ولا يجوز بلفظ الاجارة و الاعارة لعدم التمليک المؤبد فيها، او امام كرخي رح وايي چې په دغو دوو لفظو هم نكاح روا ده، ولي په دغو دوو لفظو سره ثابت تمليک د منفعة دی وذالک في النكاح ايضاً يعني منفعة البضع والله اعلم.

قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ

"فرطنا" اى اوجبنا على المؤمنين، په باره كې ددوی د زوجاتو، يعني من شرائط النكاح يعني بحضور الشاهدين، و وجوب القسم عند تعدد الازواج و المهر بالوطي چې مهر مسمى نه وي، او بل دا چې تر څلور بالا دوی ته روا نه دي.

پوه سه: چې "وما ملكت ايمانهم" عطف دی على ازواجهم اى في ما ملكت ايمانهم چې مينځيانې دي چې يا به يې رانسي وغيره من الاحكام، مثلاً چې مينځه به داسي وي چې و مالک ته يې وطي روا وي، كالكتابية دون المجوسية والوثنية يعني بت پرسته، او استبراء د رحم به يې كوي، يعني يو حيض به وطي نه ورسره كوي چې د كافر څخه حامله نه وي، يعني د حربي څخه چې دا مينځه د هغه ماينه وه او په سبي څنې راوستل سول، يا مثلاً په مينځيانو كې خاص عدد نه دی شرط، او بل دا چې مينځيانې حق د قسم هم نه لري.

پوه سه: چې "قد علمنا" څخه تر دې ځايه پورې جمله معترضه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

"لكيلا يكون عليك من حرج" متعلق بقوله خالصة، او دی خدای ﷻ بخښونکی د هغه فعل چې سړی چاره نه ځني لري، او مهربانه دی په ځای کې د حرج لان الحرج مدفوع في الدين، بغوي ؒ وايي چې په دې کې اختلاف دی چې د علیه الصلوة والسلام په نکاح کې داسې ښځه وه چې ځان يې بدون المهر و علیه الصلوة والسلام ته هبه کړی وي، ابن عباس ؓ او مجاهد ؒ وايي: لم تكن عنده امرئة الا بعقد نكاح او ملك يمين.

سوال: د هغه آیت څه معنی ده: وان امرئة وهبت آه؟

ځواب: هغه آیت خو پر طریقه د شرط او جزاء راغلی دی، د جمله شرطیه خو تحقق د مقدم او تالي نه دی شرط بلکې امکان يې هم نه دی شرط نحو ان کان زيد حمارًا کان ناهقًا، نو ترڅو له مفسرین پرې مسلک دي چې علیه الصلوة والسلام داسې کور والا درلودل چې ځان يې بې ولوړه و علیه الصلوة والسلام ته هبه کړی ؤ، قال الشعبي ؒ هي زينب بنت خزيمة الانصارية چې ام المساكين يې لقب ؤ، او قتاده ؒ وايي چې دا ښځه ميمونة بنت الحارث ؓ وه، او علي بن الحسين ؒ، والضحاک ؒ او مقاتل ؒ وايي هي ام شريک بنت جابر من بني اسد، او عروة بن الزبير ؒ وايي ي خوله بنت حكيم من بني سليم.

دروښ وايي: چې جمع ددې روایاتو چا نه ده کړې.

تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ ؕ

پوه سه: چې "ترجئ" نافع او حمزه او کسائي او ابو جعفر رحمهم الله په یای ساکنه وايي او نور قاريان يې په همزه مضمومه وايي، ترجئ، والمعنى واحد لان الياء بدل من الهمزة والارجاء هو التاخير وترك الهمزة لغة فيه كذا في القاموس، او په کشف الاسرار کې وايي الارجاء تاخير المرئة من غير طلاق، والمعنى تؤخر من تشاء من ازواج وتترك مفاجعتها من غير نظر الى نوبة وقسم وعدل.

ترجمه: تاخیر و کړه یا رجوع وکړه، چې ستا خوښه وي له زوجاتو څخه "وتؤوی" الايواء الانضمام والمضاجعة يعني ته ضموې و ځان ته هغه څوک چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا خوښه وي من غير التفات الى نوبة وقسمة، يعني فالاختيار بيديک في الصحبة بمن شئت منهن ولو ايامًا زائدةً على النوبة وكذا في تركها، او بحر العلوم يې داسي ترجمه کړې ده چې ته طلاقوې من تشاء منهن وتمسک من تشاء منهن.

درويش وايي: چې په شان نزول کې ددې آيت اختلاف دی، بغوي رح وايي چې اشهر اقاويل دادی چې آيت په قسم کې نازل سوی دی، ولي تسويه په قسم کې واجب وه پر عليه الصلوة والسلام، نو دا آيت چې نازل سو وجوب يې منسوخ سو او اختيار د قسم و عليه الصلوة والسلام ته ورکړه سو او ابن زيد هم داغسي وايي واخباره روح البيان چې زوجاتو د عليه الصلوة والسلام پرده راجمع سوې او له ده څخه يې زيادت د نفقې او د ثيابو د زينت وکړی، نو عليه الصلوة والسلام له دوی څخه کوښه نشيني مختاره کړه يوه ميا شت حتى چې آيت التخيير نازل سو، نو عليه الصلوة والسلام خداى ﷻ امر کړی چې دوی ته اختيار ورکړه په منځ کې د دنيا او آخرت، نو که چا زينت د دنيا مختاره کړی د هغې لاره ورايله کړه يعني طلاقه يې کړه، او که چا خداى او رسول مختاره کړه هغه درسره وساته چې دوی به امهات المؤمنين وي فلا ينکحهن ابدًا، يعني که څه هم عليه الصلوة والسلام وفات سي او بل دا ورته ووايه چې څان ته ضموم هغه چې زما خوښه وي ويرجى من اشاء منهن فيرضين به قسم لهن اولم يقسم، يا تفضيل ورکړم بعض ته پر بعض په نفقه کې، نو زوجات مطهرات په دغه راضي سوې او پر دغه شرط دوی عليه الصلوة والسلام مختار کړی.

درويش وايي: چې بعض مفسرين وايي چې دا له خصائصو څخه د عليه الصلوة والسلام دي، والحق چې د امت په باره کې هم دغسي ده چې يو سړی ډېرې زوجات لري يعني چې اکثره يې څلور دي، هغه سړی و خپلو ماينو ته دا ويلای سي چې که څوک د حقوق د نکاح من النفقة والتسوية في القسم غواړي فتعالين امتعکن واسرحکن سراحًا جميلاً، او که څوک غواړي چې زما په نکاح کې پاته سي بلا مطالبة النفقة مني على ان آوی الى من اشاء منکن وارجى من اشاء منکن سوا اقسم لکن اولم اقسم او اقسم بعض دون بعض، نو که ماينو و دغه سړي ته وويل چې مونږ تا مختاره کوو او ترخپل حق په نفقه او قسم کې بيزاره يو، نو ددې سړي غاړې نه دي بندي يفعل کيف يشاء، بغوي رح وايي چې يو څوک له ازواجو مطهراتو ﷺ څخه له قسم څخه عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خارج کړی دی او که څرنګه؟ بعض مفسرین وایي چې علیه الصلوة والسلام سره ددې اختیاره چې خدای ﷻ وده ته ورکړی یسوی بینهن ویقسم علی السواء الا سودة ﷺ چې سپین سري وه او علیه الصلوة والسلام یې اراده د طلاق درلوده، سوده بنت زمعه ﷺ چې خبره سوه، نو علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې ته ما مه طلاقوه زه به خپل نوبت د عائشې ﷺ ته وبخښم. زما غرض فقط دادی چې په ورځ د قیامت ستاد منکوحاتو په جمله کې حشر سم، او بعض مفسرین وایي چې علیه الصلوة والسلام بعض ډ ازواجو مطهراتو له قسم ویستلی وې لکه (۱) ام حبیبة (۲) سودة (۳) صفیه (۴) میمونة (۵) جویریة ﷺ، او عائشه، حفصه، زینب او ام سلمة ﷺ وځان ته ضم کړې، ددې څلورو ترمنځ قسم علی السواء ؤ، او هغه نوري پنځه یقسم لهن ما یشاء.

وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ؕ

او که ته طلب وکړې او اراده وکړې چې ځان ته ضم کړې هغه کور والا چې د قسم څخه دې خارجه کړې وه، پر تا هیڅ ګناه نسته في شیئ من ذالک.

ذٰلِكَ أَدْنٰى أَنْ تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ

دا تفویض د اختیار و تاته له جانبه څخه د خدای ﷻ، یعني دا امر د تفویض وتاته نژدې دی تاچې ددوی سترګې به خونکې وي چې کنایه ده له خوشالی څخه، او غم به نه کوي او ټولې به راضي وي په هغه شي چې ورکوې یې دوی ته، نو که چیرې ته وځان ته ضم کړې بعض من عزلت ستا تفضل او احسان به یې بولي، او که عزل کړې هغه په دې پوهیږي چې دا حکم خو د خدای ﷻ دی هغه به هم ستا تفضل او احسان بولي چې په نکاح کې دي پرې ایښې دي، سره ددې چې ته حاجت نه ورته لرې فافهم.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ۝

او الله ښه پوهیږي په هغه څه چې ستاسي په زړونو کې دي (بعض مفسرین وایي چې په دې کې وعید دی و هغو کور والاؤ ته د علیه الصلوة والسلام چې په مشیت د رسول الله ﷺ نه وې راضي، او بعض وایي چې خدای ﷻ خبر دی چې ستاسي میل او محبت د بعض مانو سره سته لکن تاته چې موږ اختیار درکړی لپاره د آسانۍ پر تا په میل او محبت کې بعض النساء دون بعض)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وكان الله عليمًا" او دی الله تعالی دانا، یعني خدای ﷻ عالم دی بما في الصدور "حليمًا" بردبار دی، لايعاجل بالعقوبة للعاصي، نو د خدای ﷻ په حلم دي څوک مغروره نه سي چې دا حلم د خدای ﷻ امهال دی اهمال نه دی.

لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ

نه دي روا تاته ښځي يعني ماينې وروسته تر دې ورځي حتی که يوه د موجوده ماينو څخه دي مړه سي، او نه ده تاته روا چې ته بدله کړې بله ښځه په عوض کي د موجوده ښځو يعني چې يوه طلاقه کړې او په عوض کي د هغې بله ښځه وکړې.

پوه سه: چې الف ولام د جنس دی جمعیت يې باطل دی، يعني جنس ښځه که يوه وي او که دوې وي.

وَلَوْ اَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيْبًا ﴿۵۲﴾

او که څه هم تاته خوند درکوي حسن د هغو، مګر چې ستا په ملک يمين کي وي يعني مينځيانې.

فائده: اصل د تبدل تتبدل ؤ يوه تاء يې له مضارع څخه د باب تفعل حذف کړه کما هو القانون في باب التفعل، او کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي ده، مفسرين وايي چې رسول الله ﷺ چې ازواج مطهرات ته اختيار ورکړی په مفارقت له ده څخه او په بقاء کي د د نکاح، او دوی بالاتفاق خدای او رسول مختاره کړه، نو خدای ﷻ د دوی دا اختيار مقبول وګرځاوه، او حرامي يې وګرځولې پر عليه الصلوة والسلام باندې نکاح د ماسوی ددوی، او عليه الصلوة والسلام يې نهي کړی له طلاق څخه ددوی او په عوض کي د بلې ماينه کولو، وهذا قول ابن عباس وقتادة ﷺ، واختاره صاحب روح البيان، وروی ابو داؤد في ناسخه وابن مردوية والبيهقي في سننه عن انس ﷺ لما خيرهن فاخترن الله ورسوله قصره عليهن، فقال سبحانه لايحل لک النساء من بعد، وروی ابن مردوية عن ابن عباس ﷺ چې د دې آيت په تفسير کي يې وويل چې خدای عليه الصلوة والسلام بند کړی پر دغو ښځو چې دی يې مختاره کړی لکه دا ښځي يعني ازواج الرسول ﷺ پر عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام بندي وې يعني چې وروسته تر وفات د عليه الصلوة والسلام هيڅ چاته يې نکاح نه وه روا، وسماهن امهات المؤمنين باعتبار حرمة نكاحهن على احد من امته، او بعض مفسرينو د بعد مضاف اليه داسي مقدر کړی دی ای من بعد اختيارهن الله تعالى ورسوله، قال الامام في التفسير الكبير وهذا الحذف هو الاولى لكونه ادل على ان التحريم كان كرامة لهن وشكرًا على حسن صنيعهم. او بحر العلوم له ابن عباس او له قتاده ؓ څخه نقل کړی دی چې ازواج مطهراتو ته چې خيار ورکړل سو او دوی خدای او رسول مختاره کړه، خدای ﷻ دوی ته دا عوض ورکړی چې حرامې يې وګرځولې غير ددوی او يا تبديل ددوی ونسخ سبحانه وتعالى ما اباحه الله له قبل من التوسعة في جميع النساء، وحكى عن مجاهد ؒ وابن جبير ؒ ان المعنى من بعد اباحة النساء على العموم، وقيل من بعد التسع على ان المعنى ان هذا العدد مع قطع النظر عن خصوصية المعدود.

دروېش وايي: وهذا قول ضعيف لان اختيار الله ورسوله صدر عن النساء المخصوصة ﷺ، بخاري او مسلم له انس ؓ څخه روايت کړی دی چې څه وخت چې عليه الصلوة والسلام زينب بنت جحش ؓ په نکاح کړه يعني را واده يې کړه، نو خلکو ته يې مهماني جوړه کړه او په ډوډۍ او غوښو يې فوجًا فوجًا مارې کړه، نو هر چا چې به ډوډۍ وخوړله هغه به ولاړېدی، اخير څو نفره په حجره کې پاتې سوه چې مجلس يې شروع کړی، نو عليه الصلوة والسلام به ځان وه ولاړي ته جوړاوه يعني چې دوی وپوهېږي ولاړ به سي، خو دوی نه ولاړېدل، نو عليه الصلوة والسلام ووېل چې دوی په اشاره نه پوهېږي نو په خپله ولاړ سو، نو بعض دده مبارک په ولاړېدلو سره ولاړ سوه، درې نفره پاته سوه، نو د عليه الصلوة والسلام دا خيال سو چې تولې به ولاړ سوي وي، نو دی چې کوټې ته ورغلی هغه درې کسه ناست وه بيرته وګرځېدی، هغه درې کسه پوه سوه او ولاړ سوه، انس ؓ وايي چې ورغلم عليه الصلوة والسلام مې خبر کړی چې هغه درې کسه ولاړه، نو عليه الصلوة والسلام چې خونې ته داخل سو انس ؓ وايي چې ما هم وغوښتل چې خونې ته ورسره داخل سم عليه الصلوة والسلام پرده اله يعني د خونې پر دروازې يعني زه يې ګويا اشارةً له دخول څخه منع کړم، فانزل الله تعالى:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَاتَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسې مه داخلیږئ و خونوته د نبي ﷺ.

پوه سه: چې ابن شهاب رح له انس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې زه د لسو کالو وم چې علیه الصلوة والسلام مدینې منورې ته تشریف راوړی، نو زما مور او پلار زه باعثه کولم چې ته به د علیه الصلوة والسلام خدمت کوې، نو لس کاله یې ما خدمت وکړی، نو علیه الصلوة والسلام چې وفات کېدی زه د شلو (۲۰) کالو وم دی وایي چې زه اعلم الناس یم په شان سره د حجاب او ستر، حین نزل یعني هغه وخت نازل سو د حجاب آیت چې علیه الصلوة والسلام د زینب رضی الله عنها په حجره نښوتی او زما او خپل تر منځ یې پرده واچول، آیت د حجاب هم نازل سو.

سوال: هغه درو کسانو چې مجلس یې کاوه علیه الصلوة والسلام به ورته ویلي وای چې د دوه ی مو وخوړله نو ولاړ سئ؟

خواب: رسول الله ﷺ کثیر الحیاء ؤ.

إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِينَ إِنٰىهُ

"الا" استثناء مفرغه ده منصوب علی الظرفیة ده یعني لاتدخلوا في وقت من الاوقات الا وقت ان یؤذن لکم "الی طعام" وه دوه ی ته، دا متعلق دی په یؤذن پورې، په دې کې اشاره ودې ته ده چې دخول د طعام لپاره دي بېله دعوته د علیه الصلوة والسلام څوک نه کوي "غیر ناظرین اناه" ای غیر منتظرین تر وخته د پختیا د طعام.

پوه سه: چې دا آیت خاص په هغه پورې دی چې د طعام لپاره ورسي.

پوه سه: چې غیر ناظرین حال دی له فاعل څخه د لاتدخلوا، نو استثناء پر ظرف او حال دواړو واقع ده کانه قیل لاتدخلوا بیوت النبي الا حال الاذن والدعوت ولاتدخلوا الا غیر ناظرین اناه. یعني چې ورتګ د یو کار لپاره وي وروسته مجلس پسې او وړ سي تر وخته د دوه ی د پخېدلو.

وَلٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا

لکن که دعوت درکړل سو د دوه ی خوړلو لپاره کما في متبنی رسول الله ﷺ بزینب بنت جحش رضی الله عنها. نو چې د دوه ی مو وخوړله نو سره پراګنده سئ هوري درنګ مه کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا آیت کمامر مخصوص په داخلېدلو پوري د دوه ډی لپاره یعني درنګ مه کوئ په کور کي د علیه الصلوة والسلام وروسته تر دوه ډی خوړلو، او که دخول بالاذن د طعام لپاره نه وُ بلکې د مشورې لپاره وُ پریږو امر مهم هغه تر دې آیت نه دی لاندي، یعني که هر څومره مکث وکړئ د مهم د مشورې تر پایه رسېدلو پورې ما مور په فانتشروا سره نه دی.

وَلَا مُسْتَأْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ

پوه سه: چې د استیناس معنی الفت ګرفتن او حدیث نفس خبرو ته وایي که لږ وي او که ډېري، معنی د آیت داده فارسي: ونه شنید آرام ګرفته ګان برائ سخن بایکدیګر، پښتو ترجمه: مه کښېنئ په ارام صرف د خبرو لپاره یو د بل سره لکه دمخه چې تېره سوه چې په مبتنی کي د علیه الصلوة والسلام د زینب سره درې کسه په حجره کي د خبرو لپاره ناست وه.

اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ

بېشکه چې دا مکث او درنګ د خبرو لپاره ازار رسېږي علیه الصلوة والسلام ته، ولي چې ددوی حجره تنګوي پر علیه الصلوة والسلام او پر اهل دده چې په موجوده حال کي زینب ؓ وه چې هغه په داغه حجره کي ناسته وه، قبل الحجاب او دا خبرې ددوی په عین حال اشتغال په ما لایعني پورې دی، او دی له تاسي څخه شرمېږي چې په خوله درته ووایي ووځئ.

وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ

"واللہ لایستحي آه" عطف دی پر ماقبل والمعنی انه تعالی لایترک تادیبکم فان التادیب حق.

وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ

چې تاسي سوال کوئ یعني غواړئ له نساء څخه د علیه الصلوة والسلام "متاعًا" ای شیئًا ینتفع به استعارةً یې غواړئ چې دې ته ماعون وایي لکه ږ کاسه، یا کوزه یا سترخوان وغیرها او یا رد د عاریت ورته کوئ، نو تاسي سوال ځني کوئ د هغه متاع د پردې د دباندي خوا څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د نساء لفظ خو دمخه نه دی تپر سوی، نو څرنګه ضمیر د هن دوی ته راجع سو؟

ځواب: له بیوت النبي څخه دوی وفهمیدې، ولي چې په بیوت النبي کې خو نساء النبي وې، نو مرجع الضمیر حکمًا مذکور دی.

پوه سه: چې دا جمله یعني واذا سئلتموهن آه عطف علی قوله لاتدخلوا بیوت النبي آه، بغوي ؒ وایي چې وروسته تر نزول د آیة الحجاب او ددې آیت لم یکن لاحد ان ینظر لامرئة من نساء النبي ﷺ که یې مخ پټ وي او که لځ، بلکې من وراء الحجاب به یې خبري ورسره کولې.

ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ

"ذالکم" ای السوال من وراء الحجاب دپرې بنه پاکونکی دی د زړو ستاسي او د دوی د شیطاني وسوسو څخه.

دروښ وایي: چې لوی باعث پر حجاب د ازواجو مطهراتو ﷺ عمر بن الخطاب ؓ و کما اخرج البخاري وابن جریر وابن مردویة عن انس ؓ قال قال عمر بن الخطاب ؓ یا رسول الله یدخل علیک البر والفاجر فلو امرت امهات المؤمنین بالحجاب وکان ؓ حریصًا علی حجابهن او دا حرص دده حبًا لرسول الله ﷺ و، په حدیث کې راغلي دي چې عمر ؓ یو وخت په مسجد نبوي کې تېرېدی په مسجد کې ازواج مطهرات ؓ د نورو ښځو سره په لځ مخ ناستي وې، نو عمر ؓ و ازواجو مطهراتو ته وویل چې مخان پټ کړئ فان لکن علی سائر النساء فضلاً کما ان لزوجکن یعني رسول الله ﷺ علی الرجال فضل، فقال زینب ؓ انک یا ابن الخطاب ته غیرت کوې پر مورږ باندې یعني چې څوک ستاسي مخ ونه وینې، والوحي ینزل في بیوتنا، اخرج ابن ابی حاتم عن ابن زید ان رجلاً یقول، چې که چېرې علیه الصلوة والسلام وفات سو زه به فلانی ښځه دده په نکاح کوم، قال سفیان ذکر انها عائشة ؓ، او له سدي ؒ څخه روایت دی انه بلغنا مورږ ته دا خبره رسېدلې ده چې طلحة بن عبید الله وویل چې محمد مورږ منع کوي د خپل د اکاد لنو څخه یعني چې بې حجابه خبرې نه ورسره کوي، ویتزوج نسائنا من بورنا، یعني که مورږ مړه سو دی زمورږ ښځې په نکاح کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لان حدث حدث، نو كه يو نوى كار پيښ سو يعني عليه الصلوة والسلام وفات سو، لنتزوجن نسائه من بعده، نو پر هر شان نزول دا آيت نازل: وماكان لكم الآية، او په بعض روايا تو كي چي ابن سعد يې روايت كړى دى چي دا آيت په طلحة بن عبيد الله ؓ كي نازل سوى دى چي ده به ويل كه عليه الصلوة والسلام وفات سو زه عائشه ؓ په نكاح كوم، او له ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي يو سړى بعض ازواجو ته د عليه الصلوة والسلام ورغلى، نو ده د هغې سره بې حجابه خبري كولې او هغه سړى ددې ؓ دا كار زوى وؤ، نو عليه الصلوة والسلام و هغه سړي ته وويل لاتقوم من هذا المقام بعد يومك، دې سړي ورته وويل يا رسول الله انها ابنت عمي والله ما قلت لها منكرًا ولاقالت لي، قال قد عرفت ذالك لكن ليس احد اغير من الله وانه ليس احد اغير مني، هغه سړى ولاړى لكن دا خبره يې وكړه چي رسول الله ﷺ ما د خپل اكاد لور له خبرو څخه منع كوي، نو كه عليه الصلوة والسلام وفات سو زه به داغه زما د اكا لور چي د عليه الصلوة والسلام اوس ماينه ده په نكاح كوم به يې، فانزل الله تعالى هذه الآية، ابن عباس ؓ وايي چي دغه سړي وروسته تر دې ناوړي خبري يو مريى ازاد كړى او لس اوښان يې في سبيل الله خلكو ته وركړه او پر خپلو پښو حج ته ولاړى دا ټوله كارونه يې وكړه لپاره د توبې د خپلي هغې خبري څخه.

بغوي ؒ وايي چي معمر د زهري ؒ څخه روايت كړى دى چي العالية بنت طيان چي عليه الصلوة والسلام طلاقه كړې وه د يو سړي سره يې نكاح وكړه و ولدت له وذالك قبل تحريم ازواج النبي ﷺ على الناس.

فائده: دا حكم د عدم صحت د نكاح د زوجاتو د رسول كريم ﷺ مخصوص په هغه بنځه پورې دى چي عليه الصلوة والسلام دخول په كړى وي.

دروښ وايي: چي ټوله ورځ د يكشنبې چي دا مقام ما نوشته كاوه په اضطراب او شك كي وم چي طلحة بن عبيد الله ؓ خو يو د عشره مبشره بالجنة دى، او بل د احد په غزاء كي چي مسلمانان سره متفرق سوه او د عليه الصلوة والسلام سره صرف دوولس كسه پاته سوه يو په هغو كي طلحة بن عبيد الله ؓ ؤ چي پر عليه الصلوة والسلام محبوب ؤ يعني پر عليه الصلوة والسلام يې ځان نسكور كړى ؤ چي پر عليه الصلوة والسلام به هر څه د كفارو د توروياد غشو وازونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راالله طلحة بن عبيد الله ؓ پر خپل بدن د عليه الصلوة والسلام څخه ګرځول چې په دې دروان کې د طلحة بن عبيد الله ؓ بدن څو ځایه زخمي سو او يو لاس يې هم شل سو او عليه الصلوة والسلام دده په شان کې داسې ويل: قد اوجب طلحة (طلحه ځان ته جنت واجب کړی) نو زه حيران وم چې طلحة بن عبيد الله ؓ به څرنګه ويل چې که عليه الصلوة والسلام وفات سو زه عائشه ؓ په نکاح کوم او دا خبره روح المعاني، روح البيان او مظهري هم راوړې ده، بالآخير ګفته اند که:

هر که جوينده بود ..... يابنده بود

د دوشنبې په ورځ چې له جامع مسجد څخه راغلم د حافظ جلال الدين السيوطي ؒ دا قول مې پيدا کړی چې دا طلحة بل سړی دی، طلحة بن عبيد الله المشهور نه دی، وقد كنت في وفقة شديدة عن صحت هذا الخبر (يعني د طلحة بن عبيد الله ؓ په خبر کې) لان احد العشرة المبشرين بالجنة اجل مقامًا ان يصدر منه القول المذكور حتى رئيت في كتابه اى كتاب الحافظ جلال الدين السيوطي ؒ ان طلحة القائل للقول المذكور رجل آخر، لكن وافقه في اسمه وفي اسم ابيه ونسبته فحمدت الله ﷻ على ان خلص قلبي عن الاضطراب والشک في صحة الخبر المذكور كما في انسان العيون.

درويش هم په خپل وار وايي الحمد لله چې زما د زړه اضطراب او شک هم خداى ؒ زائل کړی او دا شک او اضطراب زما د تفسير د مطالعه کونکو د زړو څخه به هم ووځي ان شاء الله تعالى، او د حاسدينو پر خلو مهر آهني ولګېدی چې عبيد الله پر طلحة بن عبيد الله ﷺ څونه درواغ ويلي دي. او هم پر نورو مفسرينو چې دا حکايت د طلحة بن عبيد الله ؓ قلم زد کړی دی، ژبه د اعتراض به يې بنده سي.

درويش وايي: وهؤلاء التسع التي مات رسول الله ﷺ عنهن وتركهن قد نظمهن بعض الشعراء:

توفى رسول الله عن تسع نسوة .... اليهن تعزى المكرمات وتنسب
فعائشة ميمونة وصفية وحفصة .... تتلوهن هند وزينب
جويرية مع رملة وسودة .... ثلاث وست ذكرهن ليعذب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا ؕ

نه دی صحیح او روا چې تاسي به ازار ورسوئ و رسول الله ﷺ ته یعني نه په خوله او نه په فعل او نه په اشاره، او نه دا صحیح او روا ده چې تاسي به په نکاح کوئ ازواج دده وروسته تر وفات دده تر ابده پوري، لانهن امهات جميع المؤمنين الى يوم القيامة.

اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ۝۵۳

دا نکاح د ازواجو دده دی عند الله په نیز د خدای ﷻ ګناه ده لویه، مظهري وايي وجاز ان يكون ذالك لاجل ان النبي ﷺ حي في قبره المبارك، ولذالك لم يورث، او ازواج ګوندیاني نه دي، عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من صلى علي عند قبري سمعته (که چا درود ووایه پر ما بندي زما د قبره سره زه يې اورم) ومن صلى علي نائبًا (يعني د لهري ځایه) ابلغته (ماته را رسول کېږي يعني ملائکه يې را رسوي) رواه البيهقي في شعب الايمان.

اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝۵۴

که تاسي ښکاره کړئ يو شی يعني من اذی النبي ﷺ او من نکاح ازواجه "او تخفوه" يا يې په زړه کې پټ وساتئ (قال البغوي رح نزلت فيمن تزوج من اضمر نكاح عائشة رضی الله عنها بعد رسول الله ﷺ) نو په تحقيق خدای ﷻ په هغه خبر دی فيجازيكم عليه، بغوي او روح المعاني او روح البيان وايي چې څه وخت چې آيت د حجاب نازل سو او خبري د ازواج المطهرات سره من وراء الحجاب وګرځېدلې، نو پلرونو ورونو او زامنو د ازواج المطهرات وويل چې موږ به هم خبري د دوی سره وراء الحجاب کوو؟ نو دا آيت نازل سو.

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْٓ اٰبَآئِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ

ګناه نسته پر دوی په ترک د حجاب د پلرو سره د دوی او د زامنو سره د دوی او نه ورونو سره د دوی او نه د زامنو سره د ورنو د دوی چې وراره يې بولي او نه په زامنو کې د خوندو د دوی چې خوريې يې بولي، وروی ذالك عن قتادة رح او مجاهد رح وايي چې مراد دادی چې لاجناح عليهن چې پورنی يې نه وي پر سر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغو کسانو د ملاقات په وخت کي او بنکاره کول د زينت ودغو کسانو ته.

دروښ وايي: چي که څه هم دا مسئله خو صحيح ده لکن تفسير د دې آيت په دغه سره کول له سياق څخه د کلام مخالف دی لان سوق الکلام في التکلم معهن من وراء الحجاب، روح المعاني وايي چي په حکم کي د مذکورينو دی هر ذی رحم محرم علی التابيد که د نسب د لاري وي او که د رضاع د لاري علی ما روی ابن سعد عن الزهري رح.

سوال: اکا او ماما يې نه کړی ذکر؟

ځواب: لانها بمنزلة الوالدين يعني العم بمنزلة الاب والخال بمنزلة الام، او يا يې نه کړه ذکر اغناء عنهما بذکر ابنائهما، روی البخاري عن عروة بن الزبير رض ان عائشة رض استأذن عليها افلح اخ ابی القعيس بعد ما انزل الحجاب، ما ورته وويل چي زه ترهغو اجازه نه درکوم چي د عليه الصلوة والسلام سره مشوره نه وي کړې فان اخاه ابو القعيس ليس هو ارضعني يعني دده ورور خو ماته شيدې نه دي راکړي، د ابی القيس ماينې ماته شيدې راکړي دي، فدخل علی النبي ﷺ ما ورته وويل چي افلح ورور د ابی القعيس زما څخه اجازه وغوښتل فابيت ان اذن له حتی استأذنک فقال النبي ﷺ تأذنين عمک ما عليه الصلوة والسلام ته وويل يا رسول الله ان الرجل ليس هو ارضعني لکن ارضعتني امرئة ابی القعيس، فقال ﷺ اذني له فانه عمک تربت يمينک (دا يو لفظ دی چي عرب يې په وخت کي د غضب استعمالوي حقيقت يې مراد نه دی بلکې کنايه ده له ذلت څخه.

وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ ۚ وَاتَّقِينَ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

نه له بنځو څخه د دوی دي حجاب کوي يعني مؤمنات، يعني يوه مسلمه بلې مسلمې ته بېله حجابه کتلای سي، سوی مابين السرة والرکبة، او نه دي حجاب کوي د هغه مريي او مينځي څخه چي د ازواج مطهراتو په ملک يمين کي وي لکن فقهاء وايي چي د مريي څخه به حجاب کوي نه د مينځي څخه که څه هم يهوديه يا نصرانيه وي، په تحقيق خدای پاک قادر دی پر هر شي د افعال د عبادو حاضر يعلم عالم نو هر چاته به جزاء د خپل عمل ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ابو حنيفة رحمه الله سرة يعني نو عورت بولي كشف يې روا نه دی.

دروښ وايي: چې ددې په رښا کې کتابيات يعني يهوديات او نصرانياتو ته دي د دخول عليهن اجازه نه ورکوي، او يا مراد د نسائهن څخه مسلمات او کتابيات دواړه مراد دي.

سوال: نو د اضافت معنی څه ده يعني نسائهن، يعني که د کتابيات څخه حجاب نه وي لازم؟

ځواب: د اضافت معنی صرف اشتراک دی په جنسية کې د انوثة، نو پردې تقدير دخول د کتابياتو پر مسلماتو بيله حجابه روا دی، بدليل ان النساء الكوافر من اليهوديات والنصرانيات وغيرهن يدخلن على نساء النبي ﷺ، نو ازواج مطهراتو ستر نه ځني کاوه، وهو قول ابی حنيفة، ومالک واحمد رحمهم الله كذا في روح البيان.

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ

په تحقيق خدای ﷻ او ملکي د خدای ﷻ درود وايي پر نبي ﷺ.

دروښ وايي: چې قديمًا او حديثًا د علماء اختلاف دی په صلوة کې د خدای او د ملکو پر نبي ﷺ على اقوال، فقيل هي اى الصلوة من الله ﷻ ثنائه عليه في مجمع الملائكة وتعظيمه تعالى اياه، رواه البخاري عن ابی العالية وغيره عن الربيع عن انس رضي الله عنه وجرى عليه الحليمي في شعب الايمان وتعظيمه تعالى في الدنيا باعلاء ذكره واظهار دينه وابقاء العمل بشريعته حتى عند نزول عيسى عليه السلام من السماء، وفي الآخرة بتشفيعه في امته واجزال اجره ومثوبته الاولين والآخرين وتشريفه بالمقام المحمود كما جاء في الحديث الصحيح وتقديمه على كافة المقربين.

پوښتنه: پر دې تفسير به عطف د آله و اصحابه څرنګه صحيح سي لانه لايتصور الامور المذكورة والفضائل الجليلة في آله واصحابه كما لايخفى؟

ځواب: دا عطف منافي د دغو تشريفاتو سره نه دی لان تعظيم كل احد بحسب مايليق به او صلوة د ملائكة دعا ده د عليه الصلوة والسلام لپاره كما رواه عبد بن حميد وابن ابی حاتم عن ابی العالية، وقيل الصلوة منه تعالى رحمة الله ﷻ ونقله الترمذي عن الثوري وغير واحد من اهل العلم ونقل عن ابی العالية ايضًا والضحاک وجرى عليه المبرد وابن الاعرابي والامام الماوردي رحمهم الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا تفسير د وړاندي تفسير سره سمون لري که څه هم په حسب د ظاهر تفسير اول اجمع من هذا التفسير، ووجه الجمع چي مراد د رحمة څخه د خداى ﷻ د عليه الصلوة والسلام رحمت خاصعة د خداى ﷻ دى، والرحمة الخاصة يشتمل ردائها على الامور المذكورة في التفسير الاول فافهم.

سوال: په حديث شريف کي راغلي دي چي دا آيت چي نازل سو، اصحاب الكرام ﷺ د کيفيت پوښتنه وکړه له کيفيت څخه د صلوة الله ﷻ، نو که صحابة ﷺ يې مغايره د دې صلوة چي په دې آيت کي او د رحمت تر منځ نه واى فهمولاى ماسألوا عن كيفيتها مع كونهم علموا الدعاء بالرحمة في التشهد.

ځواب: دوى چي په دې پوه سوه چي په دې آيت کي مراد رحمت خاصه دى، نو ځکه يې سوال د کيفيت وکړى تاچه علم احاته وکړي پر مراد مخصوص په دې آيت کي.

پوښتنه: د صلوة الله معنى تاسي واورېده او د صلوة الملائكة معنى مو هم واورېده، نو له دې څخه دا ثابته سوه چي صلوة لفظ مشترک دى بين المعنيين واستعمال اللفظ المشترک بين المعنيين لايجوز في المعنيين عند كثير من العلماء كالحنيفية ؒ، د دې پوښتنې په ځواب کي بعض علماء وايي چي په آيت کي محذوف سته، والتقدير ان الله يصلي وملائكته يصلون على النبي، فيراد بكل لفظ صلوة معناه في صلوة الله ومعناه في صلوة الملائكة، وقال صدر الشريعة ؒ چي په آيت کي له صلوة څخه معنى حقيقي مراد ده وهو الدعاء، والمعنى والله اعلم ان الله تعالى يدعو ذاته ﷻ والملائكة يدعون بايصال الخير اليه ﷻ ويرد عليه ان ذالک اى الدعاء محال وذالک في حقه تعالى لان الدعاء طلب شيئ د بله څخه وتفسير الدعاء بالرحمة خلاف الاجماع، الا ان يقال مراده صدر الشريعة ؒ ارادة د رحمت له دعاء څخه مجازًا لان الدعاء بعينه الرحمة فافهم، والصحيح ما قال بعض المحققين ان المراد بالصلوة في الآية معنى مجازي عام شامل لصلوة الله وصلوة الملائكة چي دې ته په عرف کي عموم مجاز وايي، وهذا المعنى المجازي العام كما في البيضاوي وروح المعاني وغيرهما هؤلاء دغه ذوات چي خداى ﷻ او ملکي اعتنا کوي بما فيه خيره، فالمعنى للآية ان الله وملائكته يعتنون بامر النبي ﷺ وكل واحد من المعنيين المذكورين للصلوة من الله ومن الملائكة فرد حقيقي لهذا المعنى المجازي العام كما لايخفى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي وهذا بذل مجهود الفقير في تفسير هذه الآية المتلوة والله اعلم بمراده في كتابه وما علينا الا بذل المجهود.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٥٦﴾

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي هم دعاء وکړئ و علیه الصلوة والسلام ته په نزول د رحمت خاصه پرده او اسلام، یعني سلام د تحیة ووایاست پر ده، یعني قولوا السلام علیک ایها النبي ورحمة الله وبرکاته.

درويش وايي: چي په داسي هیڅ عبادت موږ نه یو امر سوي چي د هغه عبادت نسبت دی اولاً خدای ﷻ وځان ته وکړی او ثانیًا دې و ملکو ته کړی وي، او ثالثًا دې موږ په امر کړي یو بېله درود د علیه الصلوة والسلام حیث قال الله ﷻ ان الله وملائکته یصلون علی النبي یا ایها الذین صلوا علیه وسلموا تسلیمًا ومن ذالک یظهر شرف الصلوة والسلام علی النبي ﷺ.

فائده: دا آیت دلالت کوي پر وجوب د صلوة او د سلام في الجملة ولو في العمر مرة لان الامر المطلق عن القرائن یدل علی الوجوب علی ما قال به الاصلیون یعني علماء علم الاصول وبه قال ابو حنیفة ؒ ومالک ؒ واختاره الفقیه ابو جعفر الطحاوي ؒ في شرح معاني الآثار، وقال ابن الهام في فتح القدیر موجب الامر القاطع (ای المجرد عن القرائن) الافتراض في العمر مرة لان الامر لایقتضی التکرار کما ثبت في الاصول وقلنا به، وقیل یجب في کل صلوة بعد التشهد في القعدة الآخیرة، وبه قال احمد والشافعي ؒ وفي کتاب رحمة الامة في اختلاف الائمة الصلوة علی النبي ﷺ في التشهد الآخیر عند ابی حنیفة ومالک ؒ سنة، وعند الشافعي ؒ فرض، وقال احمد ؒ في اشهر روایته یبطل الصلوة بترکها، وقیل یجب الصلوة کلما جری ذکره ﷺ سواء کان باسمه العلم یعني محمد و احمد او بصفة الخاصة کالنبي والرسول وبه قال الامام الکرخي ؒ.

فائده: لایکفی في الصلوة علیه عند ذکره ﷺ الاکتفاء بالاشارة الیه نحو: بلی صلعم بل لابد ان یقول ﷺ.

درويش وايي: چي په صحیح حدیث کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام وویل چي څوک چي درود ووایي پر ما په یو کتاب کي هغه ته ملکي دعاء کوي ما دام اسمي في ذالک الکتاب، فقیر وایي: الحمد لله والمنة د تفسیر ایوبي د لیکلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په اوږدو کي ما هیڅ ځای چي د نبي کریم ﷺ ذکر د اسم جلیل راغلی وي یا په وصف جمیل ما پوره درود نه دی پرې ایښی، دا ما فقیر لره د خوشالي ځای دی، دلائل وجوب الصلوة والسلام کلما جری ذکره ﷺ.

(۱) له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی: رغم انف رجل (پزه دې په خاورو وي، کنایه ده له ذلت څخه) ذکرت عنده فلم یصل علي، ورغم انف رجل دخل علیه رمضان ثم انسلخ قبل ان یغفرله (یعني رمضان یې په لهو ولعب پر تېره سي نه په عبادت، ورغم انف رجل ادرک عنده ابواه الکبر او احدهما فلم یدخلاه الجنة یعني په حسن خدمت د دوی او په دعا وو سره د دوی، رواه الترمذي وغیره.

(۲) حدیث جابر بن سمرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من ذکرت عنده فلم یصلي علي فدخل النار (۳) حدیث ابن عباس رضي الله عنه مرفوعًا آتاني جبرئیل من ذکرت عنده فلم یصل علیک فدخل النار فابعده الله عز وجل (۴) عن علي رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ البخیل من ذکرت عنده فلم یصل علي، رواه الترمذي (۵) عن الحسین بن علي رضي الله عنهما من ذکرت عنده فخطئ الصلوة علي خطئ طریق الجنة (۶) قال رسول الله ﷺ من صلی علي واحدة صلی الله علیه عشرًا، کذا في الحصن الحصین.

فائده: له کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي موږ سوال وکړی د رسول الله ﷺ څخه، فقلنا یا رسول الله کیف الصلوة علیکم اهل البیت فان الله قد علمنا کیف نسلم علیک (یعني السلام علیک یا رسول الله) علیه الصلوة والسلام وویل قولوا: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ. (متفق علیه) (۷) وعن انس رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ من صلی علي صلوة واحدة، صلی الله علیه عشر صلوات وحطت عنه عشر خطیات ورفعت له عشر درجات، رواه احمد والبخاري في الادب المفرد والنسائي وغیرهم.

(۸) عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اولی الناس بي یوم القیامة (ای اقربهم) اکثرهم صلوة، رواه الترمذي (۹) وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان لله ملائکة سیاحین في الارض (یعني په مځکه کي ګرځي) یبلغني عن امتي السلام (۱۰) عن ابی هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما من احد یسلم علي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(ای عند قبري) الا رد الله علي روحي حتى ارد عليه السلام، رواه ابو داؤد.

(۱۱) له ابی طلحة ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یوه ورځ مسجد ته راغلی او په مخ مبارک کې یې اثار د خوشالی معلومېدل، او وه یې ویل چې جبرئیل ماته راغلی او وه یې ویل چې ستا رب وایي، اما یرضیک یا محمد ان لا یصلي علیک احد من امتک الا صلیت علیه عشرًا ولا یسلم علیک احد من امتک الا صلیت علیه عشرًا، رواه النسائي.

دروښ وایي: چې د درود ویلو پر علیه الصلوة والسلام فائدې روح البیان په اوراقو کې بیان کړې دي، وبالجملة الا ایها الاخوان صلوا وسلموا علی المصطفی في کل وقت وساعة، فان الصلوة الهاشمي محمد ﷺ، نجی من الاهوال یوم القیامة.. وبالفارسیة:

یا سید الانام درود وسلام تو .... ورد زبان ما است مه وسال وصبح وشام
نزدیک ما چه تحفه فرستیم ما زدور .... دردست ما همین صلاتست والسلام

مسئله: هل یجوز الصلوة والسلام علی غیر الانبیاء؟ والصحیح انه یجوز تبعًا ویکره استقلالاً، مثلاً یجوز ان یقول الرجل الصلوة والسلام علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه وابی حنیفة واتباعه، دلیل ددې مسئلې دا دی چې صلوة والسلام خاصه د انبیاء ده في عرف الشریعة کما ان عزوجل خاصه د خدای ﷻ ده فیکره ان یقال محمد ﷺ مع کونه عزیزًا جلیلاً فافهم.

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

په تحقیق هغه کسان چې بد نسبت کوي و خدای ﷻ ته (داسي ترجمه یې نه ده چې خدای ﷻ ته ازار رسوي لان ذالک غیر ممکن) بغوي ؒ وایي چې ابن عباس ؓ وایي چې دا کسان یهود او نصارٰی دي او مشرکان دي، اما الیهود دوی دا بد نسبت وخدای ﷻ ته کوي عزیر ابن الله بولي، یا وایي ید الله مغلولة، یا وایي ان الله فقیر ونحن اغنیاء، کما ورد ذالک کله في مواضع من القرآن العزیز واما النصاری، دوی وایي چې المسیح ابن الله وثالث ثلثة کما ورد في القرآن الکریم في موضعه، واما المشرکون دوی وایي چې ملائکه بنات الله دي، والاصنام شرکائه، عن ابی هریرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ قال الله تعالی کذبني آدم ولم یکن له ذالک (ماته نسبت کوي د کذب اولاد د آدم (یعني بعضهم) او دوی ته دا نه بنایېدل، وشتمني (او ماته بنکنځل کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني بعض بني آدم ولم يكن له) اما تكذيبه اياى فقوله لن يعيدني كما بدانى (ما نسي راكړ ځولاى خداى ﷻ يعني په ورځ د قيامت مي نسي ژوندى كولاى لكه ابتداءً چې يې زه پيدا كړى يم، يعني خلق ابتدائي مني او خلق انتهائي نه مني) وليس اول الخلق باهون علي من اعادته، واما شتمه اياي فقوله تخذ الله ولدًا وانا الاحد الصمد الذي لم الد ولم اولد ولم يكن لي كفوًا احد، رواه البخاري، وقيل معنى الاذى مخالفة امر الله وارتكاب معاصيه من الكفر وغيره.

پوه سه: چې د "وروسوله" فعل محذوف دى، والتقدير يؤذون رسوله.

سوال: ولي يې نه عطف كوي پر اسم الله باندې د حذف د فعل څه ضرورت دى؟

ځواب: په يؤذون الله كي خو اذى حقيقي نه وه ممكنه كما مر، او په رسول كي خو اذى حقيقي ممكنه ده واللفظ الواحد لايكون مجازًا وحقيقةً كما ثبت في محله قال ابن عباس ؓ چې اذى د رسول داده چې د احد په غزاء كي دده مبارك مخ كفارو ټپي كړى او يو غاښ مبارك يې هم ورمات كړى، او بعض مفسرين وايي چې اذى د رسول الله ﷺ دا وه چې دى بې ساحر، شاهر، كاهن، مجنون او معلم به يې باله، كما قالوا في القرآن علمه بشر، او ابن ابى حاتم ؓ له ابن عباس ؓ څخه دا روايت كړى دى چې عليه الصلوة والسلام حين اتخذ صفية بنت حيى يعني په نكاح يې كړه دوى طعن پر وايه او جوير عن الضحاك عن ابن عباس ؓ څخه دا روايت هم كړى دى چې عبد الله بن ابى رئيس المنافقين او دده ډلي عائشة الصديقة الطيبة ؓ په زنى متهمه كړه وقصته مشهورة وفي موضعها مذكورة او نور هر قول او فعل چې عليه الصلوة والسلام په ازار يې.

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾

خداى ﷻ د لوى رحمت څخه دوى لرې كړي دي په دنيا او آخرت كي، او آراسته كړى يې دى دوى لره عذاب دردناكه يعني في الآخرة او عذاب د سپكاوي.

مسئله متفقة عليها: كه چا طعن ووايه په شخص كي د عليه الصلوة والسلام يا په دين كي يا په نسب كي يا په يو صفت كي د صفاتو دده او بوجه من وجوه الشين (اى العيب) صراحةً او كنايةً او تعريضًا او اشارةً كفر، ولعنه الله في الدنيا والآخرة واعد له عذاب جهنم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د داسي چا توبه قبلېږي او که نه، ابن همام ؒ وايي من ابغض رسول الله ﷺ بقلبه كان مرتدًا فالسباب بالطريق الاولى، ويقتل عندنا حدًا فلا تقبل توبته في اسقاط القتل، قالوا هذا مذهب اهل كوفة ومالك ؒ ونقل عن ابى بكر الصديق ؓ، او دا هم فرق نه لري چې دا سړی تائب بنفسه راسي يعني په جرم اقرار وکړي بيا وايي زما توبه ده، او يا نور خلک دده پر جرم شاهدي اداء کړي، بخلاف غيره من موجبات الكفر فان الانكار فيها توبة ولا تعمل الشهادة عليه مع التوبة.

مسئله: که يو مسلمان سب و عليه الصلوة و السلام ته وکړي (اعاذنا الله منه) په حال کې د سکر (نشې) نو که يې سکر په يو سبب مخطور سره وُ مثلاً شراب يې څيښلي وه په خپل اختيار بېله اکراه د چا له خوا، نو علماء ؒ وايي چې مرتد واجب القتل دی حدًا، او که سکريې بې سببه مخطور شرعًا وُ لکه ماء الشعير چې يې څيښلي وي يا مکره وُ پر سب النبي ﷺ نو حکم يې حکم د لېونې دی، يعني واجب القتل نه دی، قال الخطابي ؒ ولا يحكم بارتداد من اتى بكلمة الكفر في حالة السكر في غير سباب النبي ﷺ اعاذنا الله بفضله وكرمه من هذه الجريمة.

وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا

او هغه کسان چې زهيروي مسلمانان که نر وي او که ښځې بېله داسي کاره چې دوی دې کسب کړی وي، مثلاً ورته ووايي ته ميراث خوريې يا زکوة خوريې الى غير ذالک.

فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٨﴾

نو دوی پر ځان واخستی بهتان او ګناه ښکاره.

فائده: نکره راوړل د بهتان او اثم لپاره د تفخيم دی، قال مقاتل ؒ نزلت في شان علي ؓ چې منافقانو به دی زهيراوه او داسي خبري به يې ورته کولې چې هيڅ خير به نه وُ پکښې، وقيل نزلت في شان عائشة ؓ، لكن علماء د تفسير وايي چې عبرت عموم لره د لفظ دی خصوص لره مورد نه دی، بلکې هر څوک چې مؤمن او مؤمنه وي زهيروي يې بغير ما اكتسبوا دد ې آيت تر حکم لاندې دی، عن ابي هريرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، يعني چې نه يې په خوله ازاروي او نه په لاس، والمؤمن من آمنه الناس على دمائهم واموالهم.

پوه سه: چې په دې حديث کې مراد د مسلم او مؤمن څخه کامل مسلم او کامل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مؤمن مراد دی، یعني دا مراد نه دی چي که دا کارونه مسلمان وکړي نو کافر دی، رواه الترمذي والنسائي، واخرج ابن جویر عن الضحاک ؒ عن ابن عباس ؓ انزلت هذه الآیة في عبد الله بن ابی رئیس المنافقین وناس معه قذفوا عائشة ؓ فخطب النبي ﷺ وقال من یعذرني (چي زما سره مرسته وکړي) من رجل یؤذونی ویجمع في بیة من یؤذونی الی اخیر الحدیث الطویل، فنزلت هذه الآیة، واخرج غیر واحد عن قتادة، قال ﷺ ایاکم واذی المؤمن فان الله یحوطه ویغضب له.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ

ای نبي ﷺ ووایه خپل ازواجو ته چي امهات المؤمنین دي ﷺ چي ازواج د علیه الصلوة والسلام په وخت د وفات د علیه الصلوة والسلام نهه وې، عائشة وحفصة وام حبیبة وام سلمة وسودة وزینب وميمونة وصفیة وجویریة ﷺ.

"وبناتک" او خپلو لونو ته چي تعداد یې اته (۸) ؤ، څلور صلبة لونې ولدتها خدیجة وهي زینب ورقیة وام کلثوم وفاطمة ﷺ چي دا شپږ میاشتي وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام وفات سوه، او څلوریې ربائب وې، ربائب جمع د ربیبة ده چي د مایني لور ته د بل میړه څخه وایي، چي دا څلور سره د ام سلمة لونې د دمخه میړه څخه وې، وهي برة وسلمة وعمرة ودرة ﷺ.

وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ

او د مسلمانانو وښځو ته "یدنین" امر غائب دی په حذف د لام ای لیدنین چي دوی دي راځړوي بعض د پورنیانو جمع د جلباب ده چي ملحفة یې هم بولي چي لوی پورنی دی چي پر قمیص او پر خمار چي کوچنی پورني ته وایي پرسر کوي، والمعنی دوی دي پټوي مخان خپل او بدنونه خپل یعني وقت خروجهن من بیوتهن لحاجة ولایخرجن مشکوفات الوجوه لکه مینځیاني تازانیان ودوی ته تعرض ونه کړي ظنا منهم انهم چي مینځیاني دي، ولي چي د هغو زنا کارانو مینځیاني په کار وي.

مسئله: یوه ستر که که یې بنکاره وه د لاري د لیدلو لپاره روا ده.

دروښ وایي: چي په اوسنی زمانه کي داسي نازک کوچني پورنان سته چي که بنځه تر وله مخ په هغه پورنې پټ کړي لاروینې، روی البخاري عن عائشة ؓ چي سوده ؓ بعد ما ضرب الحجاب د قضاء حاجت لپاره ووتل او سوده ؓ د پره غټه بنځه وه په بدن کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي هر سړي سره له حجابه پيژندل، عمر بن الخطاب ؓ وليدل، فقال يا سودة اما والله ما تخفين علينا كيف تخرجين، سوده بيرته كور ته راغله، او عائشه وايي چي عليه الصلوة والسلام زما په حجره كي د ماخستن ډوډۍ يې خوړل او د عليه الصلوة والسلام هلوكي په لاس كي ؤ يعني غوښي يې څني خوړلې، نو سوده چي راغله ټول سورة حال د عمر بن الخطاب يې و عليه الصلوة والسلام ته بيان كړى فاوحى الله اليه وان العرق في يده ما وضعه، نو دا ايت نازل سو يا ايها النبي قل الآية، نو عليه الصلوة والسلام وويل قد اذن لكن لحاجتكن يعني متجلببات، قال ابن عباس وابو عبيدة امر نساء المؤمنين ان يغطين رؤسهن و وجوههن بالجلابيب الا عينًا واحدة ليعلم انهن حرائر.

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

اى ما ذكر من التغطى "ادنى" اى اقرب چي دوى دي وپېژندل سي او له مينځيانو څخه به يې تميز وسي چي هغه مواضع د تعرض د زانيانو وي، نو دوى يعني حرائر به نه زهيرول كېږي له فجارو او زناتو له خوا څخه بالتعرض لهن "وكان الله آه" يعني دمخه چي دوى به لږ مخي ګرځېدې او مهربان دى چي مصالح د عبادو خصوصًا د مؤمنانو په نظر كي لري.

درويش وايي: چي نساء د زمان حاضر چي بازار ته ځي كالي د زينت واغوندي او شونډان هم سره كړي او عطر هم ولګوي، او په پښو پاى زيب هم واغوندي، او په هر ښه ځوان پسي سترګه وړي او هر ښه ځوان په دې پسي سترګه وړي، سعدي شيرازي قدس سره وايي يعني د دې زمانې په ښځو كي:

چو زن راه بازار گيرد بزن .... وگرنه تو در خانه بنشين چو زن
زبيگانگان چشم زن كور باد .... چو بيرون شد از خانه در گور باد

عارف جامي قدس سره څه ښه زېبا بيتونه ويلي دي:

چو مرد از زن بخوش خويى كشد باد .... زخوش خويى ببد بوى كند كار
مكن بر كار زن چندان صبورى .... كه افتد رخنه در صد غيورى

لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

كه چېري منع نه سي منافقان له خپل نفاق څخه يا له تعرض څخه و ښځو ته خصوصًا الحرائر، او هغه كسان چي په زړو كي يې ايمان ضعيف وي يا ميل و فجور ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْمُرْجِفُوْنَ فِي الْمَدِيْنَةِ

ای الذین یوقعون في المدینة الرجفة ای الرزلة والاضطراب الشدید کالزازة الحقیقیة، دا آیت په شان کي د هغو منافقانو نازل سوی دی چي بعض وخت چي به آنحضرت ﷺ کوچني کوچني فوجونه چي په عربي یې سرایا بولي واستول منافقانو به په مدیني کي د درواغو اوازې ګډي کړې چي هغه سریې قد قتلوا او انهزموا، یا به یې ویل چي پر مدینه به عنقریب حمله وکړل سي، وامثال ذالک یا د کاذبه فاحشه واورته به یې لمن وهل کما في شان الطیبة الحبیبة لرسول الله ﷺ سیدتنا عائشة رضی الله عنها الی غیر ذالک من الاخبار الکاذبة المحزنة للمؤمنین اهل المدینة.

لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۰﴾

زه به تا مسلط کړم پر دوی او امر به درکړم په قتال ددوی یا له مدیني څخه د شړلو ددوی به امر درکړم، نو وروسته به دوی ستا همسایه نه سي پاته په مدینه کي، الا زمانًا قلیلاً، نو ظرف دی او جوارًا قلیلاً نو مفعول مطلق دی یعني چي یا به فراره کېږي یا به قتل کېږي په دواړه صورتو کي جواریې قطع کېږي.

فائده: هذا جواب لقسم محذوف في قوله لئن لفظًا وللقسم والشرط معًا من حیث المعنی فافهم.

پوه سه: چي جلا کېدل له وطن څخه بالاضطرار د لوی مصائبو څخه ؤ نو یې ځکه عطف یې په ثم سره وکړی.

مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿۶۱﴾

"ملعونین" (منصوب دی علی الحالیة ای حال کونهم مبعودین عن رحمته العامة یا منصوب علی الذم والشتم ای اذم واشتم) هر چېري چي دوی پیدا کړه سوه دوي نیول سي او ودي وژل سي په قتل.

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۶۲﴾

عادت د خدای ﷻ دی په تېرو امتو کي چي هغه کسان دي قتل کېږي چي د نفاق لار چلوي د انبیاء علیهم السلام او سعي کوي چي په زړو کي د مسلمانانو خوف او اضطراب پیدا کړي ونحوه، او نه به کړې ای مخاطب غیر معین عادت لره د خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تبديل لانه تعالى لايبدل سنته وغير الله لايقدر على تبديلها.

پوه سه: چې "سنة الله آه" مصدر مؤكد دى د ماقبل والنصب بفعل محذوف اى سن الله ذالك سنة.

پوښتنه: ددې آيتو حكم يعني اخذوا وقتلوا تقتيلاً پر منافقينو د مدينې جارې سوى او كه څرنګه؟

ځواب: روح المعاني وايي اخرج ابن ابى حاتم له ابى حاتم رح څخه انه قال في تفسير هذه الآيات چې نفاق درې قسمه ؤ (۱) يو نفاق لكه نفاق د عبدالله بن ابى بن سلول واتباعه كانوا وجوهًا من وجوه الانصار (دوى مخور كسان وه د انصارو) دوى شرمېدل ان ياتوا بالزنا دوى په دغه سره خپل ځانونه ساتل وهم المنافقون في الآية (۲) او بل نفاق ؤ د هغو كسانو چې په زړو كې يې مرض ؤ وهم منافقون ان تيسر لهم الزنا فعلوه وان لم يتيسر پسې ګرځېدل نه، او نه يې اهتمام په امر سره د زنا كاوه (۳) او بل نفاق د المرجفون في المدينة دا داسي منافقان وه چې په زوره به يې د بنځو سره زنا كول هر ځاى چې به پرغالب سو زنا به يې ورسره وكړه، ددې اخير قسم منافقينو خداى پاك وايي: لنغرينك بهم، چې ملعونين هم دوى دي چې په اخير كې د آيت اينما ثقفوا يعني دغه كسان چې په زوره به يې د بنځو سره زنا كول اخذوا وقتلوا تقتيلاً، وروسته السدي رح وايي ان الحكم في هؤلاء المكابرين في الزنا غير دى له حكم څخه د زنا په رضا د بنځې يعني الجلد او الرجم بلكې مكابرين د زنا حكم دادى ان يؤخذوا فتضرب اعناقهم سنة الله في الذين خلوا يعني د امم ماضيه ؤ د مكابرين في الزنا هم حكم داغه ؤ چې اخذوا وقتلوا تقتيلاً، په پاى كې السدي رح وايي چې كه په زور د بنځې سره زنا كوله هغې بغاري چغاري وهلې او اخير به دى پر غالبه سو زنا به يې ورسره وكړه، نو هغه مكابر بالزنا د بنځې قريب قتل كړى، نه يې قصاص حق دى او نه يې ديت سته لانه بكابر انتهى قول السدي رح او په تفسير بحر العلوم كې وايي الظاهر ان المنافقين يعني جميع من ذكر في الآية انتهوا عما كانوا يؤذون به الرسول ﷺ والمؤمنين او ځانونه ټولو پټ كړه وكفوا عن افعالهم خوفًا من ان يقع بهم ما وقع القسم الاخير من جانب الله به وهو الاعزاء والاجلاء والقتل وحكى ذالك عن الجبايي، انتهى قول البحر.

دروښ وايي: قد نقلت قول هؤلاء السادات من المفسرين فخذ ما صفى ودع ما كدر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ؕ

سوال کوي ستا څخه خلګ یعني کفار د مکې د قیام قیامت په باره کي ای عن وقت قیامها، دا سوال که کفارو د مکې کاوه غرض یې استهزاء وه، ولي چې دوی خو قیامت نه مانه، او که یهودانو د مدیني دا سوال کاوه غرض یې امتحان ؤ د علیه الصلوة والسلام چې دی به یې ګوندي تعین وکړي، نو به یې مورِ ملزم او ملامت کړو چې د قیام القیامة تعین نه په تورات کي ستنه په یو کتاب کي د کتب الهیة ؤ.

قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ۝

ته ورته ووایه علم د قیام القیامة علی التعیین په نېز د خدای ﷻ دی لم یطلع علیها احدًا من الانبیاء والملائکة المقربین، او څه شی تاته علم یا محمد (ﷺ) درکړی دی اذا لم یطلع احدًا من خلقه، نو هیڅ څوک له مخلوق څخه خدای پاک په قیامت علی التعیین نه دی خبر کړی نو تاته به له کومي خوا دا علم حاصل وي "لعل الساعة تکون قریبًا" شاید قیامت به شیئًا قریبًا، نو کان ناقصه دی، او یا معنی تکون في زمان قریب، نو کان تامه دی ای توجد قریبًا.

سوال: ضمیر د قریبًا خو ساعت ته راجع دی، نو د تذکیر سبب یې څه دی؟

ځواب: ساعة په تاویل د یوم مذکر دی.

سوال: له نزول څخه د قرآن په سوو کلونه تېر سوه او قیامت نه سو پیدا فما معنی قربها؟

ځواب: کل ما هو آتٍ فهو قریب.

فائده: په دې آیت کي تهدید دی د مستعجلینو چې کفار د مکې وه او اسکات دی د متغیتو چې یهودان وه.

اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ۝

په تحقیق خدای ﷻ نازل کړی لعنت پر کافرانو او آراسته کړی یې دی دوی ته اور چې شدیدي لمبې وهي، همیشه به وي.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝

("خالدین" حال مقدره دی له ضمیر څخه د لهم) تل تر تله چې د وتلو لاره یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنده ده، دوی نسي پيدا کولای يو دوست چي په شفاعت دي دوی له اور څخه وساتي "ولانصيرا" او نه يو مرسته کونکی چي په کومک دي اور له دوی څخه دفع کړي.

يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ

"يوم تقلب" ظرف دی لقوله لايجدون او يا منصوب په اذکر مقدر سره دی چي اړول، من جهة الی جهة او من حال الی حال لشدة الاحتراق.

سوال: تخصيص د وجوه يې ولي وکړی او سره ددې چي د ابدانو ددوی هم دغه حال دی؟

ځواب: وجه د تخصيص يې داده چي مخان اکرم د مواضع د بدن دي.

يَقُولُونَ يٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا اللّٰهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ۝

دوی وايي "يقولون" مستانفه جواب د سوال مقدره ده چي مايقولون في هذه الحال الشديدة "يٰليتنا" يعني يا قوم ليتنا (او بعض مفسرين وايي چي کلمه دیا لپاره د تنبيه ده) که موږ اطاعت کړی وای په دنيا کي د خدای ﷻ او موږ فرمانبرداري کړې وای په دنيا کي د رسول، نو موږ به له دې عذاب څخه خلاصون پيدا کړی وای.

فائده: الف د رسولاً زائد دی لپاره د رعايت د فواصلو د آياتو.

وَقَالُوا رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ۝

او دوی وايي ای زموږ ربه، موږ متابعت کړی ؤ يعني په دنيا کي د سردارانو او مشرانو زموږ چي دوی دا طريقه د کفر راته وضع کړی وه، نو دوی ورکه کړه له موږ څخه حق لاره چي توحيد او ايمان وه.

پوه سه: چي الف د سبيلاً هم زائد دی کما مر.

رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ۝

ای ربه زموږ ورکړې دوی ته يعني سادة والکبراء دوه چنده د عذاب زموږ لانهم ضلوا واضلوا، او لعنت پر دوی نازل کړې لوی.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ ءَاذَوْا مُوسَىٰ

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی وي تاسي مکرځئ لکه هغه کسان چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ازاراوه يې موسیٰ علیه السلام، يعني تاسي خپل رسول مه ازاروئ لکه يهودانو چې موسیٰ علیه السلام ازار کړی ؤ چې ددوی نبي ؤ، قصه ددې ازارد موسیٰ علیه السلام چې له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی قال قال رسول الله ﷺ، موسیٰ ۴ رجل حيانًا كريمًا (يعني حيانا که او سترناکه) لايریٰ من جلده شيئًا (يعني بېله لاسو او پښو ظهرًا او بطنًا، نو بني اسرائيلو به ويل چې موسیٰ علیه السلام چې دا دومره ځان او بدن پټ ساتي يا يې په بدن کې پيس سته او يا چوره دی او يا بل کوم آفت پکښې دی.

فَبَرَّأَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا ؕ

نو خدای پاک دده برائة ظاهر کړی له هغه عيبه چې بني اسرائيلو پر ده وايه، هغه داسي چې موسیٰ علیه السلام يوه ورځ په يو خالي ځای کې يعني چې څوک نه ؤ په ويالې کې غسل کاوه، و د ويالې پر غاړه يوه ډبره پرته وه کالي يې پر کنبښوول او لاړ ويالې ته ورشوه سو، له غسل څخه چې فارغه سو کالي يې را اخستل چې وايې غوندې ډبري سره د کالو ميدان کړه، موسیٰ علیه السلام لاړ پاڅ پسې روان ؤ او دا ناري يې وهلې ثوبي ثوبي يا حجر، زما کالي راوړه ای ډبري حتی چې ډبري ځان ورساوه يو مجلس ته د بني اسرائيلو او موسیٰ ۴ عريان په پسې ؤ، نو دوی د موسیٰ ۴ تولە بدن وليدی احسن ما خلق الله تعالی.

نو دی بري کړی الله ۴ له هغه څه چې دوی به ويل، او ډبره هم ودرېدل موسیٰ ۴ چې خپل کالي واغوستل پر ډبره يې له ډېره درده لکړه راوکړځول درې څلور واره يې ډبره په ووهل فوالله ان بالحجر لبقی اثر ضرب موسیٰ ۴ ثلاثًا او اربعًا او خمسًا چې په پښتو يې تغمې بولي، فذالک مراد قوله تعالی: يا ايها الذين لاتكونوا الی اخير الآية، رواه البخاري والترمذي واحمد وابن جرير وغيرهم رحمهم الله، وقال ابو العالية في شان نزول هذه الآية چې قارون چې لوی سرمايه داره سړی ؤ من قوم موسیٰ او موسیٰ ۴ طلب د زکوة ځني وکړی او د قارون زکوة تر اندازې ډېر ؤ نه يې زړه کېدی نو اخير قارون د موسیٰ ۴ د بدنامی خبره په بني اسرائيلو کې وکړه او يوه فاحشه ښځه يې مزدوره کړه چې موسیٰ ۴ چې په يوم العيد کې وعظ کوي د زڼی پر بيان چې راسي ته يې متهم په زنا سره وکړځوه خپل د ځان سره فيرئه الله من ذالک واهلک قارون وقد قصته بالتفصيل التام في تفسير سورة القصص، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض مفسرین وایي چي ازارد بني اسرائیلو و موسیٰ ؑ ته دا وُ چي هارون چي په تیه کي وفات سو او موسیٰ ؑ یوازي دده د دفن کار وکړی بني اسرائیلو موسیٰ د هارون ؑ قاتل وبالله فامر الله الملائکة حتی مروا بجنازة هارون علی بني اسرائیل، نو بني اسرائیل پوه سوه چي موسیٰ نه دی وژلی فبرئه مما قالوا والله اعلم.

دروښ وایي: چي جمع ددې روایاتو چا نه ده کړې او نه د جمع لار ورته سته.

وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ۝

او وُ موسیٰ ؑ په نېز د خدای کریمًا ذا جاه، حُکه یې له تهمته د بني اسرائیلو خلاص کړی، ابن عباس ؓ وایي کان عندالله بحیث لایسئال شیئًا الا اعطاه وکذا قال الحسن ؒ، وقیل کان مجیبًا مقبولاً.

دروښ وایي: ومآل الکل یرجع الی شیئ واحد تدبر.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی له خدایه وبېرېږئ (في اتیان او امر والانتهاء عن مناهیه عمومًا خصوصًا فیما یؤذی به رسول الله ﷺ) "وقولوا آه" قال ابن عباس ؓ سدیدًا وقال قتادة عدلاً وقال الحسن ؒ صدقًا، وقیل قاصدًا الی الحق ومآل الکل واحد یعنی صدقًا غیر کذب ولا مجازفة (یعني په ګمان او اټکل سره) وقیل المراد منه نهی الناس عما قالوا في نکاح زینب کمامر، وقیل مراد نهي دی له حدیث څخه د افک په باره کي د عائشه صدیقه ؓ، وقال عکرمه ؒ هو قول لا اله الا الله وفي القلب من هذا التفسیر شئ لان المخاطب الذین آمنوا والایمان هو قول لا اله الا الله فتفسیر التقوٰی به امر بالحاصل چي علماء یې تحصیل الحاصل بولي او وایي وهو محال.

دروښ وایي: چي قول د ژبي کار دی ژبه که څه هم جرم یې صغیر دی لکن امره عظیم، یتعلق به الاسلام والکفر والمعاصي الکبیرة الکثیرة لاتتعلق مثلها بعضو من الاعضاء الظاهرة کالکذب والبهتان والغیبة وایذاء الرسول ﷺ والخداع مع الناس في المعاملات.

حکایت: یعقوب بن اسحاق ؒ چي مشهور په ابن السکیت دی او له اکابرو څخه د علماؤ د عربیت دی، او دی معلم او استاذ الادب د دوو زامنو د متوکل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

على الله الخليفة ؤ يوه ورځ دى د المتوكل سره ناست ؤ چې د متوكل دوه زامن يعني المعتبر بالله والمؤيد بالله دغه مجلس ته ورغله، نو متوكل وابن السكيت ته وويل چې پر تا زما دا دوه زامن ګران دي كه الحسن والحسين يعني ابنى فاطمة وعلي ﷺ، ابن السكيت ورته وويل والله ان قنبرًا خادم علي رضي الله عنه خير منك ومن ابنيك متوكل ته ډېر درد ورغلى او پر حاضر باشو يې امر وكړى چې ژبه د ابن السكيت تر څټ ورباسئ ففعلوا فمات ابن السكيت، والعجب ان ابن السكيت رحمه الله د متوكل و دوو زامنو ته دا دوه بيته ويلي وه:

يصاب الفتى من عثرة بلسانه .... وليس يصاب المرء من عثرة الرجل
فعثرته في القول تذهب راسه .... وعثرة في الرجل تبرء في مهلة

يعني كه يې پښه وښوويږي مثلاً ماته سي هغه به يې رته جوړه سي په مرور د زمانې.

يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ؕ

يعني د قول سديد په سبب ستاسي عملونه به خداى صالح او مقبول وګرځوي مجزوم في جواب الامر يعني قولوا قولاً سديدًا، او خداى ﷻ په سبب د قول سديد ستاسي ګناهونه به دروبخښي، دا هم مجزوم په جواب کي د امر.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝

كه څوک اطاعت وكړي د خداى ﷻ او د رسول د خداى، نو برى پيدا كړى پر ټولو خيراتو، ولي په دنيا كي بې عيش او ژوند حميد وي او په آخرت كي به يې خداى بعث كړي سعيدًا، رشتيا هم دا لويه كاميابي ده، رزقنا الله ﷻ بمحض فضله هذا الفوز العظيم ويوفقنا لموجبات هذا الفوز العظيم آمين.

إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ؕ

د مفرداتو د آيت ترجمه: مراد له امانت څخه ابن عباس رضي الله عنه وايي چې طاعت او فرائض دي التي فرض ها الله على عباده چې دا امانت خداى پيش كړى پر اسمانو او محكه يعني پر ذواتو ددوى په خطاب لفظي سره چې كه چا ادا د دغه امانت وكړه زه به ثواب ورکوم او كه يې ضائع كړه زه به عذاب ورکوم، او بعض مفسرين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي عرض پر زواتو د اسمانو او مځکي مراد نه دی بلکې مراد عرض پر اهل السموات والارض دی کما في قوله تعالى واسئل القرية ای اهل القرية.

دروښ وايي: چي ابن مسعود رضي الله عنه او مجاهد او ابو العالية رضي الله عنه او زيد بن اسلم او عبدالله بن عمرو بن العاص او الضحاک رحمهم الله، د امانت نوري ترجمې کړي دي يعني هر يوه جلا ترجمه کړې ده، ټوله ودې ته دي چي مراد له امانت څخه تکليفات شرعيه دي کما قال ابن عباس رضي الله عنه فتفسير ابن عباس رضي الله عنه اجمع التفاسير دی او اسمانونه او مځکو اباء او منع وکړه له قبول څخه د هغو اماناتو يعني اسمانو او مځکو وويل يا رب نحن مسخرات لامرک لا نريد ثوابًا ولاعقابًا، دا خبره چي يې وکړه له جهته د خوف او خشيت وتعظيمًا لامر الدين ان لايتادی حقه.

سوال: دوی څرنګه منع او اباء وکړه له قبول څخه د امانت بعد عرضه تعالى قبولها عليهن.

ځواب: دا عرض پر دوی اختياري وُ لا الزامًا، يعني هرو مرو به يې قبلوئ والا لكان الابا معصية منهن، يعني که يې حمل الزام وای د خدای عزوجل له خوا څخه بيا دوی امتناع نسوای کولای، والقرينة على ذالک يعني عرض الزامًا نه وُ وقوله تعالى واشفقن منها دوی وبېرېدل چي اداء ددوی به موږ وکړای سو که نه، ولي که الزام وای بيا ددوی بېري فائده نه کول په منع او اباء کي د دوی، بغوي رحمه الله وايي چي عرض د امانت پر ذواتو د اسمانو په قول لفظي قول د ابن عباس رضي الله عنه دی وجماعة واكثر السلف رحمهم الله، او بعض مفسرين وايي چي مراد له عرض څخه خطاب لفظي دی او مراد له سمٰوات او ارض او جبال اهل ددوی كما في قوله تعالى واسئل القرية ای اهل القرية، او بعض اهل تفسير وايي چي مراد له سمٰوات او ارض او جبال څخه ذوات ددوی دي او مراد له عرض څخه اختبار الامانة بالاضافة الى استعدادهن، او مراد له اباء څخه اباء طبعي ده يعني په دوی کي استعداد او لياقت د قبول د امانت نه وُ لكونها جمادات او مراد د حملها الانسان قابليت او استعداد د انسان دی لحمل الامانة، او مراد من كون الانسان ظلومًا چي په ده کي قوت غضبه او قوة شهوية سته چي بې مغلوب الحال وګرځوی او په اداء کي د امانة چي مراد څخه طاعات او ايمان دی قصور واقع سي، او قاضي بيضاوي وايي چي دا آيت تقرير دی د وعد سابق بتعظيم الطاعة وسماها امانة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من حيث انها اى الطاعة واجبة الاداء دى كالامانات، والمعنى انها (اى الامانة چي مراد څني طاعات دي كمامر) لعظم شانها بحيث لو عرضت على الاجرام العظام وكانت ذات شعور وادارک واى (دروېش وايي: چي له لفظ څخه د بيضاوي دا معلومه سوه چي دا آيت مبني پر مجاز دى او تمثيل دى، او دا مبني پر دې دى چي خطاب د جماداتو سره بعيد دى) لابت حملها واشفقن منها ومن حملها، وحملها الانسان مع ضعف بنيته ورخاوة قوته لاجرم فان الراعي بها والقائم بحقوقها بخير الدارين لكه هغه قول د خداى ﷻ لو انزلنا هذا القرآن على جبل لرئيته خاشعًا متصدعًا من خشية الله وتلک الامثال نضربها للناس لعلهم يتفكرون، چي له دې آيت څخه صراحةً معلومېږي چي دا تمثيل دى، اذ قال وتلک الامثال آه نو قاضي بيضاوي دا مانحن فيه آيت هم د قسم څخه د تمثيل بولي كمامر، والحاصل چي قول د هغه چا چي په لفظ كي د سمٰوات مجاز وايي، يعني چي مراد څني اهل السمٰوات دي او قول د هغه چا چي عرض او خطاب ته مجاز وايي يعني پر تمثيل حمل كوي دواړه مبني پر دې دي چي د جماداتو يعني سمٰوات ونحوها خطاب كول بعيد دى.

دروېش وايي: چي بعض مفسرين په دفع ددې استبعاد داسي وايي چي دغه اجرام عظيمه يعني السمٰوات والارض والجبال چي خداى ﷻ پيدا كړه په وخت كي د عرض دامانت يې فهم وركړى او دا يې ورته وويل: اني فرضت فريضة وخلقت جنة لمن اطاعني (يعني اداء تلک الفرائض) ونارًا لمن عصاني (يعني دغه فرائض پر څاى نه كړي غرض دادى چي تاسي به تحمل كوئ هغو اجرامو په زبان قال په قدرت د خداى ﷻ) ورته وويل نحن مسخرات على ما خلقتنا (يعني د هغه حكمت او فائدې چي تا موږ پيدا كړي يو په هغو كي ستا مسخر يو) لا نتحمل فريضة ولانبغي ثوابًا، ولما خلق عرض عليه مثل ذالک ادم ﷺ قبول كي د امانت.

إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾

يعني ظالم پر خپل ځان ؤ چي دومره درونده باريې قبول كړى او ناخبره ؤ د وخامت د عاقبت يې، او بعض سادات د مفسرينو وايي په دفع كي د استبعاد مذكور چي جمادات ته وله كه څه هم غير عاقل دى نسبت وموږ ته (يعني زموږ په خبرو نه پوهېږي) لكنها بالنسبة الى الله تعالى عاقلة خاضعة مطيعة ساجدةً له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى، ولهذا في القرآن شواهد. قال الله تعالى للسمٰوات والارض (ائتيا طوعًا اوكرهًا قالتا آتينا طائعين، وقال الله تعالى وان من الحجارة لما يتفجر منه لانهار، وان منها لما يهبط من خشية الله، وقال الله تعالى الم تر ان الله يسجد من في السمٰوات ومن في الارض والشمس والقمر والنجوم والجبال والشجر والدواب.

دروښ وايي: چې وجه د استدلال په دې آيت سره داده چې په دې د آيت کلمه د من چې په اتفاق د نحاتو د ذوی العقول لپاره په ټولو مذکوره شيانو کې استعمال کړې ده، نو معلومه سوه چې دا شيان نسبت و خدای ته ذوی العقول دي که چېرې د من السمٰوات ومن في الارض څخه ذوی العقول مراد وي او معطوف پر هغو يعني الشمس والقمر آه غير ذوی العقول واى نسبت و خداى ﷻ نو بايد کلمه د ما چې عامه ده ذوی العقول او غير ذوی العقول په اول کې د آيت بېړاوړې واى فافهم فانه دقيق.

دروښ وايي: چې روح البيان په دې باب کې چې آيت مذکوره من اولها الى اخيرها پر حقيقت محمول دی ډېرې اوږدې خبرې په اوراقو کړې دي ان شئت فارجع اليه لان ساحة التفسير الايوبي ضيقة جدًا، والعذر عند كرام الناس مقبول، حاصل دادی چې بغوي والمظهري وصاحب روح البيان پر حمل د آيت پر حقيقت دادە دی او صاحب روح المعاني هم ډېر طويل بيان کړی دی لکن په اول کې د کلام يې ويلي دي بطريق التمثيل آه وروسته تر څو کرخو يې ويلي دي، ان تلك الامانة في عظم الشان بحيث لو كلفت بها تلك الاجرام النظام وكانت ذات شعور وادراك لابين قبولها آه. ددې عبارت څخه هم دا معلومېږي چې دی آيت محمول پر تمثيل بولي چې دا لفظ يې ووايه وروسته تر کلمې د لو وكانت ذات شعور، والعلم عند الله وليس للفقير في هذا الكلام الطويل الا النقل.

لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ

تا چې په عذاب کړي (يعني عاقبة الامر به خداى ﷻ په عذاب کړي) منافقين او منافقاتې يعني د دوی نران او ښځې او د مشرکان نر او ښځې.

پوه سه: چې دا لام لام عاقبة دی كما في قول القائل لدوا للموت وابنوا للخراب، يعني عاقبت د زېږېدو مرګ دی، دا معنی نه ده چې غرض د زېږېدو مرګ او عاقبت د کوټې جوړولو يا د سرای وغيره خراب دی، دا معنی نه ده چې غرض د بانې خراب دی:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زوی کافرؤ، نو همیشه به لقمان نصیحت ورته کاوه حتی اسلم، وعلی تقدیر کون ابنه غیر مشرک، المراد بالنهی الدوام علی عدم الاشراک فیما بقی من الاوقات.

إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾

په تحقیق شرک لوی ظلم دی، دا علت دی د نهي عن الشرک، وتحقیق ذالک ان الظلم هو وضع الشیئ في غیر موضعه، او دا بنکاره خبره ده چي معبودیت چي خاصه مختصه د خدای ﷻ ده په بتانو کي ایښول لوی ظلم دی فافهم... بیت:

الحمد لله لا شریک له ..... ومن اباها فنفسه ظلما

هر که در دریا وحدت غرقه باشد جان او
جوهر فرد حقیقت یافت از جانان او

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ

امر کړی دی موږ هر انسان ته چي د مور او پلار سره احسان کوئ (فاللام للجنس او الاستغراق لان ما لهما واحد کما ثبت في محله) او شکریي وایاست او اطاعت یې کوئ (یعني في ماسوٰی الشرک والمعاصي لانه لا طاعة للمخلوق في معصیة الخالق.

پوه سه: چي دا جمله معترضه ده په قصه کي د لقمان.

حَمَلَتْهُ أُمُّهُ

دی په حمل کي وړی دی مور.

فائده: دا جمله معترضه په معترضه کي ده تاکید د وصیت په حق کي د مور.

وفي الحدیث المتفق علیه عن ابی هریرة ﷺ ده وویل چي یو سړي وویل وآنحضرت ﷺ ته یا رسول الله څوک دې هر حقدار ه دی په ښه صحبت چي زه یې ورسره وکړم؟ قال ﷺ امک قال الرجل ثم من؟ قال امک ثم امک ثم اباک.

فائده: د دې حدیث له نکته نګاه څخه معلومه سوه چي د مور درې حقه د حسن صحبت دي او د پلار یو، دلیل یې دا دی چي مور اولاً زوی نهه (۹) میاشتي علی الاغلب په خپله خپته کي ساتلی دی چي دې هر مشقت و پر مور، وروسته په وخت کي د زیږیدلو او په جلاوالي کي د حمل پر دې هر تکلیف تېرېږي، بیا وروسته د رضاع په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ سَبَإٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اَرْبَعٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً مِائَتَانِ وَسِتٌّ وَعِشْرُوْنَ

پوه سه: چي مکي والی ددې سورت مروي دی د رئيس المفسرين عبد الله بن عباس رضي الله عنهما و قتادة رحمه الله، او په تحرير کي وايي چي دا سورت مکية دی بالاجماع لکن مع هذا ابن عطية رحمه الله وايي الا قوله ويرى الذين اوتوا العلم آه فانه مدنية.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

ملکًا و خلقًا و عبيدًا، نو له هم دې سببه خدای ﷻ مستحق د حمد دی من جميع العباد سرًا وجهرًا دون غير فالحمد لغيره تعالى راجع اليه تعالى بالآخرة لانه المعطي للمحمود عليه لكل عباده.

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝

او ده لره دی خاص حمد د آخرت په ورځ (ولي معطي د نعمتو د آخرت خدای رحمه الله دی چي د مجازي حمد ځای هم نه پاتېږي کما في الدنيا لپاره د تنبيه پر حصر د حمد په خدای رحمه الله پوري، جار و مجرور يې د مخه کړه يعني له چي دال پر حصر دی) او خدای ﷻ حکمت والا او باريک بين دی، چي امور د دين اسلام يې نازل کړي دي چي سراپا حکمت او مصلحت دي د دنيا، دين او آخرت، او خدای رحمه الله خبر دی په پټو شيانو لکه په ظاهره امورو.

فائده: حمد د آخرت د اهل الجنة له خوا څخه دی کما حکى الله عنهم وقالوا الحمد لله الذي هدانا لهذا وما كنا لنهتدي لولا ان هدانا الله، وايضًا حکى الله عنهم وقالوا الحمد لله الذي صدقنا وعده، وايضًا الحمد لله الذي اذهب عنا الحزن.

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ

خدای رحمه الله خبر دی چي داخليږي په مځکه کي لکه اوبه د بارانو چي په اعماقو کي د مځکو داخليږي، يا اموات چي و قبورو ته داخليږي يا هغه شيان چي په اعماقو کي د مځکي قدرتي داخل داخل پيدا سوي وي لکه خزاني د سرو زرو او سپينو زرو او کبريت يا مس يا وسپنه چي په غرو کي د مځکي موجود دي الى غير ذالک.

پوه سه: چي "يعلم" استيناف دی لپاره د دليل د حکم مذکور قبلها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ

او پر هغو شيانو هم علم لري چي له مځکي څخه راوځي لکه اوبه د څاهانو او د کاريزو او په اوسنۍ زمانه کي اوبه د برمو (يا نباتات يا درختي مېوه داري وغيرها يا فلذات يعني قيمتي شيان چي د مځکي څخه راوځي يا مړي چي له قبورو څخه راوځي په ورځ د قيامت) او په هغو شيانو خبر دی چي نازليږي له اسمان څخه چي بارانونه او واوري او ژلۍ دي يا تکي دي يا ملائيکي دي چي د مځکي پر اوضاع ګمارل سوي دي، والكتب السماوية النازلة على الانبياء عليهم السلام والمقادير كما في ليلة النصف من شعبان وانواع البركات واقسام البليات كالاحجار النازلة على قوم لوط وغيرها.

وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ۝

او هغه چي پورته کيږي د اسمان پر خوا من الملائكة وارواح العباد المؤمنين واعمال العباد ودعوات المؤمنين والمؤمنات، او خدای ﷻ مهربان ذات دی چي نازلوي مايحتاج اليه عباده او بخښونکی دی د هغه کسانو چي شکر کوي د نعمت د خدای ﷻ تقصير نه کوي مع كثرتها.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ

او وايي هغه کسان چي کافران دي چي پر موږ نه راځي قيامت ای البعث بعد الموت.

فائده: په ارشاد کي وايي چي ددوی مراد د متكلم مع الغير څخه يوائي خپل ځانونه او معاصرين ددوی نه دي بلکې مراد يې ټوله نوع د بشر ده.

قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ ۙ عَالِمِ الْغَيْبِ ۚ

ته ووايه هو! رد دی ددوی د کلام او اثبات دی د هغه شي چي دوی نفي ځني کوي، ته ورته ووايه داغسي نه ده بلکې راځي (په لباب کي وايي چي ابو سفيان بلات و عزی سوګند خورد که بعث ونشور نيست حق تعالى فرمود که ای حبيب من تو هم سوګند بخورید "وربي" الواو للقسم يعني بحق افريد ګار من که بژودی) يعني د هر ژر به راځي قيامت، وهو تاكيد لما قبله يعني قل بلى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې عالم الغيب يا صفت دی د ربي او يا بدل دی.

پوه سه: چې په عالم الغيب کې تاکيد دی د لتأتينكم فان عظم به المقسم به چې عالم الغيب دی دلالت کوي پر قوت د مقسم عليه، وفيه اشارة ان الساعة من الغيب و علم الغيب مختص به تعالى ويكفى لاثباته شهادة الله باتيانها، کريمه: قل اى الشيئ اكبر شهادة قل الله.

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ

"لايعزب" کسائي يې په کسره د زاء وايي يعني لايعزب، او نور قاريان يې په ضمه د زاء وايي و المعنى واحد اى لايغيب "عنه" اى عن علمه تعالى، په قدر د ثقل د يو کوچنۍ مېږي چې کائن وي په اسمانو او مځکه کې في شيئ الازمنة الماضية او الاستقبالية او الحالية، او بعض مفسران يې داسې ترجمه کوي لايعزب منه مثقال ذرة موجودة في الزمان الحالي كائن في السموات والارض ليس بشيئ، ولي چې دا جمله تاکيد د عالم الغيب لپاره ده، وعلم الغيب ليس مخصوصًا بزمان دون زمان كما هو المشرب الاعذب لاهل السنة و الجماعة. بيت:

برو علم يک زره پوشيده نيست ..... که پيدا و پنهان به علمش يکی است

وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۙ

او نه کوچنۍ تر ذره او نه لوی تر ذره.

سوال: ذالک خو اشاره و ذرة تانيث دی، نو په ذالک څرنګه اشاره ورته وسوه يعنې تلک يې نه ووايه؟

ځواب: ذرة خو مؤنث غير حقيقي دی اشاره په مذکر او مؤنث دواړو ورته روا ده كما ثبت في محله.

پوه سه: چې د کتاب مبين معنى روح البيان په لوح محفوظ سره کړې ده وعلى هذا يشكل امر الاستثناء لان الاستثناء بعد النفي اثبات فيكون المعنى لايعذب مثقال ذرة ولا اصغر منه ولا اكبر ولكن يعزب عنه في كتاب مبين، وهذا معنى فاسد.

دروېش وايي: چې سراج بلقيني ؒ وايي چې ولا اصغر ولا اكبر عطف سې پر ماقبل چې استثناء دي د محذوف څخه وي، والتقدير ولا شيئ الا في كتاب مبين، ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برخه اخلي، مثلاً که مقتدی د مسجد چي دی يعني شاګرد يې امام ؤ هغه مقتدی د شاګرد د استاذ په عداوت کي ؤ، شاګرد هم د خپل استاذ په عداوت کي لپاره د مراعات د مقتدي چي ته ده تنخوا يا زکوة مثلاً ورکوي سرګرم کوشان وي.

مسئله: په حديث شريف کي راغلي دي چي که د چا مور او پلار مړه وه په داسي حال کي چي د هغه سړي څخه ازار وه او دی ژوندی ؤ فليستغفرلهما ويتصدق لهما (يعني طلب د بخښني دي کوي د مور او پلار لپاره او خيرات دي پسي کوي) حتی يکتب بارًا لوالديه، ومن زار قبر ابويه او احدهما في کل جمعة او احدهما کان بارًا (يعني اذا کان يمکن للولد زيارتهما في کل جمعة)

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا

او که کوشش وکړی او طلب وکړی له تا څخه مور او پلار تا چي ته شريک کړه ايها المؤمن يعني په عبادت کي هغه شی چي عبارت له بتانو څخه دی وغير ذالک من الملائکة والشمس والقمر چي تا لره نسته ای مؤمنه په شرک د هغو د خدای ﷻ سره علم. نو په دې باره کي د مور او پلار په خوله مه کوه، ولي حق د خدای ﷻ غالب دی پر حق د هر چا، کما ورد في الحديث قال رسول الله ﷺ لاطاعة للمخلوق في معصية الخالق، رواه احمد والحاکم في المستدرک عن عمران والحکم بن عمرو الغفاري او په بخاري او مسلم او په سنن ابی داؤد والنسائي عن علي ؓ نحوه.

والحاصل: ته ای مؤمنه څرنګه به د مور او پلار په خوله کوې په هغه شي کي يعني الشرک چي تاته يې بطلان په دلائلو قاطعه وو سره ثابت دی.

وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا

او ته ای مؤمنه ژوند کوه او ګذاره کوه د دغه مور او پلار سره چي دوی تاته دعوت د شرک د رکوي په دنيا کي هغه چي معروف په شرع کي وي يعني شرع او عقل سليم يې قبلوي.

مسئله: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي پر مؤمن واجب ده نفقه د مور او پلار چي فقيران وي که څه هم کافران وي، وجاء في حديث اسماء بنت ابی بکر ؓ چي زما مور مدينې ته راغله او دا مشرکه وه په هغه زمانه کي چي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المحفوظ ای المظهر لکل شیئ وانما کتب علی عادة المخاطبین لا مخافة النسیان ولیعلم انه لم یقع خلل وان اتی علیه الدهر وهذه الجملة مؤکدة لنفي العزوب انتهی بعبارته، ددې عبارت حاصل دادی چې نه غائبېږي له علمه څخه د خدای ﷻ کذا وکذا خو بیا سره د هغه خدای ﷻ په لوح محفوظ کې مسطور او ولیکل سوه لکه د خلګو چې عادت دی چې یو شی که څه هم دده علم پر وي خو بیاهم په یو خط کې ولیکي چې نبایده هېر مي نسي، په خدای پاک کې که څه هم هېره متصور نه ده لکن پر عادت د خلګو په لوح مفحوظ کې مثبت او مسطور وګرځول فافهم هداک الله ﷻ.

دروېش وایي: چې اخفش چې د بصرې د نحاتو نامورې سړی دی او له کوفیانو څخه فراء چې الا په معنی د الواو دی فتقدیر الکلام کانه قیل لایعزب عنه ذالک ای مثقال ذرة الی قوله ولا اکبر وعند ذالک قد تم الکلام وهو في کتاب (دا معنی د الا په دې توجیه کې هم علماؤ ډېرې خبرې کړې دي او په دې توجیه راضي دي، السراج البلقیني ﷺ.

لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

چې خدای ﷻ جزاء یعني ثواب ورکړي و هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وي او خصلات صالحات یې هم کړي وي.

پوه سه: چې دا جمله علت ده لقوله لتأتینکم او بیان دی د باعث پر اتیان د یوم القیامة.

أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٤﴾

دغو کسانو لره بخښنه ده د بعض تقصیراتو چې په اداء د حقوقو د عبودیت ددوی څخه واقع سوي وي (ولي اداء د ټولو حقوقو د عبودیت متعذر بل غیر ممکن) او رزق دی حسن په جنت دار السرور کې چې نه به تعب پکښې وي په عوض کې د ما اتوا به من الحسنات وتفضلاً من الله ﷻ.

وَالَّذِينَ سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ

او هغه کسان چې دوی کوشش کاوه زمونږ په آیاتو کې د قرآن چې باطل یې کړي او د خلګو رغبت له هغو څخه مصروف کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "والذين سعوا" موصول عطف دی پر موصول اول، او دا موصول لکه موصول اول مفعول دی د ليجزي و التقدير ليجزي الذين، چې دوی کوشش کاوه.

پوه سه: چې "معاجزين" حال مقدره دی له ضمير څخه د "سعوا" ای مقدرين عجزنا يعني چې مورږ به عاجزه کړي له عقاب څخه، ولي چې ددوی عقيده خو داوه چې لابعث ولا عقاب.

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ۝

دغو کسانو لره دی من رجز، قتادهؒ وايي چې رجز سوء العذاب ته وايي، نو کلمه د من بيانيه ده.

پوه سه: چې د اليم معنی ذو الم ای مؤلم پر صيغه د اسم فاعل له بابه د افعال.

فائده: ابن کثير، حفص او يعقوبؒ "اليم" په رفع سره وايي، صفت د عذاب يې بولي، او نور قراء يې په جر وايي، صفت يې بولي د رجز.

وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ

او پوهږي هغه خلک چې علم ورکړل سوی دی، چې مؤمنان د اهل کتاب دي لکه عبدالله بن سلام او دده ملګري او د اکازامنؓ، او قتادهؒ وايي چې مراد له اتوا العلم څخه اصحاب د رسول اللهﷺ دي و من تبعهم باحسان الی يوم القيامة، والمعنی يعلم هؤلاء وقت مجئ الساعة انه الحق عيانا كما علموه في الدنيا بالبراهين الدالة المذكورة في القرآن.

فائده: لفظ د يرلی محلاً منصوب دی عطف دی پر يجزي يعني ترلام جاره لاندې چې کلمه د ان ورسره مقدره ده لان الحروف الجارة لاتدخل على الفعل المضارع بدون تقدير ان كما تقرر في النحو، فالتقدير ولان يعلم.

الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ

هغه کتاب چې نازل کړل سو وتاته له جانبه د رب ستا.

پوه سه: چې موصول سره د صله مفعول دی د يرلی، لفظ د هو مبتداء ده او الحق يې خبر دی او جمله منصوب محلاً ده، دوهم مفعول د يرلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: جمله د يرلۍ چي يې راوړه غرض يې استشهاد دی پر هغه کسانو چې سعوا في آياتنا الخ چې جاهلان او مشرکان د مکې وه.

وَيَهْدِيٓ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝٦

او هدايت دی ولاري ته د غالب خدای ﷻ فيما اراد چې محمود دی يعني يحمده الناس، والمراد به الاسلام.

پوه سه: ضمير په "يهدي" کې يا راجع دی و لفظ الله ته او يا ما انزل اليک چې قرآن دی، او يهدي عطف دی پر الحق، والتقدير هو الحق وهو يهدي آه.

سوال: الحق خو مفرد دی او يهدي خو جمله ده، فکيف العطف؟

ځواب: محل د اعراب چې وي عطف روا دی.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا

او وايي هغه کسان چې کفر يې اختياره کړی دی، دا جمله عطف ده پر قال الذين کفروا السابق، او د منځ جملې يې تولې معترضات وې.

پوه سه: چې مراد د الذين کفروا څخه کفار د قريش دي او دوی يو وبل ته خطاب کاوه پر طريقه د تعجب او استهزاء.

سوال: چې دا "قال الذين کفروا" عطف سي پر "قال الذين کفروا" کمامر، نو د ضمير راوړل په اخصر نه وای، يعني وقالوا؟

ځواب: تصريح په کفروا چې يې وکړه او عطف د مظهر په ځای کې د مضمر چې يې وکړی لپاره د بيان د مناط د حکم د دوی د خبرو يعني هل ندلکم آه، يعني د دې خبرو د دوی کفر معلوم سي يعني چې صراحةً دا معلومه سي.

هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ

آيا دلالت کنيم ونشان دهم شمارا بر شخص، په پښتو: تاسي ته دروښيو داسي سړی،

پوه سه: چې مراد له رجل څخه د دوی محمد ﷺ دی، او تعبير دده مبارک څخه چې په رجل سره يې وکړی د باب څخه د تجاهل د عارف دی، يعني دوی ځانونه داسي واچول چې په عليه الصلوة والسلام ماسوی له دې څخه چې رجل دی بل څه نه پيژني،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او سره ددې چې قبل دعوى الرسالة قريشو و عليه الصلوة والسلام ته امين مكة وايه:
وليس قولك من هذا بضائره ..... العرب تعرف من انكرت والعجم

يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ

"ينبئكم" صفت د رجل دى اى يخبركم باعجب العجائب.

پوه سه: چې لفظ د كل منصوب دى على المصدرية لاضافته الى المصدر الميمي چې ممزق دى، والمعنى چې تاسي مړه سئ او اجساد مو پاره پاره سي په كامل تمزق سره يعني حتى صرتم ترابًا.

إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۞

جمله د انكم آه منصوب ده په تقدير د قول يعني يقول انكم لفي خلق جديد يعني متصرون في خلق جديد، وبالفارسية: درآفرينش نو خواهد بود وزنده خواهد شد، په پښتو: تاسي به په نيوي پيدائښت كي راسئ يعني ژوندي به سئ.

أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَمْ بِهِ جِنَّةٌ ۗ

پوه سه: چې دلته دوه همزه وه اول همزه د استفام ؤ دوهم همزه د وصل ؤ، نو همزه د وصل حذف سو چې دده استغنا راغله په همزه د استفهام.

سوال: همزه د وصل كه څه هم له لفظ څخه حذف سي لكن په خط كي خو باقي وي؟

ځواب: د خط څخه حذف په خلاف د قياس دى تبعًا لرسم المصحف العثماني.

پوښتنه: يو همزه چې ويل كيږي په تلفظ كي نو څوك څه پوهيږي چې دا جمله استفهاميه ده او كه خبريه؟

ځواب: چونكه دا همزه په فتح ويل كيږي، نو كه همزه د وصل واى په كسره به ويل كيدای، نو معلومه سوه چې باقي همزه د استفهام دي، نو التباس د خبر او استفهام دفع سوه، بخلاف اذا كان همزة الوصل مفتوحة لكه همزه د لفظ الله چې همزه د استفهام پرې داخله سي نحو ءالله امرك بهذا كما وقع في الحديث الصحيح الطويل للبخاري وغيره، يا الذكر چې همزه د استفهام پرې داخل سي نحو ءالذكر كما وقع في القرآن العزيز، يا الئن چې همزه د استفهام پرې داخل سي نحو ءالئن فان هناك لاتحذف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

همزة الوصل بل تبدل الفا ويمد ١٢، لانه لو حذف همزة الوصل ويبقى همزة الاستفهام وقع الالتباس بين الخبر والاستفهام، ولي دواړه مفتوح دي، نو يو حذف سي، نو څوک څه په پوهېږي چې دا جمله خبريه ده او که استفهاميه انشائيه ده.

پوه سه: چې كذبًا مفعول مطلق دی د افترى لان الافتراء نوع من الكذب وهو الكذب عن تعمد.

ترجمة الآية: آيا ده يعني محمد (ﷺ) په قصد ترلي دي پر خداى ﷻ درواغ يعني په دې خبر كي د بعث بعد الموت ولو صار الميت ترابًا، يا دده سره جنون او لهونتوب سته چې په وهم كي يو خبر ورسي هغه تر خوله راباسي.

دروښ وايي: چې ابو عمر الجاحظ المعتزلي وايي چې د دې آيت څخه دا معلومه سوه چې د صدق او كذب ترمنځ واسطه سته يعني داسي كلام به وي چې نه به صادق وي او نه به كاذب وي، دی وايي چې كافرانو د قريشو چې اهل لسان العربية وه اخبار د عليه الصلوة والسلام بالبعث بعد الموت حصر كړی په افتراء على الله او په كلام د من به جنون، نو دوی په ام به جنة سره دا مراد نه دی ام صدق لانه بعيد بمراحل عن اعتقادهم، نو كلام د من به جنة نه صادق دی او نه كاذب، ولي چې دده په عقيده افتراء په معنى د مطلق كذب ده، نو څرنګه د ام به جنة څخه چې مقابل د افتراء دی كذب مراد وي؟ والجواب عنه: افتراء چې په معنى د مطلق كذب نه ده بلكې الكذب عمدًا ده كمامر، نو د كفارو په عقيده كي خو اخبار د عليه الصلوة والسلام بالعبث والنشور كاذب خو دی، لكن ترديد يې په دې وكړی چې درواغ دي په قصد وايي او كه بې اختياره لكه خبر من به جنون، نو دا حصر دی د خبر كاذب ددوی په خيال في نوعيه وهو الكذب عمدًا او خطاء نو كلام من به جنة واسطه نه ده بين الكذب المطلق والصدق فافهم فانه دقيق كذا في المطول وروح المعاني والمظهري، قال الله تعالى جوابًا لكلامهم.

بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيدِ ﴿٨﴾

كلمه د بل اضراب دی ددوی له قول څخه يعني لم يفتر وليس به جنة بلكې هغه كسان چې ايمان پر آخرت نه لري چې هغه مشتمل پر بعث بعد الموت او پر عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په عذاب کي دي يعني په آخرت کي او په لويه ګمراهي کي دي او لهري والي کي دي له حق څخه په دنيا کي.

فائده: توصيف د ضلال چې يې وکړی په بعيد سره مجازًا دی لان الاصل ان العبد عن الحق في الدنيا صفت د ضال دی فيکون کقولهم مبالغة شعر شاعر، وروسته خدای پاک شروع وکړه په دليل کي د صدق د عليه الصلوة والسلام في الاخبار عن البعث والنشور والعذاب لمن انکر ذالک فقال:

أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ

آيا دوی نه ګوري (الاستفهام للانکار ونفي النفي اثبات يعني وينې، او هم لپاره د تو بيخ ددوی دی وکلمة الفاء للعطف علی مقدر کما هو القانون وقد مر ذالک مرارًا، تقديره ههنا اعموا فلم يروا، آيا دوی ړانده دي فلم ينظروا) ای الی ما احاط بجوانبهم يعني چې د مخ په خوا کي چې د مابين ايديهم ترجمه ده او د شا په خوا کي چې د ما خلفهم معنی ده، والمراد الاحاطة بجميع جوانبهم، له اسمان او مځکي څخه يعني دغه شيان چې په مشاهده کي حاضر دي چې اسمان او مځکه ده.

پوه سه: چې من السماء والارض بيان دی د ما بين ايديهم آه، يعني دغه شيان توله پر قدرت تامه د صانع مختار او پر کمال قدرت دده تقاضا لري چې بعث بعد الموت هم د خدای ﷻ د قدرت له دائرې څخه خارج نه دی، نو تاسي څرنګه حکم په استحاله کوئ ... بيت:

برګ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردګار

فکيف بالسماء والارض، او څرنګه مخبر په بعث بعد الموت سره چې رسول الله ﷺ دی تاسي يې تکذيب کوئ يا څرنګه حکم د جنون پر کوئ او سره ددې چې مخبر مذکور ﷺ په کامل صفاتو د کمال من العقل الکامل والصدق المعروف تاسي يې پيژني حتی چې تاسي به دی دمخه تر دعوی د نبوت آمين مکه باله، نو دا ستاسي خبري نه دي مګر ضلال بعيد من الحق، نو دا جمله دليل ده لقوله تعالی بل الذين لا يؤمنون الآية، وروسته تر بيان د ضلال ددوی خدای ﷻ دوی پيروي في ما هم عليه من الضلال المبين بقوله:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ ۚ

كه زمونږ اراده وي پر موجب د جناياتو ددوی، نو په مځکه به يې ننباسو يعني لکه قارون په وخت کي د موسیٰ ؑ، وبالفارسية: فرو بريم ايشان به زمين، يا به مونږ را ايله کړو تهوټې د وريځي پر دوی.

پوه سه: چي کسف لکه قطع لفظًا ومعنًى جمع د کسفة ده لکه قطعة، په مفردات کي وايي چي د کسفة معنى قطعة ده يا د وريځي يا د پنبهؤ ونحوها من الاجسام المتخللة، ومعنى کسف من السماء اسقاط قطع من النار، په صورت کي د وريځي کما وقع لاصحاب الايكة وهو قوم شعيب ؑ چي دوی ښه درختي او باغونه درلوده، چونکه د شعيب ؑ د توحيد دعوت يې نه ومانه، نو اولاً خداى ﷻ پر دوی سخته ګرمي مسلطه کړه چي دوی د ګرمي له کبله په غارو او زېر زمين ننوتل، وروسته خداى ﷻ ښه وريځ پيدا کړه دوی له غارو څخه راووتل او داسي يې وويل هذا عارض ممطرنا، نو د اور باران شروع سو، تهوله يې وسوځل، او بعض مفسرين وايي چي مراد له کسف من السماء څخه تهوټې د دبرو دي له جانبه څخه د اسمان لکه پر قوم لوط وه اوربدلې، حاصل د کلام الهي دادی چي قريش سره د ليدو د آياتو بيناتو پر صدق د دعوی د رسالت مآب محمد المصطفىٰ ﷺ او په صدق کي د دې خبري دده چي بعث بعد الموت راتلونکی دی، دوی زما د قدرت د دائرې څخه د عذاب نه سي وتلای، ولي چي شاوخوا اسمان پر را ګرځېدلی دی هر ځای چي دوی وي مقهور او مغلوب زما د قدرت دي، او ددوی کړه وړه مستحق د دې دي چي يا يې په مځکه کي خسف کړم لکه قارون يا د دبرو باران پرو کړم لکه قوط لوط يا د اور باران پرو کړم لکه قوم د شعيب ؑ.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ۝٩

په تحقيق په دغه کي چي دوی يې وينې من السماء والارض، دلالت واضحه دی پر قدرت د خداى ﷻ او پر جواز د بعث بعد الموت وجواز تعذيب من كفر بالنار، هر بنده لره چي رجوع و خداى ﷻ ته وکړي، يعني په زړه سالم سره من وساوس الشيطان الرجيم وتقليدًا الآباء، ابراهيم بن ادهم قدس سره وايي اذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صدق العبد في توبته صار منيبًا لان الانابة ثاني درجة التوبة، او ابو سعيد القرشي ؒ وايي چي منيب هغه څوک دی چي راجع سي د هر هغه شي چي دی مشغوله کوي له خدای ﷻ څخه و خدای ﷻ ته، وقال بعضهم الانابة رجوع منه تعالى اليه اى من غضبه و عقابه الى رحمته و غفرانه.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ؕ

كلمة اللام مؤطئه لقسم محذوف اى والله په تحقيق موږ ورکړی ؤ وه داؤد ؑ ته زمونږ له خوا فضيلت اى على كثير من عباده المؤمنين على قياس قوله تعالى حكاية عن سليمان ؑ الحمد لله الذي فضلنا على كثير من عباده المؤمنين.

فضائل داؤد ؑ (۱) النبوة (۲) الكتاب يعني الزبور (۳) سلطنت (۴) حسن الصوت (۵) نرم والی د اوسپنې په لاس کي دده (۶) صنعت د زغرې وغيره ذالک.

بوه سه: چي فضلاً مفعول به دی د آتينا او منا په تقدير د كائنًا حال مقدم دی له فضلاً څخه.

فائده: فضلاً يې ووايه له دې جهته چي دا ټوله مذكوره شيان فضل د خدای ﷻ دي يعني احسان اذ لا وجوب على الله تعالى.

يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ

دا بدل دی له فضلاً څخه يا له آتينا څخه په تقدير د قلنا يا جبال.

بوه سه: چي اوب رجوع ته وايي، يعني تسبيح وايا ست سره د داؤد ؑ هر وخت چي دی رجوع و تسبيح ته وکړي، او بعض مفسرين وايي چي د اياب معنى تسبيح ده يقال اوب اذا سبح فان المسبح يرجع الى الله معرضًا عن غيره، او وهب بن منبه ؒ وايي ژاړي سره د داؤد ؑ يعني چي دی ژاړي تاسي هم ژاړئ.

فائده: په قدرت د خدای ﷻ ډبرو د غرو به هم هغسي تسبيح ويله لكه داؤد ؑ چي به ويله، او دا معجزه د داؤد ؑ په حديث صحيح كي راغلی دی چي څو دانو سنګرېزو په لاس كي د عليه الصلوة والسلام تسبيح وويل چي حاضرينو واورېدل بيا چي عليه الصلوة والسلام هغه شګې په لاس كي د ابوبكر ؓ هورې يې هم تسبيح ويله وفي رواية ثم في يد عمر ؓ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: نداء و شي ته فرع د فهم د هغه د والجبال جمادات؟

ځواب: روح المعاني وايي لايبعد اى عن قدرته تعالى انه تعالى خلق فيها اى الجبال الفهم اولاً ثم ناداها كما ينادى اولوا الفهم وامرها اى الجبال بقوله اوبي معه وكذا قال بعض اجلة المفسرين انه سبحانه تعالى نزل الجبال منزلة العقلاء الذين اذا امرهم الله اطاعوا واذعنوا واذا دعاهم سمعوا واجابوا اشعاراً ودلالةً على عزة الربوبية وكبرياء اللوهية، بانه ما من حيوان وجماد الا وهو منقاد لمشيته تعالى غير ممتنع عن ارادته تعالى.

دروښ وايي: چي بعض مفسران چي د عقل صرف په کړې کي بند دي وايي چي داؤد ؑ چي به تسبيح په زوره ويل له غرو څخه به ازانګه اورېدل کېدل، او چي ده به ژړل له غره څخه به ازانګه د ژړا اورېدل کېدل، انتهى.

وفيه نظر لان الصدى (اى ازانګه) ليس بصوت الجبال حقيقة بلكې له آثارو څخه د صوت د متكلم دى، كما ثبت بالبرهان، او بل سوال دا پر وارد دى چي صدا يعني آزانګه اختصاص په داؤد پوري نه لري بلكې هر انسان چي په زوره نعره وکړي په غره کي ازانګه اوري يعني مثل صوته.

دروښ وايي: چي روح البيان وايي چي د اوب معنى سير بالنهار هم راغلي ده، نو ده ويلي دي چي غرو ته خداى ﷻ امر ورکړى وُ چي تاسي روان اوسئ هره خواته چي داؤد ؑ يې وغواړي آه، روح المعاني دا توجيه رد کړې ده چي غرونه خو اوتاده د محكي دي ولم ينقل سيرها مع داؤد ؑ او غيره، كريمه: وجعلنا الجبال اوتاداً.

دروښ وايي: چي د غه رنګه په حديث صحيح کي راغلي دي چي محكه چي د اوبو پر مخ کښېښوول سوه حركت يې کاوه نو خداى پاک جبال ثوابت پر پيدا کړه نو محكه و درېدل.

پوه سه: چي "والطير" معطوف على الجبال، او مرغانو ته هم دا امر وُ اوبى مع داؤد ؑ، روح البيان وايي چي والطير منصوب دى عطف دى پر فضلاً، والمعنى وآتينا داؤد الطير اى سخرنا له الطير چي دده د تسبيح سره به دوى هم تسبيح ويله او مظهري وايي چي الطير معطوف دى پر جبال، والمعنى يا جبال اوبي مع الطير، او نصب يې بنا عطفاً على محل الجبال چي منادى دى يا مفعول معه والتقدير يا جبال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوبي مع الطير او بعض قراءيې په رفع سره وايي حملاً على لفظ الجبال.

وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ ﴿١٠﴾

او موږ نرمه کړځولې وه و ده ته اوسپنه حتى اوسپنه به په لاس کي دده لکه موم داسي وه يا لکه خمير اوړه هر شى چي به يې ځني جوړاوه نه اورته حاجت وُ او نه ضرب ته د سندان ضرورت وُ، بغوي وايي چي ددې سبب داوُ چي داؤد ﷺ چي مملکت د بني اسرائيلو په لاس کي واخستى، نو عادت دده دا وُ چي خلګو ته راوتى د شپې په غير د لباس شاهي چي په عربي يې متنکر بولي، نو ده چي به داسي سړى وليدى چي دى به يې نه پيژندى، نو داؤد ﷺ به ور نژدې سو چي سړيه ته د داؤد ﷺ چي سلطنت د بني اسرائيلو په قدرت کي لري څه خيال لري، نو هر سړي به يې مدح کوله او دده د سلطنت به يې ډېره مننه کول يعني چي ډېره ښه حکمراني کوي، اخيراً يوه ملکه خداى پاک په صورت د سړي په مخه وروستل، داؤد ﷺ حسب العادة د هغې ملکې څخه چي پر صورت د سړي وه پوښتنه وکړه چي د داؤد په سلطنت او حکمراني کي ستا څه عقيده ده؟ ملکې ورته وويل نعم الرجل هو لو لا خصلة فيه، يعني ښه سړى دى داؤد که يو خوى نه واى پکښې! قال داؤد ﷺ وما هي؟ هغه خوى څه شى دى يا عبد الله؟ ملکي ورته وويل چي انه يأكل ويطعم عياله من بيت المال، نو داؤد ﷺ پوه سو چي دا خبره خو معقوله خبره ده نو د خداى ﷻ څخه يې سوال وکړى چي ماته داسي سبب را برابر کړې چي په هغه زه مستغني وګرځم د بيت المال له خورګه څخه او په هغه سبب زه او عيال زما به د عمل اليد خورک کولاى، نو خداى ﷻ ورته نرمه کړه اوسپنه او ده ته يې تعليم د صنعة اللبوس وکړى يعني د زغرو جوړېدل.

تاريخ وايي: چي اول صانع د زغرو داؤد دى، نو ده چي به يوه زغره جوړه کړه په څلور زره روپۍ يې خرڅوله، نو له هغو روپو څخه به يې د عيال نفقه ورکوله، او چي تر نفقه دده او عيال به بالا سوه هغه به يې فقراء او مساکينو ته ورکوله، او بعض اهل تاريخ وايي چي داؤد ﷺ به هره ورځ يوه يوه زغره جوړول او په شپږ زره درهم به ئې خرڅول دوه زره درهمه به يې په عيال خرڅول او څلور زره بې په فقراؤ او مساکينو خرڅول، په حديث شريف کي چي روايت يې مقدام بن معديکرب کړى دى قال قال رسول الله ﷺ ما اكل احد طعامًا قط خيرًا من ان يأكل من عمل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يديه وان نبي الله داؤد ؑ كان يأكل من عمل يده، رواه البخاري واحمد.

أَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ

پوه سه: چي كلمه د ان مصدريه ده والفعل مقدر اى امرناه بعمل "سٰبِغٰت" اى دروعًا كوامل واسعات طوال يجرها لابسها على الارض وقدر في السرد، اوته اندازه لكوه په جوړولو كي د زغرو.

پوه سه: چي سرد ګنډل دي د پوست د يو شي لپاره لكه سړى چي د ګيدړ پوستونه سره ګنډي او چپنه ځني جوړوي، بيا دا لفظ استعماره سود ودلو د زغرو لپاره.

فائده: اندازه د زغرو د جوړولو داده چي الغي د زغري به سره مناسب وي او مبخونه بې پر اندازه د الغو وي يعني نه به يې مبخونه ډير نري وي چي بيا زغره كښته ځړيږي نه به ډير پنه وي چي بيا الغي ماتوي، وهذا معنى قوله وقدر في السرد.

وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱﴾

تاسي عمل كوئ اى داؤد ؑ واهله "صالحًا" اى عملاً خالصًا لوجه الله تعالى چي صالح د قبول په دربار كي د خداى ﷻ وي.

فائده: دا لفظ يا منصوب دى مفعول به دى او يا مفعول مطلق دى كما لايخفى "اني بما تعملون بصير" والمعنى اني بما تعملونه كه ما موصوله او عائد يې محذوف سي او يا بعملكم كه كلمه د ما مصدريه سي، والمعنى فأجازيكم به عن ابى هريرة ؓ ان الله طيب لا يقبل الا طيبًا.

فائده: په دې آيت كي يعني واعملوا آه، او په يو بل آيت كي يا ايها الرسل كلوا من الطيبٰت واعملوا صالحًا، خداى ﷻ مؤمنان او رسولان په يوه دول سره امر كړي دي يعني لكه مؤمنان چي مامور دي په اعملوا صالحًا سره اني بما تعملون بصير، دغه رنګه رسولان يې په ورته امر مأمور كړه.

فائده: شيخ سعدي ؒ وايي:

بيا موز پرورده را دست رنج ..... وگر دست دارى چو قارون گنج
بپايان رسد كيسۀ سيم وزر ..... نگردد تهى كيسۀ پيشه ور

فائده: اهل الله وايي چي خاصيت د نامه ده "بصير" داده چي سړي ته خداى ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توفیق ورکوي د اعمالو د خیر کي یو سړي دمخه تر لمانځه د جمعې یا بصیر (۱۰۰) واره همېشه وایي فتح الله بصیرته و وفقه لصالح القول و العمل وان کان الانسان لایخلوا عن خطاء

وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ

او د سلیمان[۴] لپاره مو هواء مسخره کړه "غدوها شهر" یعني جریها بالغدو و یعني من الصباح تر زوال پورې د یوې میاشتې مزل وُ پر مځکه للراکب المسرع "ورواحها شهر" یعني وروسته تر زوال تر غروب الشمس د یوې میاشتې للجواد المسرع قال الحسن[ح]، دی به سهار له دمشق څخه راهي سو غرمه بې په اصطخر کي تېروله وبینهما شهر، بیا له اصطخر څخه روان سو شپې ته به بابل ته ورسېدی وبینهما شهر، او بعض وایي چې د نهار نهاری یعني د ورځې د څانښت دوه ډی به یې په ری کي و کړی چې د ایران په سرزمین کي دی، او د مابنام دوه ډی به یې په سمرقند کي خوړله.

وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ

عطف علی سخرنا لسلیمان الریح، یعني خدای[ح] جاري کړي وه د میسو چې ویلي به وه له معدن څخه، نو دا میس به داسي رابهېدل لکه او به چې د یوې غټې چینې څخه راوځي، بغوي[ح] وایي چې اهل تفسیر وایي چې د میسو چینه د یې شبانه روزه جاري وه من الیمن کجری الماء و کانت بالیمن، دی وایي چې خلګ نفع په میسو په نتي زمانه کي اخلي هغه میس دي چې په زمانه کي د سلیمان[۴] راوتلي وه.

دروښ وایي: چې په ټوله نړۍ کي د میسو ډېر غټ او کوچني دېګونه او غټې و کوچنۍ ګډوي سته، غرض دا چې د میسو غیر متناهي لوښي سته، نو دا عقل نه قبلوي چې د ټولي نړۍ د میسو لوښي دي د هغو میسو څخه وي، وقد مضی زمان سلیمان[۴] الی الآن الوف من السنوات، البته که مراد دا وي چې په یمن کي میې لوښي د هغو درو ورځو د میسو څخه دي، نو امکانات یې سته فافهم.

دروښ وایي: چې په غرو کي د نړۍ معدنیان د میسو سته چې خلګ یې راباسي که څه هم رابهېږي خو نه لانه کان معجزة لسلیمان[۴]، در حدیث صحیح آمده که رسول الله ﷺ جعفر رضی الله عنه بیک غزا فرستاد و امارت جیش باو داد ولوای اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدست او بود کفار حلمه کردند ویک دستش بینداختند، جعفر رضی الله عنه لوأ اسلام بدست دیگر گرفت و کفار یک حمله دیگر آوردند و دیگر دستش بینداختند، پس ازان (۷۹) زخم بر بدن مبارک وی کفار زند تا شهید شد، او را بخواب دیدند و به او درخواب گفتند ما فعل الله بیدیک؟ گفت عوضني الله من اليدين جناحين اطير بهما في الجنة حيث اشاء مع جبرئيل و ميكائيل[۴].

درویش وایي: چي له دې سببه ده ته جعفر طیار وایي، اسماء بنت عمیس رضی الله عنها وایي چي یو وخت رسول الله ﷺ ولاړؤ چي نابیره یې وعلیکم السلام ووایه، اسماء بنت عمیس رضی الله عنها وایي چي ما ورته وویل چي چاته دي سلام ووایه یا رسول الله[۴] زه خو څوک نه وینم چي تاته دې السلام علیکم ویلی وي؟ رسول الله ﷺ وویل چي جعفر بن ابی طالب ؤ چي د جبرئیل او میکائیل په همراهي په هوا تېرېدله ماته یې السلام علیکم ووایه، ما یې ځواب ورکړی.

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ؕ

او بعض د پېرانانو دي چي کار به یې کاوه په حضور کي د سلیمان[۴].

پوه سه: چي پر تقدیر ددې چي الریح مرفوع سي کما مر وجهه، نو موصول سره د صلې یعني من یعمل آه مبتداء ده خبریې محذوف دی ای مسخرة او من الجن حال دی د ضمیر مستکن په یعمل چي راجع و من ته دی، نو دا عطف د جمله اسمیة دی پر جمله اسمیة باندي، او پر هغه تقدیر چي الریح منصوب وویل سي، نو دا موصول سره د صلې یعني من یعمل آه معطوف دی پر الریح باندي او من الجن یې حال مقدم دی، والتقدیر وسخرنا له من یعمل بین یدیه حال کونهم من الجن "باذن ربه" ای بامره وحکمه تعالی او یا بارادته تعالی وتسخیره، او حرف جر متعلق دی په یعمل پورې.

وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿۱۲﴾

که به چا اعراض او عدول وکړی له جنیاتو څخه زمونږ له امر څخه (یعني چي موږ دوی امر کړه چي د سلیمان[۴] اطاعت به کوئ) نو موږ به وځکو یعني وبه رسوو له عذاب څخه د اور په آخرت کي کما قال اکثر المفسرین وروی ذالک عن ابن عباس رضی الله عنهما او بعض مفسرین وایي چي مراد له عذاب السعیر څخه عذاب د اور دی په دنیا کي، له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سدي رح څخه روایت دی چي د سلیمان علیه السلام یوه ملکه وه چي په لاس کي یې د اوردُرّه وه، نو هر جني چي به د سلیمان ؑ نافرماني وکړه ملکي به هغه پیري په هغه دره وواهه چي جني به ملکه نه لیدل نو په اور به وسو او هلاک به سو او د نورو به عبرت سو.

سوال: جنیات خو له اوره پیدا دي، نو په اور څرنګه سوځي؟

ځواب: جني خو خالص اور نه دی بلکې غالب د عناصرو پکښې اور دی لکه د آدم ؑ اولاد غالب عنصر خاوره ده، نو دا سوال نه وارد ږي چي بني آدم چي د خاورو په خښته څوک ووهي ګاهي ځني هلاک سي فافهم.

دروښ وایي: چي مظهري رح وایي چي که خدای ﷻ اراده لري له جنیاتو څخه عمل د سلیمان ؑ لپاره نو بیا څرنګه جنیات تخلف کولای سي له امر څخه د خدای رح چي مراد ځني اراده ده، نو تخلف د مراد دارادې څخه د خدای رح خو محال دی کما ثبت في محله، وروسته مظهري رح دوه داسي ځوابونه ورکړي دي چي عقل سلیم اباء ځني کوي.

دروښ وایي: چي مظهري رح په خپل ځان دا سوال پیدا کړی دی چي تفسیر د امر یې په اراده سره وکړی، او بل مفسر تفسیر د امر في قوله عن امرنا په اراده سره نه دی کړی، وهذا روح المعاني یقول ای ومن یعدل منهم عما امرناه به من اطاعة سلیمان آه، وهذا روح البیان یقول ومن یعدل من الجن ویعمل عما امرناه به من طاعة سلیمان ؑ ویعصه، او دا خو اظهر من الشمس خبره ده چي له امر څخه د خدای رح مخالفت او سرغړونه خو ممکنه نه ده بلکې واقع ده، کما في الکفار والعصات فتدبر، او فقیر په خپل وارهم ورته تفسیر کړی دی.

يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ

دوی جوړول یعني جنیاتو د سلیمان ؑ لپاره چي د سلیمان ؑ به خوښ وه " من محاریب " جمع د محراب ده او صیغه د منتهی الجموع ده، نو غیر منصرف ده، ولي چي صیغه د منتهی الجموع قائم د دوو سببو ده د عدم انصراف کما ثبت في النحو، نو له دې سببه سره د دخول د حرف جر مفتوح ویل کیږي.

پوه سه: چي " یعملون له " جمله استینافیه ده او یا حال ده له فاعل څخه د یعمل قوله تعالی ومن الجن من یعمل آه، په قاموس کي وایي چي المحراب الغرفة ای لوړه خونه، وصدر البیت واکرم مواضعه ومقام الامام من المسجد،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والموضع الذي يتفرد فيه الملک عن الناس انتهى، په مفردات کي وايي چې مقام د امام ته چې محراب وايي لانه موضع محاربة الشيطان والهوى.

فائده: په دې آيت کي له محاريب څخه مراد محکمه کلاوي دي او رفيع القدر مساجد دي او استوګن ځايونه شريفه دي، بغوي ؒ وايي چې جنياتو د سليمان ؑ لپاره بيت المقدس جوړ کړی دی، د بيت المقدس ابتدائي بنا خو داؤد ؑ کړې وه يو قامت دېوالونه چې يې پورته کړه وحي ورته راغلې چې د بيت المقدس اتمام د بناء ستا پر لاس زما مقدر نه ده لکن دا بناء چې پای ته رسوي ستا زوی به وي چې نوم به يې سليمان وي، نو د داؤد ؑ عمر چې (۱۴۰) کاله سو او امارات د مرګ ورته معلومي سوې، نو سليمان ؑ يې خپل جای نشين او خليفه وګرځاوه، نو سليمان ؑ چې اراده د بيت المقدس وکړه نو جنيات او شيطانان يې جمع کړه او پر دوی يې کارونه تقسيم کړه، نو هري طائفې ته ددوی يې هغه عمل وسپاری چې په هغه کي صلاحيت د هغه عمل ؤ، نو بعض جنيات او شيطانان يې په دې سره مأمور کړه چې تاسي سپين سنګ مرمر له خپلو معادينو څخه را وکاږئ، اول يې د بيت المقدس د بنار په بناء شروع وکړه په رخام او سنګ مرمر سره، د بنار دېوال يې دوولس حصې کړی پر هره حصه يې يو قوم د بني اسرائيلو موظف کړی چې بني اسرائيل هم دوولس سبط وه، د بيت المقدس د بنار بناء چې په لوړه سطح پای ته ورسېدل، نو بيا يې د مسجد په بناء پيل وکړی او شيطانان يې ډله ډله وګرځول، يوه ډله يې پر استخراج د سرو زرو، سپينو زرو او د ياقوتو د خپلو معادنو څخه وګمارل، او داغه رنګه د صافو ملغلرو له درياب څخه، او بل ګروپ يې پر جواهراتو او قيمتي ډبرو موظف کړی له خپلو معادينو څخه، او بله ډله يې وټاکل چې تاسي به مشک او عنبر راوړئ او نور قسم قسم خوشبويه مواد د خپلو ځايو څخه د اشيانو تولې تکميل سوه چې شمېر او مقدار يې خدای ؒ ته معلوم دی، او سليمان ؑ وروسته بنايان او معمار باشان حاضر کړه هغو امر وکړی چې دا غټې ډبرې دي وتراشل سي او تختې تختې دي وګرځول سي او د جواهراتو دي هم اصلاح وکړي او ملغلرو او ياقوت ته دي سوري ورکړي، نو د مسجد د دېوال بناء يې رخام، ابيض، اصفر او اخضر وګرځوله، او ميلان يې د صافو سرو او سپينو زرو او بام يې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تختو د جواهراتو قیمتي ؤ جوړ ؤ، او دېوالونه یې ښائسته کړي وه په ملغلرو او په یاقوت وسائر الجواهرات او محکمه د مسجد اقصیٰ په تختو د فیروزو وه، حاصل دادی چې په ټوله نړۍ کې یو څومره خوبصورت او ښائسته او روښانه او قشنګ د بیت المقدس تر مسجد نه وه چې په تاریکه شپه کې داسې برېښېدله لکه سپوږمۍ د څورلسم، تاریخ وایي چې سلیمان[۴] چې فارغه سوله بناء څخه د مسجد د بیت المقدس، نو سلیمان[۴] علماؤ ته د بني اسرائیلو مهماني جوړه کړه او په ضمن کې د مهمانۍ یې ورته وویل چې دا مسجد ما د خدای ﷻ لپاره جوړ کړی او هر شی چې په دې مسجد کې دي هغه خالصةً لله دي، او دغه ورځ د فراغ ده له مسجد څخه د بیت المقدس دوی د اختر په توګه ولمانځل.

تاریخ قدیم خبرې کوي چې ولادت باسعادت د سلیمان[۴] د غزې په ښار کې ؤ او ده ته مملکت د پلار ورسېدی چې عمر یې دوولس (۱۲) کاله ؤ په څلور کاله کې د سلطنت چې د موسیٰ[۴] تر وفات وروسته (۵۳۹) کاله تېر سوي وه ده په عمارت د بیت المقدس لاس پورې کړی، او له خدای ﷻ څخه یې ددې خواست وکړی چې (۱) زما حکم اجتهادي ستا د حکم سره برابر وګرځوه (۲) ماته داسې سلطنت راکړه چې تر ما وروسته یې وچاته ورنه کړې (۳) دې مسجد ته چې څوک راسي لایرید الا الصلوة فیه ته یې له مسجد څخه داسې وباسې د ګناه څخه پاک لکه هغه ورځ چې مور زېږولی ؤ، په حدیث کې خو راغلي دي چې د سلیمان[۴] اول دوه سوال دغو یقیناً قبول دي او زه امید لرم چې درېیم سوال به یې هم خدای ﷻ قبول کړی وي.

تاریخ وایي: چې سلیمان[۴] په مسجد کې د بیت المقدس زر (۱۰۰۰) قاریان د بني اسرائیلو مقرر کړه، پینځه سوه (۵۰۰) د ورځې او پینځه سوه د شپې، نو یو ساعت د ورځې یا د شپې به خالي له قرائت او عبادت څخه د خدای ﷻ نه تېرېدی او بیت المقدس پر دغه شان او شوکت پاته ؤ (۴۵۳) کاله حتی خربته بخت نصر بابلي وقصته طویلة کما ذکرنا قبله، تاریخ قدیم وایي چې دا فراغ د سلیمان[۴] له بیت المقدس او د هبوط د آدم[۴] له اسمانو څخه (۴۴۱۴) کاله تېر سوي وه، والفاصل بین عمارة سلیمان[۴] لبیت المقدس والهجرة النبویة المحمدیة ﷺ تر منځ (۱۸۰۲) کاله وه، تاریخ وایي چې شیطانانو د سلیمان[۴] ته عجائبې محکمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كلاوي جوړ کړي وې په يمن کي په ډبرو .... بيت:

نه بر باد رفتی سریر سلیمان عليه السلام .... بآخر ندیدی که برباد رفت

مسئلة شرعية في تزيين المساجد:

پوښتنه: آيا د مسجد ښائسته کول روا دی په سرو يا په سپينو زرو ونحوهما من الجواهر و اللؤلؤ؟

الجواب: قال بعضهم مکروه لان فيه اضاعة المال، و قال ابن عباس رضي الله عنه په خطاب کي و مسلمانانو ته لتزخرفنها کما زخرفت اليهود و النصاری، تاسي به ښائسته کوئ مساجد لکه يهود او نصاری، وجه الکراهة ان في تزيين المساجد مشابهة لليهود و النصاری، وفي الحديث الصحيح ان من اشراط الساعة ان تزيين المساجد الحديث، وقال بعضهم هو قربة لما فيه من تزيين المساجد، و قصة سليمان عليه السلام يؤيد هذا القول، قال صاحب الهداية وهذا اذا فعل من مال نفسه واما المتولی فيفعل من مال الوقف مايرجع الی احکام البنا دون مايرجع الی النقش حتی لو فعل يضمن من مال نفسه، او ابن الهمام په فتح القدير کي وايي: لاشک ان الدفع الی الفقير اولی من تزيين المساجد وعند اکثر علمائنا لابأس بأن ينقش المسجد بالجص و الساج و مأ الذهب، وقوله لابأس به يشير الی انه لايؤجر به لکن لا يأثم به قال ابن الهمام محل الکراهة التکلف بدقائق النقوش ونحوه خصوصًا المحراب او التزيين مع ترک الصلوة و اللغط فيه (يعني بې فائدې خبرې) و الجلوس لحديث الدنيا و رفع الاصوات.

دروښ وايي: چې مظهري پر خلاف د صاحب الهداية چې په اتفاق د اهل مذهب و درجې ته د اجتهاد رسېدلی دی او پر خلاف د اکثرو علماؤ چې مظهري په خپله اقرار په کړی دی کمامر خپل خلاف ظاهر کړی دی، واما حديث انه لايؤجر به په تفسير کي د لابأس به چې مظهري راوړی دی.

دروښ وايي: انه لا يعلم الغيب الا الله يعني چې د دې مزين المسجد نيت په جص او په ساج او په ماء الذهب سره څه دی، خدای ج په خبر دی، وفي الحديث المشهور انما الاعمال بالنيات آه، نو له دې څخه دا معلومېږي چې نيت په دې بارہ کي دېر کار فرما دی والله اعلم.

بناء علی هذا د فقير شخصي رايه داده چې يو سړی د څټو يو عادي مسجد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جوړ کړي او نیت یې رضا الهي نه وي بلکې ریاء وسمعه وي هغه ته خدای ﷻ ثواب نه ورکوي، او که یو بنده د خدای ﷻ د رضا لپاره او لپاره د تعظیم دشعائر الله که دېوال او سقف د یو مسجد یو د سرو زرو او بل د سپینو زرو وي او مځکه یې په ډېرو قیمتي قالینو فرش کړې وي او ډېر قیمتي څراغان پکښې ځوړند کړي وي او پرته د دقیقه نقوشو نور ټوله همه و همه زېب او زینت پکښې وي ان شاء الله العزیز العلیم بنیات العباد خدای ﷻ به په جنت کي داغسي زېبا او قشنګ قصرور کړي بلکې اعلی قدرًا منه والله علی کل شیئ قدیر وبالاجابة جدیر، انما الاعمال بالنیات وانما لامرءٍ ما نوی، الحدیث رواه البخاري في اول صحیحه.

درویش وایي: چي په اوسني حالت کي چي څوک بناء د حرمینو شریفینو ملاحظه کړي چي څومره په اعلی سطح تمبې دي او په منقش ډول یې بام مسطح دی او مځکه یې په څرنګه سنګ مرمر فرش ده او پر فرش سربېره څومره قیمتي قالینونه اوار دي، او په حدیث شریف کي چي راغلي وه: لتزخرفنها ای المساجد آه کما مر تشبیهه والله اعلم په دې کي ده چي یهود او نصاری ګرجې او عبادت خانې صرف او صرف د سیل لپاره جوړې سوي دي له عبادته خالي دي او د تورات یا د انجیل چي د دوی کتابونه دي له قرائت څخه هم خالي دي، او په هغه بل حدیث کي چي راغلي وه ان من اشراط الساعة تزیین المساجد، والله اعلم هغه تزیین دی چي فقط ظاهري تزیین وي او له عبادته خالي وي چي تزیین معنوي او حقیقي د مساجدو دی، دا وه د فقیر شخصي رایه، حاسد ان چي هرڅه وایي دوی دي وایي.

وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ

پوه سه: چي تماثیل جمع د تمثال ده وهو الصورة علی مثال الغیر قال الضحاک کانت صور حیوانات، روح المعاني، وقال الزمخشري کانت صور الملائکة والانبیاء والصلحاء چي په مساجدو کي دوی درولي وه یا به د میسو وه یا به د ژیړو وه یا به د سنګ مرمرو وه یا به د ښیښې وه تاچي خلک یې وویني، نو دوی هم هغسي عبادت وکړي لکه د هغو، وکان الصور في ذالک الشرع جائزًا، کما قال الضحاک وابو العالیة رح انتهی قول الزمخشري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او روح البيان هم اول داغسي تفسير کړی دی، او ده دا هم زياته کړې ده چې حرمت د تصاويرو شرع جديد ده، دی وايي چې وکان اتخاذ الصور کان قبل هذه الامة المرحومة مباحًا وانما حرم على هذه الامة لان قوم رسولنا ﷺ يعبدون التماثيل اى الاصنام على صورة الانسان وغيره من ذوى الارواح فنهى عن الاشتغال بالتصوير. وفي الحديث الصحيح: من صور صورة (اى من ذى روح لا الشجر والحجر كما يدل ما بعد الحديث) فان الله تعالى معذبه حتى ينفخ فيه الروح (خداى ﷻ دى په عذابوي دى تر هغو چې دى روح پکښې پوه کي) وليس بنافخ فيها ابدًا. انتهى قول روح البيان.

دروېش وايي: چې حکيم الترمذي په نوادر الاصول کي له ابن عباس ؓ څخه روايت کړی دی چې ده د دې آيت په تفسير کي داسي وويل، چې سليمان ؑ د ميسو د انسانانو تصاوير جوړ کړي وه او خداى ﷻ ته يې خواست وکړی چې په دې کي روح پيدا کړې، نو دوی به په جنګ او خدمت کي تر انسانانو اقوی وي، نو خداى پاک خواست قبول کړی او روحان يې پکښې پوه کړل او هغه به دده خدمت کاوه، دی وايي چې اسفنديار روئين تن له بقاياؤ څخه د هغو دی. او دا قول قرطبي هم په خپل تفسير کي راوړی دی، لکن نسبت يې وابن عباس ؓ ته نه دی کړی، انتهى قول الحكيم الترمذي بزيادة قول القرطبي من تفسيره من عند هذا الفقير، روح المعاني وايي: وهذا من عجب العجاب ولاينبغي اعتقاد صحته ونقله من رئيس المفسرين عبد الله بن عباس ؓ، وما هو الا حديث خرافة انتهى قول روح المعاني.

دروېش وايي: چې مظهري ؒ د دې تولو روايتو پر سر منکر دی، او دی وايي چې تماثيل ذوی روح شيانو په هيڅ امت کي نه دي روا سوي، بلکې دی وايي چې په قرآن کي چې تماثيل په قصه کي د سليمان ؑ راغلي دي مراد ځني تماثيل د غير ذى الروح دي، دی وايي ولهذا قال ابن عباس ؓ فان كنت لابد فاعلا فاصنع الشجر وما لا روح فيه (كالمنارة والمسجد وغير ذالك).

دروېش وايي: چې روح البيان او ابو العالية والضحاک چې داسي ويلي دي بالاتفاق چې اتخاذ التماثيل په مخني شرائعو کي روا وه که څه هم د ذى روح وي بلکې د انسان وي، زمونږ په شرع کي حرام سوه يعني منسوخ سوه، مظهري دا تولې په دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبارت سره رد کړي دي: وهو خبر (يعني دا مذکور په قصه کي د سليمان[۴] خو اخبار دی) والخبر لايقبل النسخ (يعني نسخ خو د انشاء کېږي چي امر وي يا نهي) انتهى قول المظهري[رح]، د فقير نقل وظيفه ده، انصاف ستاسي په لاس دی، د فقه شريفي بعض ضروري او عام النفع احکام دادي، مکروه ده چي فوق الرأس د لمونځ کونکي او يا د مخ وخواته او يا پر برابر دي يو تمثال وي، او اشد کراهةً چي امام المصلی دي ثم فوق رأسه ثم علی يمينه ثم علی يساره ثم خلفه، وقيل لو کان خلفه لايکره لانه لايشبه عبادة الصنم، وفيه اهانته ولو کان تحت قدميه لايکره لکن وجود د تمثال په خونه کي مکروه دی، ولي په خونه کي عبادة کېږي او ځای د عبادت بايد له داسي شي څخه پاک وي چي مانع د دخول د ملکو وي او مستحب دی، فقهاء وايي چي دا کراهت هلته دی چي تمثال لوی وي، پر داسي ډول چي کتونکي ته نه بنکاره کېږي په اول وار ېپله فکر وهلو او که تمثال صغير وجداً چي تمييز د اعضاؤ يې نسواى کېدای هغه مکروه نه دی، فان الصغير جداً لايعبد، او که يې سر پرې ؤ يا کراهت نه لري.

سوال: د هر سړي په جېب کي لوتو نه سته، نو دا به کراهت نه وي او سره د دې چي پر هر لوټ باندي د باچا د هغه ملک بت سته؟

ځواب: هغه خو پوره تمثال نه دی، فقهاء وايي چي تمثال که تر داسي ځايه پوري ؤ چي پر هغه ځای انسان پرې کړې حيوة يې ممکن نه وي، نو هغه مکروه نه دی، او پر لوتو چي تمثال د بادشاه موجود دی تر داسي ځايه پوري دی چي پر هغه ځايه ژوندی پرې کړې امکان د حيوة يې نسته، البته که د تمثال صرف پښې پرې وې نور بدن يې پوره ؤ هغه مکروه دی، ولي د سړي چي پښې پرې سي امکان د حيوة يې سته کما لايخفی، وقس عليه مقطوع اليدين، او که په پرش کي تصويرونه موجود وه پر هغه فرش لمونځ روا دی چي پر بت مسجده نه کوي، ولي چي په فرش اهانت دی د تمثال.

دروېش وايي: چي دا ؤ مشت نمونه خروار د بيان د فقهاؤ[رح] په باره کي د تمثال.

"وَجِفَانٍ" جمع د جفنة ده په معنی د کاسې چي خلق ډوډی پکښې خوري، بعض اهل لغت وايي مطلقاً يعني که لوی وي او که کوچنی، او بعض اهل اللغة وايي چي جفنة اعظم القصاع ته وايي، او وروسته لفظ د قصعة دی وهي ما تشبع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مما فيها من عشرة نفر، وروسته بيا لفظ د صحفة دی وهي ماتشبع الخمسة، وروسته بيا لفظ د وهي ما تشبع الاثنين و الثلاثة، وروسته بيا لفظ د صحيفة دی وهي ماتشبع واحد، والظاهر چي مراد له جفنة څخه مطلق دی ليفيد قوله تعالى.

كَٱلْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَٰتٍ

"كالجواب" جمع د جاية ده چي لوی حوض ته وايي. فالمعنى كالحياض العظام، راوي وايي چي فراخي د جفانو د سليمان دا اندازه وه چي پريوه جفنه يې زرو کسانو خورک کاوه، روح البيان وايي (والله اعلم) چي د سليمان[۴] په مطبخ هره ورځ دوولس زره پسونه حلالېدل او زر غوايي ذبح کېدل دوولس زره نان بايان وه او دوولس زره اصلاح کونکي د اوړو وه او د وړولو د ډوډۍ په دغو جفنو کي لکثرة القوم، راوي وايي چي عبدالله بن جدعان چي له رئيسانو څخه د قريشو ؤ او د عائشة الصديقة[رضي الله عنها] د اکا زوی ؤ، دومره لويه جفنه يې وه چي پر اوښ سپور سړي به هم خورک ځني کولای سوای، او ډېر خلک به ددې جفنه و سايې ته ناست وه، راوي وايي چي يوه ورځ يو کوچنی ودغه جفنه ته ولوېدی پکښې غرق سو.

پوه سه: چي "قدور" جمع د اقدر ده وهو مايطبخ فيه اللحم وغيره چي په پښتو يې کتهو يا دېګ بولي که د خاورو څخه وي او که د ډبري څخه او که د ميسو څخه وغيره څخه وي "راسيات" پر خپل ځای ثابتي وي له يوه ځايه بل ځای ته نسي نقل کېدای، لثقلها وعظمتها، پښې يې ورکړي وي چي نه له ځايه بنورېدې نه راکښته کېدلې او نه به معطل وي يعني چي غوښې وغيره پکښې پخېدلې او دې کتهو ته چي بنورو يا غوښې به يې ځني راکښلې پر زينو به ورختله، دا کتهو په يمن کي له غرو څخه شيطانانو سليمان[۴] ته جوړ کړی ؤ، وقيل كن يعني دا کتهوي لکه مناسب غرونه.

ٱعْمَلُوٓا۟ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكْرًا

"واعملوا" په تقدير د قول ای قلنا لسليمان[۴] واتباعه، دا جمله مستأنفه ده: او عمل کوئ ای آل د داؤد چي مراد ځني سليمان دی شکرًا.

نکته: شکرًا يې نکره راوړی لپاره د تقليل، ولي چي کثير شکر موافق له نعمتو سره خارج عن طاقة البشر بل عن طوق کل مخلوق من الجن والملائكة ..... بيت:

عطايست هر موی را برتنم .... چگونه به هر موی شکری منم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي شكرًا منصوب على العلية يعني عمل خالص د شكر الهي لپاره پر نعم جليله ؤ د خداى ﷻ كوي لالاجل الرجاء او الخوف، او يا مفعول مطلق دى د اعملوا لان الشكر نوع من العمل، او بعض علماء وايي چي اعملوا په معنى د اشكروا دى، نو شكرًا يې مفعول مطلق دى لالبيان النوع، او بعض مفسران وايي چي شكرًا حال دى په تأويل د اسم الفاعل اى اعملوا شاكرين لله، لان الشكر يعم فعل القلب و الجوارح، او يا منصوب دى صفت د مصدر محذوف دى اى اعملوا عملاً شكرًا.

درويش وايي: چي پر هر تقدير ابن ابى الدنيا او البيهقي په شعب الايمان كي له ابن مسعود ﷺ څخه روايت كړيدى چي دا امر الهي يعني اعملوا آل داؤد شكرًا چي سليمان ؑ واتباعه المؤمنين ته وويل سوه، نو داسي يو ساعت پر قوم د داؤد ؑ نه دى راغلى مگر څوک پر لمانځه ولاړ وه، او په يوه روايت كي راغلي دي كان مصلى آل داؤد لم يخل من قائم يصلى ليلاً ولا نهارًا، او خلک به فوج فوج په نوبت سره مصلى داؤد ته راتله و كان سليمان يأكل خبز الشعير بلا ادام (لكه بنوروا) دون الشبع او مساكينو ته يې د غنمو د اوړو ډوډى ورکوله، او له ده څخه چا پوښتنه وكړه چي ته ولي اوربشينه ډوډى په ډک نس نه خورې؟ ده په ځواب كي ورته وويل چي بيا مي وږي خلک هير يږي.

وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴿١٣﴾

درويش وايي: چي چونكه الشكور صيغه د مبالغې ده يعني الشكر بلسانه وجوارحه في اكثر الاوقات بلا فتور فيه، ځكه خداى ﷻ وويل قليل من عبادي الشكور.

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ

پس هغه وخت چي موږ حكم وكړى پر سليمان ؑ د مرګ.

درويش وايي: چي قصه د موت د سليمان ؑ الى اخيرها تولو مفسرينو په تفصيل سره بيان كړې ده صرف په عبارتو كي لږ تفاوت او فرق سته، يعني روح المعاني او روح البيان تفسير مظهري حتى مولوي معنوي جلال الدين الرومي ؒ په ښو موزونو بيتو سره راوړې ده چي د تولو پښتو ژباړه داده، بغوي ؒ وايي چي اهل العلم باحوال سليمان ؑ چي د سليمان ؑ عادت دا ؤ ځان يې ساتى په مسجد كي د بيت المقدس يعني لپاره د عبادت گاهي يو كال گاهي دوه كاله گاهي يوه مياشت گاهي دوې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میاشتي ګاهي اقل من ذالک ګاهي اکثر ډوډی، او اوبه هوري ورورل کېدل، نو په دغه کال چي دده اجل را نژدې سو، هره ورځ دده په محراب کي د بیت المقدس به یوه درخته شنه وه سلیمان به د هغې درختي څخه پوښتنه کول چي ستا نوم څه شی دی؟ هغې درختي به په کلام فصیح په قدرت د خدای ﷻ خپل نوم وروښو، بیا به سلیمان ؑ ورته وویل لای شیئ انت یعني په تاکي څه حکمت د خدای ﷻ ستا او نفع یا ضرر دي څه دی، هغې درختي به خپل ټول حال ورته بیان کړی، نو که هغه درخته د شنوایي قابله وه د هغې درختي نهال به یې په خارج کي د مسجد شین کړی، او که کوم وانبه یا درخته به د دوا لپاره وه هغه بې نوشته کړه ثم وثم حتی چي یوه ورځ یوه نابلده درخته په محراب کي ولیدل. سلیمان ؑ ورته وویل چي ستا نوم څه دی هغې ورته وویل خروبة، سلیمان ؑ ورته وویل چي حکمت په تاکي څه دی هغې ورته وویل خراب ستا د مسجد دی، فقال لها ما کان الله لنخربه چي زما مسجد دي خدای ﷻ خراب کړي چي زه ژوندی یم یعني سلیمان ؑ په دې پوه سو چي زما د مرګ وخت را نژدې سو، نو هغه درختیي د محراب څخه و کښله په یو باغ کي یې شنه کړه، د دې لپاره چي دا درخته چي خزان ته نژدې کېږي هغو مره زما اجل را نژدې کېږي لکن سلیمان ؑ خدای ﷻ ته خواست و کړی چي زما د مرګ نښه له جنیاتو څخه پټه وساتې حتی چي انسانان په دې پوه سي چي جن لا یعلمون الغیب، چي دمخه به پیریانو وه انسانانو ته ویل چي موږ به غیب سره خبر یو متی شاء ویعلمون ما في علم الله من الحوادث او عزرائیل ؑ ته ده وویل چي زما د مرګ وخت چي را نژدې سي ما به خبروې، نو اخیر عزرائیل ورته راغلی ورته وه یې ویل قد بقی من عمرک الی موتک ساعة نو سلیمان ؑ شیطانان راوغوښته چي ما ته د ښیښې خونه جوړه کړئ او د محراب پر برابر یې یو سوری د مخ له خوا او بل د شا له خوا ورکړی چي زه تر معلو مېږم، بیا سلیمان ؑ محراب ته داخل سو، نو پر لمانځه ودریدی او پر لکړه یې تکیه و کړه نو په ولاړه یې عزرائیل ؑ روح واخستی او وفات سو، او جنیات په خپلو سختو کارو چي دده په ژوند کي به یې کول بخت ؤ، نو جنیانو چي به تر هغه سوري ورته وکتل دی به پر لمانځه په خیال ورغلی جنیاتو به طول قیام دده بد کار نه بولی چي سلیمان ؑ ولي نه وځي، ولي طول صلوة د سلیمان ؑ ګاهي ګاهي دوی ته معلوم ؤ، نو اوس یې هم هغه خیال ؤ حتی چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنیاتو یو کال پوره وروسته تر وفات د سلیمان۴ په خپل شاقه اعمالو بخت وه، تر هغه وخته چې خدای پاک وایي:

مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ

ښوونه ونه کړه دوی ته، پر مرګ د سلیمان۴ مګر هغې دابه چې نوم یې ارضة ده چې په پښتو یې وینه بولي او په فارسي یې دیوک بولي او په اردو یې دیمک بولي، وهي دابة صغيرة تأكل الخشب والكتب وغير ذالك مضرة غاية الضرر للبيوت التي بنيت سقوفها على الخشب يعني چې بام یې پر لرګو او تیرانو بناوي او هغه کتابونه هم خوري چې پر مځکه پراته وي یا په یو دربند کې پراته وي.

پوه سه: چې ارض مصدر دی د ارضت الخشبة بالبناء للمفعول ای اكلها ارضة (وینه) فهو من اضافة الشئ الى فعله (يعني دابة الارض) لكه بقرت الحرث.

تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُۥ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلْجِنُّ

چې وخوړل دابة الارض لکړه د سلیمان۴، نو تأكل حال دی د دابة الارض څخه او منسأت لکړي ته وایي من نسئات الغنم ای زجرتها و سقتها بالعصاء "فلما خر تبينت الجن" هغه وخت چې سلیمان۴ پر مځکه ولوېدی میشا پیرانانو ته دا معلومه سوه.

أَن لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ٱلْغَيْبَ مَا لَبِثُوا۟ فِى ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿١٤﴾

"ان مخففة" د مثقل دی اسم یې ضمیر شان محذوف دی ای انه، که دوی په پټ شي خبر وای لکه مرګ د سلیمان۴ دوی به درنګ نه وای کړی په عذاب اهانت درلوونکی مسخرین لسلیمان۴ وهو میت ویظنونه حیًا.

دروښ وایي: چې زمانه د موت سلیمان او د جنتیاتو په خپلو سختو کارو بخت وایي، یو کال وروسته دوی ته دا څرنګه معلومه سوه چې یو کال کېږي چې سلیمان۴ مړ دی؟

خواب: دوی یو بنه او روغ لکړي ته دوه درې وینه ورایله کړه هغو چې هره اندازه لکړه خوړلې ده له هغه څخه یې حساب وکړی، نو لکړه د سلیمان۴ په یوه کال کې وینو خوړلې وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ان لو کانوا آه بدل اشتمال دی د الجن څخه، والتقدیر فلما خر میتًا تبین ان لو کانوا یعلمون الغیب یعني ظهر عدم علم الجن بالغیب علی الناس، ولي چي پیرانانو خو به پخوا و انسانانو ته ویل چي موږ په غیب خبر یو و یؤید هذا التأویل قرائة عبدالله بن مسعود وعبدالله بن عباس ؓ، تبینت الانس (ای علمت) ان لو کانوا (ای الجن) یعلمون الغیب ما لبثوا في العذاب المهین.

دروښ وایي: چي چا معنی د آیت داسي کړې ده علمت الجن ان لو کانوا یعلمون الغیب آه، دا توجیه ډیره بعیده ده، ولي چي جن خو د مخه پر خپل جهل علم درلودی یعني چي موږ په غیب نه یو خبر بلکي ده د علم غیب دعوی په نېزد انسانانو کوله، روح البیان د آیت معنی پر بعید ډول کړې ده لکن په تصحیح د هغې ترجمې ډېر تکلیف کړی دی فارجع الیه، البغوي ؒ وایي چي تاریخ قدیم داسي وایي چي د سلیمان ټوله عمر (۵۳) کاله ؤ، او مدت د سلطنت (۴۰) کاله ؤ او دی په عمر کي د دیارلس کلنۍ سلطنت ته ورسېدی او د بیت المقدس په تعمیر څلور کاله د سلطنت چي تېر سوه شروع وکړه... بیت:

هـمه مـلک و دولت پذیر و زوال.... بجز ملک فرمان دهی لایزال
نه دیدی که برباد رفتی سریر سلیمان.... بآخر نه دیدی که برباد رفت

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ

ای والله چي ؤ سبا لره په ځای کي د اوسېدو ددوی دلالت ؤ پر کمال قدرت زموږ او پر وجوب د شکر ددوی موږ لره.

پوه سه: چي بعض قراء د سبأ په زور د همزه وایي بې تنوینه لانه غیر منصرف باعتبار العلمیة التانیث لانه صار اسمًا للقبیلة او نور قراء یې په جر وایي سره د تنوینه لانه منصرف لان سبا کان اسم رجل ففیه علمیة فقط، بغوي ؒ وایي: روی ابو سبرة النخعي عن ذروة بن مسک، قال قال رجل یا رسول الله ﷺ اخبرني عن سبا کان رجلاً او امرئة، یا نوم د مځکي ؤ؟ قال رسول الله ﷺ کان رجلاً من العرب چي دده لس زامن وه چي شپږ د یمن پر خوا ولاړه او څلور یې د شام پر لور ولاړه، هغه چي د یمن پر لور ولاړه (یعني اوس د هغه اولادونه قبیله ځني جوړه سوې ده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۱)الكندة (اسم قبيلة) (۲) والاشعريون (نوم د قبيلې دی) (۳) ازد (دا هم قبيله ده) (۴) مدحج (دا هم قبيله ده) (۵) انمار (چې اوس قبيله ده) (۶) حمير (چې د قبيلې نوم دی) يو سړي پوښتنه ځنې وکړه چې انمار څوک وُ؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل الذين منهم خشعم ويحيلة، او هغه څلور چې شام ته ولاړه (۱)عاملة (چې اوس نوم د قبيلې دی) (۲) جذام (چې هغه هم اوس قبيله ده) (۳)لخم (چې دا هم قبيله ده) (۴) وغسان (چې دا هم اوس د قبيلې نوم دی) كذا اخرج احمد وغيره، او له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې مرفوع و عليه الصلوة والسلام ته دی سبا بن يشجب بن يعرب بن قحطان دي، او په شرح کې د قصيدة د عبدالحميد بن عبدون لعبد الملک بن عبدالله بن بدرون وايي چې دد وی اصل نوم ولي سبا دی راوي وايي چې: سبا بن يشجب اول له ملکو څخه د يمن دی اصل نوم يې عبدالشمس وُ و انما سمی سبا لانه اول من سبی السبی يعني مينځيانې يې په جنګ کې له طرف مقابل څخه راوستلې، سلطنت يې (۴۸۴) کاله وکړی.

پوه سه: چې که له سبا څخه هغه رجل مراد وي كما مر فالكلام على حذف مضاف ای لقد كان في اولاد سبا او که قبيله ځنې مراد سي نو حذف ته د مضاف ضرورت نسته.

جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ؕ

پوه سه: چې مراد له جنتانو څخه دوه شخصي باغونه دي كما يدل عليه ما بعده او د اعراب له لاري جنتان يا خبر د مبتداء محذوف دي، تقدير الاية جنتان او يا بدل دي له آيت څخه والمآل واحد "عن يمين" يعني جماعة وُ عن يمين البلد "وشمال" او جماعت وُ پر طرف د شمال البلد، او بعض مفسرين يې معنی داسې کوي چې هر سړي لره دوه باغونه وه يو د کور پر راسته طرف وُ او يو پر چپه طرف، دده مسکن غرض دادی چې اهل سبا ته خدای ﷻ دپر نعمتونه ورکړي وه.

كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ

خورک کوئ له رزق څخه د خدای ﷻ عبارت دی له مهوو څخه د جنتانو، او شکر د خدای ﷻ وایاست پر دغه رزق او نعمت باندې يعني اعملوا بطاعته لانهم قالوا النعمة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صيد والشكر قيد كريمه: لئن شكرتم لازيدنكم وان كفرتم ان عذابى لشديد.

سوال: د كلوا امر دوى ته چا كاوه؟

ځواب: عبارت په تقدير د قول دى اى قال لهم نبيهم كلوا الخ، او په تفسير مجمع البيان كي نقلاً عن الغير وايي چي د اهل سبا ديارلس وطنونه او بنارونه وه، او په هر وطن كي نبي وُ يدعوهم الى الله ﷻ يقول كلوا آه، روح المعاني، روح البيان، امام رازي، تفسير خازن او مظهري عليهم السلام وايي چي قول دوى ته په لسان قال نه دى بلكې په لسان حال دى يعني دل الحال على انهم احقاء بان يقال لهم ذالك.

بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿١٥﴾

"بلدة طيبة" دا بيان د موجب د شكر ويلو و العبارة بتقدير المبتداء يعني بلدكم هذا بلدة طيبة اى كثير الثمر چي بنره مځكه هيڅ نه وه پكښې، سدي او مقاتل ؒ وايي چي بنځي به پر سر ټوكرۍ راواخستل او په دې جنتو كي به تېربدل ټوكرۍ به يې د قسم قسم فواكه وُ او مېوو ډكه سوه بيله دې چي دې په لاس يو درخته مسه كړې وي، ابن زيد ؒ وايي چي د اهل سبا په وطنو كي نه غوماشي، نه شپږه او نه كيكه او نه لړم او نه مار حتى چي د خارج سړى چي به راغلى د دوى وطن ته او په كالو كي به يې شپږي وې هغه به ټولي مړې سوې وذالك لطيب الهواء.

"وَرَبٌّ غَفُوْرٌ" قال مقاتل ؒ رب غفور للذنوب ان شكرتم فيما رزقكم، وهب بن منبه ؒ وايي چي خداى ؒ و اهل سبا ته ديارلس نبيان ور واستول چي دعوت و خداى ؒ ته ور كړي او نعمتونه د خداى ؒ يې دوى ته ذكر كړه او د خداى ؒ له عذابه يې وبپرول يعني كفرتم نعمه.

فَأَعْرَضُوْا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ

"فاعرضوا" دوى د انبياء عليهم السلام خبره ونه منل او د دوى تكذيب يې وكړى او وې ويل ما نعرف نعمة الله علينا، او انبياؤ ته يې وويل چي تاسي رب ته ستاسي وواياست چي دا نعمتونه كه ده موږ ته راكړي دي خپل نعمتونه دي پر موږ بند كړي كه يې طاقت لري (نو موږ مسلط كړى پر دوى يعني اهل سبا باندي سيل العرم.)

دروښ وايي: چي دا نقل كه صحيح وي نو دوى مشركان نه وه بلكې دهري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المذهب خلک وه چي د صانع اکبر څخه منکر وه، والله اعلم.

پوه سه: چي عرم مشتق دی یعني ماخوذ دی من عرم الرجل اذا ساء خلقه وصعب، او له دې سببه یې ابن عباس رض تفسیر په شدید سره کړی دی، او اضافت د سیل وعزم مثلثة الراء اضافت وموصوف ته یعني سیل چي سخت ؤ.

دروښ وایي: چي د سیل لفظ مشترک دی د عربي او د پښتو، او بعض نحات وایي چي اضافت د موصوف و صفت ته روا نه دی، هغه تأویل داسي کوي ای سیل الامر العرم یعني سخت، او یا یې معنی داده سیل المطر الشدید یعني معنی د عرم المطر الشدید ده، فالاضافة علی ظاهرها، بعض مفسرین وایي چي دا باران د متعارف باران څخه مخالف ؤ یعني سرې اوبه وې لکه وینې ارسل الله علیهم من حیث شاء، او بعض مفسرین وایي چي رم د یوې شپلې نوم دی چي په منځ کي د اهل سبا تېره سوې وه، او بعض مفسرین وایي چي عرم بند ته وایي چي په عربي یې مسناة بولي لکه په افغانستان کي د دالې بند یا د هلمند د ګرشک بند او بعض مفسرین وایي چي عرم جراز ذکر یعني د یو نوع د صحرایي موږکانو نوم دی چي په پښتو یې خانې بولي، فاضافة سیل الی العرم ته پر دې تقدیر لپاره د ادنی ملابست دی، یعني هغه سیل چي بند د هغه موږکانو سوری کړی.

دروښ وایي: چي د دې موږکانو په باره کي روح البیان د هري عجبي او غریبي قصې کړي دي، والله اعلم، کریمه: ولایعلم جنود ربک الا هو، او د دې بند په باره کي اختلاف دی چي باني د دې بند څوک ؤ، امام سهیلي وایي چي باني د دې بند سبا بن یشجب ؤ، والصحیح عند الفقیر قول البغوي رح قال قال ابن عباس وابن وهب وغیرهما چي دا عرم او په بل نامه سد بلقیس جوړ کړی ؤ، سبب د جوړېدلو یې دا ؤ چي د اهل سبا تر منځ به همیشه جنګ ؤ پر اوبو د دې شپلې، نو دوی امر وکړی چي دا شیله دي بنده سي په عرم چي مسنات یې په لغت د حمیر بولي. نو د دوو غرو منځ یې په ډبرو او لوک بند کړی یعني د غرو تر سرو پوري او دې بند ته یې دري دروازې ورکړې یوه لوړه او یوه په منځ کي او یوه کښته، او د سد کښته یې لویه برکة یعني کاسه جوړه کړه و هغې برکه ته یې دوولس څایونه د اوبو ورتلو ورکړه پر عدد د دوولس ولو چي برکه ته راغلي وې، نو خلک اوبو ته د باغو لپاره یا د زراعت لپاره او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوه نو د برکه دروازې به يې خلاصي کړې او چې ضرورت به يې دفع سو د برکه دروازې به يې بندي کړې، چې بارانونه به په يمن کي شروع سوه او تولي شپلې د يمن او په سد کي به تولي اوبه جمع سوې، نو لوړه دروازه د سد به يې خلاصه کړه و برکه ته، نو اهل سبا به له دغو اوبو څخه کار اخستی يعني مځکي به يې په خړوبه کولې باغونه به يې په اوبول چې د اعلی حصه د سد اوبه خلاصي سوې، د دوهمي دروازې اوبه به يې خلاصي کړې اهل سبا به کار ځني اخستی، او چې د هغې دا به هم خلاصي سوې د کښته دروازې د سد اوبه به يې خلاصي کړې د هغې په اوبه به يې ګزاره کول، مطلب دادی چې د کښتي دروازې اوبه به لانه وې خلاصي سوي د نوي کال د بارانو وخت به راورسېدی، بيا به دوی سد کرار کرار بند اوه تر اعلی دروازې پوري، نو تول کال به اهل سبا له اوبو څخه مستغني وه او جنګ او قتل و قتال پر اوبو دفع سو، تر ډېري مدې دا سد محکم ولاړ و او برکه به ډکه وه او ويالې به جاري وې او باغونه او کښتونه د اهل سبا به سرسبز او شاداب وه، فلما طغوا و کفروا کما مر سلط علی سددهم بسبب الجرز فنقب السد من اسفله.

سوال: يوه بري موږک څرنګه دا دومره بند سوری کړی چې دومره اوبه تر راوتلې چې اهل سبا يې غرق کړه؟

ځواب: جزر خو اسم جنس دی، ډېر ورته موږکان به وه چې په مختلفو ځايو کي د سد غاري وکړي چې تر هر غار د سد اوبه رابهېدلې، ځکه روح البيان صيغه د جمع راوړې ده، جرزانا. القصه سد له پيخه څخه مات سو اوبه پر سبا و الو را ايله سوې ډېر باغونه د دوی بلکې ټوله يې ويران کړه، او ډېر خلګ په دې طوفان کي مړه سوه.

دروېش وايي: چې مظهري رح سره د دې چې په احاديثو ناموړی محقق دی په دې ځای کي له وهب رح څخه داسي روايت کړی دی چې نه يې عقل او نه يې نقل موافقت ورسره کړی او سند هم نه لري، او په عين حال کي اثبات د علم الغيب دی وکاهنانو ته د کافرانو، نو فقير له هغه نقله ډډه وکړه و ان شئت مصداق ما قلنا فطالع ص ٢٠ جزء ومن يقنت سورة السبا.

وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ

او موږ بدل کړی دوی ته يعني اهل سبا ته په هغه دوو جماعتو د باغو ددوی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دمخه ذکر په عن یمین وعن شمال سره تپر سو دوه جماعته د باغو یعني عن یمین و عن شمال چې هغه درلونکی د رزق او میوو وه (نو اکل په معنی ماکول، د خمط معنی توروه او ترخه، په قاموس کې وایي الاکل بالضم والضمتین الثمر والرزق وایضًا قال صاحب القاموس من الخمط الحامض او المر (یعني یا توروه یا ترخه)

دروښ وایي: چې ددې آیت څخه دا معلومیږي چې بعض اهل سبا ددې بند د نړیدو وروسته ژوندي پاته سوي وه تاچې مرجع د ضمیر د بدلنهم وګرځي.

وَّاَثْلٍ وَّشَیْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِیْلٍ ﴿۱۶﴾

"واثل" یو قسم دی د غزو او شین غزیانو علی مانقله ابو حنیفة اللغوي في کتاب النبات، قال الاظهري چې سدر دوه قسم دی یو سدر هغه دی چې نفع نه پر اخستل کیږي او میوه یې ترخه ده خورک نه ده، او نه یې په بلګو ویره او سر پرپوله کیږي چې هغه ته ضال وایي، او بل سدر هغه دی چې په باغو کې د اوبو په ذریعه شنه کیږي چې د عناب د درختي مشابه او میوې ته یې په عربي نبق وایي او په پښتو بیری ورته وایي چې په پاکستان کې د هغو درختې ډیري دي او خوړل کیږي که څه هم چندان خوند نه لري، نو بلګونه یې وچ کړي او میده یې کړي اوبو ته یې واچوي څګ کوي سر او ویره په پرپوله کیږي، او دا هغه قسم دی چې د فقه شریفي په کتابو کې وایي چې مړي ته غسل په سدر ورکړئ، په دې کې اختلاف دی چې په دې آیت کې کوم قسم د سدر مراد دی، فقیل چې مراد دوهم قسم دی لان ثمره مما یطیب اکله لکن قلیل یې موصوف کړی فیما بدلو به لانه لو کثر کان نعمت لانقمة ای عذاب.

نکته: دا سدر قلیل یې ولې وکړی تذکیرًا للنعم الزائلة لتکون حسرة علیهم، تاچې ددوی لپاره غم سي په دې معنی چې هغه بنه انګور او انار او مني وغیره ذالک مو په سدر بدل سو چې نسبت و پخوانیو میوو ته هیڅ اریښت نه لري او په عین حال کې هغه سدر هم لږ دی، او بعض وایي چې مراد قسم اول د سدر دی حتمًا لانه انسب بمقام التعذیب لهم ویرد علیه فح ء ای وجه في وصفه بالقلیل لان الکثیر منه انسب بمقام التعذیب لهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ۝

دغه "ذالک" مرفوع المحل مبتداء ده او وروسته جمله يې خبر ده والمعنى دا عقاب او تبديل چې پر اهل سبا مسلط سو موږ دوی ته جزاء او عذاب ورکړی په سبب د کفران د نعمت د خدای ﷻ او يا په سبب د کفر د دوی برسل الله کمامر.

پوه سه: چې "وهل نجازی آه" استفهام انکاري دی، ولهذا صح الاستثناء منه، ترجمه: موږ جزاء او عقاب نه ورکوو يعني داسې جزاء شديد لکه اهل سبا ته چې مو ورکړه کمامر تفصيله الا المبالغ في الكفر لکه اهل سبا (نو کفور صيغه د مبالغې ده) يا مبالغ په کفران کې د نعمت د خدای ﷻ.

فائده: نو پر دې حصر دا سوال نه وارديږي چې مؤمن عاصي ته خو هم ګاهې جزاء د عصيان دده ورکول کيږي په دنيا کې، وجه عدم الورود چې د مؤمن جزاء خو شديد نه ده لکه د اهل سبا وغيرهم من المشرکين والکافرين المنکرين من التوحيد والرسل، والبعث بعد الموت بلکې د مؤمن جزاء د عصيان جزاء ګاهې ناجوړې وې ګاهې مسکنت وې حتى چې ځوزيې په پښه جګ سي يا غځارسي وغير ذالک.

پوه سه: چې بعض قراء لفظ د نجازی په نون د متکلم وايي او په کسره د زاء چې مبني للفاعل سي او کفور پر دې تقدير منصوب دی على المفعولية، او بعض قراء دا لفظ په ياء تحتانية وفتح الزاء يعني په صيغه د غائب او بنا للمفعول نو پر دې تقدير لفظ د کفور مرفوع دی چې قائم مقام د فاعل چې نحات يې مفعول مالم يسم فاعله يې بولي.

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

او موږ وګرځول ("وجعلنا" عطف دی على بدلنا) په منځ کې د دوی ای اهل سبا، او په منځ کې د هغو قريو چې موږ برکت پيدا کړی ؤ يعني ډکې ډکې ويالې درلودې او مېوه داره درختي يې درلودې او فراخې د رزق يې درلوده وهي قرى الشام.

پوښتنه: جعل مذکور في هذه الآية کان سابقًا على التبديل المذکور فکيف ذکره بعد التبديل؟

ځواب: علماء النحو وايي چې کلمه د واو لپاره د مطلق جمع دی بين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعطوف عليه بلا ملاحظة الترتيب كما في العطف بالفاء او التراخي كما في العطف بكلمة ثم، مثلاً چي يو څوک ووايي جائني زيد وعمرو او عمرو دمخه راغلی وي تر زيد دا ترکيب صحيح دی فكذا فيما نحن فيه فافهم.

قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ

قريه وي سره نښکاره يعني سره نژدې وي مو ږ اندازه کړی وُ يعني اسان کړی مو وُ په دې قريو کي تګ راتګ د خلګو يعني چي سهار به راهي سوه له يوې قريې څخه مانښام به هغه بلې قريې ته رسېدل، او ګاهي به يې غرمه په بلې قريې کي تېره کړه او دوی يعني مسافرو ته به حاجت د زاد او راحلې نه وُ يعني له سبا څخه تر شام پوري، بعض راويان وايي چي له سبا څخه تر شام پوري لوی او کوچنی قريې (۱۷۰۰) متصلي وې.

سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ

په حذف د قول ای قلنا بلسان المقال يعني على لسان نبي من الانبياء يا په لسان د حال تا چي تګ کوي په دې قريو کي (ولي دوی ته سير ممکن سو پر مذکور دول ګويا دوی ته وويل سول چي سيروا) يعني که د شپې تګ کوئ او که د ورځې، آمنين حال دی له فاعل څخه د سيروا يعني په امن به ياست له د ښمنه څخه او له راه زنه څخه او له لوږې او تندي څخه او نه به د درلد ګانو بېره درسره وي كما هو الظاهر لمن لاحظ حال القرى المتقاربة جدًا

ډرويش وايي: چي نعمت د خدای ﷻ که څه هم ډېر اعلی وي لکن چي دوام داره سي د خلګو په زړو د نعمت ملال پيدا سي او تر هغه ډېر بېکاره نعمت د خدای [۳] څخه وغواړي لکه بني اسرائيلو ته چي په تيه کي من او سلوٰی مزه داره خواړه بې طلب او تعب ورته را روان وه او حساب د آخرت يې هم نه وُ، لکن دوی د خدای [۴] څخه پياز، اوږه او دال وغوښتی چي هم تر من او سلوٰی بېکاره نعمت وُ او هم طلب او تعب غوښتی او هم حساب د آخرت ورسره وُ، لکه په سورة البقرة کي يې تفصيل او بيان تېر سو چي دې ته په عربي بطر وايي يعني ناشکري د نعمت او طغيان، داغه رنګه اهل سبا ته دا نعمت د قری قريبه او آساني د سفر تر شام پوري آمنين كما مر بيانه لکن دوی د دې ناشکري وکړه او طغيان يې وکړی كما حكى الله عن حالهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا

"فقالوا" عطف على جعلنا "ربنا" بحذف حرف نداء يعني يا ربنا "بٰعد" ابن كثير او ابو عمرو او هشام دا لفظ "بَعِّدْ" په تشديد د عين وايي يعني له باب څخه د تفعيل سي، او باقي قراء يې په الف سره وايي، يعني له باب څخه د مفاعلې سي، والمآل واحد "بين اسفارنا" لېرې والى راولي په منځ کې زمونږ له سبا څخه وشام ته يعني دا قرى متظاهره له منځ څخه لېرې کړي حتى چې آسانو او اوښانو او زاد او نفقې ورلو ته ضرورت پيدا کړو او زمونږ او د فقراء فرق راسي او په تجاراتو کې به مو ربح او ګټه ډېره سي، ولي فقراء په سبب د عدم قدورت پردې د تجارت څخه لاس واخلي تجارت به يوازي مونږ ته پاته سي او پر اوښانو به سپاره يو فخر به پر خلګو کوو او زمونږ جاه و جلال به خلګو ته معلومه سي، حاصل د سوال ددوی دادی چې په منځ کې زمونږ اهل سبا او د شام تر منځ دښتونه او بيابانونه دي پيدا سي، نو دا خواست ددوی خداى ﷻ ژر قبول کړی.

وَظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ

او ظلم وکړی دوی پر خپلو ځانو بالبطر والطغيان عطف على قالوا، مونږ دوی وګرځول خبرې او قصې د خلګو لپاره چې خلګ ددوی بيان کوي تعجبًا او ضرب المثل وګرځېده اهل سبا، خلګ وايي چې فلانی قوم سره ټوټه ټوټه سو لکه اهل سبا. او سره متفرق کړه مونږ دوی يعني اهل سبا په کامل تفريق سره (ممزق مصدر ميمي دی او نصب د لفظ د کل بناء على انه مفعول مطلق دی) الشعبي رح وايي چې قرٰی ددوی خداى ﷻ غرقې کړې او له منځه ولاړې، وتفرقوا اهل سباق البلاد، دغسان قبيله و شام ته ولاړه او د ازد قوم وعمان ته مهاجر سوه او د خزاعة قبيله عربستان ته فراره سوه او آل خزيمه عراق ته بار سوه او اوس او خزرج يثرب ته کډه سوه (يثرب د مدينې منورې د جاهليت د وخت نوم دی)

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾

په تحقيق په دې مذکوره قصه کې د اهل سبا دلالات او عبرتونه دي د هر هغه چا لپاره چې صبر کوي پر طاعاتو د خداى ﷻ (که صبر متعدي په کلمه د على سي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای الصبر علی الشئ ای علی طاعة الله) او صبر کوي له معاصيو څخه (که لفظ د متعدي په عن سره وګرځي ای الصبر عن المعاصي) او صبر په بلايا او په امراض او په مسکنت او غير ذالک کوي (که لفظ د صبر متعدي په کلمه د في سي ای الصبر في البلايا والامراض وغير ذالک "شکورًا" چي د نعمتو د خدای ﷻ شکر وايي، قال مقاتل يعني مؤمني هذه الامة چي صبور دی پر بلا او شکور للنعماء.

درويش وايي: چي امت ددې امت مرحومه بايد صبور او شکور وي، دائمًا لان الدنيا دار البلاء حتی چي نعمت هم بلاء ده چي د بنده امتحان په کښې چي شکر وايي او که نه فموته بلاء وحياته بلاء، کريمه: خلق الموت والحيٰوة ليبلوکم ايکم احسن عملاً.

فائده عجيبه: هر مصيبت او غم چي مؤمن ته پيښ سي په هغه سره ګنهونه تويېږي نو له دې سببه د مصيبت شکر ويل هم لازم دی، فيلزم اجتماع الضدين ای الشکر والصبر في شيئ واحد باعتبارين دغه رنګه توفيق د صبر په مصيبت کي د خدای پاک نعمت دی شکر يې لازم دی، و ورد في الحديث الصحيح الذي رواه البيهقي في شعب الايمان قال رسول الله ﷺ الايمان نصفان فنصف في الصبر ونصف في الشکر، نو ددې حديث په رنا کي مؤمن کامل هغه څوک دی چي دواړه نصف د ايمان محفوظ ساتي ابدًا ودائمًا، اللهم وفقني لذالک النعمة العظمٰی والنقبة العلياء بجاه نبيک المجتبٰی ﷺ دائمًا ابدًا ... بيت:

ای روزګار عافيت شکرت نه گفتم لاجرم
دستی که در اغوش بود اکنون بدندان ميگرم

صبر آرد آرزو رانی شتاب ..... صبر کن والله اعلم بالصواب

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ

لام موطئه د قسم دی ای وجده صادقًا ومتحققًا فيهم "ابليس ظنه" حيث طرد ربه بعدم السجود لآدم واهله او مهلت يې ورکړی الی يوم يبعثون، نو ده داسي وويل فبعزتک لاغوينهم اجمعين، ولا تجد اکثرهم شاکرين.

درويش وايي: چي له آيتو څخه داسي فهميږي چي ضمير د عليهم راجع دی تولو انسانانو ته کذا قال مجاهد رح، وقيل علی اهل سبا ای علی الکفار منهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: الاول يطابق سياق الآية فيما بعد، والثاني يوافق السباق القريب والاول اوجه واليق.

پوښتنه: منشاء د ظن ده ابليس په اولاد کي د آدم څه وه چي ده وويل لاغوينهم اجمعين؟

ځواب: ابليس چي آدم عليه السلام سره د شرافت چي ټولو ملکو ده ته سجده وکړه د ابليس وسوسه د شجرة الخلد چي ابليس په دغه نامه ورته معرفي کړه وه يې منل او د غنم يا د انځر دانې يې وخوړلې، نو ابليس په هغه مخني خبره کي چي لاغوينهم آه، قياس د فرع يې پر اصل وکړی او قياس د ولد يې پر والد وکړی، او بعض مفسرين وايي چي سبب د ظن دده دا ؤ چي په بني آدم کي ابليس قوت غضبيه او قوت شهويه احساس کړي چي دا دوه قوته منشاء د ټولو سيئاتو دي، نو ده لاغوينهم آه وويل، او بعض وايي چي ابليس له خبرو څخه د ملکو چي خداى ﷻ ورته وويل اني جاعل في الارض خليفة دوی ورته وويل اتجعل فيها من يفسد فيها الخ، او بعض مفسرين وايي چي ابليس بني آدم پر خپل ځان قياس کړی چي دی هغه باغي شخص ؤ چي د خداى امر يې نه ومانه، نو بني آدم يې هم پر خپل خرينه اندازه کي خيرن وليدی .... بيت:

اذا ساء فعل المرء ساءت ظنونه.... وصدق ما يعتاده من توهم

پوه سه: چي قراء د بصري لفظ د صدق په تخفيف د دال وايي، نو پر دې قرائت نصب د ظنه بنا دی پر اسقاط د حرف جر، والاصل صدق في ظنه اى وجد ظنه مصيبًا في الواقع، نو صدق پر دې تقدير په معنى د اصاب دی مجازًا.

فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾

نو بني آدم د ابليس متابعت وکړی مګر نه يوې ډلې د مؤمنانو.

دروښ وايي: چي "اتبعوه" مرفوع ضمير يا و اهل سبا ته راجع دی يا ناس کلهم ته، سدي رح له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چي مؤمنان ټوله متابعت د ابليس يې نه دی کړی په اصل دين کي کما قال الله ﷻ ان عبادي ليس لک عليهم سلطان يعني المؤمنين، نو پر دې روايت کلمه د من لپاره د بيان ده لا للتبعيض، او بعض مفسرين وايي چي مراد د متابعت مطلق متابعت دی نو کلمه د من لپاره د تبعيض ده، يعني المؤمنين في اصول الدين و فروعه بخلاف العصاة فانهم ابتعوه في ارتكاب المعاصي فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ

او نه وَ ابليس لره پر دوی يعني بني آدم يعني قدرت، کلمه د من زائده ده لاستغراق النفي، نو من سلطان اسم د کان دی، والظرف المستقر يعني له خبره ای کائنًا له، وعليه متعلق بالظرف، والمعنى لم يكن له قدرة ان يوسوسهم ويعدهم ويمنيهم الا بتسليطنا اياه عليهم، شيخ سعدي قدس سره وايي:

نه ابليس درحق ما صفه زد .... کزاينان نيايد بجز کاربد
فغان از بديها که در نفس ما است .... که ترسم شور ظن ابليس است
چو ملعون پسند آمدش قهر ما .... عذابش برانداخت از بهر ما
کجا سر برارييم ازين عار و ننگ .... که با او بصلحم و با حق بجنگ
نظر دوست نادر کند سوی تو .... چو در روی دشمن بود روی تو
ندانی که کمتر نهد دوست پای .... چو بينند که دشمن بود در سرای

اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ؕ

يعني ما تسلط د وسوسو وه ابليس ته پر بني آدم نه دی ورکړی، مګر ددې لپاره مي ورکړی دی چې موږ سره جلا کړو هغه کسان چې ايمان يې پر آخرت وي د هغو کسانو چې هغه په شک کي وي د آخرت د ورځي يعني بعث بعد الموت څخه په شک کي وي باضلال ابليس، نو چې دا دوه قسمه سره جلا سي نو به هر قسم ته خپله جزاء مناسب ورکړي بالجنة والنار.

سوال: په قرآن کي عبارت لنعلم راغلی وُ تا يې ترجمه په جلا کېدو وکړه باعث ددې څه وُ؟

ځواب: د علم صله من نه رائي بلکې د تمييز صله من رائي چې معنا يې جلا والی ده، نو که من نه وای په قرآن کي، نو به ما د علم اصلي معنی بيان کړې وای لکن چونکه په ممن راغلی دی، نو يې ځکه ترجمه په جلاوالي فقير وکړه چې عربي تعبير يې دا دی نُمَيِّزَ کَيْ مِنْ.

پوښتنه: دا تميز خو په ازل کي خدای پاک ته حاصل وُ، نو امتحان ته يې څه ضرورت وُ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: نعم لكن ددې امتحان څخه غرض امتياز دی د دغو دوو ډلو عند الناس لئلا يكون للفريق الثاني حق الاعتراض عند الله في يوم القيامة، نو دا آيت من قبيل قوله تعالى دی: لئلا يكون للناس حجة بعد الرسل يعني عذر الجهل.

دروښ وايي: چې مظهري ؒ سوال د حدوث د علم د خدای ﷻ کړی دی او بيا يې د هغه جواب د حكمتو او د منطقو پر ډول ورکړی دی چې عوام خو څه کوې عصري ملايان هم نه په پوهېږي الا المرتاض بالعلوم الحكمية و العقلية كه د چا زما خبره زړه ته نه لوېږي د مظهري د تفسير (۲۴) ص جزء (۲۲) سورة السبا دي مطالعه کړي، ولله در صاحب روح المعاني چې ډېر په مختصره توګه د فقير و جواب ته ورته جواب راوړی دی والله الحمد.

وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿٢١﴾

او ستا خدای ﷻ يا محمد (ﷺ) پر هر شي كه مؤمن وي او كه كافر وي او كه علوي وي او كه سفلي وي، حفيظ يعني نګهبان رقيب او محافظ غير غافل عن شيئ فيجازی كلا موافق عمله.

فائده: حفيظ يا مبالغه ده د حافظ يا په معنی د محافظ دی لكه جليس او مجالس و خليط و مخالط او رضيع او مراضع.

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ

ته ورته ووايه يعني كفارو د مكې چې تاسي راوبولئ يعني دعوت ورکړئ هغه شيانو ته چې تاسي دا زعم لري چې آلهة دي يعني بتان ستاسي.

پوښتنه: زعمتم خو متعدي و دوه مفعوله ته دی هغه مفعولان په دې آيت کې څه شی دی؟

ځواب: مفعولان يې دواړه په نيز د جمهور محذوف دی چې وهم آلهة دی، والتقدير زعمتموهم الهة، نو ضمير مفعول اول دی او آلهة مفعول ثاني دی، مفعو اول يې حذف کړی تخفيفًا لان الموصول و الصلة يعني الذين زعمتم لكه يوم اسم دی فهناک طول يقتضی التخفيف او مفعول ثاني چې حذف لان صفته اعنی قوله تعالى "مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ" سدت مسده يعني من دون الله صفت د الهة دی چې مفعول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثاني دی نو دا صفت په ځای کي د مفعول ثاني ودرېدی، حاصل د آیت دا دی چي تاسي خپل خدایان چي بتان دي په یو مهم کي ستاسي من جلب نفع او دفع ضرر چي دوی جلب د نفع تاسي ته یا د دفع د ضرر ستاسي څخه کولای سي.

سوال: د امر الهي یعني قل ادعوا الذین آه، څه فائده لري خدای ﷻ او رسول خوښه خبر دي چي دا بتان جمادات دي لاتنفع ولاتضر؟

ځواب، دا امر د توبیخ او تعجیز لپاره دی، په یوه روایت کي راغلي دي چي دا آیت هغه وخت نازل سو چي پر کفارو د مکې سخت قحط (وچ کالي) او لوږه په ښیرا د علیه الصلوة والسلام خدای ﷻ مسلط کړي وه.

فائده: ددې آیت مضمون و قیاس استثنائي ته راجع دی چي استثناء د نقیض د تالي یې نتیجه نقیض د مقدم ورکوي، د منطقو په کتابو کي وایي چي قیاس استثنائي یوه مقدمه شرطیه غواړي او یوه مقدمه استثنائیه غواړي، نو په دې آیت کي قل ادعوا الذین آه اشاره و مقدمه شرطیه ته ده، تقدیره ان صح دعواکم بانهم الهة یستجیبون لکم اذ دعوتموهم، وقوله تعالی.

لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ

"لایملکون" جمله مستانفه پر استثناء د نقیض د تالي دلالت کوي یعني دغه بتان د هیڅ شي طاقت نه لري نه د جلب د نفع او نه د دفع د ضرر، نو نتیجه یې نقیض د مقدم ده یعني فلیسوا آلهة "مثقال ذرة" یعني په وزن د یوې ذرې (ذره ښځي کوچني مېږي ته وایي یعني مِنْ خَيْرٍ اَوْ شَرٍّ)

بوه سه: چي ذکر د اسمانو او مځکي یا صرف د عموم عرفي لپاره دی او یا ددې لپاره دی چي د مشرکانو بعض خدایان سماوي وه لکه بعض مشرکانو به د ملکو عبادت کاوه او بعضو به د ستروو عبادت کاوه او بعض آلهة ارضیه وه لکه بتان.

دریش وایي: چي مثال ددې قیاس استثنائي دادی د معقولو په کتابو کي وایي لو کان زید حمارًا لکان ناهقًا لکنه لیس بناهق ینتج فلیس بحمار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ ﴿۲۲﴾

او نسته بتانو ته (یعني د مشرکانو) په خلق د اسمانو او مځکي شراکت د خدای سره، او نسته خدای له "منهم" ای من شرکائکم، یو کومکي چي په خلق او په تدبیر د اسمانو او مځکي د خدای سره کومک وکړي.

پوه سه: چي کلمه د من زائده ده لاستغراق النفي او دا جمله عطف ده پر لایملکون.

وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ

او فائده نه کوي شفاعت په نېز د خدای هیڅ چا ته مګر نه هغه چاته چي خدای اجازه ورکړي یعني که شافع وي لکه انبیاء علیهم السلام وغیرهم، په شفاعت کولو کي د خدای اجازه، او که مشفوع وي لکه یو عاصي هم د خدای اجازه شرط ده چي د دغه عاصي شفاعت دي وکړل سي.

پوه سه: چي دا آیت رد دی د هغه قول د مشرکانو پر سبیل د تنزل یعني چي موږ دا ومنو چي په خلق کي د اسمانو او مځکي ملائکه یا زموږ اصنام هیڅ برخه نه لري د خدای سره لکنهم یشفعون لنا عنده تعالی فقال الله عز وجل في جوابهم لاتنفع شفاعة احد لاحد الا لمن اذن له، او ددوی بتان خو اهل د شفاعت نه دي تاچي خدای دي اجازه ورکړي لکونها جمادات، او د کافر په باره کي هیڅ چاته اجازه د شفاعت نه ورکوي په سبب د طغیان او کفر ددوی، که څه هم زوی د کافر نبي وي کابراهیم لاآذر، او یا که څه هم پلار د کافر نبي وي لکه نوح د کنعان لپاره، والحاصل چي انه لایؤذن للانبیاء علیهم السلام والملائکة الا في شفاعة المؤمنین من کانوا.

حَتَّىٰ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ

تر هغه وخته پورې چي بېره زائل کړل سي له زړونو څخه ددوی.

پوه سه: چي تفزیع چي مصدر دی د فزع له اضداد څخه دی یعني پر دوه ضده یې اطلاق کېږي یعني بېرول د چا او بېره زائلول د چا وبالفارسیة بترسانیدن واندوه وابردن دا دوهم چي دلته مراد دی متعدي په عن سره کېږي، فالتفزیع في الآیة ازالة الفزع کالتمریض بمعنی ازالة المرض، والفزع انقباض ونفار یعتری الانسان من الشیئ المخیف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ابن عامر او يعقوب ؒ دا لفظ فُزِّعَ وايي په لفظ د ماضي معلوم، نو ضمير مستتر يې راجع و خداى ته دى يعنې بېره زائل كړي خداى ﷻ، او باقي قراء ؒ فُزِّعَ پر صيغه د مبني للمفعول وايي كما في المصحف العثماني، نو جار او مجروريې قائم مقام د فاعل دي، او ضمير د قلوبهم راجع دى وشافعينو او مشفوعينو دواړو ته.

سوال: شافعين او مشفوعين كله په ماقبل كې ذكر سول؟

ځواب: د هغه آيت ځخه وفهمېد لاتنفع الشفاعة عنده الا لمن اذن له، ولې چې له دې آيت ځخه دا معلومېږي چې په ورځ قيامت شافعين او مشفوعين ستة.

فائده: په لفظ كې حتى چې لپاره د انتهاء الغاية دى د مفسرينو عظيم اختلاف دى چې غاية د څه شي ده حتى ورڅې په دې كې دي، او د عربي ډېر زېبا او بلاغت آميزه الفاظ يې استعمال كړي دي لكن تر ټولو دا توجيه زېبا ده چې په روح المعاني په ضمن كې د نورو معنا وو راوړې او هم روح البيان او هم مظهري چې حاصل يې دادى چې حتى غاية ده لپاره جمله مفهومة مما سبق يعنې قوله تعالى لاتنفع الشفاعة عنده الا لمن اذن له، ولې چې له هغه آيت ځخه دا وفهمېده چې شفاعت كونكى من الانبياء عليهم السلام وغيرهم من الصلحاء والملائكة الكرام او هغه كسان چې د دوى د شفاعت طمع لري چې په عربي يې مشفوع لهم بولي منتظر وه اذن ته د مولى اعلاربهم الاعلى جل سلطانه وكثرت رحمته وي او دواړې دلې خائفين وي چې مور ته به اذن شفاعت راكړى او يا زمور د شفاعت كولو به شافعانو ته اجازه وركړي او كه څرنګه حتى دا بېره زائل سي لكه د تفزيع چې معنى وه كما مر.

قَالُوا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ۖ

دوى يو د بله سره وايي چې بشارت باسعادت له جناب ځخه د رب العزة په شفاعت كولو كې اعلان سي، څه وويل رب ستاسي يعنې په باره كې د شفاعت.

قَالُوا الْحَقَّ ۖ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

يعنې يو وبل ته سره ووايي "الحق" منصوب دى په فعل مقدر سره يعنې قال ربنا الحق وهو الاذن بالشفاعة للسادات الشافعين عليهم السلام لمن هو اهلها من عصات المؤمنين، يعنې هغه ذات متصف دى په علو او كبرياء سره چې نه ملك مقرب او نه نبي مرسل دده په جناب والا كې بې اجازې خبره كولاى سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: الشيخ السهروردي ؒ وايي چي دغه آيت قالوا ما ذا قال ربكم قالوا الحق وهو العلي الكبير، كه پر چا د خلكو ډپر پوروڼه باندي وي او دغه آيت ورد وگرځوي خداى ﷻ به يې پوروڼه اداء كړي او رزق به يې فراخه كړي، او كه يو سړى د خپلي رتبې او چوكۍ څخه معزول سوى وي اووه ورځي هره ورځ زر واړه ووايي او روژه يې هم نيولې وي په دې اووه ورځي، خداى ﷻ به يې خپلي رتبې ته ورسوي كه بادشاه وي انتهى.

دروښ وايي: چي كارونه د رب العزت ؒ په همت پوري د بنده مربوط او عالي الهمت مؤمن د خداى ؒ خوښ دى، امير المؤمنين علي ؓ وايي: علو الهمة من الايمان، قال الصائب:

چون بسير لامكان خود ميروم از خويشتن
همچو همت تو سنى در زير زين ما داريم ما

مرزا غالب وايي:

همت بلند دار كه نزد خدا و خلق .... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ته ورته ووايه مشركانو ته چي څوك رزق در كوي تاسي ته د اسمانو له جانبه څخه چي مراد ځني بارانونه دي (چي د هغو بارانو په ويار ستاسي رودونه، كاسې او زخيرې د اوبو ډكي سي او ويالې مو بهيږي چي دا اوبه ستاسي د ارتزاقي موادو سبب ګرځي) او له مځكي څخه څوك رزق در كوي يعني چي له مځكي څخه دانې د رزق ستاسي راشنې سي.

پوه سه: چي استفهام د كلمه د من تقريري دى يعني باعث كول د مخاطب پر اقرار په دې سره چي دوى ووايي چي دا ټوله كارونه خداى ؒ كوي، حتى كه داغسي ووايي نو په توره د ملامتيا به يې سرونه غوځ سي چي تاسي سره ددې اقراره بتان ولي د خداى ؒ سره شريكان بولئ، لعلهم يرجعون عن الشرك.

قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝

پوه سه: چي لفظ الله مرفوع دى، فاعل د فعل محذوف دى اى يربكم الله اذ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاجواب غیره یعني سکوت او توقف په دې اقرار کي وکړئ له دې سببه چې پر موږ عجولانه توره د الزام پر سرو خورو، لکن سره د توقف زړونه داغه اقرار کوي یرزقنا الله "وانا وایاکم" او موږ مؤمنان موحدان او یا تاسي مشرکان بالله یا پر هدایت یو او یا په ګمراهۍ ظاهره کي یو.

دروښ وایي: چې دا آیت مبني پر شک نه دی بلکې دا د حسن مناظره پر قانون مبني دی چې صراحةً یې نسبت د ضلال ودوی ته نه وکړی تا چې وینه ددوی په جوش راته سي چې ماته ته ګمراه وایې، البته پر قانون د لف ونشر مرتب یې اشاره اثبات د هدایت وځان ته وکړه او نسبت د ضلال یې ودوی ته وکړی، وحاصل المناظرة چې توحید نفي د اشراک دی فهو نقیضه، والضلال نفي الهدایة فهو نقیضه ومن البدهیات عند جمیع العقلاء ان ارتفاع النقیضین وکذا اجتماعها محال، او په دمخه آیت کي دا ثابته سوه چې خدای ﷻ دی چې رزق د اسمانو او د مځکي څخه ورکوي لاغیره وهو عقیدة الموحدین فهم علی هدی لا الضلال لاستحالة اجتماع النقیضین والمشرک في ضلال مبین لا الهدایة لاستحالة الاجتماع کمامر.

پوښتنه: د هدایت په جانب حرف علی راوړی او د ضلال په طرف کي حرف جر في روا ړه، سبب یې څه دی؟

ځواب: اشاره ودې ته ده صاحب الهدیٰ لکه پر آس سپور شخص دی چې هر خوا ته یې راهي کوي ورسره ځي، او صاحب الضلال ګویا په تاریکیو کي د کفر ډوب دی لایدري این یتوجه، فافهم.

فائده: وانا وایاکم آه منصوب محلاً دي عطف دي پر لفظ الله، والتقدیر وقل انا او ایاکم آه.

دروښ وایي: چې ددې آیت داسي مثال دی چې د دوو کسانو پریوه مځکه مثلاً سره خصومت وي یو وایي زما ده بل وایي زما ده، نو چې پر حق وي هغه و خپل مخاصم ته داسي ووایي چې خدای ﷻ خبر دی په ما او تا کي خو یو صادق دی او بل درواغ وایي. نو که مخاطب منصف وي چې وروره زه کاذب یم ته صادق مځکه ستا ده، لکن داسي انصاف دا ره سړی په اوسنی زمانه کي عنقا د مغرب دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۵﴾

ته ودوی ته ووایي چي له تاسي څخه سوال نه کېږي د هغو ګناه چي موږ کړي وي او نه له موږ څخه سوال کېږي ستاسي د عمل (نو پر دې ترجمه کلمه د ما په عما تعملون کي مصدريه ده، او که چېري ما موصوله وي نو عائد يې محذوف دی والتقدير عما تعملونه) ددې آيت مقصود اظهار ددې دی چي موږ چي تاسي په توحيد او ترک د اشراک امر کوو صرف او صرف خير خواهي ستاسي ده ورنه فلا ضرة لاحد من غيره، فائده ددې اظهار حث (باعثه کول دي ددوی) او ترغيب ددوی پر امر ای التوحيد وترک الشرک.

فائده: ځان ته يې نسبت د اجرام وکړی او مخاطب ته يې نسبت د عمل وکړی رعايت د حسن ادب او اظهار د خير خواهی ددوی سره نه تعصب او تعنت (يعني د تاسي سره ضديت ساتل)

قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ۭ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿۲۶﴾

ته و دوی ته ووايي چي جمع به کړي بيننا يعني وبينکم، زموږ رب د قيامت په ورځ بيا به خدای فيصله وکړي زموږ او ستاسي ترمنځ په حق سره (يعني هر څوک چي مستحق د يو ځای ؤ و هغه ته به يې داخل کړي، نو که څوک پر حق ؤ داخل به يې کړي و جنت ته او چي پر باطل ؤ يدخله النار) او خدای ﷻ فيصله کونکی دی په قضايا، معلقه ؤ کي، او ښه خبر دی په حال زما او ستاسي.

فائده: خاصيت د اسم الفتاح تحصيل د علم او معرفت دی که څوک دا اسم مبارک همېشه ورد وګرځوي يعرف الله حق معرفته على الوجه الذي يليق به، او په شمس المعارف کي وايي که چا ته يو مبهم کار پېښ سي دا اسم مبارک دي يو څو ورځي ورد وګرځوي ان شاء الله تعالى هغه به دفع سي.

قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَاۗءَ كَلَّا ۭ

پوه سه: چي رؤية دلته په معنى د علم دی چي دوه مفعوله غواړي لکه رئيت ای علمت زيدًا عالمًا، نو چي باب ته د افعال نقل سي لکه په دې آيت کي بيا دړې مفعوله وغواړي، نو په دې آيت کي ضمير د متکلم په اروني کي مفعول اول دی، او الذين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني موصول سره د صلې مفعول ثاني د اروني دی او شرکاء یې مفعول ثالث دی، والمعنی تاسي ایها المشرکون ما خبر کړئ په هغه شیانو (یعني ستاسي بتان) چې تاسي دوی کرځولي دي د خدای ﷻ سره شریکان په استحقاق کي د عبادت، یعني ما په دې پوه کړئ چې په څه صفت سره دا بتان تاسي د خدای ﷻ شریکان بولئ، یعني دا بتانو خلق د یو شي کړی دی یا یې کولای سي او یا رزق وچاته ورکولای سي، یا چاته ضرر رسولای سي که یې عبادت ونه کړئ یا چاته نفع رسولای سي چې عبادت یې وکړي، او د شریک د خدای باید دا کارونه په طاقت کي وي.

فائده: په دې آیت کي پوښتنه ده ددوی له شبهت څخه یعني تاسي ته څه شبه پیښه ده ددوی په شراکت کي د خدای ﷻ سره په دې کي تبکیت دی ددوی.

پوه سه: چې "کلا" حرف ردع دی یعني داغسي نه ده چې دا بتان دي شریکان د خدای ﷻ مع ظهور عدم المشارکة مع الله في شیئ من الصفات المذکورة.

بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾

بلکې مستحق د عبادت نه دی مګر الله ﷻ چې عزیز دی یعني دارا د عزت او غلبه ظاهره دی او مالک او ورکونکی د حکمت بالغه دی، لاشریک في شیئ من الصفات الجمیلة والجلالیة.

پوښتنه: په ترجمه کي د آیت حصر دی چې مګر یې معنا وه د څه شي څخه مستفاد سو؟

ځواب: له دې څخه چې ضمیر د هو راجع دی و مستحق للعبادة ته نو ګویا د آیت تعبیر داسي دی المستحق للعبادة الله، نو مبتداء او خبر چې دواړه معرفه وي دال پر حصر دي کما ثبت في کتب العربیة.

فائده: العزیز والحکیم صفتان دي د لفظ الله، او خبران آخران دي د لفظ الله، او که داسي توجیه وکړل سي چې هو ضمیر شان وي او لفظ الله مبتداء وي او العزیز والحکیم صفتان د لفظ الله وي او خبر د مبتداء محذوف وي ای متوحد لاستحقاق العبادة او جمله تهوله خبر د ضمیر شان وي، نو دلالت پر حصر یې ظاهر دی، والحاصل چې بتان چې په ادنی درجه کي د تولو موجوداتو او ممکناتو قرار لري څرنګه مشرکان دوی شریک د خدای بولي په استحقاق کي د عبادت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: العزيز الحكيم كه څوک څلوېښت ورځي او هره ورځ څلوېښت واره وظيفه وګرځوي خداى ﷻ به دده سره کومک وکړي او خداى ﷻ به عزت ورکړي چې محتاج به نه وي د هيڅ بنده او مخلوق، او په اربعين ادريسيه (چې د وظائفو يو کتاب دی) داسي راغلي دي يا عزيز المنيع الغالب على امره فلا شيئ يعادله شيخ سهروردي ؒ وايي چې که چا دا ورد اووه ورځي پرله پسې ووايه هره ورځ زر واره خداى ﷻ به يې دښمن هلاک کړي (لكن دروېش وايي چې په مقابل کې د مؤمن دښمن دی مؤمن نه وايي)

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ

پوه سه: چې كافة صفت د مصدر محذوف دی ای ارسالة كافة يعني عامة شاملة (نو تا د كافة لپاره د تانيث ده ولي چې موصوف يې ارسالة مؤنث دی) نو پر دې تقدير للناس متعلق په كافة سره دی.

پوه سه: چې د كف اصل معنی منع ده نو چې د عليه الصلوة والسلام رسالت عام سي، نو خلګ يې منع کړه له دې ځخه چې يو دي ځني ووځي، او روح المعاني او مظهري دا احتمال هم راوړی دی چې كافة دي حال وي د مخاطب چې عليه الصلوة والسلام ځي مراد دی، نو پر دې تقدير كلمه د تاء په كافة کې لپاره د مبالغې ده لعدم التانيث في ضمير المخاطب كما قالوا في تاء علامة، نو معنی د آيت داده وما ارسلناک الا جامعًا لهم ای للناس في ابلاغ دين الاسلام يعني لكل الناس من العرب والعجم والاسود والاحمر.

دروېش وايي: چې ددې تقديرو په معنی کې که څه هم فرق سته لكن حاصل يې يو دی چې عموم د رسالت د عليه الصلوة والسلام دی و عموم اهل الاديان كلهم ته لنسخ جميع الاديان برسالته عليه الصلوة والسلام، يعني داسي نه ده لكه يهودان او نصارى چې وايي چې محمد ﷺ نبي خاص للعرب، له جابر ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل چې ماته پنځه شيان خداى ﷻ راکړي دي چې هيڅ نبي ته يې تر ما دمخه نه دي ورکړي (١) نصرت بالرعب مسيرة شهر (ماته کومک راکړل سوی دی د خداى ﷻ له خوا په يوه سره يعني چې دشمن کافر زما څخه يو پرې د يوې مياشتې پر مسافت.

سوال: کفار مکه چې د مدينې څخه يې يوه مياشت مسافت نه دی په بدر او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احد او په خندق يا حنين وغيرها چې کفار پر نهايت لږ مسافت تر مياشتې وه، نو که دوی بيرېدای، نو ولې جنګ ته راتله؟

ځواب: و جنګ ته راتلل ددې دليل نه دی چې ددوی په زړو کې رعب نه وُ.

دروښ وايي: چې ددې ژوندی مثال د افغانستان جنګ دی چې امريکايان او انګرېزان او نور دولتونه ورسره ملګري دي، او بې وزلې او بېچاره او بې عصري وسلو طالبان ورسره په جنګ بخت دي چې تخمينًا يې نهه کاله پوره سوه، نو دا طالبان ددې سرو کفارو څخه نه بيرېږي مګر بيا يې هم و جنګ ته دوام ورکړی دی، او بل ځواب دادی چې امريکايان اوس هم په افغانستان کې مرعوب دي، ولې دوی چې له يوه ځايه بل ځای ته ځي په کاروان ځي، يو يا دوه ټانګه يا نور يو او دوه موټره ددوی سفر نه سي کولای کما دل عليه التجربة الصادقة فافهم.

(۲) جعلت لي الارض مسجدًا (يعني لي ولامتي الى يوم القيامة، يعني مځکه ځای د لمانځه) فاينما رجل ادرکته الصلوة (يعني وخت د لمانځه پر راغلی هوري دي خپل لمونځ وکړي، يعني داسي نه ده لکه يهود او نصاری وُ چې بې له مخصوص عبادتګاه ددوی لمونځ نه وُ روا) وطهورًا (يعني پاکه خاوره چې قائم مقام د اوبو ده) في التيمم بها عند عدم الماء (۳) واحلت لي الغنائم ولم يحل لاحد من قبلي يعنې د نورو امتو مسلمانانو چې به غنيمت لاست ته راوړی له اسمان څخه به اور نازل سو ټوله به يې وسو دوی ته يې نفع اخستل نه وه روا (۴) واعطيت الشفاعة (ماته راکړل سوی دی شفاعت يعني الشفاعة العظمٰى (۵) وکان يبعث النبي الى قومه خاصة وبعثت الى الناس عامة، (متفق عليه)

دروښ وايي: چې په دې حديث کې مسجدًا وطهورًا پر يوه حساب دي، نو خواص شپږ نه کړځي فافهم.

دروښ وايي: چې په روايت کې د ابو هريره رضي الله عنه داسي راغلي دي فضلت على الانبياء بست چې په هغه حديث کې يې يو (۱) جوامع الکلم راوړی دی (د جوامع الکلم معنی داده چې لفظ قليل دي معنی يې جزيل ده (۲) نصرت بالرعب (د مياشتې د مسافت قيد نسته ورسره) (۳) واحلت لي الغنائم کمامر (۴) وجعلت لي الارض مسجدًا وطهورًا کمامر بدون زيادة فايما رجل آه (۵) وارسلت الى الخلق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کافة (۶) وختم بي النبيون، او يا د کافة معنی پر تقدير د حاليت له ضمير څخه چې ته به منع کوې خلګ له کفر څخه په دنيا کې او د وقوع في النار کې په ورځ د قيامت.

بَشِيرًا وَّنَذِيرًا وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۲۸﴾

زېرى کونکى مسلمانانو ته په جنت سره، او بېرونکى د کفارو په اورسره، لکن دېر خلګ چې کافران دي په دې نه پوهېږي چې ستا بشارت او انذار پر ځاى او حق دى بلکې دوى ستا خبرې پر تعصب او عناد حمل کوي.

پوه سه: چې دا دوه لفظه حال دي له کاف څخه د خطاب، مترادفان دي د کافة على تقدير کونه حالاً کما مر.

دروېش وايي: چې که څه هم بشارت تر انذار وروسته دي په وجود کې لکن له سببه د شرف د اهل البشارة چې مؤمنان دي بشيراً يې دمخه کړى تر نذيراً، وانما قلت که څه هم بشارت آه لانهم قالوا ان التحلية بالحاء المهملة بعد التخلية بالخاء المعجمة فتدبر.

وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴿۲۹﴾

او وايي کفار د مکې له سببه د نهايت جهل ددوى او د استهزاء په لهجه او د استبعاد پر معيار، کله به وي دا مبشر به يعني الجنة يا منذر عنه يعني النار، او يا هذا اشاره و بعيد ته ده يعني يجمع بيننا ربنا ثم يفتح بيننا يعني داده جمع موعود به کله وي، که تاسي ياست رشتيا ويونکي، والمخاطب هو الرسول ﷺ والمؤمنون.

بوه سه: چې جزاء د ان کنتم صادقين محذوف ده دل عليه ماقبله يعني فانبؤنا عن وقته.

قُلْ لَّكُمْ مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿۳۰﴾

ته ورته ووايه چې تاسي لره وعده ده يوې ورځې ده (نو ميعاد مصدر ميمي دى) لاتستأخرون آه" جمله صفت د يوم ده، والمعنى چې تاسي نه وروسته کېږئ تر هغې ورځې او نه دمخه کېږي، اکثره د مفسرينو وايي چې مراد له دې يوم څخه ورځ د قيامت ده يعني که قريب ته اشاره وي په هذا الوعد سره او که بعيد ته کما مر، او الضحاک ؒ وايي چې مراد څنې موت دى لاتقدمون ولاتتأخرون بان يزاد في اجالكم او ينقص آه.

دروېش وايي: چې د الضحاک ؒ پر تقرير يعني چې ميعاد موت څنې مراد سي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اشاره په هذا الوعد کي چي کفارو به ويل نه قريب ته صحيح کېږي او نه بعيد ته الا ان يقال انه قد ورد في الحديث النبوي ﷺ من مات فقد قامت قيامته فتدبر غاية التدبر.

پوه سه: چي قل لكم ميعاد الآية، ځواب د تهديد دی و کافرانو ته مطابق د هغه سره چي دوی به پر طريقه د استهزاء او انکار ويله متى هذا الوعد الآية.

پوښتنه: استخار يعني ځنډول د هغې ورځي څو عقلاً ممکنه ده مثلاً يوم الوعد دی د يکشنبې ورځ وي دوشنبې ته دي وځنډول سي لكنه غير ممكن شرعًا لان القرآن اخبر به اى بعد الاستيخار، والاستقدام غير ممكن عقلاً فلا فائدة في نفي ذالک، ولي چي مثلاً يوم موعود د دوشنبې ورځ وه، نو دوشنبې چي راغله ويک شنبې ته استقدام څرنګه امکان پذير دی، ولي چي يکشنبې خو تېره سوه د زمانې اجزاء خو بيرته نه راګرځي لان جميع ذوى العقول متفق على ان الزمان غير قار الذات؟

ځواب: ذکر د عدم استقدام لپاره مبالغې دی په نفي کي د عدم الاستخيار يعني الاستخيار كالاستقدام الغير الممكن عقلاً في عدم الوقوع فافهم هداک الله تعالى.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ

او وويل هغه کسانو چي کفر يې اختيار کړی ؤ يعني مشرکي قريش هرګز موږ ايمان نه راوړو پر دې قرآن يعني النازل على محمد (ﷺ) او نه پر هغو کتابو چي تر قرآن دمخه تېر سوي دي لکه تورات د موسىٰ او انجيل د عيسىٰ ؑ بلکې تو له هغه کتابونه چي قائل په بعث بعد الموت سره وي لان المشركين كانوا منكرين للبعث بعد الموت.

پوه سه: چي دا خبره مشرکانو د مکې هغه وخت وکړه چي عليه الصلوة والسلام هنوز لا هجرت نه ؤ کړی، نو مشرکان د مکې يو استازی ور واستاوه مدينې منورې ته چي د اهل کتاب څخه دي پوښتنه وکړي چي تاسي د محمد (ﷺ) په باره کي څه عقيده لرئ؟ هغو ورته وويل چي هو! دی رسول دی او موږ يې نعت په خپلو کتابو کي ليدلی دی، نو دا خبره چي کافرانو د قريشو واورېدل نو يې وويل لن نؤمن الآية. او بعض مفسران وايي چي مراد د بين يديه قيامت او جنت او اور دی، يعني چي محمد ﷺ وايي چي دا شيان په مخ کي دي زما او ستا.

فائده: هذه الجملة معطوفة على قوله تعالى ويقولون متى هذا الوعد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ

الخطاب الى محمد (ﷺ) او لكل مخاطب قابل للرؤية والمفعول محذوف والتقدير ولو ترى الظالمين "اذ الظالمون" هغه كسان چې ظلم يې كاوه پر خپلو ځانو په انكار سره د بعث بعد الموت.

پوه سه: چې جواب د لو محذوف دی ای لرئيت امرًا فضيًا يقصر العبارة عن بيانه وتصويره.

سوال: دمخه وويل سوه چې مفعول د ترى محذوف دی چې تقديريې داسې ؤ ولو ترى الظالمين نو په آيت كې په ځای كې د اسم ظاهر ضمير راوړه، يعني اذهم به مناسب نه وای؟

ځواب: لا ولې چې هغه مفعول خو مقدرؤ او مقدر ته خو ضمير نه سي راجع كېدای.

سوال: لو شرطي خو پر ماضي داخليږي دلته يې پر مضارع داخل كړی دی حكمت يې څه دی؟

ځواب: اشاره ودې ته ده چې مستقبل په امور كې د خدای ﷻ لكه ماضي دی في تحقق الوقوع قطعًا او يا ددې لپاره مضارع راوړه چې استحضار ددې امر باطل ومخاطب ته وكړي اذ المضارع هـ~ للحال.

مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۖ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ الْقَوْلَ

"موقوفون" ای محبوسون، په نېز د خدای ﷻ يعني للحساب واقامة الحجة يعني يو له بله خبرې سره كوي او بحث او سوال و جواب سره وايي.

پوه سه: چې دا جمله حال ده له ضمير څخه د موقوفون، او يا خبر بعد الخبر ده الظالمون، والتقدير اذ الظالمون موقوفون ويرجع بعضهم آه.

يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا

دا جمله بيان دی د يرجع بعضهم آه، او مراد د الذين استضعفوا څخه تابعان دي. او د الذين استكبروا څخه رئيسان د كافرانو دي، يعني وبه وايي تابعان وهغو كسانو ته چې متكبران ددوی وه يعني رئيسان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾

که تاسي نه وای چي موږ مو له ایمان راوړلو څخه بالله ورسوله منع کولو، نو هر آئینه موږ به وای ایمان به مو پر خدای او رسول راوړی وای، مطلب دادی چي تاسي موږ په دې عذاب کې د ورځې د قیامت واقع کړو.

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوٓا۟ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ

وه به وایي هغه کسان چي متکبران وه و مستضعفینو ته یعني په جواب کي د اتباع، آیا موږ منع کړي واست تاسي، والاستفهام للانکار یعني موږ خو تاسي نه واست منع کړي.

عَنِ ٱلْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَآءَكُم بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾

له هدایت او له قبول څخه د اسلام وروسته تر دې چي دعوت د دین د اسلام او د توحید تاسي ته راغلی په دعوت د نبي او قرآن، بلکې تاسي په خپله مجرم یاست چي تقلید زمونږ مو مختاره کړی پیله دلیله، او متابعت د رسول مؤید بالمعجزات مو پریښو.

قانون: همزه د استفهام چي پر اسم داخله سي مثل انا قلت هذا معنی یې داده چي دا خبره خو ما نه ده کړې بلکې دا بل چا کړې وه، وفي الآیة حیث دخل همزة الاستفهام الانکاري علی ضمیر نحن هم هغه قانون جاري دی یعني منع له هدی څخه ستاسي خو موږ نه ده کړې بلکې تاسي په خپل اختیار کړې ده کما قال الله تعالی بل کنتم مجرمین فافهم.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ بَلْ مَكْرُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ

او وه به وایي هغه کسان چي مستضعفین وه (یعني د رد لپاره د جواب سابق د مستکبرینو انحن الی قوله بل کنتم مجرمین) و مستکبرینو ته، یعني وه به وایي اتباع و رؤساء متبوعینو ته، ومعنی د قول د اتباع داده چي موږ صد له هدی څخه په خپل خوښه نه دی کړی "بل مکر آه" بلکې موږ صد چي کړی دی ستاسي د مکر په سبب لیلاً ونهاراً.

دروښ وایي: چي اصل فاعل د مصدر چي مکر دی او مفعول د هغه متروک دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او اضافت د مصدر و ظرف ته سوی ده مجازًا واصل الكلام ای مكركم ايانا في الليل والنهار چي تاسي به زمونږ سره مكر كاوه د شپې او د ورځې چي خبردار چي ايمان رانه وړئ او د رسول خبره ونه منئ، فائده د ذكر د ليل او نهار داده چي تاسي رئيسانو به على الاستمرار صد زمونږ كاوه له قبول څخه د هدايت او د ايمان.

دروښ وايي: چي مظهري په نقل له غير څخه داسي وايي: وقيل عنوا بمكر الليل والنهار طول السلامة وطول الامل فهما صدنا انتهى، وهذا ليس بشئ اذ السباق (بالباء الموحدة) والسياق (بالياء التحتانية) بين الاتباع والمتبوعين وفيما نقل تسليم للتابعين ان صددنا عن الهدى ليس منكم ايها المتبوعين بل باغترارنا بطول السلامة وطول الامل فتدبر.

اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ

اذ بدل دی من الليل والنهار چي تاسي به موږ امر كولو په دې سره چي موږ كفر وكړو په خداى ﷻ سره يعني په توحيد د خداى ﷻ، او موږ وګرځوو خداى ﷻ لره امثال په عبادت كي، چي بتان دي.

وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ

او دواړو ډلو اتباع او متبوعينو پټه ساتل پښېماني پر ضلال او اضلال او هري ډلي خپل پښېماني پټه ساتل له بلې ډلې څخه له جهته د پيغور د بلي ډلي له خوا څخه.

وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

"وجعلنا" عطف دی د رؤا العذاب او تعبير په ماضي مع هذا الامر في المستقبل يعني يوم القيامة لتحقق وقوعها حتمًا كمامر في امثاله.

پوه سه: چي اغلال جمع د غُل ده بضم الغين المعجمة وهو الطوق من الحديد.

ترجمه: موږ ګرځولي دي طوقونه په غاړو كي د هغه كسانو چي په دنيا كي يې كفر مختاره كړى وُ.

سوال: في اعناقهم چي ويل سوي واى اخصر به نه واى لسبق المرجع؟

ځواب: هو! لكن په اظهار كي اعلان د ذم ددوى دى، او بل اشاره و سبب ته د جعل الاغلال في اعناقهم ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا جعل الاغلال في اعناقهم ددې لپاره دی چې په دغه طوق کې بیا ځنځیر د اوسپنې بند کړي او کافر لکه سپی په هغه ځنځیر اور ته کشوي.

هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٣٣﴾

الاستفهام انکاري، یعني جزاء نه ورکړل کیږي مګر (بحذف المضاف بعد حرف الاستفهام ای الا جزاء ما کانوا یعملون ای في الدنیا).

دروښ وایي: چې قهستاني ؒ وایي چې غل طوق دی د اوسپنې چې د سړي لاس تر زنه ورلاندې کړي وروسته دغه طوق پر لاس سر ببره وروتړي تاچې دا سړی سره هم نسي بنورولای، وهو معتاد في الظلمة في قديم الزمان في الدنيا.

وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ

موږ نه دی استولی په یو وطن کې (یعني له قریه څخه مراد متعارفه معنی نه د یعني مقابل البلد بلکې مطلق ځای د اقامت د خلکو که بلد وي او که قریه متعارفه وي) "من نذیر" یو بهرونکی د خلکو له عذاب څخه د خدای ﷻ که ایمان را نه وړي، کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي، روح المعاني وایي چې دا آیت لپاره د تسلي د علیه الصلوة والسلام دی چې ده ته د قوم قریشو له خوا خصوصًا المترفین منهم څه ډېر ازار ورسېدی، وحاصل التسلية چې ازار د رسولانو د مترفینو د خوا څخه عادت قدیمه دی، وقالوا البلية اذا عمت هانت، په پښتو کې وایي د عالمه سره غم نه دی غم، ابن المنذر او ابن ابی حاتم په سند صحیح سره له ابی رزین ؓ څخه روایت کړی دی چې په مکه مکرمه کې دوه کسه وه چې په تجارت سره شریکان وه، هغه یو په مکه کې پاته سو او هغه بل شام ته ولاړی، په دې شپو او ورځو کې رسول الله ﷺ ته نبوت ورکړل سو، نو مکې وال شریک و شامي شریک ته دا حال د نبوت د علیه الصلوة والسلام ورواستاوه، شامي شریک ورته نوشته کړه چې د دغه مدعي النبوة متابعت چا کړی هم دی او که څرنګه، مکې وال ورته نوشته کړه چې چا یې متابعت نه دی کړی مګر یو څو ارزال یعني خوارانو مسکینانو خلګو یې متابعت کړی دی، د قریشو څخه یې هیڅ چا متابعت نه دی کړی، نو شامي تجارت په شام کې متوقف کړی او د مکې پر خوا راستون سو، نو مکې ته چې راورسېدی د مکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وال سره يې وليدل او ورته وه يې ويل چې دغه مدعي النبوة ته ما وروله چې زه يې ووينم، دا شامي شريک بعض کتابونه ويلي وه، نو عليه الصلوة والسلام ته ورغلی او ورته وه يې ويل چې ته خلک و څه شي ته رابولې؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل الى كذا وكذا (يعني مثلاً الى التوحيد والى عقيدة بعث بعد الموت الى غير ذالک) نو سړي ورته وويل اشهد انک رسول الله، عليه الصلوة والسلام ورته وويل: ما علمک بذالک؟ هغه ورته وويل لم يبعث نبي الا اتبعه رزالة الناس ومساكينهم وما ارسلنا في قرية من نذير كما مر تفسيره.

إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا ۙ

دا جمله حال ده په تقدير د "قد" له "نذير" څخه، كما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً يعني الا وقد قال مترفوها، يعني متنعمين او شتمني والا د هغې قريې، وجه د قول مترفوا د قريې داده چې د مترفين حال يعني غنى ددوى باعث پر تكذيب د رسول ده يعني في الاغلب للتكبر والمفاخرة بزخارف الدنيا والانهماک في الشهوات والاستهانة بالفقراء التابعين للرسول لكه چې وروسته آيت دلالت پر كوي.

نكته: فقير د في الاغلب قيد ددې لپاره ووايه چې په مكه كي ابوبكر الصديق ﷺ د شتمنو خلكو څخه د مكې ؤ، راويان وايي چې ده په هغه وخت كي څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) درهمه درلوده، چې د هغه ډېره لويه سرمايه د تجارت وه، لكن ده بې طلبه د معجزې د عليه الصلوة والسلام او بې چون و چرا وويل: اشهد ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله، ځكه يې د صديق اكبر نوم په ټوله امت محمدي كي وګاټه.

إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ ﴿۳۴﴾

موږ په هغه شي چې تاسي په راستول سوي ياست په هغه (يعني على زعمكم) كافران يو يعني منكران يو.

پوه سه: چې روح البيان او مظهري په دې ځاى كي يو نهايت مجمله خبره كړې ده يعني من مقابلة الجمع بالجمع، ددې خبرې توضيح داده چې جمع اول الرسل دى المدلول عليه بقوله تعالى بما ارسلتم، والجمع الثاني كافرون ده يعني فقد كفر كل مترف برسوله وخاطبه بمثل ما في الآية يعني (بما ارسلتم الآية)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا ۙ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

دوی وویل موږه پریږو از روی مال و اولاد تر تاسي "قالوا" الضمیر راجع الی المترفین، والمفضل علیه محذوف یعني منکم ایها الرسل "وما نحن بمعذبین" یعني في القیامة لکه تاسي چې موږ به بېروئ، یا له دې سببه موږ معذبین نه یو چې قیامت بعث بعد الموت نسته کما هو عقیدتهم، او یا له دې سببه چې موږ پر خدای ﷻ ګران یو، نو که قیامت وي هم علی الفرض والتقدیر، نو خدای ﷻ زموږ سپکاوی په دوزخ سره نه کوي کما في الدنیا.

فائده: اموالاً و اولادًا تمییز د نسبت څخه د اکثر ونحن ته، حاصل ددوی د کلام دادی که نبوت امکان پذیر وي نو موږ تر تاسي اولی یو په دغه منصب سره په دلیل ددې چې موږ پر خدای ﷻ ګران یو او د خدای ﷻ دوستان یو، ولي موږ ته یې اموال او اولاد په کثرت راکړي دي نه تاسي ته ایها الرسل.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ

ووایه یا محمد (ﷺ) په رد کي ددې ګمان او قیاس ددوی، چې رب زما ورکوي رزق یعني په کثرت سره و هغه چا ته چې اراده یې سي (لپاره د امتحان د بنده چې شکر یې وایي او که نه) "ویقدر" ضمیر د یقدر و رزق ته راجع دی، یعني تنګوي رزق و من یشاء ته ابتلاءً لصبره علی الرزق الضیق.

دروښ وایي: چې حاصل د رد د کافرانو د قول او زعم دادی چې فراخي د رزق په دنیا کي دلیل د تکریم عند الله نه ده، او نه هم ضیق الرزق په دنیا کي علامه د توهین او سپکاوي ده په نېزد د خدای ﷻ لان الدنیا دار الابتلاء لا دار الجزاء، نو څکه احوال او صفات د خلګو په دنیا کي مختلف دي فمنهم مؤمن ومنهم کافر ومنهم عالم ومنهم جاهل الی غیر ذالک ... بیت:

بر فلک برتر بود اسرار او .... شئنا لله شئنا لله کار او

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾

لکن اکثره خلګ یعني کفار په حکمت د خدای ﷻ په توسیع کي د رزق پر بعض کسانو او په تضییق کي پر بعض کسانو نه پوهېږي چې حکمت ابتلاء د رب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العزت ده. بلكې ددوی دا زعم فاسد دی چې كثرة الاولاد و الاموال علامه د كرامت عندالله ده وبالعكس قلة المال والمنال والاولاد دليل د اهانت دی عند الله، په حديث شريف كې راغلي دي الدنيا عرض حاضر يأكل منها البر والفاجر والآخرة وعد صادق يحكم فيها ملك قاهر .... بيت:

اديم زمين سفره عام اوست ... بدين خوان يغما چه دشمن چه دوست

نفس را بد خو نباز و نعمت دنيا مكن .... آب و نان سير كامل ميكند مزدور را

وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ

پوه سه: چې دا كلام مستأنف دی له جانبه څخه د خدای ﷻ لپاره د تحقيق د حق مبالغةً في رد قول الكفرة ونحن اكثر اموالاً و اولاداً، ای ما جماعت اموالكم و اولادكم ايها الناس "بالتي" تا د التي په تاويل د اموالكم و اولادكم په جماعت سره كما اشرنا اليه، نحات وايي چې جمع مكسر چې دلته اموالكم واولادكم ده كه عقلاء وي او كه د غير عقلاوي سره برابر دي په حكم كې د تانيث بتاويل الجماعة، او بعض مفسرين وايي چې موصوف د التي الخصله دی ای بالخصلة التي "تقربكم عندنا زلفى" چې تاسي دي په نږدې زمونږ په نزدې والي.

پوه سه: چې زلفى منصوب دی تقديراً يعني مفعول مطلق دی د تقربكم، الزلفى والزلفة والقربى والقربة بمعنى واحد.

سوال: تقربكم خو له بابه د تفعيل دی، او زلفى مصدر مجرد دی، نو څرنګه يې انبتكم مفعول مطلق كېداى سي؟

ځواب: نحات د بصري دا روا بولي نحو: انبتكم من الارض نباتًا، او اهل كوفه نحات وايي: چې وروسته تر فعل مزيد فعل مجرد محذوف، نو دا مجرد مصدر د فعل محذوف مفعول مطلق دی، والتقدير تقربكم فتقريكم زلفى، او اخفش ؒ وايي چې زلفى اسم مصدر دی كانه قال بالتي تقربكم عندنا تقريبًا فافهم.

إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا

مګر نه هغه څوک چې ايمان يې راوړی وي او عمل صالح يې هم كړي وي.

پوه سه: چې ظاهره داده چې دا استثناء منقطع ده يعني لكن من آمن وعمل صالحًا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني فايمانه وعمله يقربه عني، كذا قال ابن عباس ؓ، او دا هم ممكنه ده چي استثناء دي متصل وي له مفعول څخه د يقربكم، والمعنى ان الاموال والاولاد لايقرب الى الله احد الا المؤمن الصالح يعني ينفق ماله في سبيل الله ويعلم اولاده الخير او باعثه كوي يې پر صلاح، او دا هم احتمال راوړل سوى دى چي استثناء دي متصله وي د اموالكم او اولادكم څخه بحذف المضاف ومن آمن ته، والتقدير الا اولاد من آمن واولاده فانها تقربه الى الله، ولي چي غالبًا چي مؤمن صالح به مال په لار كي د خير صرفوي او اولاد به پر خير باعثه كوي، او دغه اموال او اولاد به دى و خداى ﷻ ته نژدې كړي.

فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ﴿٣٧﴾

پوه سه: چي كلمه د فاء لپاره د ترتب پر ماقبل او لفظ د اولئك مبتداء ده جزاء په رفع سره يې خبر دى، مضاف و ضعف ته دى من قبيل اضافة المصدر الى المفعول او كلمه د با په بما عملوا كي سببيه ده او كلمه د ما يا مصدريه يا موصوله ده، والحاصل ان الله يضعف جزاء حسناتهم فيجزون بالحسنة الواحدة عشرًا بالغًا الى سبعمائة الى ما شاء الله، وذالك التفاوت بحسب تفاوت الاخلاص في العمل والوقت والمحل وغيرها من موجبات الزيادة على العشرة فتدبر "وهم في الغرفات آمنون" او دوى به په لوړو درجو كي د جنت په امن اوسېږي.

پوه سه: چي حمزه ؒ له قراء سبعه څخه غرفة مفرد وايي بارادة الجنس يشمل الواحد والكثير، او نور قاريان يې په جمع سره وايي، وهذه القرئة واضح والغرف المنازل الرفيعة من الجنة جمع د غرفة ده چي په عربي يې البيت فوق البيت بولي او په پښتو يې بالا خانه بولي.

فائده: د آمنون پراخه لمن ده اى من جميع الآفات كالموت والهرم والمرض والعدو والخوف والحزن والجوع والعطش الى غير ذالك.

دروښ وايي: چي پښتانه وايي چي دنيا يو خوب او خيال دى، دا يوه ډېره زيبا او په زړه پوري خبره د اولياء الله ده، ابراهيم بن ادهم ؒ يو سړي ته وويل چي يو درهم په خوب كي ستا خوښ دى او كه يو دينار په ويښه؟ (درهم د سپينو زرو روپي ده او دينار د سرو زرو روپي) هغه سړي ورته وويل چي دينار مي خوښ دى په ويښه، ابراهيم ؒ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وويل كذبت، ولي چي دا دنيا نعمتونه او جاه و جلال لكه درهم چي څوک په خوب كي خوښ لري په دې معنى چي د خوب په حالت كي كه څه هم سړی په درهم خوشاله وي لكن چونكه خوب خو دوام نه لري چي راويښ سي درهم نه وي، او هغه شى چي ته محبت ورسره لرې په دينا كي يعني من طاعات الله واذكار وغير ذالک چي په آخرت كي ثواب ورکول كيږي چي د آخرت ژوند حيات حقيقي او دائم دی لكه په ويښه دينار دی، فافهم هداک الله تعالى، ددې حكايت مطابق يو د پښتو شاعر وايي:

په تصور مي ځان باچا كړی .... سر مي راپورته كړی ملنګ د دنيا و مه

وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ۝

او هغه څوک چي كوشش كوي په ابطال د آياتو زمونږ (بحذف المضاف يعني لفظ ابطال) يعني چي دوی زما عجز فرض كړي چي عذاب به نه كړي را، هم دغه كسان په عذاب كي به حاضر كړل سي يعني عذاب النار في يوم القيامة ويحتمل عذاب الدنيا كالمشركين في يوم بدر.

پوه سه: چي له آيتو څخه آيات قرآنيه مراد دي او كوشش كونكی په ابطال كي تو له كفرة فجرة دي من المشركين واليهود والنصارى وغير هؤلاء.

قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ

ته ووايه يا محمد (ﷺ) و كافرانو ته د مكې بلكې عموماً خلكو ته چي رب زما فراخه كوي رزق و هغه چا ته چي دده اراده وي د بندګانو څخه دده او تنګوي رزق و من يشاء ته، نو ضمير د له راجع دی و من يشاء ته.

پوښتنه: دا آيت خو دمخه قريباً ذكر سو نو دا اوس ذكر به يې تكرار نه وي؟

ځواب: مظهري ؒ ددې پوښتنې په ځواب كي وايي چي دا آيت د توسيع او د تنګی نسبت و شخص واحد ته دی په دوه وخته وما سبق في شخصين فلا تكرار انتهى، او روح البيان هم بعينه دغه ځواب راوړی دی او روح المعاني هم دغه ځواب خو راوړی دی.

دروښ وايي: چي پر دغه توجيه د عدم تكرار څه قرينه ده چي په دې آيت كي توسيع او تضييق مراد دی نظر و شخص واحد ته په دوه وخته كي او په آيت سابق كي نظر وه دوه شخص ته مراد ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجواب: قرینه یې داده چې په آیت کې "له" چې راجع و من ته دی او په سابق آیت کې "له" نه دی راوړی، نو دا وفهمېدل چې په سابق آیت کې توسیع او تضییق وه یو من ته نه دی او د "له" چې ضمیر راوړی راجع و من مذکور سابقًا ته دی دا ښکار کوي چې توسیع او تضییق نسبت و یوه من ته دي ولا یتصور ذالک الا في وقتین فافهم وتدبر غایة التدبیر.

فقیر وایي: چې د عدم تکرار وجه السید محمود الآلوسي ؒ دېره په زړه پوري راوړې ده، حیث قال في تفسیر الآیت الثانیة ای یوسعه سبحانه علیه تارةً ویضیقه علیه اخری فلا تخشوا الفقر (ای المؤمنون) وانفقوا في سبیل الله وتقربوا الیه ؒ باموالکم وانفسکم فمساق الآیة للوعظ للمؤمنین والحث علی التقرب الیه تعالی بالانفاق بخلاف مساق نظیرها المتقدم فانه للرد علی الکفرة فلا تکرارا ذًا.

دروښ وایي: چې حاسد چې فقط کتاب فروش وي دی په دقیق عبارت څه پوهېږي، اخیر دا نعره وکړي چې عبیدالله سارق دی، ومن غایة جهله لایفرق بین النقل والسرقة ولا یعلم ان مبنی الدین المبین علی النقل من لدن رسول الله ﷺ الی الوقت الحاضر، وایضًا کتب التفاسیر والفقه بل کتب جمیع العلوم مملوة من النقل.

وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾

هغه شی چې تاسي یې نفقه کړئ یعني في سبیل الله کالجهاد، ولو شیًا قلیلاً، خدای ؒ خلف او عوض ورکوي یا ژر یعني په دې دنیا کې کالغنیمة او یا یې ذخیره کړخوي د قیامت د ورځې لپاره، والحاصل فما لکم لاتنفعون اموالکم في سبیل الله.

پوه سه: چې کلمه د ما شرطیه ده په محل کې د نصب ده او من شیئ بیان دی، او جواب د شرط یې "فهو آه" دی، او تقدیم د مسند الیه یعني "فهو" پر مسند فعلی یعنی "یخلفه" لپاره د حصر دی او تاکید کما تقرر في کتب النحو.

خدای ؒ بهترین د رزق ورکونکو دی، ولي انسانان که و چاته رزق ورکوي هغه صرف او صرف واسطه دي په رسولو کې د رزق د خدای ﷻ و خلکو ته، واطلاق الرازق علی غیره تعالی انما هو بالمجاز والرازق الحقیقي هو الله ﷻ.

سوال: پر دې تقدیر خو په لفظ کې د الرازقین جمع په منع کې د حقیقت او مجاز لازمېږي، وقد منعه الاصولیون جمیعًا؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په الرازقين کي مراد عموم مجاز دی يعني مراد معنی مجازي عامه للحقيقة والمجاز السابق يعني الموصليين للنفع، فتدبر.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾

او هغه ورځ چي حشر سي دوی ټوله يعني المتبوعين والتابعين، وبعبارة اخرى المستكبرين والضعفاء.

پوه سه: چي يوم منصوب دی په اذکر مقدر سره، او ضمير د يحشرهم راجع و خدای ﷻ ته دی "ثم يقول" ای الرب تبارک وتعالی، عطف دی پر يحشرهم چي صيغه د غائب وه کماهو قرائة اکثر القراء، او بعض قراء يې په نون سره وايي يعني نقول "للملائكة" و ملائکو ته يعني دا هغه کافران دي چي عبادت د ملکو به يې کاوه او دا به يې هم ويل چي ملائکه بنات الله دي؟ "ايياكم كانوا يعبدون" ستاسي دوی وه چي عبادت يې کاوه يعني په دنيا کي.

پوښتنه: د ملکو څخه ددې سوال څه فائده ده، ولي خدای ﷻ ته خو په علم ازلي دا معلومه وه چي ملائکه ددوی په عبادت نه وې راضي؟

ځواب: دا سوال د عابدانو څخه د ملکو د ذليل کېدو لپاره دی، او سرزنش د هغو دی او عابدان د ملکو نا اميده کول دي له شفاعت څخه د ملکو لکه دوی چي به دا زعم کاوه.

پوښتنه: مشرکانو خو بعض د لمر او د سپوږمۍ عبادت کاوه، او بعضو د مطلق ستورو عبادت کاوه او بعضو د بتانو عبادت، نو تخصيص د ملکو د څه حکمت لپاره و کړل سو؟

ځواب: تخصيص د ملکو يو ددې لپاره دی چي ملائکه اشرف د معبوداتو د مشرکانو دي، او بله وجه يې داده چي ملائکه قابل د سوال او ځواب دي کما سيئاتي بخلاف سائر معبودات المشرکين کما ذکرنا هغه خو قابل د سوال او جواب نه دي، او بله وجه يې داده چي اصل او مبدء د ټولو عباداتو د مشرکانو عبادت د ملکو دی.

قَالُوا سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ

وويل ملکو پاکي ده تا لره (سبحان مصدر د افعل محذوف دی ای تنزهک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنزيها (كماهو معنى د سبحانک تسبيحًا ده) عن الشرک والشريک) ته يا الله زموږ ولي او دوست يې نه دوی يعني مشرکان، يعني لا موالات بيننا وبينهم، ددې ويلو څخه د ملکو غرض دا وُ چې موږ په عبادت ددوی راضي نه وُ لانا نعلم ان معبودنا انت بلا شريک فکيف نرضٰى بجعل المشرکين ايانا شريکًا لک.

بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾

بلکې دوی عبادت د شيطانانو کاوه، يعني شيطانانو و دوی ته عبادت کول د ملکو ښائسته کړی وُ، او دا به يې دوی ته وسوسه وراچول چې که تاسي عبادت د ملکو وکړئ دوی به ستاسي شفاعت وکړي و خدای ﷻ ته، او بعض مفسران په نقل د مظهري وايي چې شيطانانو به دوی ته ځانونه متمثل ښکاره کړي وه او دوی ته به يې ويل يعني په خيال کي به يې دا وراچول چې موږ ملکي يو فيعبدنهم، نو پر دې تقدير عبارت د شيطانانو على الحقيقة دی "اکثرهم بهم مؤمنون" ای اکثر الناس چې مشرکان دي پر جن به يې ايمان وُ.

فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ

نو ننه ورځ يعني په ورځ د قيامت مالک نه دي بعض خلک من الملائکة والجن والانس نور بعضو لره نفع نسي رسولای يعني يا دي ثواب ورکړي يا دې شفاعت وکړي او نه ضرر ورورسولای سي او نه عذاب ورکولای سي، کريمه: لمن الملک اليوم لله الواحد القهار.

وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾

او موږ به ووايو هغه کسانو ته يعني مشرکينو ته چې ظلم يې کړی وُ په دنيا کي يعني چې عبادت چې حق د خدای ﷻ وُ بې ځايه يې کړی وُ چې بتان وه وغيرها کما هو معنى الظلم، نو تاسي برداشتوئ عذاب د اور يعني په جهنم کي هسي اور چې تاسي يې په تکذيب کاوه يعني في الدنيا.

بوه سه: چې جمله د نقول عطف ده پر لايملک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ

او هغه وخت چي تلاوت وکړل سي پر دوی يعني مشرکين د اهل مکه آياتونه زمونږ يعني آيات القرآن العزيز "بينات" چي واضحات الدلالات دي پر خپلو معانيو، يعني دا تلاوت د آيات د قرآن پر ژبه د رسول کريم ﷺ وي.

قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُكُمْ

دوی وايي نه دی (اشاره و عليه الصلوة والسلام ته کوي) يعني محمد ﷺ مګر يو سړی دی چي تاسي منع کوي د هغو خدايانو څه چي ستاسي آباء يې عبادت کاوه، مراد ځني بتان دي.

وَقَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا إِفْكٌ مُّفْتَرًى

او دوی وايي يعني د قرآن په باره کي نه دی دا قرآن مګر درواغ دی يعني د واقع سره برابر نه دی چي عليه الصلوة والسلام په درواغو په خداى پوري تړلی دی، يعني دی وايي چي دا د خداى کلام دی او د خداى کلام هم نه دی.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ

او وايي دغه کسان چي کافران دي يعني کفار مکة و هغه حق ته (چي مراد ځني امر د نبوت د عليه الصلوة والسلام يا مراد دين د اسلام دی يا قرآن دی) هغه وخت چي دوی ته راغلی (يعني په اول وهلت کي د راتګ ېيله فکر او غور کولو) نه دی دا مګر نه دی ښکاره سحر يعنون چي سحريت يې ظاهر هم دی.

پوه سه: چي اول حکم ددوی يعني الا افک په اعتبار د معنی د قرآن دی، او دوهم حکم ددوی يعني الا سحر مبين په اعتبار د لفظ او اعجاز د قرآن دی، غرض ددوی دا وُ چي مونږ چي مثل يې نسو جوړولای کريمه: ان کنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله، دا عليه الصلوة والسلام پر مونږ سحر وکړی چي له ايتان څخه د مثل د سورة يې مونږ عاجزه وګرځولو.

دروښ وايي: چي دا ټولي خبري چي يې کولې عناداً او تکبراً يې کولې، ولي هغه د دوو مشر عتبة بن ربيعة به ويل ماهو شعر ولا کهانة ولا سحر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا فعل چي خدای ﷻ مکرر راوړی یعني قالوا ما هذا، وقال الذین کفروا والتصریح بلفظ الکفر په دې انکار عظیم ددوی پر انکار او تعجیب عظیم دی من کفرهم فتدبر.

وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ۝

موږ دوی ته نه دي ورکړي یعني کفار مکې ته یعني داسي کتابونه چي په هغو کتابو کي دي دلیل وي پر صحت ددوی د شرک، چي دوی دي درس کوي، او موږ نه دی استولی دوی ته تر تا دمخه یو ډیرونکی یعني چي دوی ته یې دعوت ورکړی وای د توحید او دوی یې ډیرولي وای پر ترک د ایمان، والحاصل چي دوی نو د څه درکه دعوی د حقیقت د شرک کوي. او دا قرآن افک مفتری بولي او یا یې سحر بولي او علیه الصلوة والسلام ته نسبت د کذب کوي.

فائده: دا وروسته آیتونه د خدای پاک له خوا تهدید دي کفارو ته د مکې.

وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ

او تکذیب کړی دی تر دوی دمخه امتو د رسولانو چي عاد وه او ثمود وه او قوم ابراهیم وه او قوم لوط وه او اصحاب مدین وه او اصحاب ایکة وه.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده علی قال الذین کفروا باندي.

وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۣ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝

او نه وه رسېدلي کفار د مکې و لسمي حصې ته د اما اعطینا الامم الماضیة یعني د نعمتو څخه او عدد ته د هغو او طول عمر ته د هغو، دا هر امت چي ذکر سول د خپل خپل رسول تکذیب یې وکړی، نو ما هغه امم تولې که څه هم تر کفار د مکې بالاوه هلاک کړه، نو څرنګه ؤ زما انکار پر هغو.

فائده: تنوین په نکیر کي عوض دی د مضاف الیه څخه ای کیف کان انکاري علیهم بالعقوبة والاهلاک بصغیرهم وکبیرهم.

پوه سه: چي د کیف جواب محذوف دی ای واقع موقعه یعني ما ظلمناهم ولکن کانوا انفسهم یظلمون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا بيان د اهلاک د امم ماضيه ؤ چې دوی تکذيب د خپلو رسولانو وکړی بهرول دي د کفارو د مکې چې تاسي چې تکذيب وکړی د خپل رسول محمد (ﷺ) تاسي ته به هم ورته عذاب د امم ماضيه ؤ راسي ... بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

سوال: کذب دوه ځايه په دې آيت کې راغلی يعني وکذب الذين آه فکذبوا رسلي آه، نو به تکرار نه وي؟

ځواب: صيغه د تفعيل په اول و کذب الذين لپاره د تکثير ده او په کذبوا کې لپاره د تعديه ورسلي ته والمکذب فيهما واحد، والمعنى انهم اکثروا التکذيب، نو د دوی طبع وکړځېدل حتی چې دلاوره سوه علی تکذيب الرسل يعني هر چا ته به يې ويل چې درواغ مه وايه ست چې دا وينا د دوی عادت وکړځېدی حتی رسولانو ته يې هم وويل چې درواغ مه وايه ست، او بل ځواب دادی چې اول کذبوا مطلق دی يعني مقيد په مفعول پورې نه دی، ولي منزل منزلة اللازم دی، او دويم مقيد په مفعول سره چې رسلي دی، نو دويم کذبوا تفصيل دی د اجمال د اول کذبوا، نو ځکه يې عطف بالفاء پر وکړی، او مصنف د بحر المواج وايي چې ضمير د فکذبوا رسلي راجع دی د کفارو ته د مکې، عطف دی پر ما بلغوا، فلا تکرار ايضًا ولي د دمخه د وکذب الذين من قبلهم ځخه خو کفار د امم ماضيه ؤ مراد وه فافهم.

قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ أَن تَقُومُوا لِلَّهِ

ووايه يا محمد (ﷺ) و کفارو ته مکې، زه و تاسي ته وعظ او نصيحت کوم "بواحدة" اى بخصلة واحدة يعني په يوه خوی سره چې هغه مادل عليه قوله "ان تقوموا لله".

پوه سه: چې مراد له قيام ځخه متعارف معنا نه ده يعني ضد الجلوس والرقود بلکې مراد ځنې قصد مصمم دی په يو کار کې او قصد کول دي و هغه کار ته کما في قوله تعالى: ان تقوموا لليتامى بالقسط، ومعنى "لله" داده چې دا نتصاب ستاسي به ځاصةً لله وي او تعصب او عناد او تقليد الاباء به نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۚ

يعني دوه دوه يا يو يو (ولي چي اذدحام وي خاطر او فكر مشوش كړئي، دا دوه لفظه حال دي له فاعل څخه د تقوموا) وروسته ښه غور او فكر وكړئ په حال كي د محمد ﷺ يعني له ابتداء څخه د بلوغ الى وقت دعوى النبوة، يعني چي دى ليونى ؤ يا ساحر ؤ يا شاعر ؤ يا كاهن ؤ، بلكې قريشو به محمد ﷺ امين مكة باله. دا جمله عطف ده پر تقوموا.

الاعراب: ان تقوموا په تأويل د مصدر يا مجرور محلاً دى بدل دى د واحدة څخه يا يې عطف بيان دى د واحدة يا مرفوع محلاً ده په حذف د هو چي مبتداء ده او يا منصوب محلاً ده په تقدير د اعني چي فعل او فاعل دي.

مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۚ

نسته په صاحب كي ستاسي، يعني نفسه المبارك ﷺ هيڅ نوع د جنون، كلمه د من لپاره د استغراق د نفي دى.

پوه سه: چي دا جمله استيناف دى مسوق له جانبه څخه د خداى ﷻ لپاره د تنبيه پر فائده د فكر او د نظر او تأمل. حاصل ددې استيناف دادى چي داسي لويه دعوى كول يعني الرسالة من الله چي تر دې دعوى لاندي ملك الدنيا والآخرة ده يا به مجنون كوي چي هغه په رسوايي سره باك نه كوي چي څوك مطالبه د برهان څني وكړي وظهور عجزه، او يا به يې هغه سړى كوي چي مؤيد من عند الله او په نبوت سره ښائسته وي او كه څوك دليل او برهان څني وغواړي دى ډاډه وي چي د فضيحة سره نه مخامخ كيږي، او كفارو ته د مكې دا مه لومه وه چي انه ﷺ كمامر ارجح الناس عقلاً واصدقهم قولاً واذكاهم نفساً وافضلهم علماً واحسنهم اخلاقاً وعلماً، او ټوله كمالات بشريه په ده كي موجود دي: ... ع:

آنچه خوبان همه دارند تو تنها دارى

نو بايد چي مكې وال يې تصديق د نبوت وكړي او سره د مذكوره حالاتو ظاهرونكى دى د معجزاتو باهراتو هم دى.

نكته: تعبير يې د عليه الصلوة والسلام په صاحب سره وكړى، ددې لپاره چي دده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبارک حالات تر نورو ځلګو تاسي مکې والو ته ښه معلوم دي، لانه نشا، بين اظهرکم کمامر سابقًا، او بل دليل د صحت د دعوی د نبوت دادی چې دومره لويه دعوه چې څوک کوي يا به يې لپاره د جلب د نفع کوي، هغه په عليه الصلوة والسلام کي نسته، حيث يقول کريمه: ماسألتکم من اجر فهو لکم، او يا به يې دفع د ضرر کوي هغه خو هم په دې دعوه کي متصور نه دی، ولي چې په دې دعوٰی کي عداوت د قوم اهل مکه بلکې د ټولې عرب بلکې د ټولې دنيا والو موجود دی، نتيجه داده چې دعوی نفع يا دفع د ضرر في غير هذه الدنيا متوقع ده، نو اصل غرض دده هغه دی.

إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾

نه دی دی (ﷺ) مګر بېرونکی تاسي لره چې شرک مو مذهب ګرځولی دی له حضور څخه د عذاب سخت، يعني که له شرک څخه بيزاره نه سئ او توحيد ته غاړه نه کښېږدئ، چې مراد له عذاب شديد څخه عذاب دی په ورځ کي د قيامت چې ستاسي په مخ کي دی، له ابن عباس ؓ څخه روايت چې دا آيت چې نازل سو "وانذر عشيرتک الاقربين" نو عليه الصلوة والسلام سهار وختي د صفا و غره ته وختی نو يې نعره وکړه يا بني مهر يا بني عدي (الی غير ذالک) و کوچني کوچني قبائيلو ته د قريشو حتی چې د ټولو قبائلو يو سړی يا دوه راغله چې سره جمع سوه، نو رسول الله ﷺ ورته وويل چې تاسي راته وواياست چې که زه خبر درکړم چې د دې خوا څخه يو لښکر را روان دی چې ستاسي د غارت اراده لري يعني حمله وکړي، تاسي يې زما سره منئ، ټولو ورته وويل ما جربنا عليک الا صدقًا (موږ نه دی تجربه کړی پر تا باندې مګر رښتيا، يعني نو دا خبره ستا منو) نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل فاني نذير لکم من بين يدي عذاب شديد، فقال ابو لهب تبًا لک سائر اليوم (هلاک دي وي تا لره ټوله عمر) الهذا جمعتنا فانزل تبت يدا ابی لهب الی اخير السورة. بخاري.

قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ

هغه چې زه سوال وکړم له تاسي څخه د مزدوری (يعني پر تبليغ د رسالت) په هغه کي ستاسي غرض دادی چې لا اسئلکم شيئًا، لکه يو سړی چې بل ته واياي "ان اعطيتني شيئًا فخذه، وانت تعلم انه لا يعطيک شيئًا" نو پر دې تقدير کلمه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما شرطيه ده مفعول د سألتكم ده، وهذا التقدير مروي عن قتادةؒ، او بعض مفسرين وايي چي كلمه د ما موصوله ده او عائد يې محذوف دی او كلمه د من بيان د شي او فهو لكم خبر دی د ما موصوله، پر خبر يې فاء داخله كړه لتضمن كلمة ما للشرط والتقدير على هذا التقرير ای الذي (معنی د ما موصوله ده) سألتموه (دا ضمير عائد محذوف دی) فهو لكم ای ثمرته تعود اليكم، نو دا و هغه آيت ته اشاره ده لا اسئلكم عليه اجرًا الا المودة في القربٰی، نو د فهو لكم معنی داده چي قربٰی زما قربٰی ستاسي ده، قال ابن عباسؓ.

إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾

نه دی زما اجر او ثواب په تبليغ كي د رسالت مكر پر خدای ﷻ، يعني في غير هذه الدنيا وهو العقبٰی، او خدای ﷻ پر هر شي حاضر دی يعني عالم دی فيجازي كل واحد على اعتقاده وعمله، شيخ سعدي قدس سره السامي چه خوش گفته درباب اخذ الاجرة على التبليغ والتعليم:

زيان ميكند مرد تفسير دان ..... كه علم و ادب ميفروشد به نان
كجا عقل يا شرع فتوی دهد ..... كه اهل خرد دين بدنيا دهد

سوال: على خو كلمه د الزام ده او سره ددې پر خدای ﷻ شی واجب نسته؟

ځواب: معنی يې داده تفضلاً منه بناء على وعده بذلك، نو دا كلمه د الزام مثل ما ورد في الحديث المتفق عليه قال رسول اللهﷺ يا معاذ هل تدري ما حق الله على عباده وما حق العباد على الله (ای تفضلاً بناء على وعده) قلت الله ورسوله اعلم قال: حق الله على العباد (ای لزومًا واجبًا) ان يعبدوه ولا يشركوا به شيئًا وحق العباد على الله (ای تفضلاً) على ان لا يعذب من لا يشرك به شيئًا.

دروښ وايي: د اخير ددې حديث شرح وبيان طويل مذكور في شروح البخاري ومسلم.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾

پوه سه: چي قذف رمی دی من بعيد بنحو الحجارة او السهم نو استعارةً لمعنی الالقاء والباء للتعدية، والمراد بالحق الوحي ای يلقی الوحي وينزله على من اختاره من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عباده، اهل الله وايي چي اجتبأ د خداى ﷻ ليس لعلة و الاصطفاء ليس بحيلة، او يا مراد رمي دى اى يرمى بالحق على الباطل فيد مغه (د باطل سر و رمات كړئ) او يا معنى داده چي حق چي دين د اسلام دى و اطرافو ته د محكي غورځوي يعني رسوي، نو پر دې تقدير دا آيت وعده ده چي اسلام به د ټولي نړۍ اقطارو ته ورسيږي، په حديث شريف كي چي روايت يې احمد ؒ كړى دى عن المقداد ؓ دى وايي چي ما واوربدل د رسول الله ﷺ څخه انه لايبقى على ظهر الارض بيت مدر (د خاورو كور) ولا وبر (نه د اوښ د وړيو) الا ادخله الله كلمة الاسلام الى اخير الحديث، وايي چي بيت مدر او وبر چي په حديث شريف كي راغلى د عصر نبوي پر رواج چي بيوت اكثر يا د مدر وه يا د وبر وه، ورنه اسلام به داخليږي په بيوت كي هم چي په ګچو يا د اوسپنې په ګاډرانو او يا په سيخ او كانګريټ الى غير ذالک جوړ سوي وي، كما هو المروج في الزمان الحاضر (۱۴۳۱) "علام الغيوب" دى د پرزيات خبر دى په ډېرو غيبو شيانو يعني له مخلوق څخه.

فائده: علام كه په رفع سره وي كما في المصاحف المطبوعة، نو صفت دى د ربي چي اسم د ان ؤ لكن حملاً على محله، يا بدل دى د يقذف د ضمير مستتر څخه چي راجع و ربي ته دى، يا خبر ثاني د ان دى او يا خبر د مبتداء محذوفي دى اى هو علام الغيوب، اهل تجربه علماء وايي چي علام الغيوب چي څوک ورد وګرځوي او په شبانه روز كي يې پنځه سوه (۵۰۰) واره وايي سره د يا نداء يعني يا علام الغيوب علمني، قوته حافظه به يې قوي سي او هېره به يې زائله سي، والله على كل شيئ قدير.

قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴿۴۹﴾

ته ووايه يا محمد (ﷺ) چي راغلى حق يعني القرآن و الاسلام و التوحيد، او نه به سي بنكاره باطل چي شرك يعني د باطل روح قبض سو.

دروښ وايي: چي مراد عند اكثر المفسرين له عدم ظهور څخه د شرك او بېرته راګرځېدلو څخه د هغه په مكه معظمه كي دى كما يدل عليه الحديث المروي عن ابن مسعود ؓ چي رسول الله ﷺ داخل سو مكې ته يعني في عام فتحها، او پر شاوخوا د كعبې مباركې (۳۶۰) بتان موجود وه، نو د عليه الصلوة و السلام په لاس كي لكړه وه يعني يو لرګى ؤ، بت به يې په واهه و يقول: جاء الحق و ما يبدئ الباطل و ما يعيد، وجاء مثله في موضع آخر من القرآن قال عز من قائل: بل يقذف بالحق على الباطل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فيد مغه فاذا هوا ذاهق، اى ذاهب، البغوي ؒ وايي چي كفارو د مكي و عليه الصلوة والسلام ته وويل: انک قد ضللت حتى تركت دين ابائک، فانزل الله ﷻ هذه الآية.

قُلْ إِنْ ضَلَلْتُ فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ۖ

ته ووايه يا محمد (ﷺ) دوى ته، يعني دغه دين چي عبارت له توحيد څخه دى چي ما خپل دين ګرځولى دى كه ګمراهي وي لكه تاسي چي واياست، يعني وبال ددې ضلال خو ماته راجع دى. نو زه به څرنګه پېرزوينه د وبال پر ځان كوم سره ددې چي لېونى نه يم او ماته يوه دنيايي نفع هم نسته پكښې.

وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ رَبِّي ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

او كه زه پر هدايت يم په دغه دين كي، نو دا هدايت له جانبه څخه د خداى ﷻ بالوحي الي، ولي تاسي اهل مكه ته زه معلوم يم چي امي يم، نه په دې ښار كي د مكې ما له يو چا څخه يو شى ليكلى دى او نه مي قرائت پرېو چا ويلى دى، نو چي دا اهتداء په وحي الهي ده زما د ځان له خوا نه ده، نو پر تاسي اهل مكه دا واجبه ده چي زما متابعت به كوئ فتهتدوا كما اهتديت، والحاصل ان هذا استدلال على النبوة.

په تحقيق خداى ﷻ اوربدونكى دى د اقوالو د خلكو او نژدې دى خلكو ته (نه په مكان كي) بلكې په قدرت او علم پر هر ضال او مهتد كي كه څه هم ضال خپل ضلال پټ ساتي ... ابيات:

دوست نزديكتر زمن بمن است ...، وين عجبتر كه من ازو دوام
چه كنم با كه تـوان گفت كه او .... در كنار من و من ازو مهجورم

ع :.... نعره كمتر زن كه نزديكست يار

وهذه الآية اشارة الى احال اهل الشهود فانهم يراعون الادب في كل حال مع الرب ؒ. نو نعري نه وهي كما لايصح القريب.

وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ فَزِعُوا فَلَا فَوْتَ

"ولوترى" ايها المخاطب الصالح للخطاب "اذ فزعوا" يعني وقت فزع الكفار فقيل عند الموت، وقال قتادة ؒ عند البعث، وجواب لو محذوف يعني لرئيت امرًا فظيعًا "فلا فوت" يعني لهم يعني فلا يفوتون الله، يعني نه په تېښته او نه په ورکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د فدیه د ځان د خوا چې ځان دي له عذابه په وساتي او نه په قلعه کې د حفاظت.

وَأُخِذُوا مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾

او دوی به ونیول سي لپاره د عذاب له نژدې ځایه څخه، قيل من ظهر الارض الى بطنها يعني القبر او من موقف الحساب الى النار.

وَقَالُوا آمَنَّا بِهِ ۚ

او وویل دوی چې مونږ ایمان راوړی دی ای بمحمد ﷺ انه رسول الله.

پوه سه: چې دا اقرار ددوی هغه وخت دی چې سکرات الموت پرده راسي او ملائكة الموت مع المسوح فيه نار، دوی وويني او يا عند البعث من القبور اذا عاينوا العذاب، او يا چې دوزخ ته داخليږي.

تفریع: بعض مفسرين چې په يوم البدر سره تفسير کوي بعيد دی، ولي چې په يوم البدر کې خو دوی امنا به نه وايه حتی چې د ابن مسعود ؓ څخه روايت دی چې زه په قتلی ؤ کې د بدر ګرځېدم پر ابو جهل پېښ سوم چې مړ نه ؤ، نو تر ږيري مي ونيوی او داسي مي ورته وويل الحمد لله الذي اخزاک يا عدو الله، ده راته وويل بما اخذ اني الله هل زاد علىّ رجل قتله قومه، يعني آمنا بمحمد ﷺ يې نه وويل بلې خپل کبريې ښکاره کړی.

وَأَنَّىٰ لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

پوه سه: چې تناوش اخذ الشيئ من مكان قريب، والمعنى اني لهم ان يتحركوا ويطلبوا الايمان والتوبة "من مكان بعيد" د لېرې ځای څخه، ولي چې تناول د ايمان او توبه په وخت کې د تکليف بالايمان ؤ في الدنيا بالاختيار وقد بعد ذالک الوقت.

پوه سه: چې ددې ايمان او توبې د کافرانو مثال چې يو سړی چې يو شی چې دده څخه په مقدار د يوه زراع لېرې وي نو دی خو هغه شی په اساني سره را اخستلای سي، اما چې هغه شی چې يو فرسخ مثلاً لېرې وي، نو د هغه را اخستل وده ته محال دی كذالک الكفار حين كانوا في الدنيا ودوی ته ايمان او توبه ډېره نژدې وه، اما چې دوی په سکرات کې سوه يا له قبرو څخه بعث سي بيا نو تناول د ايمان بمحمد (ﷺ) او توبه له شرک څخه ډېره لېرې سوه، چې دوی ته يې تناول ممکن نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ

او حال دا دی چې دوی کړی وُ کفر دمخه تر دې.

پوه سه: چې د (به) ضمیر یا راجع دی خدای ﷻ ته چې د هغه دمخه تېر سو څو واړه، علام الغیوب سمیع قریب الا علی الله ان ربي یا محمد ﷺ ته راجع دی، چې ذکر یې په دې قول کې تېر سو ما بصاحبکم او یا و قرآن ته المذکور بقوله جاء الحق او یا وعذاب المفهوم من قوله واخذوا.

پوه سه: چې وقد کفروا حال دی له فاعل څخه د قالوا او د من قبل معنی داده قبل ذالک الوقت یعني في اوان التکلیف.

وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ۝

او دوی ویشتل کوي له لېرې ځای څخه. مجاهد ؒ وایي چې دوی ویشتی محمد ﷺ په داسي شي سره چې دوی علم نه پر درلودی، یقولون، مفتر، شاعر، کاهن، مجنون، ساحر، کذاب وهذا تکلم بالغیب، او قتاده ؒ وایي چې په حال کې د اخرت دوی ویشتل کول په غیب سره بمجرد الظن الباطل حیث یقولون لابعث بعد الموت ولاحساب ولاجنة ولا نارًا.

پوه سه: چې دا آیت تمثیل دی د دوی د حال په حال سره د هغه چا چې دی ښکار کوي او غشی ولي و داسي شي ته چې وینې یې نه له ډېره ځایه څخه چې هیڅ امکان د رسېدو د غشي و هغه صید ته نه وي.

فائده: ویقذفون، عطف دی علی قوله وقد کفروا به.

سوال: نحو مضارع ده او قد کفروا څو ماضي ده فکیف حال العطف؟

ځواب: یقذفون حکایت د حال ماضیه دی یعني یقذفون که څه هم په معنی کې د ماضي ده لکن چونکه دا یو حال عجیب وُ، نو یې حاضر فرض کړی، تعبیر یې په مضارع په معنی د حال څنې وکړی، وبیانه مفصلاً في کتب النحو، چې د ایمان وخت چې دنیا وه پر تا تېره سوه کافر اوس ایمان غواړي احمق..

این خیال است و محال است و جنون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ

پوه سه: چې حيل فعل مجهول دی نحو قيل او مفعول مالم يسم فاعله يې بينهم دی چې ظرف دی.

سوال: مفعول مالم يسم فاعله څو مرفوع وي، او بينهم څو منصوب دی؟

ځواب: هو! لکن چونکه د بين غالب استعمال په ظرفيت کې دی چې نصب غواړي، دلته که څه هم فاعل د فعل مجهول دی چې بايد مرفوع واى، لکن دی يې پر خپل غالب حال چې نصب دی پرېښو، او بعض نحات وايي چې حيل مسند و خپل مصدر ته دی اى وقع الحيلولة.

دروښ وايي: چې دا دواړه احتماله په هغه محاوره کې جاري دي وقد حيل بين العير والنزوان.

ترجمة الآية: حائل او واقع کړل سو په منځ کې د کافرانو او د هغه شي چې ددوی اشتهاء ورته کېږي يعنې ايمان د ننې ورځې به مومړ ته فائده وکړي او يا نجات له اوره څخه به پيدا کړو يا به مو خداى ﷻ دنيا ته بيرته واستوي مومړ به ايمان راوړو، يأكل مايشتهيه الطبع من الماكولات والمشروبات وغيرها التي كانت ميسرة لهم في الدنيا.

كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴿٥٤﴾

لکه چې داغسې فعل کړل سوى ؤ په اشباهو سره ددوى يعني كفار الامم الماضية دمخه تر کفارو د مکې، چې هغه هم په شک کې وه د بعث بعد الموت بلکې منکر وه، يا له نزول څخه د عذاب په شک کې وه لکه کفار مکه "مريب" چې دوى يې په تردد کې واقع کړې وه.

دروښ وايي: چې الحمد لله والمنة والتوفيق والصلوة والسلام عليه الصلوة والسلام خير البرية وآله وصحبه البررة چې تفسير د سورة سبا پر نهه بجې د دوشنبې د ورځې اته ويشت د شهر شعبان سنه (۱۴۳۱) هجري قمري وپاى ته ورسېدى، وروسته به تفسير د سورة الملائكة شروع سي ان شاء الله العزيز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ فَاطِرٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الملائكة، روح المعاني په اصل نوم سورة فاطر یاد کړی دی او سورة الملائكة يې وروسته ذکر کړی دی، او دا سورة ټوله مكي دی كما روی عن ابن عباس و قتادة وغيرهما ؓ، او ټوله مفسرين وايي چې آيتونه يې پنځه څلوېښت دي او روح البيان وايي چې بعض قراء يې آيتونه شپږ څلوېښت بولي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ټوله ثناء او صفت خاص خدای ﷻ لره دی (نو الف لام لپاره د استغراق دی كما هو مذهب اهل السنة) او يا جنس ثناء و صفت خدای ﷻ لره دی كما هو مذهب المعتزلة.

دروېش وايي: قال في المطول وومآلهما واحد چې دی خالق د اسمانو او مځكي دی بېله مثال سابق.

پوه سه: چې فاطر صفت د الله تعالى دی.

سوال: د فاطر اضافت خو معمول ته لفظي ده يعني تعريف نه فائده كوي كما تقرر في النحو نو دی خو نكره دی، نو څرنګه صفت د الله واقع كېدای سي چې معرفه دی؟

ځواب: اضافت د صفاتو و معمول ته هلته لفظي دی چې صفت په معنی د حال يا استقبال وي كما تقرر في النحو دلته خو فاطر په معنی د ماضي دی نو اضافت يې معنوي دی وهي يفيد التعريف كما في كتب النحو او څوک چې دا اضافت لفظي بولي جعل فاطر بدلاً عن الاسم الجليل، وفي روح البيان وهو قليل في المشتق.

جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

ګرځونكی دی خدای ﷻ ملكو لره رسولان يعني وسائط بين الله وانبيائه والصالحين من عباده چې بندګانو ته رسالات د خدای ﷻ رسوي يعني يا په ذريعه د وحي كما للانبياء او الالهام او الرؤياء الصالحة كما للصالحين من عباده، او يا معنی داده چې دوی رسوي اثار د صنع د خدای ﷻ كالامطار والثلوج والرياح وغيرها من امور العالم وهم الملائكة الموكلون بامور العالم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: اضافت د "جاعل" و ملکو ته لفظیه دی یعني اضافت د صفت و معمول ته ولي چي جاعلاً عمل کړی دی په رسلاً کي نصب یې ورکړی دی وقد تقرر في النحو چي اعمال د جاعلاً په مفعول ثاني کي چي رسلاً دی نه دی روا ببله اعمال په مفعول اول کي چي الملائکة دی، نو جاعل دلته په معنی د حال دی یا د استقبال دی الی محمد ﷺ في الحال والی خواص امته في الاستقبال کما عرفت من معنی الرسالة بحیث یشمل الرؤیاء الصالحة والالهامات، نو پر دې تقدیر چي دا اضافت لفظیه سي مفید د تعریف نه سي، نو جاعل صفت د الله نه دی بلکې بدل یې دی، روح البیان وایي چي مراد له ملکو څخه جبرئیل او میکائیل او اسرافیل او عزرائیل و الحفظة الکرام الکاتبین و نحوهم. بعض مفسرین وایي چي اسرافیل هیڅ نبي نه راغلی ببله محمد ﷺ، او په انسان العیون کي وایي چي اسرافیل[۴] و علیه الصلوة والسلام ته شپږ میاشتي دمخه تر نبوت دده راتلی چي علیه الصلوة والسلام به یې اواز اورېدی او شخص دده به یې نه لیدی.

أُولِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ

چي خاوندا کي دغه ملائکه د وزرو.

فائده: اولی جمع د ذو ده خلاف اللفظ، او اولی اجنحة بدل دی له الملائکة څخه په قول د مظهري، او روح البیان وایي صفت دی د رسلاً.

فائده: تر الف وروسته یې واو لیکلی دی په حال کي د نصب او جر تاچي التباس په الی حرف جر سره رانه سي، او په حال کي د رفع یې هم په واو سره ولیکی حملاً علیها، روح البیان "مثنی" لفظ یې مفرد دی او معنی یې مکرره نده ای اثنین اثنین "وثلث ورباع" درې درې او څلور څلور، قتاده او مقاتل[ح] وایي چي معنی یې داده چي بعض ملکي دوه وزرونه لري او بعض درې او بعض څلور.

فائده: دا مثنی وثلث ورباع لپاره د حصر نه دي یعني چي وزرونه د ملکو په دغو درو کي حصر دي ولدفع توهم الحصر. قال الله تعالی:

يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ

خدای ﷻ زیاتوي په خلق د وزرو د ملکو هغه قدر چي د خدای ﷻ ورته مشیت او اراده سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مثنٰی وثلٰث ورباع په محل کي د جردي صفات دي د اجنحةؤ.

پوه سه: چي يزيد في الخلق آه يوازي په زيادت د وزرو د ملکو خاص نه دی بلکي و زيادت ته د نور مخلوق هم شامل دی، روی مسلم في الصحيح عن ابن مسعود ؓ في تفسير قوله تعالی لقد رئٰی من آيات ربه الکبرٰی چي د معراج په قصه کي راغلی دی قال رئٰی (يعني رسول الله ﷺ) جبرئيل في صورة له ستمائة جناح ينثر من ريشه الدر والياقوت.

پوه سه: چي جمله د يزيد في الخلق آه جمله مستانفه ده او ردت لپاره د دلالت پر دي چي دا تفاوت د ملکو په وزرو کي يا نور زيادات په خلق کي دا صرف او صرف په مشيت پوري د خدای ﷻ مربوط دی لحکمة لا امر يستد عنه ذواتهم.

فائده: پوه سه! چي دا آيت شامل دی زياداتو لره د صور او معاني کملاحة الوجه وحسن الصوت وسماحة النفس وزيادة العقل والفهم وغير ذالک، او هغه چي بعض مفسرين لکه ابن شهاب چي وايي چي مراد ددوی زيادة الخلق حسن الصوت دی، يا قتادة ؒ وايي چي ملاحة د سترګو مراد دی، او بعض وايي زيادت د عقل او فهم مراد دی کل ذالک عن سبيل التمثيل لا علی سبيل الحصر والتعيين کذا في روح المعاني و روح البيان وقد اورد في ذالک بيانًا طويلاً والمظهري وغير ذالک فافهم.

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ①

په تحقيق خدای ﷻ پر هر شي قادر دی هذه الآية بمنزلة الدليل علی الاستيناف المذکور کما لايخفٰی.

مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ

هغه چي ورکړی دی خدای ﷻ و خلګو ته "من رحمة" ای نعمة دينية کالايمان والعلم والنبوة وتوفيق الحسنات او دنيوية کالمطر والرزق والامن والصحة والجاه والجلال والمال والولد.

دروښ وايي: چي ټوله مفسرين پر دي متفق دي چي په دي کي مجاز دی، ولي چي اصل معنی د فتح خلاصول دي د مغلق شي لکه يو مرغه چي په قفس کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بندي وي پند يعني دروازه ورخلاصه كړل سي نو مرغه و خپل سر ته ايله سي والاطلاق كناية عن الاعطاء كما قيل اطلق السلطان الجند ارزاقهم (وركړي باچاه و لښكريانو ته تنخاوي ددوی) فالفتح مجاز عن الارسال بعلاقة السببية، فان فتح المغلق سبب لاطلاق مافيه وارساله، حاصل د كلام دادی چي دا ارزاق د عبادو ګويا بند وه په قفس كي د مشيت د خدای ﷻ او خدای ﷻ دروازه ورخلاصه كړه حتی چي بند ګانو ته ورسېدی وهذا هو معنی الاعطاء فافهم.

فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ ۚ

نو منع كونكی نسته د هغه نعمت چي له چا څخه يې بند كړي او يمنع من اعطائها او هغه رحمت چي منع كي خدای ﷻ له چا څخه د هغه رحمت او نعمت اله كونكی نسته.

سوال: په اول كې ضمير مؤنث راوړی يعني لها، او وروسته يې ضمير مذكر راوړی يعني له حكمت يې څه دی؟

ځواب: د موصول اول يعني ما بفتح الله بيان خدای ﷻ په رحمت سره وكړی، نو يې مراعات د لفظ د رحمت په ضمير مؤنث راوړی، او دوهم موصول يعني مايمسک عام دی رحمت او غضب دواړو ته شامل دی په مراعات د لفظ ما ضمير مذكر يې راوړی فافهم.

دروښ وايي: چي په دې آيت كي فتح تر امساک دمخه راوړه اشاره و هغه حديث قدسي ته ده ان رحمتي سبقت غضبي او كما قال فتدبر "من بعده" ای من بعد امساكه تعالی.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝

او خدای ﷻ غالب دی پر ما يشاء چي څوک مانع د مشيت دده نسي ګرځېدای "الحكيم" چي د حكمت او فائدې له دائرې څخه وتلي عبث كار ونه نه كوي، بخاري او مسلم له مغيره بن شعبة رضی الله عنه څخه روايت كړی دی چي رسول الله ﷺ به وروسته تر لمانځه دا ورد وايه: لآ اله الا الله وحده لاشريک له، له الملک وله الحمد، وهو علی كل شيئ قدير، لامانع لما اعطيت ولا معطي لما ملعت ولا ينفع ذا الجد منک الجد (او فائده نه كوي خاوند ته د غنّی ستا له عذابه څخه غنّی دده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي ابن المنذر له عامر بن عبد قيس ؒ څخه روايت کړی دی چي څلور آياته د کتاب چي زه ووايم زه باک نه کوم ما اصبح علي وامسٰی، هغه دغه آيتونه دي (۱) مايفتح الله للناس من رحمة فلا ممسک لها وما يمسک فلا مرسل له من بعده (کمامر آنفًا) (۲) وان يمسسک الله بضر فلا کاشف له الا هو وان يروک بخير فلا راد لفضله (ترجمه يې ظاهره ده) (۳) وسيجعل الله بعد عسر يسرًا (۴) وما من دابة في الارض الا علی الله رزقها، روح المعاني وايي وبعد مابين الله سبحانه انه الموجد للملک والملکوت (ای العالم السفلي والعالم العلوي) والمتصرف فيهما علی الاطلاق (يعني بېله شريکه) امر الناس قاطبة (ټوله) او يا اهل مکه کما روی عن ابن عباس ؓ واختاره الطيبي بشکر نعمه ﷻ انتهی.

دروښ وايي: چي ورته شان نزول مظهري او روح البيان هم بيان کړی دی فقال:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ

ای ټولو خلکو يا ای اهل مکه تاسي يې ياد کړئ نعمت د خدای ﷻ (مراد له ذکر څخه د نعمت شکر د نعمت يعني چونکه نعمت صرف او خاص زما د خوا دی بېله شراکته د چا نو تاسي بايد خاص زما شکر وواياست چي اشاره و توحيد ته ده او کفران زما د نعمت ونه کړئ چي زما سره په معبوديت کي بل څوک شريک کړئ).

پوه سه: چي نعمت خاصه د اهل مکه اوسېدل ددوی دي په حرم کي ومنع الغارات منهم او نعم عامه د خدای ﷻ دي جعل الارض کمهد (لکه زانګو د طفل) ورفع السماء بلا عمد (بېله ميلانو) وخلقکم وزاد في الخلق مايشاء وفتح ابواب الرزق ولا ممسک له په راتلونکي آيت کي خدای ﷻ له دې څخه کوي چي بل چا لره دي زما په صنع کي مدخل وي حتی يستحق الاشراک به.

دروښ وايي: چي له معاذ ؓ څخه مرفوع و عليه الصلوة والسلام ته روايت راغلی دی چي عليه الصلوة والسلام وويل: لايزال (همېشه) يد الله مبسوطة علی هذه الامة (بسط اليد کنايه ده د رزق کثير څخه) مالم يرفق خيارهم بشرارهم (چي نرمي او غوره مالي نه کوي خيارهم ددې امت د بدو خلګو ددې امت يعني ګناه کاران ددې امت) ويعظم برهم فاجرهم (او تعظيم نه کوي ښه ددې امت د فاجر د امت) ويعن قرائهم امرائهم علی معصية الله (مرسته نه کوي قراء يعني علماء د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امت د امراء د امت پر معصیت د خدای ﷻ) فاذا فعلوا ذالک نزع الله یده عنهم (چې دوی دغه مذکوره کارونه وکړي خدای ﷻ خپل لاس ځني کش کړي.

بوه سه: چې نزع الید کنایه ده له تنګي څخه د رزق انتهی.

حکایت: له شیخ ابو یعقوب رح څخه روایت دی چې زه یو وخت په حرم محترم کې وم او دېر وږی سوم چې لس ورځې مې د خورک هیڅ شی نه ؤ خوړلی، نو په بدن کې مې ضعف محسوس کړی، نو نفس مې راته وویل چې ته یوې شپلې ته د مکې ووځه شاید چې یو خوارکي شی به پیدا کړې، نو ووتم په شپله کې یو شلغم چا غورځولی ؤ هغه مې راواخستی، څرنګه چې ما یې په خورک شروع کول یو سړی راغلی ماته کښېنستی او دسترخوان یې پېچلی زما و مخ ته کښېښو وقال هذه لک، ما ورته وویل چې څرنګه دي زما تخصیص وکړی؟ ده راته وویل چې موږ (یعنې په کښتۍ کې سپاره خلک) د لسو ورځو رایسته په دریاب کې ؤ حتی چې کښتۍ د غرق په حالت کې سوه، نو هر چا د کښتۍ د سوارېانو پر ځان نذر کښېښو چې که موږ سالم له کښتۍ څخه ووتلو زه به فلانی شی خیراتوم، نو ما پر ځان دا نذر وکړی ان خلصني الله عن الغرق زه به دغه شی (اشاره یې و سترخوان ته وکړ) خیراتوم پر اول سړي چې سترګې مې پر ولګېږي د مجاورینو څخه د حرم، نو دادی پر تا مې اولاً سترګې ولګېدې. ما ورته وویل چې ته دسترخوان خلاص کړه، ده چې سترخوان خلاص کړی په سترخوان کې غوړه دودۍ وه او بادام وه د پوسته را ایستلي او د جوز مغزونه او ګوړه وه، نو شیخ یعقوب رح وایي چې ما یو مټ د هر شي واخستی هغه سړي ته مې وویل رد بالباقي الی صبیانک هدیة مني الیهم، شیخ قدس سره وایي چې ما باره پر خپل ځان منت وکړی چې رزق په تا پسې را راوان ؤ د لسو ورځو رایسته تا یې په شپله کې طلب کاوه، صائب چې یو نامورې شاعر دی وایي:

صائب فریب نعمت الوان نمی خوریم .... روزئ خود زخوان کرم میخوریم ما
کشاده عقدۂ روزی بدست تقدیر است .... مکن ز رزق شکایت ازین وآن زنهار

ومن یتوکل علی الله فهو حسبه:

آنان که زره وار بصورت محقر اند .... فرد از خیال وناز بفردوس ننگرند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ ؕ

آیا سته یو خالق غیر د الله[۳] څخه چې تاسي ته دي رزق درکړي له اسمان څخه په اوربښت سره یا د مځکې په نباتاتو سره، والاستفهام للانکار یعني نسته خالق غیر الله.

پوه سه: چې من اول زائد دی، ولي استفهام لپاره د انکار دی په معنی د نفي او وروسته تر نفي من زائد رائحي لپاره د استغراق د نفي کما هو القانون النحوي.

فائده: حمزه او کسائي[ح] لفظ د غیر په جر سره وایي نظرًا الی لفظ خالق لانه مجرور لفظًا، او نور قراء یې په رفع سره وایي حملاً علی محل خالق، ولي چې خالق مبتداء مرفوع محلاً او غیر الله یې خبر دی، او یا خالق مبتداء ده محذوف الخبر، تقدیره هل لکم (هذا هو الخبر المحذوف) من خالق غیر الله، او پر دې تقدیر غیر الله صفت د خالق دی.

سوال: غیر الله خو مضاف دی و معرفې ته او خالق خو نکره دی فکیف یصح التوصیف؟

ځواب: نحات وایي چې لفظ د غیر متوغل في الابهام په اضافت و معرفې ته نه معرفه کېږي حتی یصح هذا لترکیب هل جائک رجل غیر زید، او جمله د یرزقکم آه کلام ابتداء دی لامحل له من الاعراب روح المعاني، او مظهري دا احتمال راوړی دی چې د یرزقکم جمله په محل کې د جر ده حملاً علی اللفظ یا په محل کې د رفع حملاً علی المعنی صفت د خالق وي آه، روح المعاني هغه په ډېر بسط سره رد کړې ده فارجع الی هذین التفسرین مع التدبر الخالي من التعصب.

لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنّٰى تُؤْفَكُونَ ۝

نسته معبود بالحق پیله ده، نو له دې سببه ایها المشرکون تاسي مصرف له توحید څخه د معبود بالحق الی المعبودات بالباطلة او سره ددې چې تاسي په دې سره اقرار کوئ چې خالق د سمٰوات والارض بلکې د انس او جن وغیرهم او رازق د ټولو هم دی دی وبس.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ

که کفار مکه ستا تکذیب کوي په دعوه کي د توحید د معبود او بعث بعد الموت او ثواب و عقاب، په تحقیق سره تکذیب کړل سوی دی د دېرو رسولانو د خپلو قومو له خوا ترتا دمخه.

پوه سه: چي ان شرطي دی او اصل جزاء یې محذوف ده یعني فلا تحزن ته غم مه کوه لان البلیة اذا عمت هانت، پښتانه وایي: د عالم سره غم نه غم، او یا یې جزاء داده فتاس (ته اقتداء وکړه بمن کان قبلک چي هغه هم د تکذیب د قوم سره دست ګرېوان وه پر ځای د جزاء دا قول دی (فقد کذبت آه) دا اقامت سبب دی په ځای کي د مسبب.

فائده: رسل چي یې نکره راوړی یو لپاره د تکثیر یعني رسل ذو عدد کثیر او بل لپاره د تعظیم یعني رسل اصحاب معجزات باهرات او ذو اعمار طوال او یا اولی العزم رسولان وه، ددې دواړو فائده زیادت تسلي د علیه الصلوة والسلام وه او باعثه کول دده پر صبر کما صبروا.

وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤﴾

پوه سه: چي تقدیم د او مجرور لپاره د حصر دی یعني لا الی غیره او ترجع مشتق د رجع په معنی د رد چي متعدي دی لا من الرجوع چي لازمي دی والا لایصح صیغة المجهول منه کما لایخفی، حاصل د آیت دادی چي تاته به خدای ﷻ پر صبر ثواب په آخرت کي درکړي او نصرت پر اعداء په دنیا کي او کفارو ته به خدای ﷻ په دې دنیا کي عذاب د قتل او نهب الاموال او استرقاق النساء والذریات په دنیا کي یا اعطاء الجزیة عن ید وهم صاغرون کما هو شان اهل الذمة، او په آخرت کي به عذاب النار ورکړي.

پوه سه: چي بعض قراء ترجع پر صیغه د معلوم وایي یعني بفتح التاء وکسر الجیم نو پر دې تقدیر مشتق د رجوع څخه دی چي لازمي دی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا

ای خلکو په تحقیق سره وعده ده بالبعث بعد الموت والجزاء "حق" یعني ثابت ده لامحالة، نو تاسي دې نه خطاباسي ژوند د دنیا یعني شغل په لذائذو او په زخاف کي د دنیا له طلب څخه د آخرت، والسعي لها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝

چي تاسي ته مهلت درکړي او حلم کوي د تاسي په تعجيل سره عذاب تاسي ته درنه کړي "الغرور" يعني الشيطان چي تاسي ته وايي چي نه بعث بعد الموت سته او نه عذاب، ويقول لكم ان هي ال الحيوات الدنيا، او يا مسلمانانو ته تمنّی د مغفرت مع المعاصي په زړو کي وراچوي، ولي دا که څه هم احتمال خو لري، ولي چي مرتکب د کبيره ګناه که څه هم بې توبې مړ سي مغفرت يې محتمل او ممکن دی لکن پر دې احتمال تکيه کول ددې سره مشابهت لري چي يو سړی زهر قاتل خوري پر دې احتمال چي تریاق (چي د زهر دواده) پيدا سي.

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ

په تحقيق شيطان ستاسي دښمن دی د لوی نيکه له وخته څخه (يعني آدم ؑ او عداوت يې عام دی او قديم دی حيث قال فبعزتک لاغوينهم اجمعين) تاسي هم دښمن و بولئ دی يعني يقين پر عداوت دده وکړئ او د قبول د وسوسو دده پر حذر اوسه: از بزرگی پرسيدند که چگونه شيطان دشمن گيريم؟ گفت از پی ارزو رويد وتابع هوای نفس مشويد. وهرچه کنيد بايد موافق شرع شريف باشد و مخالف صبع باشد آه فلا يكفى العداوة باللسان فقط بل يجب ان يكون بالقلب والجوارح مثل الصلوات الخمس جميعًا، علماء ؒ وايي لايقوى المرء عليه اى على الشيطان الا بمداوة الذكر، وتلاوت القرآن والاستعاذه بالله العظيم من اعوذ بالله العظيم من الشيطان الرجيم، د مثال په توګه که پر سړي د شپانه سپی حمله وکړي، دفع يې ډېره مشکله ده مګر په دې سره چي شپانه ته ورنارې کړې چي سپی راڅخه ګوره. هغه يې صرف په يوه ږغ يعني چيغه دفع کولای سي، او بل سبب د دفع د شيطان دادی چي د سړي په زړه کي چي شرع خلاف وسوسه پيدا سوه د خدای ؑ وطاعت ته رجوع على رغم انف الشيطان وبالله التوفيق.

اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝

شيطان خامخا بولي خپله ډله يعني د انسانانو څخه و معاصي ؤ ته او اتباع ته هوا او خواهشاتو نفسانيه ؤ، تاچي وګرځي اتباع دده ملازمين د اور، دادی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای پاک حال د موافقینو د شیطان بیانوي (حرف جر متعلق دی په ید عوا پوري د اثبات د عداوت دده)

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۬

هغه کسان چي کفر و کړي یعني په خدای ﷻ شریک یعني باثبات الشریک له بمتابعة الشیطان، دوی لره دی عذاب سخت یعني بالنار، اوس خدای پاک حال د مخالفینو د شیطان بیانوي په راتلونکي آیت سره.

دروښ وایي: چي په دې عنایت سره د دې آیت د ماقبل سره ربط پیدا سو.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝۷

او هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي پر خدای ﷻ یعني بتوحیده او عمل د خصلاتو صالحاتو هم کوي یعني و خالفوا الشیطان في الشرک و المعاصي، دوی لره بخښنه یعني د بعض ګناهو که له دوی څخه سرزرد سوی وي او مزدوري یعني ثواب دی لوی.

اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ؕ

آیا هغه څوک چي ده ته بنائسته کړل سوی وي، و المزین هو الشیطان بد عمل دده نو دده په زړو کي عمل بد بنه ایسي یعني دی وایي چي زه بنه عمل کوم.

پوه سه: چي "فراٰه" عطف دی پر زین، د هغه تقریر او اثبات دی یعني خدای ﷻ بنویولي وي او عقل یې مغلوب وي او هوٰی نفساني یې غالبه وي، او د شیطان وسوسه ورسره ملګري وي، نو امر سیئ حسن ورته بنکارېږي او باطل حق ورته برېښي کمن هداه الله الی الحق ولم یجد الشیطان الیه سبیلاً حتی عرف الحق من الباطل و الحسن من الاعمال من قبیحها.

فائده: جواب د استفهام في القرآن محذوف دی وهو ما ذکرنا ای کمن هداه الله فحذف الجواب لدلالة قوله تعالی.

فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۪

په تحقیق خدای ﷻ ګمراه کوي هغه څوک چي اراده یې ورته وسي او هدایت ورکوي هغه چاته چي اراده یې وسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي همزه په افمن زين کي لپاره د انکار دی او فاء لپاره د عطف ده پر مقدر باندي، تقديره اتطمع ان تهتدی کل رجل، نو گمراه د خدای د مهدي د خدای سره برابر وي لاتطمع ذالک فان الله يضل من يشاء ويهدي من يشاء.

فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ

"تذهب نفسک" يعني لاتهلک نفسک "عليهم" ای علی ضلالهم "حسرات" مفعول له دی او منصوب علی العلية دی ای للحسرات علی غيهم وضلالهم.

پوه سه: چي حسرت شدة الحزن دی علی مافات يعني سخت غم دی پر هغه چي دلاسه يې ووځي لکه د سړي زوی چي مړ سي.

فائده: حسرات يې په صيغه د جمع راوړه لپاره د دلالت چي پر رسول کريم ﷺ ډېر غمونه کوټه وه په سبب د احوال د قوم چي دوی به ايمان نه راوړی او ورځ په ورځ به يې بد عملونه ډېرېدله، بغوي رح وايي قال ابن عباس رض چي دا آيت په شان کي د ابو جهل او د مشرکانو د مکې نازل سوی دی، او په يوه بل روايت کي د ابن عباس رض داسي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي خدای عج ته خواست وکړی چي خدايه ته عزت و دين ته خپل ورکړې په ابو جهل بن هشام يا په عمر بن الخطاب، فهدی الله ﷻ عمر رض واضل اباجهل يعني پر ضلال يې پرېښنو ففيهما نزلت هذه الآية يعني فان الله يصل من يشاء آه، او سعيد بن جبير رح وايي چي دا آيت په اهل الاهواء او البدع کي نازل سوی دی لکه معتزله، شيعه، خوارج، روافض وغيرهم من فرق الضلال انتهٰی.

دروښ وايي: چي دا شان نزول ضعيف دی ولي چي اهل الاهواء والبدع کما ذکرنا په وخت د نزول د قرآن نه وي موجودي.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٨﴾

په تحقيق خدای عج خبر دی په مايصنعون يعني په عملو د قريشو د مکې نو خدای عج به هر چا ته جزاء د خپل عمل ورکړي.

وَاللَّهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا

عطف دی علی ان وعدالله حق، والمعنی وعدالله بالبعث حق وهذه الآية الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخیرها کما سیئاتي دلیل دی حقیقة البعث، او خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چي را استولي یې دي باد وئه یعني پیدا کړي یې دي.

ژوه سه: چي لفظ الله مبتداء ده الذي سره د صله یې خبر دی.

فائده: ریاح جمع د ریح ده، ریح څلور قسمه دی، جنوبي مقابل یې شمالي او شرقي چي دې دروته ریاح الرحمة وایي چي اوربښت په دوی پوري مربوط دی. واما الدبور چي مقابل د شرقي دی چي په پښتو یې د کښې باد بولي فریح العذاب کما ورد في الحدیث الصحیح نصرت بالصباح واهلکت عاد بالدبور "فتثیر سحابا" راپورته کوي وریځ.

سوال: ارسل ماضي صیغه وه، نو څرنګه مضارع چي فتثیر پر عطف کړه؟

ځواب: علماء وایي چي د استحضار د حالت ماضیه عجیبه دی والمراد یهیج وتنشره لانزال المطر.

فَسُقْنَاهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ

نو دا وریځ موږ روانه کړو فیه التفات من الغیبة الی التکلم و یو وطن ته (له بلد څخه متعارفه معنی ده چي مقابل د قریه مراد نه ده)

ژوه سه: چي موت د محکي دادی چي نباتات نه وي باندي "فاحیینا به الارض" نو ژوندی کړو موږ په باران سره محکه.

سوال: د مطر ذکر خو دمخه نه دی راغلی، نو څرنګه یې د به ضمیر ورته راجع کړی؟

ځواب: ذکر سحاب لکه د مطر دی لان المقصود من السحاب المطر دی، او یا ضمیر راجع دی وسحاب ته لانه سبب سبب الاحیاء وهو المطر، نو موږ ژوندی کړو په هغه مطر سره محکه یعني سرسبز او شاداب و کړځي محکه په نباتاتو سره وذلک حیوة الارض "بعد موتها" وروسته تر مرګ ددې یعني چي سپیره وي نباتات نه وي باندي.

كَذَٰلِكَ النُّشُورُ ۝

داغه رنګه یعني لکه احیاء د نباتاتو بعد الیبس "النشور" یعني بعث الاموات من القبور، ولي چي احیاء الاموات من القبور او اخراج النباتات من الارض په مقدورية کي فرق نه سره لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په نباتاتو کي مواد يعني تخمونه مختلف سته او د امواتو خو يو د انسانيت تخم دی؟

ځواب: دا خو سبب د فرق په مقدورية کي نه دی يعني چي احياء الموتی دي محال وي او احياء النباتات دي ممکن محسوس وي کما يزعمه المشرکون، او عجبه خو هم داده چي نباتات او مړي په کيفيت د احياهم سره برابر دي، يعني لکه چي احياء د نباتاتو په باران سره کيږي د مړو ژوندي کول هم په باران سره دی. وقد روی مسلم عن عبد الله بن عمرو ؓ بالسند المتصل في کيفية البعث حيث قال ثم يرسل الله مطرًا کانه الطل فينبت اجساد الناس الی اخير الحديث (طل شبنم ته وايي) او په بل حديث کي چي روايت يې ابو الشيخ کړی دی چي وروسته تر نفخه اولی د اسرافيل داسي خپه اوبه لکه نطفه د انسانانو پر مځکه باران غوندي اوري څلويښت ورځي، نو په هغه باران سره انسانان تولد له مځکي څخه راووځي لکن روحان نه وي پکښې، بيا روحان د مؤمنانو له جنت څخه او روحان د کافرانو له اوره څخه راوباسي په صور کي د اسرافيل يې کښيږدي، او خدای ﷻ اسرافيل ؑ ته امر وکړي چي پوه يې کړه، هغه چي يې پوه کړي تولد روحان راووځي او هر روح خپل بدن ته ورځي ولايدخل روح من الارواح في غير بدنه في الدنيا.

دروښ وايي: وقد جاء في الصحيحين وغيرهما احاديث اخر في باب البعث بعد الموت وبيان کلها ينجر الی الاطناب علی السامعين.

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ؕ

که څوک اراده لري چي عزت دي پيدا کړي يعني في الدارين.

پوه سه: چي عزت يو لفظ مشترک دی تقريبًا په دوه ژبو کي او هر قوم يې په معنی پوهيږي يعني شرف او منعه يعني مدافعين مشتق دی له دې محاورې څخه ارض عزاز ای صلبة واللام فيه للجنس، والمعنی که څوک غواړي چي عزت د ځان لپاره پيدا کړي نو طلب دي د خدای ﷻ څخه کوي او د عزت طلب له خدای ﷻ څخه په طاعت پوري مربوط ده والعزة لله ملکًا وخلقًا، د دې مثال داسي دی لکه يو څوک چي ووايي من يطلب العلم فان العلم عند العلماء يعني فلطلبه من العلماء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې آيت کي رد دی پر مشرکينو چي دوی طلب د عزت په عبادت د بتانو کي باله، کريمه: واتخذوا من دون الله آلهة ليكونوا لهم عزًا، فاجاب منهم كلا يعني داغسي نه ده، ورد على المنافقين ايضًا چي دوی طلب د عزت له مشرکانو څخه د مکې او يا د يهودانو څخه د مدينې، قال الله تعالى ايبتغون (الضمير راجع الى المنافقين) عندهم (الضمير راجع الى الطائفتين من الكفرة) فان العزة لله جميعًا، په مجمع البيان کي وايي چي روايت کړی دی انس ؓ له نبي کريم قال ان ربكم يقول كل يوم انا العزيز فمن اراد عز الدارين فليطع العزيز لانه تعالى مالكلها ومعطيها لمن شاء خصوصًا المطيعين، او فراء نحوي ؒ وايي: مَنْ كَانَ يُرِيْدُ اَنْ يَّعْلَمَ لِمَنِ الْعِزَّةِ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا.

دروښ وايي: چي روح المعاني او مظهري دواړو د فراء ؒ قول رانقل کړی دی لکن هيڅ رد يې په نه دی پر کړی، او روح المعاني او مظهري دواړو هغه دمخه چي تېر سو هغه تفسير يې ظاهر بللی دی والله اعلم، مفسرين ؒ وايي چي په دې راتلونکي آيت کي خدای پاک دا بيان کوي چي ان ما يطلب به العزة انما هو التوحيد العمل الصالح.

اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ

يعني خاص و خدای ﷻ ته پورته کيږي، مراد د پورته کيدو څخه القبول عندالله مجازًا دی قاله قتاده ؒ، او يا مراد صعود د کرام کاتبينو صحيفه د کلماتو طيبه وو کلم طيبه، داغه دی سبحان والحمدلله والله اکبر وتبارک الله چي دا اشاره و توحيد ته ده.

پوه سه: چي ويدل على هذا حديث د ابن مسعود ؓ الذي رواه البغوي ؒ والحاكم قال ما من عبد يقول خمس كلمات سبحان الله والحمدالله ولا اله الا الله والله اكبر وتبارك الله الا اخذهن ملك فجعلها تحت جناحة، والمعنى والله اعلم كتبها ملك من الكرام الكاتبين على صحيفة وجعل الصحيفة تحت جناحه ثم صعد بهن فلا يمر على جمع من الملائكة الا استغفروا القائلهن حتى يجيئ بها الى العرش، ففي العبارة مجاز.

فائده: شراح د كافيه وايي چي بعض نحات وايي كلم جمع د كلمة ده لكن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محققین د شراح د کافیه لکه شیخ رضي او جامي ؒ وایي چې جمع نه ده بلکې یا اسم جنس دی یا اسم جمع لکه قوم او رهط، او دلیل یې هم دغه آیت ګرځولی دی یعني که کلم جمع وای نو صفت بې مؤنث یعني الطیبة وای، او جانب مقابل وایي چې دا آیت په تاویل د بعض الکلم الطیب دی یعني الطیب صفة د کلم نه دی بلکې د بعض محذوف صفت دی فتدبر.

پوه سه: چې کلبي او مقاتل ؒ وایي چې ضمیر مستتر په یرفعه کې راجع دی و کلم ته او منصوب ضمیر یې و عمل ته راجع دی، والمعنی ان العمل لایقبل الا ان یکون صادرًا عن التوحید لکه کلمات خمسه چې اشاره و توحید ته ده کما مر من قبل، او سفیان بن عیینة ؒ وایي چې ضمیر مستکن راجع دی و خدای ﷻ ته، ای ان العمل الصالح ای ماکان خالصًا لوجه الله او ریاء او سمعه په ګډه نه وي یرفعه الله ای یقبله فان الاخلاص سبب لقبول الاقوال والاعمال، والمختار عند المظهري ان الضمیر المستکن راجع الی العمل الصالح لقربه والمنصوب الی الکلم.

دروښ وایي: الی ههنا قول ابن عباس ؓ وسعید بن جبیر وعکرمة واکثر المفسرین ؒ، او الحسن او قتادة ؒ وایي چې الکلم الطیب ذکر الله یعني ای ذکر کان مامر من قوله سبحان الله الی اخیره او غیر ذالک مثل یا الله یا رحمٰن یا رحیم الی غیر ذالک والعمل الصالح اداء الفریضة کالصلوة والصوم وغیرهما فمن ذکر الله بای ذکر کان ولم یؤد الفریضة ایة فریضة کانت لم یقبل ذکره ورد کلامه علی عمله، دوی وایي ولیس الایمان بالتمنی والتجلی لکن ما وقر في القلوب (چې په زړو کې یې قرار نیولی وي یعني منافق نه وي) وصدقه الاعمال (او اعمال چې اداء د فریضه ده هغه د زړه د ایمان تصدیق کوي) فمن قال حسنًا (یعني الکلم الطیب چې دمخه یې بیان تېر سو سبحان الله آه) وعمل غیر صالح مثلاً زنۍ، درواغ وغیر ذالک رد الله علیه قوله چې کلم طیب وي، دوی وایي ومن قال حسنًا یعني الکلم الطیب وعمل صالحًا لکه لمونځ، روژه وغیر ذالک یرفعه (ای العمل الصالح القول) دلیل یې هم دوی په دې آیت الیه یصعد الکلم الطیب والعمل الصالح یرفعه (یعني بارجاع الضمیر المستتر في یرفعه الی العمل، والضمیر المنصوب الی القول، دوی وایي چې په حدیث شریف کې راغلي دي لایقبل قولاً الا بالعمل ولا قولاً و عملاً الا بنیة آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې قول د الحسن او قتاده رح حاصل دادی چې کلم طیب چې بیان یې نژدې تېر سو چې هره یوه متضمن ایمان لره وه پر ذات د خدای ج او توحید د خدای ج دا بېله عمل صالح اعتبار نه لري، نو بناءً علی ما ذکر من تفسیر قول الحسن وقتاده رح مظهري او ابن عطیة رح داسې سوال پر کړی دی چې څرنګه کېدای سي چې ایمان دي بې عمل صالح اعتبار او فائده نه لري، وقد قال رسول الله ﷺ من شهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له وان محمدًا عبده ورسوله وان عیسیٰ عبده ورسوله وابن امته وکلمة القاها الی مریم وروح منه وان الجنة حق والنار حق ادخله الجنة علی ما کان من عمل رواه الشیخان عن عبادة بن الصامت رض بل المراد من الآیة ان القول الطیب اذا کان معه عمل صالح یرفع شان القول الطیب ویزید في ثوابه، وهذا لاشک فیه ولي چې ثواب د قول طیب من المؤمن الصالح المطیع لله زیات دی تر ثواب د هغه قول طیب د هغه چا چې مطیع لله نه وي په عمل صالح کي، او د حدیث مذکور معنی داده: لایقبل قولاً الا بعمل یعني قول المنافق بلاعمل الطیب والجوارح لایعتدبه، ولي منافق خو هم لمونځ هم روژه نیول ظاهرًا وکذا القول المقرون بالعمل کقول المنافق المقرون بالعمل لایعتد بها ای بالقول والعمل الا بنیة ای باعتقاد واخلاص من القلب، وما قیل ان معنی الآیة العمل صالح یرفع القائل الی درجته فنداء من بعید لان الکلام في الکلم الطیب والعمل الصالح فاین ذکر القائل حتی یکون مرجع الضمیر المنصوب والله اعلم بالصواب.

دروښ وايي: چې وهذا تفسیر الآیة حسب الطاقة والله الموفق والمعین.

وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ

پوښتنه: یمکرون خو لازمي دی لیس بمعتد الی مفعول به، نو دالته سیئات څرنګه مفعول به راغلی دی؟

ځواب: سیئات مفعول به نه دی بلکې مفعول مطلق دی بتقدیر الموصوف یمکرون المکرات السیئات، ابو العالیة وایي چې ځني مراد په دې آیت کي مکرات سیئات د قریشو د دار الندوة په محفل کي چې دوی مکرات په باره کي د علیه الصلوة والسلام تر بحث لاندې نیولی ؤ کمامر في سورة البقرة في تفسیر قوله تعالی واذ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یمکربک الذین کفروا (۱) لیثبتوک چي تا بندي کړي (۲) او یقتلونک یا دي مړ کړي (۳) او یخرجوک یا دي له مکې څخه وباسي. او کلبي ؒ وایي چې معنی ددې آیت داده والذین یعملون السیئات، وقال مقاتل ؒ ..... هم اهل الریاء في الاعمال.

درویش وایي: والکل صحیح والاول هو الاولی و یقضیه ما بعده.

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُولَٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾

"لهم عذاب شدید" دا جمله خبر د موصول ده او دوی لره دی سخت عذاب وهو النار، او چم د کفارو د مکې چې په اخیر مشوره پر قتل اجتماعي د علیه الصلوة والسلام وکړه کمامر، د هو ضمیر راجع دی و خدای ﷻ ته یعني خدای ﷻ به یې باطل کړي ولي چې علیه الصلوة والسلام ته یې امر د هجرت ورکړی او خدای پاک علیه الصلوة والسلام د خپل یارغار سره یعني ابوبکر الصدیق ؓ روغ رمټ مدینې منورې ته ورسول.

درویش وایي: چې ددې آیت تطبیق پر تفسیر د الکلبي ؒ یا د شهر بن حوشب د آیت سابق په ډیر تکلیف سره کیږي کما لایخفی، قال ابو یزید البسطامي قدس سره السامي گفت شبیی خانه تاریک من روشن گشت گفتم شیطان باشد من ازان عزیز تر ام وبلند همت که اورا درمن طمع افتد، واگر از نزدیک تست بگذار تا من از سرای خدمت برائ کرامت روم.

وَاللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ

خدای ﷻ تاسي انسانان پیدا کړي یاست، هذا معطوف علی قوله تعالی واللہ ارسل آه، او دا هم دلیل د قدرت الهي پر بعث بعد الموت کل المعطو علیه، ولي چې بدء الخلق خو اهون اعادة نه دی "من تراب" له خاورو څخه یعني په اعتبار د اصل چې آدم ؑ، یا یې پیدا کړی له نطفې څخه یعني اصل قریب مو نطفه ده، باعتبار الاغلب، فلایرد السوال بعیسی ؑ.

ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ

یا یې گرځولي یاست صنف صنف ای ذکرانًا واناثًا، او حمل نه اخلي یوه ښځه (کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده) او نه یې وضع کوي یعني نه لنګیږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مگر نه متلبس په علم سره د خداى ﷻ يعني خداى ﷻ په دوارو حالاتو کي د حمل او د وضع علم دربانديي لري.

وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ

او نه اوږدېږي عمر اى مايمد ويطول في عمره او نه كميږي له عمر څخه د يو چا "الا في كتاب" يعني كل ذالک مكتوب في كتاب يعني اللوح المحفوظ او في صحائف الكرام الكاتبين، سعيد بن جبير ؓ وايي: مكتوب في ام الكتاب ان فلان عمره كذا سنة ثم يكتب اسفل من ذالک، يعني د عمر تر نوشتې لاندي، ذهب يوم ذهب يومان ذهب لثلثة ايام حتى ينقضى عمره، وقيل معناه لايزداد في عمر احد (يعني تر هغه مكتوب في اللوح المحفوظ) ولاينقص او نه تر مكتوب كميږي الا في كتاب اى اللوح المحفوظ (يعني كه زيادت او كه نقصان هغه هورې په لوح محفوظ كي نوشته) يعني په لوح محفوظ كي نوشته وي چې عمر د فلاني اوويا كاله دى يا هغه بعض حسنات وكړي عمر يې زيات نوشته سي، يا بعض سيئات وكړي عمر يې كم سي فكل ذالک مكتوبة في اللوح المحفوظ ويؤيد ذالک قوله عليه الصلوة والسلام لايرد القضاء الا الدعاء ولايزيد في العمر الا البر، رواه الترمذي عن سلمان الفارسي ؓ.

سوال: په ما يعمر من معمر كي خو تحصيل د حاصل دى ولي چې دى چې معمر دى نو تعمير يې څرنګه كيږي؟

ځواب: له معمر څخه مراد من احد دى معمر يې په اعتبار د ما يؤل اليه بولي نو قوله تعالى اني اعصر خمرًا، اى اعصر عنبًا يؤل الى الخمر كذا ههنا ما يعمر من احد يؤل الى المعمر، په روح المعاني كي وايي وقيل الزيادة والنقصان في عمر واحد باعتبار اسباب مختلفة في لوح محفوظ مثل ان يكتب في ان حج فلان فعمره ستون والا فاربعون فاذا حج فقد بلغ ستين، نو عمر يې دراز سو، واذا لم يحج فلا يجاوز الاربعين فقد نقص من عمره الذي هو الغاية وهي ستون سنة وكذا ان تصدق او وصل الرحم فعمره ستون والا فاربعون واليه اشار عليه الصلوة والسلام بقوله الصدقة والصلة تعمران الديار وتزيدان في الاعمار، وايضًا جاء في الحديث ان المرء ليصل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحمه وما بقى من عمره الا ثلاثة ايام، نو خداى ﷻ يې اجل وځنډوي دپرش كاله نور وانه ليقطع الرحم وقد بقى من عمره (۳۰) فيرده الله الى ثلثة ايام، وفي الحديث بر الوالدين يزيد في العمر والكذب ينقص الرزق والدعاء يرد القضاء انتهى قول رد المحتار، او بعض علماء وايي چې زيادت د عمر صرفول دي في الطاعات ومرضات الله ونقصان صرف في المعاصي، قال الحافظ الشيرازي ؒ:

فداى دوست نكرديم عمرومال دريغ .... كه كارعشق زما اين قدرنمى آيد
اوقات خوش آن كه بايار بسر رفت .... باقى همه بى حاصلى وبى خبرى بود

إِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝

يعني دا كتابة الآجال والاعمال وخداى ﷻ ته اسانه دى.

پوښتنه: دا احاديث مذكوره ددې تقاضا نه كوي چې افعال مذكوره في الاحاديث المذكور د خداى ﷻ و تقدير ته تغيير رسوي، وهو محال؟

ځواب: يا! تغيير وتقدير ته نه لازمېږي لانه كتب في اللوح اللمحفوظ تقدير تعالى ايضًا معلقًا سواء كان في زيادة العمر او في نقصانه كمامر لان ما لايجوز تغييره من القضاء الالهي هو القضاء المبرم اى القاطع بدون التعليق بشئ وكذا لايغير ما في علمه الازلي.

سوال: بعض جهال وايي چې ددې په رښا كې دا لازمېږي چې انسان لره دوه اجله سته لكه معتزله چې وايي؟

ځواب: اهل السنة والجماعة چې تعدد د اجل روا نه بولي كما ورد في القرآن الكريم: اذا جاء اجلهم لا يستأخرون ساعة ولايستقدمون، هغه تعدد د اجل دى په قضاء مبرم كې وهذه الآحاديث لاتقتضيه فافهم هداك الله.

وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۝

او نه دي سره برابر دا دوه رودونه.

پوه سه: چې بحر هر فراخ ځاى ته چې ډېر اوبه پكښې جمع وي كه جاري وي لكه دجله، فرات، نيل مبارك، هلمند وغير ذالك او كه ولاړي وي لكه بحر محيط د دالې كاسه الى غير ذالك او هم دا سبب دى چې جامع عالم ته بحر وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: هذا خو اسم اشاره مشار اليه څه دی في القرآن؟

ځواب: هذا دلته په معنی د احد هما دی.

هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ

دا يوه دریاب اوبه شېرينې خوږې دي او دا بله مالګينه خوږې وي.

پوه سه: چې فرات مشتق له فرط څخه دی وهو الکسر نو دا بله شيرينې اوبو ته چې فرات وايي لانه يکسر العطش "سائغ شرابه" چې تر ستونې په اسانی سره تېرېږي اوبه، ولې چې په تجربه سره ثابته ده چې خوږو شيانو ته که اوبه وي او که بل شی ستونی فراخه کېږي، وبالعکس ترخه يا خوا ګرځن شي نه ستونی تنګېږي دا طبع انساني ده، وبالفارسية: گوارنده په پښتو وايي دارو درمان.

فائده: جمله د هذا فرات سره د خپل مقابل يعني وهذا ملح اجاج صفت دی د البحران.

سوال: البحران معرفه دی باللام او جمله خو په حکم کې د نکرې ده کما تقرر في کتب النحو، توصيف د معرفې يې په نکره سره مما يمنعه النحات؟

ځواب: الف ولام په البحران کې لپاره د عهد ذهني دی لعدم صحة الجنس والاستغراق والعهد الخارجي ههنا کما لايخفٰی علی المتبحر في علم النحو، او نحات وايي چې معرفه په لام ذهني سره په حکم کې نکرة دی فصح التوصيف وقد مثلوا لهذا التركيب بقول الشاعر چې د ځان مدح کوي په حلم سره .... شعر:

ولقد امر علی اللئيم يسبنی .... فمضيت ثم قلت لايعنينی

يعني جمله د يسبنی صفت ده واللئيم چې معرفه باللام دی.

"وهذا ملح اجاج" ای الآخر فلايرد سوال المذکور في هذا عزب او بل دریاب ملح اوبه يې تروې دي اجاج شديد الملوحة يعني ډېرې تروې.

فائده: دا آيت قرآني مثل دی د مؤمن يعني هذا عزب آه او د کافر يعني هذا ملح آه. دا بيان د قدرت د خدای ﷻ دی چې خوږې او تروې اوبه ماهيت يې يو دی او په خواصو کې سره جلا دي، داغه رنګه مؤمن او کافر په نوع انساني کې شريکان دي. لکن د خواصو يې د اسمان او ځمکې فرق دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا

او د هر يوه څخه تاسي خورئ غوښي تازه چي مراد څني ماهی دی لا جميع دواب البحر كالضفدع والسرطان حتى الانسان البحري.

پوه سه: چي مضاف اليه د كل محذوف دی ای كل واحد من البحرين.

پوه سه: چي د ماهي ټولي انواع حلالي دي.

فائده: دا جمله استطراداً ذكره په تمثيل د مؤمن او كافر دخل نه لري صرف صفت د بحرينو ده، وما فيهما من النعم. او بعض مفسرين وايي چي ذكر ددې جملې استطرادي نه دی بلكې لپاره د تمام د تمثيل د مؤمن او كافر يې راوړه په دې معنی چي مؤمن او كافر كه څه هم په بعض خواصو او فوائدو كي سره شريكان دي لكه نطق، كتابت، تجارت، نجاري، بنايي الى غير ذالک لكن په مقصود بالذات كي نه دي سره شريكان، ولي چي مقصود له خلق څخه د انسان معرفت د الوهيت بالحق د خداى ﷻ وعبادته على سبيل التوحيد، قال الله ﷻ ما خلقت الجن والانس الا ليعبدون، دا مقصود بالذات من خلق الانسان په مؤمن كي سته او په كافر كي نسته، لكه اوبه د بحرين چي په بعض خواصو كي سره شريكان دي، حيث قال ﷻ ومن كل تأكلون لحمًا طريًا، لكن په اصل مقصود كي چي شرب د حيواناتو او انسانانو دی نه دي سره شريكاني.

فائده: لحم يې په طري سره موصوف كړی لپاره د تنبيه پر دې چي د ماهي غوښي به سړی ژر خوري ولي چي د ماهي غوښي لطيفي دي ډير ژر خرابيږي.

مسئلة شرعية: امام مالک او الثوري ﷺ په دغه آيت دليل وايي چي كه چا قسم واخستی چي زه غوښي نه خورم او د ماهي غوښي يې و خوړلې په قسم كي حانث دی، ولي چي خداى ﷻ اطلاق د لحم پر كړی دی، او نور امامان وايي چي مبنی د ايمانو پر عرف ده او په عرف كي د ماهي غوښو ته غوښي يا په عربي لحم نه وايي، دليل يې دادی چي كه يو سړي بل ته وويل چي ماته له بازاره غوښي راوړه كه يې د ماهي غوښي ورته راوړې هغه غوښي پرې راوړونكي تاوان دي لانه فعل خلاف امر الآمر.

پوه سه: چي روح المعاني ددې غوښو د ماهي او عدم حنث الحالف من اكل اللحم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باكل لحم السمک، يو ډېر زېبا مثال ويلی دی، وايي چې که چا قسم واخستی والله لايرکب دابة، نو پر کافر سپور سو نه دی حانث، او سره ددې چې اطلاق د دابة پر کافر په قرآن کې راغلی دی حيث قال ﷻ: ان شر الدواب عند الله الذين كفروا.

پوښتنه: خدای پاک ماهي ته غوښې وويلې مع انه حيوان يعني داسي يې ونه ويل ومن كل تخرجون سمګا، يعني نورو حيوانانو ته صرف غوښه نه ويل کېږي مثلاً غويی غوښه نه بولي وهكذا الابل والضان والمعز؟

ځواب: ددې لپاره يې تعبير په لحم سره ځني وکړی په سمک يې تعبير ونه کړی چې تنبيه پر دې راسي چې د ماهي غير له غوښو چې د خوراک لپاره دي بله فائده نسته پکښې بخلاف الحيوانات المذكورة مثلاً في الابل فوائد جمة غير اكل لحمها كالركوب و وبرها وغيرهما وكذا البواقي من الحيوانات المذكورة، لكن روح المعاني وايي دعوى انحصار الانتفاع بالسمک في اكل اللحم لا اظنها تامة انتهى لعل مراده ان السمک فيه فوائد سوى فائدة اللحم لان السماک الكبار له هډوکي څخه يې عجيب آلات خلک جوړوي ويخرج من بطن بعضها اللؤلؤ الثمينة ويوجد في بعضها من الاحجار الثمينة من احجار البحر كما يشهد به التجارب.

وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۚ

تاسي راباسئ (لكن د توره دريابه نه د عذب شېرين دريابه) زېور وهي اللؤلؤ والمرجان چې تاسي يې اغوندئ يا ښځي يا نر.

بوه سه: چې تستخرجون عطف دی پر تأكلون بدون لحاظ الجار والمجرور المتعلق بتأكلون، او د لباس څخه متعارفه معنی مراد نه ده، مثلاً غارګی په عرف کې لباس نه بولي او ګوتمی چې لؤلؤ يا مرجان غمی پکښې وي هم يې په عرف کې لباس نه بولي.

سوال: زېورات خو عموماً ښځي اغوندي او د تلبسون خطاب و نر ته وسو؟

ځواب: بعض ښځي طبعيت والا نر هم ځيني زېور اغوندي كه څه هم اغلب يې ښځي اغوندي. او بل ځواب دادی چې ښځه چې زر او زېور په لاس يا پښو يا په غاړه کړي د ازواج يعني مړو لپاره ځانونه ښائسته کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ

ته وينې ايها المخاطب الغير المعين (عطف على من كل تأكلون) الفلک فيه اى في كل واحد من البحرين العزب و الملح.

دروښ وايي: چې د فلک لفظ مفرد او جمع دواړه دی فرق يې اعتباري دی که مفرد وي ضمه د فاء يې لکه ضمه د قفل ده او که جمع وي ضمه يې لکه ضمه د اسد جمع اسد ده، فرق د مفرد او جمع يې چې په قرآن مجيد کې واقع سي په قرائنو سره کېږي مثلاً ضمير مذکر ورته راجع کېږي يا مؤنث صفت يا خبر مذکر دی يا مؤنث وهکذا په دې ځای کې خو جمع دی بقرينة لفظ مواخر "مواخر" جمع د ماخرة ده على وزن فاعلة مشتق ده له محر څخه چې معنی يې شق يعني څيرل ده يعني دا کښتيانې چې په درياب کې روانې وي او اوبه د درياب څيرې څوک د يوې خوا څوک د بلې خوا.

لِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾

تاچې تاسي طلب وکړئ له رزق څخه د خداى ﷻ په ذريعه د تجارت د بحر په کښتيو کې، لعل په معنی د لام کی دی ای لکی تشکر الله.

پوه سه: چې لعلکم عطف دی پر لتبتغوا.

سوال: معطوف عليه مصدر په لام د جر ده او معطوف په حرف ترجي سره؟

ځواب: دمخه موږ وويل چې لعل په معنی د لام کی دی، فالتقدير ولتشكروا.

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ

داخلوي خداى ﷻ ساعات د شپې په ورځ کې (يعني شپه کوتاه او ورځ اوږده کړي لکه په دوبي کې، دا آيت متصل دی په هغه آيت پورې والله خلقكم من تراب الى قوله على الله يسير، په دې معنی چې دواړه بيان د عظيم قدرت د خداى ﷻ دي او جمله د ما يستوي آه جمله معترضه ده) او داخلوي ساعات د ورځې په شپه کې لکه په ژمي کې چې شپه اوږدېږي او ورځ لنډېږي.

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ۚ

او مسخر يې کړ ځولي دي لمر او سپوږمۍ (په دې معنی چې هر يو خپل شبانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روزي رفتار کوي طلوعًا و غروبًا الی ماشاء الله) هر يو د لمر او سپوږمۍ (نو تنوين عوض د مضاف اليه دی) تګ کي يعني په اسمان کي د معين وخت لپاره، چي يا يوه دوره ده يا تر منتهٰی پوري يا د قيامت تر ورځي چي دا نظام شمسي او قمري په هغه ورځ ختم کړځي.

پوه سه: چي کل يجري د بيان د تسخير الهي دی.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

څوک چي مذکوره کارونه کوي هغه الله دی "ذالکم الله" مبتداء او خبر دی "ربکم" خبر بعد الخبر دی "له الملک" خبر آخر دی چي دې ته اخبار مترادفه وايي، او هغه شيان چي تاسي يې عبادت کوئ، ماسوی له خدايه.

پوه سه: چي عائد و موصول ته عائد محذوف دی ای تدعونها "من دونه" حال دی له ضمير څخه د تدعون يعني کائنة من دونه تعالی.

مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ ﴿۱۳﴾

نه دي مالکان دوی د يو ادنٰی شي چي قطمير يې بولي چي د خورما پر مندکي هغه سپين نازک خور دی، نو دوی چي نه دي مالکان د دې حقير جسم، نو د لوی اجسامو څه به څرنګه مالکان وي، مطلب دادی چي ستاسي معبودان بتان دومره بې قدرته دي نو تاسي يې عبادت ولي کوئ.

اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ؕ

"ان تدعوهم" که تاسي دوی وبولئ د حاجت روايي لپاره يعني په مهم کار کي دوی نه اوري ستاسي دغه دعاء او بلله لکونها جمادات فضلاً عن قضاء الحاجات، او که دوی وه هم اوري علی فرض المحال بيا ستاسي پوره کول د حاجت نسي کولای لعدم قدرتهم علی الانتفاع.

سوال: د عيسٰی او عزير او د ملکو خو هم بعض خلکو عبادت کاوه، نو هغه حاجت روايي نسي کولای؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هغه له دوی څخه یعني د عبادت کونکو او د هغو له عبادت څخه بېزاره دي.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ ؕ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ﴿۱۴﴾

او په ورځ د قیامت دغه ستاسي معبودان منکره سي ستاسي له عبادت څخه او وایي به ماکنتم ایانا تعبدون، تاسي زمونږ عبادت نه دی کړی بلکه عبادت د شیطان مو کړی دی، او تا به په حقیقت حال دمشرکانو او ددوئ د معبودانو خبر نه کړي، یعني هغه مخبر په مثل د عالم خبیر چې خدای فانه تعالي خبیر بکل شئ ازلا و ابدا.

پوښتنه: دا بې ځایه ده او دا دنیا د معبودانو 'ماکنتم ایانا تعبدون، په بتانو کي څرنګه متصور ده ولي بتان خو جمادات دي، نو دوی څرنګه دا نطق کولای سي ماکنتم ایانا آه؟

ځواب: خدای ﷻ یې پر خبرو راولي دغه جمادات والله علي کل شئ قدیر لپاره د رسوایي د عابدانو چې دوئ به ددغو بتانو عبادت کاوه په امید دشفاعت هغه دوئ ته مصیبت سو.

فائده: مخاطب په آیت کي رسول الله دی.... بیت:

بر احوال نابوده علمش خبیر..... بر اسرا ناگفته لطفش خبیر

سوال: په دې آیتو کي معبوداتو ،جماداتو به مشرکانو ضمایر د عقلاؤ راجع کړي دي حکمت یې څه دی؟.

جواب: دا ضمائر پر زعم د عابدانو بتانو ته راجع کړل سوي دي، ولي چې عابدانو د خپل معبودات ذي قدرت ذي علم به بلل لغایة جهلهم و غباوتهم.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ

ای خلګو تاسي محتاج یاست و خدای ﷻ ته.

پوه سه: چې خطاب عام دی مسلمانانو کافرانو دواړو ته، یعني همیشه په پیدائښت کي او په بقاکي د ژوند په هغو شیانو کي چې ژوند په هغو مربوط من الغذاء وصحت الجسد الي غیر ذلک و في النجات من النار او په ثواب درکولو کښې په جنت سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: تخصيص دفقر په انسان سره وکړئ، او سره ددې چې نور حيوانات خو هم خدای ﷻ ته محتاج دي ؟.

جواب: نعم چې نور حيوانات هم خدای ﷻ ته محتاجه دي ليکن دهغو احتياج نظر و احتياج ته د انسان لکه چې نه وي محتاجه، ولي چې انسان خو ذوي العقول دی د ذوي العقولو احتياجونه ډېر دي، نظر وغير ذوي العقول مثلا انسانان کوتيو، بنګلو، ورجو، غوښو او قالين موټران الي غير ذلک ته احتياج لري، ايت کريمه: (وخلق الانسان ضعيفا) او ده ضعيف احتياجات ډېر وي تر قوي.

سوال: جنيات خو هم ذوي العقول دي، بايد دهغو احتياجات هم ډېر وای؟.

جواب: جنات په ملبس او مطعم کې او په مسکن کې دونه احتياج نه لري لکه انسان.

وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۱۵﴾

پوه سه: چې تعريف د النبي دپاره عهد خارجي دی ای المعروف بالاستغناء على الاخلاق و الانعام العام علي الموجودات، چې محمود في ذاته مستحق الحمد من جميع خلقه.

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾

که د خدای خوښه سي تاسي به بوزي پر شاهراه د عدم، دا دليل ددې دی، چې خدای غني دی، د مخلوقه څخه، او را به ولي يعني پيدا به کړي ستاسي په بدل نور نوی مخلوق د انسانانو په جامې يعني هغه به تر ډېر فرمان بردار ه به وي تر تاسي.

وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿۱۷﴾

او نه دی دغه تبديل ستاسي په نورو انسانانو و خدای ﷻ ته گران کار.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى

او نسي ورلای يو نفس ګناه کار (نو تانيث د وازرة په سبب ددې دی چې موصوف يې نفس دی چې مؤنث سماعي دی، او وزر په لغت کې ثقل ته وايي، مراد څخه په آيت کې ګناه ده) ګناه د بل نفس ګناه کار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په یو بل آیت کي راغلي دي ولیحملن اثقالهم واثقالاً مع اثقالهم؟

ځواب: دا آیت په شان کي د هغو کسانو دی چي هم په خپل ګمراه او ضال وي او نور کسان یې هم ګمراهان کړي وي چي داسي سړي ته ضال مضل وایي، نو دا کسان به حمل کوي اثقال د اضلال د نورو کسانو سره ثقل د ضلال خپل، ولیس شیئ منها اوزار غیرهم کذا في روح المعاني.

پوښتنه: مسلم د ابو موسی الاشعري ؓ څخه روایت کړی دی چي مرفوع و علیه الصلوة والسلام ته دی انه یجیئ یوم القیامة ناس من المسلمین بذنوب امثال الجبال یغفرها لهم ویقعها علی الیهود والنصاری (نو په دې حدیث کي خو اثقال د مؤمنانو پر یهودانو او نصاری واچول سول) او دغه رنګه په بل حدیث کي راغلي دي چي ورځ چي د قیامت سي خدای ﷻ وهر مسلمان ته (یعني چي ګناه کار وي) یو یهودي یا نصراني په لاس ورکړي او ورته ووایي هذا فداک من النار ستا فدیه له اور څخه ده، نو ددې په مقتضی خو هم ګناه وزر د مسلمان پر یهودي او نصراني واچول سو، وامثال ذالک؟

ځواب: ددې احادیثو ځواب دادی چي یهودانو یا نصاری ؤ یوه طریقه وضع کړې وه چي مسلمان هم پر هغه طریقه ولاړ سي، نو خدای ﷻ هغه مسلمان وبخښي او دده ګناه پر هغه یهودي او نصراني واچوي چي هغه طریقه سیئه یې وضع کړې وه نو پر یهودي یا نصراني باندي وزر د تسبب ولوېدی، فهذه الاحادیث امثال قوله علیه الصلوة والسلام من سن في الاسلام سنة سیئة فله وزرها ووزر من عمل بها الی یوم القیامة انتهی باختصار.

وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ

او که وبولي یو نفس مثقله یعني په خپلو ګنهو سره دروند وي، یو بل څوک "الی حملها" چي ته دا زما دروند د ګناه پېټی راسره یوسه "لایحمل منه شئ" یعني نفس دا خواست د هغه نفس مثقله نه ورسره مني نو په دې آیت کي یې نفي ددې وکړې چي د یوه نفس ګناه دي بل نفس ورسره یوسي یعني هغه اول نفس دي د ګناه معاف سي لکه چي خدای ﷻ نفي کړي دي چي یو پر نفس دي بل نفس په ګناه بار کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى

که څه هم وي هغه نفس چې دته دعوت د حمل ورکړي يعني د ګناه د حمل "ذا قربى" خاوند د قرابت له ابن عباس رضي الله عنه څخه بغوي رح روايت کړی دی يلقى الاب والام ابنهما فيقول اى احدهما يا بني احمل عني بعض ذنوبي زوي يې ورته ووايي لا استطيع په وسه مي نه ده پوره حسبي ما علي يعني پر ما په خپل د ګناه دروند بار پروت دی، او دغه رنګه يو سړی خپله مامينه تينګه کړي چې زه ستا مېره وم په دنيا کې او په عين حال کې ورته ووايي چې ته خو پر ما دېره مهربانه او زه دې پر باندې ګران وم نو ته يو مثقال ذرة ستا له حسناتو څخه راکړه شايد چې زه به له اوره په خلاص سم، مامينه يې ورته ووايي چې دا خو تا دې پر لږ شی طلب کړی زما څخه لکن درکړه مي په وس نه ده پوره، ولي زه په خپله دغه قدر ته محتاجه يم... ابيات:

هيچ رحمی نه برادر به برادر دارد .... هيچ خيری نه پدر را به پسر می آيد
دختران از پهلوی مادر بکنند قصد فرار .... دوستی از همه خويش بسری آيد

إِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ

اخفش يې معنی داسې کړې ده انما تنفع بانذارک، هغه کسان چې دوی ببرېږي له خداى ج څخه په غيب سره چې خداى ج يې نه دی ليدلی او يا معنی داده غائبين من عذابه ج يعني چې د خداى ج عذاب يې نه وي ليدلی يعني په دنيا کې ببرېږي، او يا معنی داده چې په غياب کې له خلګو څخه يعني رياء کار نه وي په خپلو خلوتو يعني داسې نه وي لکه يو شاعر چې وايي:

واعظان که اين جلوه در منبر و محراب ميکنند
چون بخلوت ميروند کاری ديگران ميکنند

"واقاموا الصلوة" او دوی پر بښه وجهه اداء کوي لمونځ يعني پنځه وخته.

پوه سه: چې په يخشون ربهم آه کې اشاره و اجتناب ته د معاصي وکړه او په اقاموا الصلوة کې اشاره و دې ته وکړه چې واجبات د دين ټوله پر ځای کوي، ولي صلوة عماد الدين دی، قال رسول الله ﷺ الصلوة عماد الدين فمن اقامها فقد اقام الدين ومن هدمها فقد هم الدين، او دا دوی له ببرې د خداى ج نو دوی ستا په انذار سره نفع اخلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په اوله جمله کي يې فعل مضارع راوړه او په دوهمه جمله کي يې ماضي چې دواړې په سبب د عطف د يوه موصول صله دي اشاره ودې ته ده چې دوی مستمر دي پر ښو کارو في جميع الازمنة كما قال المظهري، وفيه نظر لان الدال على الاستمرار هو المضارع دون الماضي كما تقرر في النحو فافهم، والحق ما في كشف الاسرار غاير بين الفعلين لان اوقات الخشية دائمة (يعني ځکه يې مضارع راوړه چې دال پر استمرار ده کمامر آنفًا) و اوقات الصلوة معينة منقفية (يعني له دې جهته په لمانځه کي صيغه د ماضي ذکر کړه الدالة على الانقضاء فافهم ايها المطالع للتفسير الايوبي، وخذ ما صفا ودع ما كدر.

وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾

څوک چې له خيري څخه د مصائبو ځان پاک ساتي، نو دی ځان پاک نه ساتي مګر د خپلې فائدې او نفعي لپاره، او خدای ﷻ ته ده رجوع د خلګو يعني بالبعث بعد الموت فيجازيهم على التزكية وغير ذالک.

فائده: جمله د من تزکی آه جمله معترضه ده لپاره د تاکيد د امر د خشية.

وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ﴿۱۹﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ﴿۲۰﴾

نه دی برابر ږوند (له لاري څخه د خدای ﷻ ای الكافر والجاهل) او ليدونکی (ای المؤمن او العالم) او نه تاريکه (ای الكفر) او نور (ای الايمان)

فائده: ظلمات يې جمع راوړه او نور يې مفرد لان انواع الكفر كثيرة من الشرک و الدهرية و اليهودية و النصرانية وغيرهما، والايمان نوع واحد.

وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ﴿۲۱﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ

او نه سايه (چې مراد ځنې جنت يا ثواب دی) او نه ګرمي (چې مراد ځنې دوزخ او عذاب دی) او نه دي سره برابر ژوندي او مړي، دا مثال دی د مؤمنانو او کافرانو، او بعض وايي مثال دی د علماء او جهال.

فائده: دا تمثيل ابلغ دی تر دمخه تمثيلاتو، ولي چې د حي او ميت په منځ کي ډير بعد دی تر نورو مثالو، له دې سببه يې لام مکرر راوړی په ولا الاموات کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾

په تحقيق خداى ﷻ اورېدای سي په هغه چې اراده يې ورته وسي د هدايت (نو هغه په قرآني آيتو کي ښه غور او فکر کوئ او نصائحو ته د قرآن په دقيقه توګه غوږ نسئ، نو حاصل د معنی يسمع يهديه) او ته نه يې يا محمد ﷺ اورېدونکی د هغه چا چې په قبرو کي وي.

پوه سه: چې د من في القبور څخه مراد مصرين على الكفر دي لکه ابوجهل وغيره، نو دوی يې مشابه کړه د مړو سره، په دې کي عليه الصلوة والسلام ته نا اميدي او اقناط کلي ورکوي ددوی له ايمان څخه.

دروښ وايي: چې وما انت بمسمع بناء پر عرف عام ده يعنې مړي خبري نه اوري.

دروښ وايي: چې مسئله د سماع الموتى على الحقيقة ډېره پېچيده او مختلف فيها مسئله ده، له دې ځايه او د وما انت بمسمع آه تعلق ورکول لکه بعض مفسرينو چې تعلق ورکړی زما په عقيده دا مسئله له دې ځای سره تعلق نه لري، او بله خبره داده چې مسمع چې اسم فاعل له بابه د افعال دی مجرد د هغه چې سماع ده په هغه معنی مراد ده لکه يسمع چې مضارع له بابه د افعال ده له مجرد څخه چې سماع د هدايت مراد ده، نو په مسمع کي چې هم هدايت مراد دی، نو ددې آيت معنی راجع کېږي و هغه آيت ته انک لاتهتدي من احببت ولكن الله يهدي من يشاء نو د سماع الموتى سره څه تعلق لري، ولله در المظهري ؒ چې سره ددې چې د احاديث نبويه لوی بحر دی په مسئله احاديث د سماع صرف نظر کړځولی، او روح المعاني هم دلته د سماع الموتى د مسئلې حواله و بل ځای ته د خپل تفسير کړې ده.

إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

نه يې ته يا محمد ﷺ مګر نه بېرونکی د کفارو په دوزخ سره يعني هدايت ددوی پر تا نه دی لازم.

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ

په تحقيق موږ ته استولی يې يعني رسول مو کړځولی يې په حق سره چې ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زېری ورکونکی یې مؤمنانو ته بالجنة والثواب او بهرونکی یې کفارو لره په دوزخ او عقاب حق سره.

پوه سه: چې بالحق یا حال دی له فاعل څخه د ارسلناک ای محقین ستا په ارسال کې، یا حال دی له ضمیر منصوب څخه چې علیه الصلوة والسلام یې مخاطب دی ای محقًا، یا بالحق صفت د مصدر محذوف دی ای ارسالاً متلبسًا بالحق، والمآل واحد بالتلازم بین هذه التراجم.

وَإِنْ مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾

او نسته یو امت له امم سابقه څخه مګر تېر سوی دی په هغه امت کې بهرونکی ددوی یا نبي بعد نبي کانبیاء بني اسرائیل چې تعداد یې څلور زره ته بالغ ؤ، او یا قائم مقام د نبي لکه علماء کاملین د امت د علیه الصلوة والسلام کما قال علیه الصلوة والسلام: علماء امتي کانبیاء بني اسرائیل في اجراء وضیغة الانذار.

پوښتنه: په دې وروستني آیت کې یې یوازې نذیر راوړی له دې سببه چې په انذار هر سړی پوهیږي چې بشارت ورسره ملګری دی لکه چې په مخکني آیت کې چې تېر سو.

سوال: لکه انذار چې قرینه د بشارت ده داغه رنګه بشارت خو هم قرینه د انذار ده، نو ولي اکتفاء بالبشارة ونه کړه په دې وروستني آیت کې؟

ځواب: لان دفع د ضرر چې په انذار پورې مربوط ده اهم ده تر نفع چې په بشارت پورې مربوط ده، ولان التخلیة بالخاء المعجمة اقدم واهم من التحلیة بالحاء المهملة فافهم، یا خدای ﷻ لپاره د تسلي د خپل حبیب ﷺ وایي:

وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

او که تکذیب وکړي کفار د مکې ستا یعني چې ته رسول الله نه یې.

پوه سه: چې جزاء د شرط محذوف ده په قرینه د مابعد آیت ای لاتهتم بتکذیبک واصبر علی اذاهم کما صبر من قبلک من الانبیاء، گفته اند: صبر اگرچه تلخست لکن بر شیرین دارد، والعاقبة للمتقین بشارت شیرین دارد.

جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾

چې راتګ کړی ؤ دوی ته رسولانو ددوی دا جمله حال ده له فاعل څخه د کذب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تقدير د قد كما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً "بالبينٰت" په بنكاره معجزاتو سره چې دلالت پر صدق ددوی يې كاوه په دعوه كې د نبوت "وبالزبر" جمع د زبورده يعني صحيفه لكه صحف د ابراهيم۴، او په كتاب روښانه سره لكه تورات د موسىٰ۴ او انجيل د عيسىٰ۴.

سوال: هر رسول خو زبر او كتاب منير نه درلودی؟

ځواب: نعم! دلته مراد تفصيل او تقسيم دی المعلوم لكل احد.

ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿۲۶﴾

ثم لپاره د تراخي دی يعني وروسته تر كلو كلو د جريان د تبليغاتو د رسولانو ما ونيول هغه كسان چې كفر ته يې دوام وركړی وُ.

پوه سه: چې كسره د راء عوض او دال پر ياء محذوفه ده والاصل نكيري وُ، نو ځرنګه وُ زما انكار پر دوی بنزول العذاب پر دوی، استفهام لپاره د تقرير دی ای هو اقع موقعه اللائق بهم.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا ۚ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ

ته نه وينې ايها المخاطب الغير المعين چې خدای ﷻ نازل كړي دي له اسمان څخه اوبه چې باران دی "فاخرجنا" نو را ايستلي دي موږ (فيه التفات من الغيبة الى التكلم) په هغو ابو سره مېوې چې مختلف رنګونه د هغو مېوو دي.

فائده: الوان كه څه هم جمع د لون ده لكن مراد څنې عام معنی ده ای اجناسها، مثلاً انګور يو جنس دی، خورما بل جنس دی وهكذا واصنافها لكه سپين كشمش، نعل، كلمک، آيته وغيرها د انګورو صنفونه دي، او برني خومرا او عجوه خورما وغيرهما صنفونه د خورما دي وهكذا كل جنس من اجناس الثمرات لها اصناف وانواع، يا يې رنګ جلا وي، تور، سپين، سور، ژړ، شين او نور رنګونه د مېوو.

پوه سه: چې اولاً جدد جمع د جدة ده په معنی د طريقې، او ابو الفضل وايي چې جدة په لارو كې هغې لاري ته وايي چې رنګ يې له رنګ څخه د نژدې لاري مخالف وي، دی وايي ومنه جدة الحمار لخط الذي في وسط ظهر الحمار والوحش.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وثانيًا: حمل د جدد پر جبال نه دی صحیح لان الجبال لیس نفس الطریق، نو بعض مفسرین ذو ورسره محذوف بولي ای ذو جدد، او بعض یې حمل مبالغةً بولي.

ثالثًا: من الجبال جدد جمله اسمیه ده حال ده له فاعل څخه د اخرجنا ای اخرجنا حال کون من الجبال جدد، نو اتیتک والشمس طالعة، والمعنی په غرو کي لاري او لیکي سته.

بِيضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿۲۷﴾

"بیض و حمر" جمع د ابیض او د احمر ده، سپین او سور چې رنګونه سره مختلف وي په شدة او ضعف سره، او غټې ډبرې دي چې تکي توري دي، عطف دی پر بیض، والتقدیر جدد بیض وحمر وسود غرابیب نو غرابیب تاکید دی د سود چې مضمر دی او وروسته بیان دی محذوف، ولي غرابیب خو تاکید دی، تاکید خو باید تر مؤکد وروسته وي، نو دا مذکور سود مؤکد نه دی بلکې بیان د مؤکد دی.

وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ

"ومن الناس" عطف دی علی ومن الجبال، او د خلګو څخه او د ما یدب علی الارض یعني پر مځکه چې حرکت کوي هر حیوان چې دا معنی د دابة ده او انعام چې اوښان، غوایي، پسونه او بزو ته وایي یعني د انسانانو او د دوابو او د انعامو رنګونه هم سره مخالف دي چې دوه شخصه د هري نوع څخه چې وي په یوه رنګ چې هیڅ تفاوت دې نه وي نه پیدا کیږي.

سوال: د الوانه ضمیر یې مذکر راوړی په دې سبب چې راجع وبعض ته دی چې معنی من ده په من الناس کي.

كَذٰلِكَ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا

"کذالک" صفت د مصدر محذوف دی ای اختلافًا مثل اختلاف الثمار والجبال.

پوه سه: چې دا آیت تکملة د هغه آیت انما تنذر الذین ربهم بالغیب په دې معنی تکمله ده چې تعیین د من یخشاه ﷻ من الناس په دې آیت کي کوي یعني انما یخشاه ﷻ بالغیب هغه کسان چې علم لري پر خدای ﷻ په صفات جمیله ؤ سره او په صفاتو جلیله ؤ سره او په افعال محکمه ؤ سره د خدای ﷻ کما مر نبذ منها من ابتداء السورة الی ههنا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په دې آيت کې له علماء څخه رسمي په صرف نامه د عالم نه دی مراد، بلکې هغه علماء کامل چې اثار د خشية پکښې ظاهر وي او عامل په خپل علم سره وي ... ع: نه هر که سر بتراشد قلندری داند

اکثر د تنې زمانې علماء طلاب الدنيا دي علم واسطه د زکوة او صدقه وغيره ته ګرځوي، او قال و حال يې سره برابر نه وي ... بيت؛

واعظان که اين جلوه در منبر و محراب ميکنند
چون بخلوت ميروند کاری ديگران ميکنند

حافظ شيرازي رحمه الله وايي:

بر زبانت يا صمد پيدا و در دل ياصنم .. ای بباطن کافر ظاهر مسلمانی چه سود

بوه سه: چې قرائت متواتره د دې آيت په نصب سره د اسم جليل دی بناءً على انه مفعول يخشى او په رفع سره د العلماء بناء على انه فاعل يخشى، لکن مع هذا عمر بن عبد العزيز و ابن سيرين، او بعض علماء يې نسبت و امام الائمة ابو حنيفة رحمه الله ته هم کړی دی (وعندي تلک النسبة ليست مطابقة لروات قرائته والله اعلم)

البته: که يو وخت امام ابو حنيفة رحمه الله دا قرائت پر وجه د جواز ويلی وي امکان لري، يعني په رفع د اسم جليل بناءً على انه فاعل يخشى او په نصب د العلماء بناءً على انه مفعول يخشى، لکن په مخکې بيان سوي ترجمه د يخشى نه ده مراد، بلکې عبد الله بن عمرو رضي الله عنه ترجمه د يخشى په يختار سره کړې ده ای انما يختار الله من عباده العلماء وهذا معنى صحيح، او روح البيان وايي چې خشيت استعاره د تعظيم فالمعنى انما يعظمهم (ای العلماء) الله من جميع عباده انتهى.

دروښ وايي: وفي قلبي من هذا المعنى اضطراب والله اعلم بالصواب.

بوه سه: چې څوک چې فکر ووهي په خلق کې د خدای ﷻ کمامر بيانه من اول السورة الى ههنا واستدل به على ذاته وصفاته وافعاله والائه هم العلماء حقا وهم المرادون في هذه الآية لا كعلماء اليهود والنصارى، ولي که څه علم درلودی لکن دوی تجاهل اختيار کړی وُ لاجل حفظ رياستهم على عوامهم و حفظ ماكلهم، شيخ اجل عارف كامل شهاب الدين السهروردي رحمه الله وايي چې په دې آيت دليل دی پر دې چې من لاخشية له فليس بعالم، حاصل ددې آيت دا دی چې کمال خشية د خدای ﷻ څخه خاصه د انبياء عليهم السلام ده ثم الاولياء الكمل رحمهم الله ثم الامثل فالامثل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

په تحقیق خدای[۳۴] غالب دی څوک مانع دده د مشیت نسي کېدای او بخښونکی د ګنهو دی د بندګانو بتوبةٍ یقیناً بلا وجوب علیه وبدون التوبة احتمالاً لکمال الرحمة.

إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ

په تحقیق هغه کسان چي دائماً کتاب الله وایي.

فائده: فقیر قید د دائماً ووایه له دې سببه چي یتلون مضارع ده پر استمرار دلالت کوي په ځای کي د مدح کما ههنا یا په مقام کي د ذم کما في قوله تعالی ویقولون (ای الکفار) متی هذا الوعد (ای وعد نزول العذاب) ان کنتم صادقین.

پوه سه: چي له تلاوت څخه مراد تلاوت مجرده نه دی بلکې تلاوت مع العمل بما فیه، ولي چي په دې آیت کي یتلون عنوان ددوی د مدح وګرځېدی عنوان د مدح تلاوت مع العمل دی وبس، او یا مراد جنس کتب الله کالتورات والانجیل وغیرهما، نو په دې کي مدح د علماء د تورات مع العمل دی وبس، او یا مراد جنس کتب الله کالتورات والانجیل وغیرهما، نو په دې کي مدح د علماء د تورات او انجیل دی چي تحریف د خپلو یې نه وکړی.

پوه سه: چي له یتلون څخه مراد علماء د قرآن دي لا القراء المجردین عن فهم معانیه.

وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ

"واقاموا الصلوة" او دوام پر لمونځو کوي سره د مراعات د حقوق د لمانځه کتعدیل الارکان چي د ډېرو عوامو په لمونځو چي یوازي یې ګذاري د تعدیل الارکان هیڅ نمونه نه وي پکښې هم دغه یعني مراعات معنی د اقامة الصلوة چي په قرآن مبارک کي ذکر کېږي که په صیغه د فعل ماضي وي کما ههنا او یا په لفظ مضارع وي لکه و یقیمون الصلوة په بل ځای کي د قرآن یا په صیغه د اسم فاعل له بابه د افعال لکه والمقیمین الصلوة الآیة، او یو مجرد دی یعني قیام الصلوة هغه عام مطلق اداء ته د لمانځه وایي ځکه قیام په ټولو قرآن کي یو ځای په حال کي د منافقانو ذکر سوی دی، کریمه: واذا قاموا الی الصلوة قاموا کسالی الی اخیر الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾

او دوی انفاق کوي د هغو اموالو څخه چي دوی ته په رزق ورکړي دي په پټه او په علانیه یعني ښکاره، یعني څرنګه چي پرلاس ورغلی که سر وي او که علن وي، او بعض مفسرین وایي چي سر په نفلي انفاقو کي افضل لانه ابعد من الریاء والعلانیة په فرضي انفاق چي زکوة دی افضل دی تاچي بل غني به هم اقتداء پسي وکړي او دی به تهمت د بخل بالزکات خلاص سي "یرجون تجارةً لن تبور" دی امید کوي د پیدا کولو د ثواب في الانفاق چي هرګز نه هلاکیږي او دا تجارت یې د خسران سره نه مخامخ کیږي "یرجون" خبر د ان دی، لن تبور صفت د تجارت دی.

لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

"لیوفیهم" متعلق دی په لن تبور پوري، والمعنی یرجون تجارة نافعة لیوفیهم بانفاقها "اجورهم" یعني ثواب اعمالهم.

دروښ وایي: چي که څه هم مظهري قوله تعالی لیوفیهم یوازي په انفاق المال ګرځول ده لکن د فقیر په نېز په ټولو عبادات مذکوره في هذه الآیة پوري مربوط ده یعني من قوله تعالی ان الذین یتلون کتاب الله الی قوله لیوفیهم کما لایخفی علی اللبیب الفاضل "ویزیدهم من فضله" او خدای ﷻ ورزیاتوي له فضل څخه زائد تر اجور د اعمالو ددوی یعني بالحسنة الواحدة عشرة امثالها الی سبعمائة الی ما لایتناهي.

دروښ وایي: چي له ابن مسعود ؓ څخه په صحیح سند روایت راغلی دی په تفسیر کي ددې آیت قال قال رسول الله ﷺ یوفیهم اجورهم یدخلهم الجنة ویزیدهم من فضله الشفاعة لمن وجب له النار (ای بسبب العصیان دون الکفر، لان الکافر لاشفاعة له بالاجماع) "انه غفور شکور" خدای پاک بخښونکی دی د بعض نواقصو په بعض عبداتو کي او شکور دی ددوی د طاعاتو و قال ابن عباس ؓ غفور یغفر العظیم من ذنوبهم ویشکر القلیل من اعمالهم ای یجازي هم علیه.

وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ

هغه چي وحي کړي دي وتاته یا محمد ﷺ یعني من القرآن الکریم، نو کلمه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من لپاره د بیان ده یا د جنس یا د تبعیض ده "هو الحق" ثابت من جانب الله دی "مصدقًا لمابین یدیه" تصدیق کونکی دی د تولهماتقدمه من الکتب السماویة.

پوه سه: چې مصدقًا حال مؤکدة دی لان حقیة القرآن یستلزم موافقة سائر الکتب الالهیة في العقائد والقصص والاخبار واصول الاحکام.

إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾

په تحقیق خدای ﷻ په خپلو بندګانو خبر دی او دانا دی ای عالم بظواهرها و بوطنها، نتیجه یې داده چې خدای ﷻ په دې هم خبر دی چې په تاکي یا محمد ﷺ استعداد کامل د قبول د وحي موجود دی، نو ځکه یې تاته کتاب معجز درواستاوه.

ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا

پوه سه: چې ارث دې ته وایي چې یو شی نقل سي له یو چا څخه و بل ته بېله شراء او بېله هبه او هغه بل سړی مالک وګرځي په سبب د قرابت بینهما، ومعنی الآیة موږ نقل کړی دغه کتاب چې قرآن دی له تا څخه یا محمد ﷺ، یعني د میراث اصلي معنی چې بیان سوه مراد نه ده بلکې مراد نقل دی، "الذین اصطفینا من عبادنا" هغه کسان چې مختار کړي و موږ ته زموږ په بندګانو کي.

پوه سه: چې کلمه د من بیان ده موصول ظرف مستقر ده حال د ضمیر منصوب څخه ای کائنین من عبادنا او اضافت د عبادو د خپل ځان لپاره د تشریف ده او عائد و موصول محذوف دی ای الذین اطفیناهم (دا هغه عائد محذوف دی) من عبادنا، والمراد بالموصول علماء امة محمد ﷺ من الصحابة والتابعین ؓ ومن بعدهم الی یوم القیامة، او یا مراد تولهامت ذی من الخواص والعوام کذا قال ابن عباس ؓ، ومعنا اصطفائهم ان الله اصطفیناهم علی سائر الامم وجعل امته ﷺ امتًا وسطًا لیکونوا شهداء علی الناس، او بل کرامت یې دادی چې ددوی نسبت کېږي و سید الانبیاء ﷺ ته کما قال الشاعر:

طوبی لنا معشر الاسلام ان لنا .... من العنایة رکنا غیر منهدم
لما دعا الله داعینا لطاعته .... باکرم الرسل کنا اکرم الامم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ

پوه سه: چي ضمير د منهم راجع دی و موصول سابق ته او فاء لپاره د تفصيل ده، والمراد بالظالم لنفسه من قصر في العمل بالكتاب واسرف على نفسه او پر هغه چاهم صادق دی چي ظلم پر بل وکړي لانه بذالک ظالم لنفسه.

فائده: ظلم که څه هم متعدي بنفسه دی لکن لپاره د تقوية العمل يې لام ورسره راوړی.

وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ

او بعض میانه رو دي يعني ګاهي عمل بالقرآن کوي او ګاهي مخالفت کوي، او بعض ددوی متقدم وي و ثواب ته د خدای ﷻ وجنته په سبب د اعمال صالحه ؤ، او بعض مفسرين يې داسي ترجمه کوي چي سابق پر ظالم لنفسه او پر مقتصد يې په درجاتو کي په سبب د خير د کارو "باذن الله" يعني په توفيق د خدای ﷻ.

پوه سه: چي باذن الله يې ددې لپاره ووايه چي دې رتبې ته رسېدل صعب دی بې توفيقه نسي کېدای.

پوه سه: چي تفسيرو ته ددې درو ډلو د امت د عليه الصلوة والسلام بما ذكرنا اشاره کوي كلام د الحسن رح كما روى عنه الظالم لنفسه من خفت حسناته والمقصد من استوت حسناته وسيئاته والسابق من رجحت وكثرت حسناته.

دروښ وايي: چي د دغو درو طائفو پېښي د پر تفسيرونه سته، ان شئت فارجع الى روح المعاني، البغوي رح د ابی عثمان الهندي رح څخه روايت کړی دی قال سمعت عمر بن الخطاب رض قال قال رسول الله ﷺ سابقنا سابق (اى الى الجنة بغير حساب) ومقتصدنا ناج (له عذابه خلاص دي) وظالمنا مغفور له، البغوي رح په خپل سند سره له ابی ثابت رض څخه روايت کړی دی چي يو ناولده سړی مسجد نبوي ته داخل سو او داسي دعاء يې وکړه اللهم ارحم غربتي (ته وکړې زما پر غربت يعني ناولدتيا) وآنس وحشتي (او دفع کړي زما وحشت) وسق الي جليسًا صالحًا) ماته راولېږ يو سړی چي راسره کښېني چي صالح هم وي يعني چي زما وحشت او ديغت په دفع سي) نو ابو الدرداء رض ورته وويل: ان كنت صادقًا لانا اسعد بک منک، رسول الله ﷺ دغه آيت تلاوت وکړی: منهم ظالم الآية، فقال اما السابق فيدخل الجنة بلا حساب واما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المقتصد فيحاسب حسابًا يسرًا واما الظالم لنفسه په يو مقام کي د حساب يې بند کړی تر وخته پورې چې دته هم (دقت او غم) پيښ سي ثم يدخله الجنة ثم قرء هذه الآية الحمد لله الذي اذهب عنا الحزن ان ربنا لغفور شكور) او په بل روايت د احمد او د ابن جرير وغيرهما داسي راغلی دی، فاما الذين ظلموا فاؤلئک يبحسون (يعني عن دخول الجنة) وطول المحشر (په اوږدو کي د محشر د ورځي وروسته خدای ﷻ تلافي ددوی په رحمت سره يعني اجازه د دخول د جنت ورکړي فهم الذين يقولون الحمد لله الذي اذهب عنا الحزن ان ربنا لغفور شكور.

درويش وايي: چې له دې حديث څخه دا معلومه سوه چې د الذين ظلموا څخه عصات المؤمنين مراد دي، د ابو موسیٰ الاشعري ؓ روايت دی قال قال رسول الله ﷺ يبعث العباد يوم القيامة ثم يميز العلماء (بيا علماء ځني جلا کړي، نو خدای ﷻ دوی ته ووايي) ای ډلي د علماؤ اني لم اضع علمي فيكم (ما نه ؤ ايښی علم چې زما صفت دی په تاسي کي) الا لعلمي بكم (مګر هغه وخت چې زه په تاسي خبروم، يعني تاسي وظيفه د علم ساتلای سئ) او ما خپل علم تاسي ته نه ؤ درکړی چې تاسي په عذاب کړم يعني دوزخ درکړم، انطلقوا فقد غفرت (ځئ جنت ته ما تاسي بخښلي ياست) اللهم اجعلني منهم برحمته.

ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾

دا توريث يا اصطفا چې په دمخه آيتو کي ذکر سوه فضل دی لوی، يعني د رب ﷻ له خوا څخه پر امت مرحومه د نبي چې بالمؤمنين رؤف رحيم ﷺ كما وصفه بذالک في القرآن العزيز، کريمه: لقد جائكم رسول من انفسكم الى قوله بالمؤمنين رؤف رحيم.

جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ﴿٣٣﴾

جنتونه دي د اوسېدو (خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو يعني الفضل الكبير جنت عدن يا مبتداء او خبر يې محذوف دی، والتقدير جنات عدن لهم (هذا هو الخبر المحذوف) "يدخلونها" دوی داخليږي وهغو جنتو ته، دا جمله صفت ده د جنات عدن "يحلون فيها" دوی ته زيور ورکول کيږي په جنتو کي، دا جمله صفت بعد صفت ده يا خبر بعد الخبر ده، د جنات يا جمله مستانفه ده استيناقا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نحويًا، ويحتمل الاستيناف البياني ايضًا فتامل جدًا.

پوه سه: چي اساور جمع د اسورة ده او هغه د سوار چي په پښتو يې بنګړي بولي او په فارسي يې دست برنجن او په اردو يې کنګهن بولي "من ذهب" د سرو زرو او د ملغلرو.

پوه سه: چي لؤ لؤا په نصب سره عطف پر محل د اساور لا على لفظه او محلاً خو اساور منصوب مفعول دی د يحلون، حاصل دادی چي يو بنګړی به د سرو زرو ورپه لاس کړل سي او په اصطلاح د پښتنو لاس بندی به يې د ملغلرو وي.

وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾

او کالي ددوی به په جنت کي له ورېښمو څخه جوړه کپړه يې بولي په اردو، لته يې بولي په پښتو، دا جمله عطف ده پر يحلون او على جنات عدن يا حال ده له فاعل څخه د يحلون، عن ابی سعيد الخدري ؓ ان النبي ﷺ تلا قوله تعالى جنات عدن يدخلونها ترپايه پوري، نو يې وويل: ان عليهم ای اهل الجنة التيجان (جمع تاج چي خلګ يې پر سر ايږدي) چي هغه ادنى ملغلره يې روښانه کوي ما بين المشرق والمغرب، رواه الترمذي، قال القرطبي قال المفسرون ليس احد من اهل الجنة الا في يده ثلاثة اسورة، سوار من فضة وسوار من الذهب وسوار من لؤلؤ، وعن ابی هريرة ؓ ان رسول الله ﷺ قال يبلغ الحلية من المؤمن حيث يبلغ الوضوء (له دې حلية څخه مراد والله اعلم سپين والی د مخ، د لاسو، د پښو تر هغه ځايه چي متوضي تر هغه ځايه په اوداسه کي پرېږولي وي) متفق عليه.

وعن عمر ؓ قال قال رسول الله ﷺ من لبس الحرير (يعني من الرجال ولي ښځو ته لبس الحرير روا دی) في الدنيا لم يلبث في الآخرة، متفق عليه، وعن حذيفة ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ لاتلبسوا الحرير ولا الديباج ولاتشربوا في آنية الذهب والفضة ولا تاكلوا في صحافها (الضمير راجع الى الفضة لان الرائج في الكفرة صحاف الفضة) فانها لهم (ای الكفرة في الدنيا ولكم في الآخرة، متفق عليه)

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ۖ

او وايي به جنتيان يعني قوله كما يدل عليه الاحاديث حمد دي وي خدای ﷻ لره هغه خدای ﷻ چي زمونږ څخه دغم کړي حزن يعني غم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي ددې آیت ویل هلته دوی کوي چي له قبرو څخه راووځي، لحدیث ابن عمر ؓ قال قال رسول الله ﷺ لیس علی اهل لا اله الا الله وحشة في الموت ولا في القبور ولا في النشور کاني انظر الیهم (لکه زه چي دوی ته ګورم) عند النفخة (ای نفخة اسرافیل الثانیة) ینفضون رؤسهم من التراب (چي دوی پاکوي سرونه خپل د قبر له خاورو څخه) یقولون الحمدلله الذي اذهب عنا الحزن، وقال ابن عباس ؓ حزن النار (ولي چي ملکي پر دوی زیری کوي په وخت د راوتلو له قبرو څخه بان لاخوف علیکم ولا انتم تحزنون) او قتاده ؒ وایي حزن الموت، وقال عکرمة ؓ خوف الذنوب خوف رد الطاعات، وقیل او داټوله روایات مربوط دي په بشارت پوري د ملکو فافهم.

إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِ

بېشکه رب زمونږ یعني غفور دی د هغه کسانو چي ظلم یې پر خپلو ځانو کاوه او شکور للمقتصدین والسابقین، چي مونږ به داخل کړه و سرای ته د اوسېدو چي جنت دی،

پوه سه: چي مقامة مصدر میمي دی ای دار الاقامة "من فضله" ای من احسانه وکرمه اذ لا واجب علی الله شیئ، د عبدالله بن ابی اوفی او په صحیح روایت ثابته ده، دی وایي چي یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی وه یې ویل یا رسول الله ﷺ ان النوم مما یقر الله به اعیننا في الدنیا (یعني په خوب زمونږ سترګي خدای ﷻ خونکي کوي، کنایه ده له راحت څخه په دې دنیا کي) فهل في الجنة من نوم؟ قال ﷺ لا، ان النوم شریک الموت (یعني لکه په مرګ چي حواس ټوله بېکاره کېږي، او د سړي یو منبه او احساس سلبېږي داغه رنګه په خوب کي هم) ولیس في الجنة موت، هغه سړي ورته وویل فما راحتهم نو راحت د جنتیانو په څه شي کي دی؟ دا خبره د سائل علیه الصلوة والسلام ته ډېره غټه خبره معلومه سوه، یعني له سببه د فهم د سائل چي د آخرت او جنت حال یې پر دنیا قیاس کړی، نو ځکه یې ورته وویل لیس فیها لغوب کل امرهم راحة کما قال الله حکایة عن اهل الجنة.

لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾

مونږ ته نه رسېږي په جنت کي د صرف مس په ټوګه ستړیا، او مونږ نه مسه کوي په جنت کي چي ضعف ته د تعب وایي.

درویش وایي: چي په جنت کي چي نه تعب او نه کلال سته چي راحت ته څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضرورت پيدا ښي لکه هغه سړي چي د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه فما راحتهم، ولي چي دا خو داسي لغوه پوښتنه ده لکه يو سړی چي د بل سړي څخه پوښتنه وکړي چي د خوشحالی په حالت کي خوشحالي په څه شي سره ده.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا

او هغه کسان چي د کفر لاره يې خپله کړې وي دوی لره دی اور د دوزخ يعني ابدًا، والذين آه عطف ده پر ثم او ثناه آه، قضا او حکم د مړينې نه پر کېږي يعني د رب العزة له خوا چي دوي دي مړه سي يعني د اور له سوځېدلو څخه به بېغمه سوي واى، بخاري او مسلم روايت کړی دی له ابن عمر رضي الله عنه څخه قال قال رسول الله ﷺ اذا صار اهل الجنة الجنة چي ولاړ سي اهل جنت و جنت ته و اهل النار الى النار جيئ بالموت، مرګ راولي او په منځ کي د جنت او دوزخ يې ودروي او ذبح يې کړي وروسته منادي ناړې کړي يا اهل الجنة لاموت ويا اهل النار لاموت فيزداد اهل الجنة فرحًا يعني بالخلود في الجنة الى فرحهم يعني دمخه هم خوشاله وه په نداء يې نوره خوشالي زياته سي، ويزداد اهل النار حزنًا على حزنهم يعني د دوزخيانو غم زيات سي، ولي د تابيد في النار نداء يې واورېدل.

پوښتنه: موت خو معنی د جسم نه دی يعني د حيوان په شکل چي ذبح دي سي؟

ځواب: نعم! منم چي موت معنی د حيوان نه دی لکن ددې حديث شريف معنی داده والله اعلم چي خداى ﷻ يې په شکل د يو غټ پسه راولي كما جاء في حديث اخر للبخاري او د کبش په صورت په موت سره يې معرفي کړی و جنتيانو ته او د دوزخيانو او ذبح يې کړي يعني هغه منادی يې ذبح کړي دا کار صرف د ډېرې خوشالی د مؤمنانو او د غم د کافرانو د غم ډېرېدو لپاره.

وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ۝

او نه سپکول کېږي له دوی څخه بعض له عذاب څخه د اور بلکې كلما نضجت جلودهم بدلوا بجلود غيرها ليذوقوا العذاب الآية، داغه رنګه موږ جزاء ورکوو يعني مثل الجزاء المذكور موږ جزاء ورکوو هر کافر بالله ته.

سوال: کفور خو صيغه د مبالغې ده نو آيا معنی يې داده چي د ډېر سخت کافر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه جزاء ده يعني چې کفر يې کمزوري وي لکه کفر د مشرکانو چې سخت دی تر کفر د يهودانو او د يهودانو نظر و کفر ته د مشرکانو کمزوري هغه ته مذکوره عذاب او جزاء نسته؟

ځواب: يا دا يې معنی نه ده بلکې کفر په لغت کې ناشکری ته وايي، نو کافران ټوله مع تفاوت درجات کفرهم سخت او ډېر ناشکره دي، ولې چې ټولو د منعم حقيقي ﷻ شکر نه وکړی، نو کفار ټوله په ناشکری اعظم درجه دي تر هغه چا چې د منعم مجازي شکر نه کړي اداء که يو سړی چې د يو سړي سره ښه وکړي يعني يو نعمت ورکړي او هغه يې شکر نه کړی اداء.

وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ

او دوی بغاري او چغې په شدت سره وهي په اور کې لکه چې معنی د صراخ ده، دا جمله عطف ده پر ولهم نار جهنم يا حال ده له ضمير مجرور څخه په لهم کې "ربنا اخرجنا" بحذف حرف النداء يعني يا ربنا موږ وباسه يعني له اور څخه موږ عمل صالح کوو يعني ايمان به راوړو او د ايمان په مقتضٰی به ښه عملونه کوو.

پوه سه: چې ددوی مراد خروج دی و دنيا ته کما جاء صراحة في موضع آخر "غير الذي کنا نعمل".

پوه سه: چې غير الذي بدل دی د عملاً صالحًا څخه، روح المعاني وايي چې ربنا الی اخيره منصوب وي په اضمار د قول يعني و يقولون په عطف پر يصطرخون باندې، او يا بيله واو يعني يقولون چې تفسير سي د ماقبل.

فائده: دوی چې تقييد د عمل صالح په دې سره وکړي چې غير الذي کنا نعمل لپاره د اعتراف په دې سره چې هغه موږ چې عمل صالح باله په دنيا کې يعني الشرک والکفر هغه خو ټن ناصالح ثابت سو، نو چې بيرته موږ دنيا ته رد کړي موږ به غير د هغه عمل وکړو يعني ايمان به راوړو، اويا دا خبره ددوی اظهار د تحسر او ندامت دی پر ما فعلوا في الدنيا لکن دا ندامت او تحسر فائده نه کوي دوی ته سعدي شيرازي ؒ وايي:

تو پيش از عقوبت دری عفو کوب .... که سودی نه دارد فغان زير چوب

ولهذا قال الله ﷻ في جوابهم:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ

فائده: الهمزة للانكار دخلت على حرف النفي، ونفي النفي اثبات يعني دغومره عمر مي دركړی ؤ، والواو للعطف على مقدار تقديره الم تتركم في دار التكليف ولم يعمركم ما يتذكر اى عمرًا يتذكر چي پند واخلئ په هغه عمر كي من تذكر چي مؤمنان ځندي مراد دی يعني تاسي كافرانو ته مي دغومره عمر دركړی ؤ په دنيا كي لكه مؤمنانو ته چي مي وركړی ؤ هغو پند واخستی او ايمان يې راوړی او تاسي تر پايه پوري پر شرک او كفر باندي ډاډه واست. البغوي ؒ وايي چي قتاده، عطاء او كلبي ؒ وايي چي عمر د تذكر اتلس كاله دی، او حسن ؒ وايي عمر د تذكر څلويښت كاله دی او ابن عباس ؓ وايي چي عمر د تذكر شپيته كاله دی او د علي ؓ څخه هم شپيته كاله مروي دی، لحديث ابی هريرة ؓ عن النبي ﷺ قال اعذر الله الى امرئ اخر اجله حتى بلغ (۶۰) سنة، رواه البخاري. او له ابن عباس ؓ څخه روايت دی ان النبي ﷺ قال اذا كان يوم القيامة قيل اين ابناء الستين وهو العمر الذي قال الله تعالى اولم نعمركم مايتذكر فيه من تذكر.

پوه سه: چي معنی د حديث چي انفًا تير سو اعذر الله الى امرء اخر اجله حتى بلغ ستين سنة سلب الله كل عذر لكل امرئي اخر اجله حتى بلغ (۶۰) سنة، ولي چي د عليه الصلوة والسلام د امتيانو عمرونه غالبًا كم دي، لما رواه الترمذي عن ابی هريرة ؓ وابو يعلى في مسنده عن انس ؓ كلاهما عن النبي ﷺ قال اعمار امتي مابين ستين الى سبعين واقلهم من يجوز ذالك.

دروښ وايي: چي د اقل له جملې څخه يو زه يم چي عمر مي اوس په اووه نيوي (۹۷) كاله كي داخل دی والله اعلم اى وقت يجئ اجلي.

مسئله: بعد البلوغ في دار الاسلام هيڅ عذر معقول چا لره نسته په ترک كي د فرائضو من الصلوة والصوم خصوصًا الايمان بالله، نو د هغه كافر عذر دفع دی چي زه خو كما قال رسول الله ﷺ و شپيتو كالو ته نه يم رسېدلی "وجائكم النذير" او تاسي ته درغلي ؤ بهرونكی د يوم الحساب او يوم العقاب څخه يعني د هغه د قول قبلونه مو نه وكړه والمراد بالنذير محمد ﷺ پر قول د ابن ابی حاتم او ابن جرير عن زيد ؒ وهو قول اكثر المفسرين ؒ، وقيل المراد بالنذير القرآن، ددې قولينو معنی داده چي نذير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ او قرآن دي ددې امت لپاره وغيرهما من الانبياء والكتب لغير هذه الامة، وقيل چې مراد له نذير څخه عقل سالم دی يعني چې باولله نه وي، او دا رايه د بعض متكلمينو ده چې مجرد عقل كافي دی لوجوب الايمان بالله حتى چې دوی وايي چې هغه سړی كافر دی چې په لويو غرونو كې اوسېږي چې عاقل سي بلوغ ته ورسېږي ولم يبلغه دعوة نبي، د تحفه نصائح هم دغه مذهب مختار دی حيث يقول:

گر انبياء هم نامدی نی شرع بودی درجهان
واجب شدی برهمه گان ايمان به خالق مقتدر

وقال عكرمه وسفيان بن عيينة و وكيع رح المراد بالنذير الشيب يعني سپين ږيرتوب، له ابن عباس رض څخه روايت دی الشيب بريد الموت، وقيل النذير موت الاقارب والاقران (يعني همزولي)

فَذُوقُوا فَمَا لِلظّٰلِمِينَ مِنْ نَّصِيرٍ ﴿۳۷﴾

نو وځكئ اى العذاب، نو نسته د ظالمانو لپاره كوم مرسته كونكى، من زائده دی لپاره د استغراق د نفي، يعني نسته ظالمانو يعني كافرانو لره هيڅ كومكي.

اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۳۸﴾

خداى ج خبر دی په پټو شيانو د اسمانو لكه ملكي صورها ومقرها ووظيفتها او په غيب سره د محكي من الخزائن والمعادن يعني لايخفى على الله شيئ، په تحقيق خداى ج خبر دی په هغه شي سره چې په زړو كې دی، نو چې په اخفى من الكل يعني ما في الصدور چې خبر دی نو په نورو شيانو په طريق اولى خبر دی يو محقق وايي:

از خلائق روحهای پاک هست .... روحهای شره اگل ناک هست
واجبست اظهار اين ملک وپناه .... همچنان اظهار گندم هازگاه

فائده: مراد له غيب څخه غيب دی د بشر او د ملكو او د جن څخه والا فليس مصداق الغيب في علمه تعالى، والمراد من هذه الآية انه لايخفى على الله خافيه دا جمله مستانفه ده، وروسته آيت ددې جملې.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ ؕ

خداى ج هغه ذات مقتدر دی چې تاسي يعني عمومي انسانان بعض خليفه گان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د نورو کړځولي دي،نو پر دې تقدیر مخاطب په ضمیر د کم تولـه انسانان دي، او یا معنی داده چې امت د یو نبي خلیفه یعني وروسته امت د بل نبي پیدا کړي یاست تاچې د مخني امت څخه وروستنی امت پند واخلي.... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران.... تا نگیرند دیگران زتو پند

پوه سه: چې خلائف جمع د خلیفه ده او خلفاء جمع د خلیف ده ولا فرق في المعنی فافهم.

فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ

که چا کفر وکړی ستاسي څخه پر هغه د هغه د کفر عذاب دی او نه زیاتوي کافرانو ته کفر ددوی یعني هر څوچې دوام پر کفر کوي په دربار کې د رب ددوی مګر غضب شدید.

وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾

او نه زیاتوي کافرانو ته کفر ددوی مګر نه تاوان یعني په آخرت کې.

سوال: لفظ د الکافرین یې د مقتًا سره هم راوړی او د خسارًا سره هم، یعني داسي نه وویل سول ولایزید الکافرین کفرهم الا مقتًا وخسارًا مع انه اخصر؟

ځواب: اشاره ودې ته ده چې کفر مقتضي د هر یوه د مقت او خسار دی استقلالاً یعني یو د بل تبع نه دي، نو باید عاقل له کفر څخه پر اجتناب وکړي.

قُلْ أَرَأَيْتُمْ شُرَكَاءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۖ

ووایه یا محمد (ﷺ) وکفارو ته د مکې تاسي خبر راکړئ ستاسي د شریکانو چې تاسي یې عبادت کوئ ماسوئ له خدای ﷻ څخه یعني چې دا بتان زمونږ مستحق د عبادت دي من دون الله.

فائده: اضافت د شرکاؤ یې و دوی ته وکړی له دې کبله چې دوی شرکاء د خدای ﷻ بولي یعني شرکاء یعني بتان خو دعوئ د شراکت نه لري بلکې دغه بتان به په ورځ د قیامت ستاسي څخه بیزاري بنکاره کړي.

أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ ۚ

"ارونې" تاکید د اول دی لاته بمعنی اخبرونې، څه شي دوی پیدا کړي دي (مفعول ثان دی من ارئیتم محمول دی پر شرکاء چې مفعول اول دی) "من الارض"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای من اجزاء الارض من الارض بیان دی د ما یعني استقلالاً ستاسي بتانو څه شی پیدا کړي دي اجزاء د مځکي حتی چي تاسي دعوی د استحقاق د عبادت کوئ.

پوه سه: چي ام منقطعه دی په معنی د بل للانتقال و الهمزة للاستفهام.

پوه سه: چي بل لپاره د اضراب او انتقال د خلق د بعض اجزاء د مځکي استقلالاً او همزه یې لپاره د استفهام له شراکت څخه د بتانو په خلق د اسمانو حتی یستحقون دعوی الوهیتهم لان الا له لابد انیکون خالقًا لشئ ما استقلالاً او شریکًا لله تعالی في خلق شیئ ما ولیس في اصنامکم شیئ من ذالک فدعوی الوهیتهم باطل و کذب بواح.

اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ

"ام" بل ء "آتیناهم" مقاتل ؒ وایي ء اعطینا کفار مکة "کتابًا" یعني چي په هغه کتاب کي ددوی شرکاء وي "فهم" جواب د شرط محذوف دی یعني ان کان الامر کذالک که په کتاب کي ددوی شرکاء موجود وي، نو کفار مکة "علی بینة" ای کائنون علی بینة یعني علی حجة واضحة "منه" د هغه کتاب څخه.

پوه سه: چي ام په دې آیت کي هم منقطعه دی په معنی د بل للاضراب او همزه لپاره د استفهام انکاري دی.

بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ۝

بلکې وعده نه کوي بعض ظالمان یعني مشرکان د بعض نورو سره مګر غرور یعني غولول یعني په ناحقه خطایستل، والحاصل انه لیس عندهم علم علی شرکهم او نه کتاب سته چي دوی په هغه سره دلیل ووایي بلکې غایة الامر ددوی دادی چي مشران ددوی چي اسلاف ددوی وه خپل اتباع ته د درواغو وعدې ورکوي ببله کوم سنده او دوی ته وایي هؤلاء شفعائنا عندالله یا ورته وایي چي زمونږ تپر سوي نیکه ګان تر مونږ هوښیاران وه هغو د دغو خدایانو عبادت کاوه لکه پښتانه چي یو غلط شی رواجه وي وایي: څه دي کول چي پلار و نیکه دي کول.

اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ

په تحقیق خدای ؓ منع کړي په خپل قدرت کامله سره اسمانونه او مځکه چي له خپل ځای څخه زائل سي، په دلیل ددې چي ممکن شی لکه په ابتداء کي چي موجد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محتاجه دی په حال کي د بقاء هم لابد له من علة تحفظه یا معنی د ان تزولاً داده کراهة ان تزولا او لئلا تزولا و مآل الکل واحد.

وَلَئِنْ زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾

روح المعاني یې داسي ترجمه کړې ده ای ان اشرفتا علی الزوال (که دوی نژدې سي و زوال ته علی سبیل الفرض و التقدیر، او بعض مفسران یې داسي ترجمه کوي لزالتا وذالک اشارة الی مایقع یوم القیامة من طی السمٰوات، کریمه: یوم نطوی السماء کطی السجیل للکتب، الآیة ونسف الجبال، او مظهري ؒ یې داسي ترجمه کړې ده ای ان لم یوجد من الله سبحانه افاضت الوجود آه، وهذا لیس بشیئ لان الکلام في الزوال بعد اضافة الوجود کما یدل علیه السیاق.

فائده: کلمه د لام په لئن کي موطئه ده قسم ده " ان امسکهما " نسي منع کولای اسمانونه او مځکه یعني له زوال څخه.

"من بعده" ای بعد الله ای سواه او بعد الزوال یعني ضمیر راجع دی و مصدر ته د زالتا "انه کان حلیمًا غفورًا" یعني په سبب د حلم یې کفارو ته مهلت ورکړی دی ولم یستعجل في عقوبتهم وبغفرانه غفر المسلمین معاصیهم ولو لا امهاله وغفرانه لم یمسک السمٰوات والارض فیسقط السماء علیهم وینخسف الارض بهم ای بالمسلمین په سبب د ګنهو ددوی.

پوه سه: چې ابن ابی حاتم له ابن ابی هلال ؓ څخه روایت کړی دی چې ماته رسیدلې ده دا خبره چې قریش به دمخه تر بعثت د رسول الله ﷺ ویل: که خدای موږ ته نبي را استولی وای زموږ له قوم څخه نه به وای یو امت له امتو څخه ډېر فرمانبردار ه د خدای ﷻ یعني د امر او نهي د خدای. او نه به وای یو امت د امتو اورښه ونکی او قبلونکی د خپل تر موږ یعني د خپل قوم د نبي به مو هره خبره اورښه لای او په میدان د عمل به مو پیاده کولای. او نه به هیڅ تمسک په خپل کتاب ډېر وای زموږ تر تمسک، نو خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ

اودوی یعني قریش المفهوم مما سبق قسم اخستی وُ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي جهد ايمانهم مفعول مطلق د اقسموا ولي چي قسم او يمين سره يو شی دي نحو قعدت جلوسًا ای اقسموا اقسامًا بليغةً، او بغوي ؒ ددې آيت شان نزول داسي بيان کړی دی چي قريشو ته دا خبره ورسېدل قبل مبعث النبي ﷺ ان اهل الكتاب كذبوا رسلهم فقالوا لعل الله اليهود والنصارى اتت رسلهم بالبينات ای المعجزات فاقسموا. فقير وايي اول شان نزول مفصل دی د بغوي ؒ ترشان نزول.

لَئِنْ جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ

لام موطئه د قسم دی که چېري موږ ته راغلی وای پېرونکی له عذاب څخه د خدای ؒ يعني رسول، حتمًا به موږ وای پر ډېر لوی هدايت.

پوه سه: چي ليكونن ځواب د قسم محذوف لفظًا او جواب د شرط هم دی معنًی وهو كثير في القرآن العزيز "من احدى الامم" يعني د مخه تر امتو، ددوی مطلب دا ؤ چي که هر څوک له امم سابقه ؤ څخه پر هدايت وي موږ به تر هغو اهدی وای.

سوال: ضمير د اقسموا څو و قريشو ته راجع دی کمامر، نو قريش خو داسي نه وه ويلي جائهم او داسي يې هم نه وه ويلي ليكونن بلكې هغو داسي ويلي وه لئن جائنا نذير لاكونن يعني په ضمير د متكلم نه ضمير د غائب؟

ځواب: نعم! لكن خدای ؒ حكايت د قول ددوی وكړی بالمعنى فافهم.

پوه سه: چي احدی په معنی د واحدة ده، نو سوال دا پيدا كېږي چي دوی فقط تر يوه امت ځان اهدی باله واجاب عنه السيد الآلوسي ؒ بقوله والظاهر انها (ای واحدة) عامة وان كانت نكرة في الاثبات (يعني قانون خو دادی چي نكره په نفي كي عامېږي نه په اثبات كي) لاقتضاء المقام العموم (يعني فخر د قريشو په خپلو ځانو دلالت كوي پر عموم يعني تر هر واحدة امت)

فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ۙ

نو چي راغلی مكې والو ته (هغه مكې وال چي تاسي ددوی قسمونه واورېدل) پېرونكی د خدای ﷻ له خوا ځخه چي ددوی د شرط سره برابر هم ؤ چي دوی به ويل كمامر چي قريش به وي يعني محمدًا ﷺ، نه كړه زيات راتلګ د هغه دوی مكر نه نفرت او لېرېوالی له حق ځخه چي ايمان دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ

كبرًا عن الايمان في ارض مكة.

پوه سه: چې استكبارًا بدل دی د نفورًا څخه او يا يې مفعول له دی يا يې حال دی ''ومكر السيئ'' ای العمل القبيح چې د هغه نبي ﷺ په باره کې کفارو د مکې په دار الندوة کې غونډه وکړه ان يثبتوه (يا به يې بندي کوو په يوه خونه کې) او يخرجوه (يا به يې له مکې څخه وباسو) يا به يې قتل کړو، او کلبي ؒ وايي چې مكر السيئ د دوی اجتماع وه پر شرک او ثبات پر شرک.

فائده: اصل الكلام ومكروا المكر السيئ وروسته فعل يې حذف کړی.

وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ

او احاطه او حلول نه کوي مکر پر مکر سيئ هغه چا چې د مکر سيئ د عذاب اهل او مستحق وي، وهم کفار قريش چې په بدر کې يې پر دوی احاطه وکړه چې (۷۰) کسه يې په ميدان جنګ کې ووژل سول او (۷۰) ژوندي بنديان سول، او باقي يې د هزيمت په طور د مکې پر خوا وتښتېدل، وقال ابن عباس ؓ لايحيق عاقبة الشرک الا بمن اشرک يعني وبال شرکهم راجع اليهم.

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ

دوی يعني اهل مکه انتظار نه وي مګر سنت او طريقت ته د خدای ﷻ په اولينو کفارو کې چې هغه سنت استيصال ؤ، نسي پيدا کولای سنت لره د خدای ﷻ تبديلي يعني سنت الله لاتتدل ولا يتغير فلم يبق لاهل مكة الا من سنة العذاب سنة بلکې د دوی څخه يې واخسته د فتح د مکې په کال.

وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿۴۳﴾

بان ينقله من المكذبين الى زعمهم.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

او اهل مکه سير او سفر نه کوي په مځکه کې چې وګوري چې څرنګه حال او اخير کار د هغو چې تر کفار مکه دمخه اباد وه، والمعنى كفار مكه چې شام، عراق او يمن ته سفر کوئ اثار د ماضيينو کفارو وينې لکه آثار د قوم لوط او د ثمود او عاديانو وينې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي فينظروا مجزوم دی په لم سره عطفًا علی یسیر.

وَكَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ

"وكانوا آه" حال دی په تقدیر د قد کما هو القانون في الفعل الماضي الواقع حالا، او وه هغه کفار ماضیه سخت تر تر اهل مکه "فوق" په قوت کي ومع ذالک قد اهلکهم الله ولم یغن عنهم قوتهم واموالهم شیئًا، نو ولی دا اهل مکة لایعتبرون بذالک.

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعْجِزَهُۥ مِن شَىْءٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ

او نه دی خدای ﷻ عاجزه د یو شي یعني دده له عذاب څخه دي فوت سي، نه په اسمانو کي او نه په مځکه کي، دا دواړه ظرف مستقر دي صفت د شیئ دي ای کائنًا ذالک الشیئ في السمٰوات آه.

پوه سه: چي کلمه د من زائده ده او شیئ مرفوع محلاً دی فاعل د یعجز دی.

إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾

په تحقیق سره دی خدای ﷻ خبر په ټولو شیانو وبما یستحقها او قادر دی پر هر شي چي اراده ورته وکړي.

پوه سه: چي تر دې ځایه خدای پاک بیان کړی حال د اهل مکه چي کفر ددوی متقضٰی د استیصال ددوی ؤ کماهو سنت الله فیمن کانوا قبلهم وقد کانوا اشد منهم قوة په دې وروسته آیت کي خدای ﷻ سبب د امهال د دوی بیانوي.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُوا۟ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ

که چېرې خدای ﷻ ونسي خلګ یعني په سبب د کفر او معاصیو، نو بې نه وای پرې اینبې پر شا د مځکي یوه دابة.

سوال: کفر او معاصي خو د انسانانو څخه صادرېږي او دواب خو عام دی لان معناها کل ما یدب علی الارض، نو د نورو دوابو د عدم ترک علی ظهر الارض سبب څه دی، ولي چي نور دواب خو مکلف نه دي؟

خواب: مقصود بالذات د مځکي په پیدا اینښت انسانان او نور ټوله دواب تبع ددوی دي یعني د انسانانو چي متبوع ولاړی له ظهر څخه د مځکي نو تابع به یې هم ورسره ځي، او مظهري ؒ وایي چي له دابې څخه دابة عاصیه مراد ده چي انسانان دي لا مطلق الدواب والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى

لکن ځنډوي خدای ﷻ مواخذه ددوی په عذاب سره تر یو اجل مسمّٰی او معین وخت پوري، ددوی مواخذه چې یا ما بعد الموت دی یا ورځ د قیامت ده.

فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ﴿٤٥﴾

هغه وخت چې راسي اجل د مواخذه ددوی نو خدای ﷻ دي په بنده ګانو سره ښه دانا او خبر فیجازیهم علی حسب اعمالهم الحسنة والسیئة.

دروښ وایي: الحمد لله والمنة تفسیر د سورة الملائکة چې په مشهور نامه سورة فاطر دی، د تفسیر ایوبي پر اته بجې د ورځې د یکشنبې پر نهه د رمضان المبارک سنه (۱۴۳۱) هـ پای ته ورسېدی، وصلی الله تعالی علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین بصد نیاز او عجز التجاء بدرګاه قاضي الحاجات:

خدایه ستا د نعمتو د کلیاتو حساب او تعداد عاصي ته نه دی معلوم فضلاً عن جزئیاتها، او دروښ اوس په دې طمعه دی چې زما عمره سره د صحت او عافیت دومره را زیات کړه چې د تفسیر د باقي اجزاؤ څخه د قرآن عزیز هم فارغ سم، یعني په توفیق ستا تفسیر ایوبي پایه تکمیل ته ورسېږي، زما د عمر د سرمایې ګټه به هم همدغه تفسیر وي، انک یا الله علی کل شیئ قدیر وبالاجابة جدیر ..... ع: ... من نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن دربغل

له ناظرینو څخه خواست: څرنګه چې د سورة فاطر وروسته سورت یٰسٓ شریف شروع کېږي، نو چونکه سورة یٰسٓ لږ په دوه ویشتم جزء کې دی او نور په دروېشتم جزء کې دی، نو ځکه موږ د سورت یٰسٓ د ... ځای کېدو په خاطر پنځلسم جلد تفسیر له سورت یٰسٓ څخه شروع کړی تاچې سورت یٰسٓ مکمل په یوه جلد کې راسي، تاچې د ویونکو لپاره اسانې وي، سبب د اسانۍ دادی چې د تفسیر ایوبي ویونکی د سورت یٰسٓ په زده کړه کې څورلسم او پنځلسم جلد ته محتاج ونه ګرځي بلکې د پنځلسم جزء په ویلو سره د څورلسم جزء څخه مستغني وي.

تمت الجزء ۲۲ بالخیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي څوارلسم ټوک د مضامینو فهرست

شمیر	سرلیک	مخ
۱	سریزه	۳
۲	فقیر وایي	۵
۳	حکایت	۶
۴	ولذکر الله اکبر	۹
۵	بنهانه فائده	۱۹
۶	حکایت	۲۷
۷	د سورة الروم پیل	۴۰
۸	فائده مهمه	۴۴
۹	دروېش وایي	۵۴
۱۰	فصل في فضائل التسبیح	۵۶
۱۱	فطرت الله آه	۶۹
۱۲	حکایت	۸۷
۱۳	پوښتنه او ځواب	۹۵
۱۴	وان کانوا من قبل ان ینزل	۱۰۰
۱۵	دروېش وایي	۱۰۳
۱۶	د سورت لقمان پیل	۱۱۳
۱۷	تنبیه دروېش وایي	۱۱۶
۱۸	سوال او ځواب	۱۲۰
۱۹	د لقمان حکیم حکمتونه	۱۲۸
۲۰	حکایت عجیبه	۱۳۴
۲۱	مسئله شرعیه	۱۳۹
۲۲	الم ترواان الله سخر لکم	۱۴۸
۲۳	د سورة السجدة پیل	۱۶۷

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمېر	سرليک	مخ
۲۴	دروېش وايي	۱۷۲
۲۵	فاعرض وانتظر انهم منتظرون	۱۹۷
۲۶	د سورة الاحزاب پيل	۱۹۹
۲۷	دروېش وايي	۲۰۶
۲۸	د غزوه خندق پېښه	۲۱۵
۲۹	د خندق نقشه	۲۱۸
۳۰	واقعه	۲۱۹
۳۱	تنبيه	۲۲۸
۳۲	پوښتنه او ځواب	۲۴۴
۳۳	دروېش وايي	۲۴۹
۳۴	د من يقنت (۳۳) پاره پيل	۲۵۸
۳۵	مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ	۲۸۲
۳۶	يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰت	۲۹۴
۳۷	دروېش وايي	۳۰۰
۳۸	سوال او ځواب	۳۱۵
۳۹	د سورت سبا پيل	۳۳۴
۴۰	تاريخ وايي	۳۴۷
۴۱	يعملون له ما يشآء من محاريب	۳۵۱
۴۲	مسئله شرعيه في تزيين المساجد	۳۵۴
۴۳	دروېش وايي	۳۵۹
۴۴	وما ارسلنك الا كآفة للناس	۳۸۲
۴۵	قل انما اعظكم بواحدة	۴۰۰
۴۶	د سورت فاطر پيل	۴۰۹
۴۷	حكايت	۴۱۴
۴۸	پوه سه	۴۵۲
۴۹	له ناظرينو څخه خواست	۴۶۰

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي۱۴ توک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاريخ. ۱۳۹۸-۱۰-۲۲

واتساپ 0749849569

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د سرور کائنات فخر موجودات سردار کل عالم حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ
او د هغه د اصحاب کرامو ﷺ د مکمل تاریخ او ژوندانه په اړه د حضرت
مولانا شیخ الحدیث محمد یوسف بن محمد الیاس الکاندهلوي رحمة الله
تعالی علیهما په زړه پوري مکمل او مدلل کتاب په خوږه کندهاري پښتو
سره چهاپ سوی دی، د شائقینو لپاره تحفه بې بهاده

حیاة الصحابة

تألیف

محمد یوسف بن محمد الیاس الکاندهلوي

بتحقیق

ولید بن محمد بن سلامة

پښتو ژباړه

فضل الحق حقاني

غفرله ربه الباري

الناشر

مکتبة القراءة والتجوید

کاسي روډ کوئټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د حکیم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله پـه زړه پوره او هر دل عزیز کتاب بهشتي زیور، خوږه کندهاری پښتو زموږ د اداري له خوا چهاپ ته تیار دی، له تېروتنو څخه پاک او په ښه خط سره لیکل سوی، د هر ژر به شائقینو ته ورانديسي ان شاء الله تعالی.

بهشتي زیور

مکمل مدلل

بنه کاغذ، بنه چهاپ، بنه جلد

پښتو ژباړه

فضل الحق حقاني
غفرله ربه الباري

الناشر:
مکتبة القراءة والتجويد
کاسي روډ کوئټه بلوچستان

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين اوpdf سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner